# غربي تمدن

(شالید، حقیقت، عقیدتي، او فلسفي بنسټونه)

لیکوال:

دکتور مصباح الله عبدالباقی

Download from:aghalibrary.com

# غربی تمدن

## (شالید، حقیقت، عقیدتي او فلسفي بنسټونه)

لیکوال: دکتور مصباح الله عبدالباقی

Download from:aghalibrary.com

# پیل خبرې

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین وعلی آله وأصحابه اجمعین، وبعد.

دې کې شک نشته چې اسلامي نړۍ په اوسنۍ زمانه کې د غربي تمدن تر اغیزې لاندې ده، ددې تمدن سره د تعامل په اړه د اسلامي نړۍ وګړي په خپلو منځ کې سره اختلاف لري، که یوشمیر ورسره د بابصیرته تعامل غوښتنه کوي، داسې تعامل چې په هغې کې د عقیدوي مبادئو او اصولو څخه تنازل هم نه وي، او په عین وخت کې ددې تمدن د پرمختګونو څخه استفاده هم صورت ونیسي. نو یو شمیر نور مسلمان وګړي په دې هڅه کې دي په چې ټوله اسلامي نړۍ د غربي تمدن په رنګ کې رنګ کړي، په اخلاقي او عقیدوي اړخ کې هم د نوموړي تمدن څخه د پیروۍ غوښتنه کوي، همدې ته دوي پرمختګ او یا هم د پرمختګ لومړی شرط وایي، د دوي تصور دا دی چې غربي تمدن یوه نمونه او پارادایم (Paradigm) دی، دا باید یا ټول قبول شي او یا باید په بشپړه توګه مسترد شي، دې سره باید انتقائی تعامل ونه شي، چې څه ترې واخیستل شي او څه شیان یې پرېښودل شي.

له بله پلوه یو شمیر نور په دې عقیده دي چې د غرب هرڅه د مطلق شر له جملې څخه شمیرل کېږي، او عقیده لري چې باید په قطعي توګه



Download from:aghalibrary.com

پریکون ورسره وشي، له دی تمدن څخه باید هیڅ ډول استفاده ونکړی شي، نه تری تکنالوجی واخیستل او نه کوم نظام اونه کوم سیستم، عقیده او فکر او فلسفه خو لا لیری خبره ده.

ددی متفاوتو نظرونو د موجودیت سره سره اسلامي نړۍ په بیلا بیلو میدانونو کی د غربي تمدن د اغیزی لاندی ده، او دا له دی امله چې د (Globalization) په دی اوسنۍ نړۍ کی چی د هر ډول اغیزو او تاثیراتو د انتقال په مخکی هیڅ ډول موانع وجود نه لري، له دی امله دا اړینه ښکاري چی موږ دا اغیزی په گوته کړو، او هغه میدانونه او ساحی وپیژنو چی هلته اسلامي نړۍ د غربي تمدن د فکري اغیزو لاندی ده لکه سیاست، اقتصاد، ټولنه، قانون جوړونه، علمي منهج او تگلاره او داسی نور، او دا ځکه اړین دي چی دا اغیزی ټولی مثبتی اغیزی نه دي، ځکه چی غربي فکر، د غربي تمدن عقیده او نړیوال لرلید د اسلام د معتقداتو او نړیوال لرلید سره په تناقض کی واقع دي، نو تر هغه پوری هغه څه چی د غربي تمدن څخه اخیستل کیږي ددی عقیدوي پس منظر څخه بیل نه کړی شي تر هغه وخت پوری دا اقتراض درست نه دی، او نه د هغه فکر او عقیدی سره اړخ لگوي چی په اسلامي نړۍ حاکم دي، خو مخکی له دی دا اړینه وبریښیده چی دا وگورو چی اوسنې غربي تمدن څرنگه منځ ته راغی؟ او ددی بنسټ په څه باندی ایښودل شوی دی؟ ددی تمدن عقیده او لرلید څه دی، دا تمدن د (الله)، (طبیعت/مادې) او (انسان) په اړه څه عقیده او تصور لري؟ او دا ددی لپاره اړینه او ضروري وه چی دغربي تمدن ددی عقیدی او نړیوال لرلید د پیژندلو



Download from:aghalibrary.com

پرته ددی تمدن حقیقت پیژندل ناممکن دي، او کله چی ددی تمدن حقیقت ونه پیژندل شي له دی سره د درست تعامل لاری چاری تاکل ناممکن بریښي، له دی امله په دې اوسنۍ څیړنه کې یواځې د دې هڅه شوې چې د غربي تمدن تاریخي شالید او فکري بنسټونه واضح کړای شي، د دې د نقد هڅه نه ده شوې، د څیړونکې په اند د غربي تمدن سره د بابصیرته تعامل لپاره دا کفایت کوي چې مسلمان په دې پوه شي چې دا د هغه له عقیدی سره په تناقض کې واقع دی.

څرنگه چې دا بحث د غربي فکر د بنسټونو د واضح کولو او څرگندولو لپاره لیکل شوی دی، له دې امله پر هغو مصادرو او مراجعو اعتماد شوی دی چې غالبا د غربي تمدن د نمایندگانو له لوری لیکل شوي دي، او له هغوی څخه اقتباسات شوی دي، ترڅو داسې څه هغوی ته منسوب نشي چې د هغوی نظر او رای نه وي.

په دې لیکنه کې هڅه شوې چې موضوع په ژوره توگه وڅیړل شي، او په انصاف ورسره چلند وشي، بیا هم انسان تر خپله وسع او توان پورې پړ دی، نو که پکې غلطي وي د هغې په گوته کول به د لیکوال سره مرسته او احسان وي، الله تعالی دې مونږ ته د حق پیژندلو او په حق د عمل کولو توفیق را په نصیب کړي.

مصباح الله عبد الباقی

کابل ـ افغانستان



Download from:aghalibrary.com

Download from:aghalibrary.com

# تمهید

په دې کې شک نشته چې هر تمدن په حقیقت کې پر یوې عقیدې باندې ولاړ وي، د تمدن هر اړخ، که هغه سیاسي وي که اقتصادي، عسکري وي او که اجتماعي، د همدې عقیدې او نړۍ او کائناتو په اړه د خپل لرلید، جهان بینی، او عقیدی څخه سرچینه نیسي، دا یو داسې حقیقت دی چې هیڅ څوک هم ورڅخه انکار نشي کولی او له همدی امله قرآن کریم په عقیدی باندی زیات زور اچولی دی، او هر پیغمبر چی هر قوم ته راغلی خپل قوم یی تر ټولو دمخه د الوهیت عقیدی او مبدأ ته رابللی دی، ځکه چی همدا اصل دی چی د هر څه لپاره بنسټ او بنیاد مهیا کوي، د همدی په بنسټ انسان په خپل ژوند کی دا فیصله کوي چی د کوم نظام ترسیوري لاندی به ژوند تیروي، د الله تعالی له لوری د رالیږل شوي نظام تر سیوري لاندی او که د بشري هوی او هوس په بنسټ د ولاړ نظام سره سم، چی دوي ورته د عقل پر بنسټ ولاړ نظام وایي؟ الله جل جلاله فرمایي: ﮋ ﭑ ﭒ ﭓ ﭔ ﭕ ﭖ ﭗ ﭘ ﭙ ﭚ ﭛ ﭜ ﭝ ﭞ ﮊ [الأنبیاء: ۲۵] موږ ستا څخه مخکی هر رسول چی لیږلی هغی ته مو دا وحي کړی چی زما څخه پرته هیڅ بل اله (معبود، واکدار، قانون ورکونکی، خالق ...) نشته نو زما عبادت وکړی.

له بل پلوه دا هم یو حقیقت دی چې د تاریخ په دې پړاو کې اسلامي امت د قوت په هغه مرحله کې نه دی چې د نړۍ قیادت وکړي،



Download from:aghalibrary.com

بلکې په ډیرو میدانونو کی د ډیرو تمدنونو ترمنځ د وروسته پاتې والي په داسې مراحلو کې قرار لري چې تصور یې هم انسان د شرم سره مخامخ کوي.

ددې ترڅنګ دا هم حقیقت دی چې (سره له دی چې غربي نړۍ د ارزښتونو او اخلاقیاتو د سخت بحران او فقر سره مخامخ ده) غربي نړۍ او غربي تمدن له اقتصادي اړخه یو غښتلی، د ټکنالوجۍ په لحاظ پرمخ تللی، او د اداري نظام له مخې یوه مستقره ټولنه رامنځ ته کړې ده، په ظاهري او مادي لحاظ چې د غرب اوسیدونکي څه غواړي، ورته مهیا دي.

په داسی حالاتو کی دا یوه طبیعي مسأله ده چې هر دردمند انسان باید په دې اړه فکر وکړي چې مسلمان ملتونه او هیوادونه د وروسته پاتې والي له دې بد حالت څخه را وباسي چې په نتیجه کې یې اسلامي امت د وروسته پاتې والي او تخلف له کندې څخه را بیرون او د بشریت د قیادت په حیث د بدبختیو څخه په ژغورلو کې خپله ونډه ولري.

د اسلامي او غربي نړۍ ترمنځ د همدی ظاهري مقایسې په نتیجه کې یو شمیر خلک او په ځانګړې توګه ځوانان په دې ابتلاء او ازمیښت کې پریوتې دي چې کله د اسلام روغو بنسټونو ته ګوري او بیا د اسلامي نړۍ او مسلمانانو وروسته پاتې والي ته ګوري او په عین وخت کې په مادي لحاظ د غرب پرمختګ ته ګوري نو صحیح لاره یې له نظر څخه

غائبیږي، او داسې تصور کوي چې د کامیابۍ او پرمختګ لاره هماغه ده چې غرب پرې تللی دی.

دلته دوه سوالونه ډیر په قوت سره مطرح کیږي، لومړی دا چې آیا هغه حالت چې نن سبا یکی غربی تمدن قرار لري د بشریت لپاره یو مطلوب حالت دی، چې ټول بشریت یې خپل کړي؟ او ایا پخپله غربي مفکرین په دې قانع دي چې غربي تمدن بشریت هغه سعادت او نیکبختۍ ته رسولی چې له دې تمدن څخه یې طمع درلوده؟ که دا یو نیمګړی تمدن دی چې د تکنالوژۍ په برخه کې خو یې د پام وړ پرمختګ کړی مګر د ارزښتونو او اخلاقو په برخه کې یې تکمیلول پکار دي؟ دویم سوال چې دلته مطرح کیږي هغه دا دی چې ایا غربی سازي د هغه مشکل او وروسته پاتي والي حل دی چې اسلامي نړۍ ورسره لاس او ګریوان ده؟

یو شمیر هغه خلک چې د اسلامي نړۍ د پرمختګ فکر ورسره دی دا تصور لري چې که اسلامي نړۍ غواړي چې د وروسته پاتي والي څخه ځان وژغوري او پرمختګ وکړي نو باید د غرب منهج او تګلاره خپله کړي، په هغه لار ولاړ شي چې غرب پرې دې ځای ته ځان رسولی، او په خپلو ټولنو کې هغه ارزښتونه خپل کړي چې په غرب کې حاکم دي، او دا له دې سره سره چې دوی د کلک ایمان دعوی هم لري، او تصور یې دا دی چې دا دواړه (دغربي تګلارې خپلول، او متدین پاتې کیدل) سره کوم تناقض او تضاد نه لري، مګر دا ډول خلک چې د غربی تمدن څخه

اغیزمن دي، او غواړي مسایلو ته د هغوی په څیر کتنه وکړي، او په عین حال کې د ایمان دعوی هم لري، په حقیقت کې په داسې شدید تناقض کې ژوند کوي چې د سلیم عقل دخښتن لپاره هیڅ کله د منلو وړ نه دی، او دا ځکه چې د غربي تمدن بنسټ په حقیقت کې په الحاد باندې ایښودل شوی دی، او دوی د ایمان دعوی لري، او ایمان او الحاد نه جمع کیدونکی شیان دی او شاید ټول د عقل خاوندان په همدې یوه عقلي قضیه (چې متناقض شیان سره نه جمع کیږی) سره متفق وي، مګر داسې خلک د دې قاعدې هم مخالفت کوي.

دا مو ځکه وویل چې دوي په تناقض کی واقع دي چې د پرمختګ په اړه داسلامي تمدن تصور د غربي تمدن د تصور سره توپیر لري، بلکه په تناقض کی واقع دی، او دا توپیر او تناقض هم د همدی عقیدی او لرلید د توپیر اوتناقض په بنسټ ولاړ دی، اسلامي تمدن په دی ایمان لري چې ددی کائناتو پیدا کونکی الله تعالی دی، دا کائنات یی د یو هدف لپاره پیدا کړي دي، په دی باندی اعتراف او په دی کی فکر کول د الله تعالی د نیکو بندګانو کار او عبادت دی، الله تعالی فرمایی: ژګګېګېګ ګېګګګګګںںڻڻٹڈۀۀہۀہہ ھ ژ [آل عمران: ۱۹۱] هغه خلک چې الله تعالی په ولاړه، په ناسته او د پریوتو په حالت کی (هر حال کی) یادوي، او د اسمانونو او ځمکوم په پیدایښت کی فکر کوي، (او وایي) ای پروردګاره دا دی بی هدفه نه دي پیدا کړي، ته پاک یی، نو موږ د اور له عذاب څخه وساته، بیا اسلامي تمدن دا عقیده لري چې دا کائنات د

هغه قوانینو سره سم چلیږي چې الله تعالی ددی لپاره وضع کړي دي، د همدی طبیعي او کَوني قوانینو اکتشاف ته اختراع او علمي پرمختګ وایي، اسلامي تمدن په دی عقیده دی چې غیبي مخلوقاتو څخه پرته په دی کائناتو کی دوه ډوله مخلوقات وجود لري یو هغه مخلوق دی چې الله تعالی هغه ته د عقل نعمت ورکړی هغی ته انسان ویل کیږي، الله تعالی هغه د خپل عبادت لپاره پیدا کړی دی، هغی ته یې د پیغمبرانو له لاری خپل تعلیمات رالیږلي چې انسانان د هغی سره سم خپل فردي او اجتماعي ژوند برابر کړي، انسان باید د خپل ژوند لپاره ارزښتونه، اخلاق، اصول، مبادئ او قوانین د همدی تعلیماتو څخه واخلي، مسلمان انسان په دی عقیده دی چې په دی تعلیماتو التزام په دنیا کی د انسان د هر اړخیز پرمختګ او په اخرت کی د هغی د کامیابی ضمانت
کونکی دی، بیا یې د همدی انسان د استفادی لپاره د طبیعت او مادی نور ډولونه پیدا کړي، او ددی طبیعي موجوداتو د عمل او حرکت لپاره یې کَوني او طبیعي قوانین وضع کړي دي، او غوښتنه یې کړی چې انسان هغه قوانین کشف کړي چې د هغی سره سم دا مادي طبیعت حرکت کوي، او د خپلی استفادی لپاره یې استعمال کړي، له دی امله انسان ددی تعلیماتو له نظره د طبیعت سره په ټکر او جنګ کی واقع نه دی چې هغه د ځان تابع کړي او د تسلط لاندی یې راولي لکه غربی انسان چې تصور کوي، بلکه د هغی څخه د هغه کار اخیستلو هڅه کوي چې الله تعالی د څه لپاره دا مادي او طبیعي موجودات پیدا کړي دي، الله

تعالی دا نور ټول طبیعي مخلوقات د انسان د استفادی لپاره پیدا کړي دي، الله تعالی فرمایی: ﮋﯨﯩﯪﯫﯬﯭﯮﯯﮊ [البقرة: ٢٩] الله تعالی هغه ذات دی چې په ځمکه کی دا ټول شیان یی ستاسی د استفادی لپاره پیدا کړي دي، او ددی ټولو شیانو څخه په استفادی سره ددی ځمکی د هر اړخیزو ابادولو غوښتنه یې کړی ده، الله تعالی فرمایی: ﮋﯽﯾﯿﰀﮊ [هود: ٦١] الله تعالی تاسی له ځمکی څخه پیدا کړي اوسی. او ددی د ابادولو غوښتنه در څخه کوي، نو د اسلام له نظره پرمختګ دا دی چې په معنوي لحاظ په هغو ارزښتونو د التزام ترڅنګ ـ چې مرجعیت یې الهي تعلیمات دي ـ انسان هغه قوانین کشف کړي چې د هغی په وسیله د طبیعت او مادی څخه هغه کار واخیستلی شي چې الله تعالی د هغی لپاره دا طبیعت او ماده پیدا کړی ده، او دا کار د الله تعالی د پیژندلو ترڅنګ د انسان لپاره د ژوند ټولی اسانتیاوی برابرول، او ددی مادي موجوداتو څخه د انسان د ګټی او فایدی لپاره کار اخیستل دي.

د همدی په خیر د غربي تمدن له نظره د پرمختګ مفهوم هم د هغی د عقیدی او لرلید څخه اخیستل شوی دی، دا تمدن چونکه یو الحادي تمدن دی په حقیقي توګه د الله تعالی په موجودیت بلکه د هیڅ ما وراء طبیعي موجود په وجود ایمان نه لري، نو له دی امله د وحي او الهي تعلیماتو قضیه د هغوي له نظره د یوی خرافي افسانی څخه پرته بل شی نه دی، له دی امله وروسته هر څه چې د الله تعالی په موجودیت باندی د مسلمان تمدن له نظره بناء کیږي هغه هم ددی تمدن له نظره مطلق خرافات دي، هغه که وحي ده او که د پیغمبرانو وجود دي او که د

اخرت د حساب او کتاب، جنت او دوزخ عقیده ده او که نور هر څه دي، له دی امله دلته مرجعیت هم تفاوت کوي، د اسلامي تمدن له نظره د هر څه لپاره بنسټیز مرجعیت وحي ده چې د عقل په رڼا کی فهم کیږي، او عقل په هغه اړخونو کی د وحي تکمیلونکی دی چې هلته په وحي کی اجمالي هدایات راغلي دي، او یا داسی قضایا دي چې هلته وحي عقل ته د انطلاق حکم ورکړی د بیلگی په توگه په مادي شیانو کی د اختراع او انکشاف میدانونه، مگر په دی شرط چې دا اختراعات به داسی نه وي چې هغه ارزښتونه او اخلاقی حدود تر پښو لاندی کړي چې وحي پری ټینگار کوي، او دا دواړه (عقل او نقل) یو د بل تکمیل کونکي دي او هیڅ ډول تعارض په خپل منځ کی نه لري، او د غرب له نظره د هر څه لپاره مرجع عقل دی، ځکه وحي، پیغمبران، دیني تعلیمات ... اصلا د هغوي له نظره خرافي افسانی دي (په کومو مواردو کی چې لیبرال دیموکراسي د دین سره نرم سلوک کوي د هغی لامل دا نه دی چې هغوي په حقیقي لحاظ ددین په حقیقت اعتراف لري، بلکه دا تعامل د ټولنی د وگړو د غوښتنو له امله دی، چې هغه نرم سلوک هیڅکله هم په بنسټیزو تصمیم گیریو کی هیڅ ډول اغیزه نه لري، او د غربي مادي گرا تمدن بله شاخه چې هغه کمونیزم دی هغه چې د دین په وړاندی کوم دریځ درلود هغه ددی تمدن حقیقي دریځ دی، چونکه هلته د ټولنی حقوق محور گرځي او فرد من حیث فرد مطرح نه دی بلکه له پامه غورځول کیده نو هلته دین ته دومره اهمیت هم نه ورکول کیده بلکه په صراحت سره یی هغه عقیده څرگندوله چې د غربي ماده پرستانه تمدن واقعي او حقیقي نظر دی، او ویل به یی چې دین د ټولنی لپاره اپین دی یعنی هغه بی هوشه

کوي او د اصل کار نه یی اوباسي) له دی امله کله چی د دی تمدن له نظره وحی خرافات وګرځیدل نو هلته بیا د مرجعیت په اړه بیلا بیلی فلسفی ایجادیدل یوه طبیعي قضیه ده، هلته بیا څوک عقل مرجع او مصدر ګڼی او څوک طبیعت او ماده د هر څه لپاره مرجع او مصدر ګڼي او څوک حواس مصدر ګرځوي او څوک بل څه، له دی امله مذاهب او تصورات بیلا بیل شول، خو دا ټول په مآل او انجام کی یو شی دی (یعنی په ژوند کی د الهي مرجعیت له منځه وړل او پرځای یې نور مرجعیتونه لټول او ایجادول) دوي اصلا د الله وجود، وحي، پیغمبران، اخرت، .... او نور ټول هغه څه چی په دی عقیده بناء دي خرافات ګڼي، او هغه څه چی د سماوي ادیانو سره ددیني کتابونو په شکل کی وجود لري هغه چونکه په ټولنه کی د یو معتد به شمیر خلکو توجه ځانته راجلبوي له دی امله ورته اهمیت ورکول کیږي او د هغه مفاهیمو څخه یی د فارغولو کوښښ کیږي چی دا نصوص پری دلالت کوي، ددی کار لپاره بی شمیره لوبی پکار اچوي (په دی لړ کی هغه تاویلی کوښښونه چی په یو او بل نوم یی یادوي د یادولو وړ دي) کله چی ماوراء طبیعي وجود او په هغی ټول مرتب عقاید خرافات وګڼل شول نو ددی تمدن له نظره ماده یواځینی حقیقت پاتی شو (په همدی بنسټ دی ته مادي ګرا تمدن ویل کیږي چی دوه شاخونه او څانګی یی درلودی چی یوه یی د لیبرال دیموکراسي په نوم او بله یی د سوسیال دیموکراسۍ په نوم یادیدله) په همدی بنسټ د حقوقو، نظامونو (سیاسي، ټولنیز، اقتصادي، تعلیم، ....) مفاهیم او محتویات هر څه تغیر کوي، د پرمختګ مفهوم تغییر مومي، چونکه ددی تمدن له نظره ماوراء طبیعی

موجودات اصلا وجود نه لري، دا کائنات پخپله پیدا شوي دي ددی کوم هدف نشته، په نړي کی کوم ارزښتونه وجود نه لري، ددی کائناتو کوم غرض وغایت نشته همدا راز انسان د کوم هدف لپاره نه دی پیدا شوی ... نو له دی امله یواځینی هدف مادي پرمختګ چی د هغی ترڅنګ هر ډول ارزښتونه له پامه غورځول شوي وي ددی تمدن یواځینی هدف ګرځي، او چونکه انسان هم د مادي توکي څخه پرته بل څه نه دی نو له دی سره هم یواځی د یو مادي شي په حیث تعامل ددی تمدن یواځینی اصل ګرځي.

نو کله چی د اسلامي تمدن او غربي تمدن له نظره د پرمختګ تصور، د هغی مرجعیت او عقیده سره توپیر او تناقض لري نو بیا څرنګه ممکن ده چی په اسلام باندی باور لرونکی خلک هغه څه د ځان لپاره معیار وګڼی چی غرب ورته د خپل منهج په نتیجه کی رسیدلی دی؟!

کله چی دا څرګنده شوه چی د اسلامي تمدن او غربي تمدن له نظره د پرمختګ مفهوم فرق لري، نو دی ویلو ته اړتیا نه پاتی کیږي چی اسلام تمدن د پرمختګ سره مخالفت نه لري لکه کلیسایي محرف دین چی درلود، بلکه د پرمختګ د هغه غربي مفهوم سره اختلاف لري چی د الحاد په بنسټ ولاړ دی، هغه تصور چی د الله تعالی او هر غیبي موجود د عملي انکار په بنسټ ولاړ دی.

نو د همدې خبری د اثبات لپاره یو مفصل بحث ته اړتیا لیدل کیده چې د اوسني غربي تمدن بنسټونه وڅیړي، او له دی امله چې هغه

مادي پرمختګونه چې انسان د غربي نړۍ په قیادت کې ورته رسیدلی دی د تجربوي علم (ساینس) کارنامه ده، او که اسلامی نړۍ وغواړي چې په مادي برخه کې پرمختګ وکړي نو په طبیعی علومو (ساینس) کی د پرمختګ څخه پرته بله لار نشته، نو باید دا ولیدل شي چې ایا په دی طبیعي علومو کی پرمختګ سره دا لازمه خبره ده چې مسلمان باید له دین، عقیدی، خپلو ارزښتونو څخه لاس واخلي او دا ټول شیان پریږدي؟ او ایا ساینس واقعا د دین سره په ټکر کې واقع دی؟ که داسی نه وي نو د کلیسایی دین سره یې په ټکر کې د واقع کیدلو اصلي لامل او سبب څه وه ؟ تر څو دا معلومه شي چې آیا اسلامي امت ته د ساینس د خپلولو، او په مادي لحاظ د پرمختګ لپاره د اسلام پریښودل همداسی اړین دي لکه څنګه چې غربی تمدن کلیسایی دین پریښود او بیا یی ورو ورو د ټولو غیبیاتو څخه انکار وکړ؟ او که د غرب د پرمختګ قضیه په ځانګړو حالاتو کی رامنځته شوه چې هلته یو خرافی دین حاکم وه، او د هغی پرضد د قیام څخه پرته دا کار ممکن نه وه؟ او ټول ادیان په ځانګړی توګه اسلام (چې د واقعي الهي وحی پر بنسټ ولاړ دی) په هغی خرافی کلیسایی دین قیاس کول نه دي پکار؟ او بیا وروسته ددې لیدل پکار دي چې هغه بنسټیزی عقیدې او لرلید څه دی چې د غرب د نوي تمدن ټول عمارت پرې ولاړ دی، او دا لرلید په څه ډول د هغه رد عمل په نتیجه کی چې کلیسایی دین پر ضد یی څرګند کړ اغیزمن شوی دی او په نتیجه کی د اسلام سره په تناقض کې واقع دی؟ او کوم بنسټیز توپیرونه ورسره لري. همدې سوالونو ته د ځواب لټولو په موخه دا

بحث ولیکل شو او په دې لنډ بحث کې د دې کوښښ شوی چې لاندې ټکي پکې واضح کړی شي:

لومړی: هغه دین چې عیسی علیه السلام د الله تعالی له لوري د بشریت د هدایت لپاره راوړی وه،، په هماغه پیل کې له تحریف سره مخامخ شو، او ډیر لاملونه داسې برابر شول چې هغه دین تحریف او په خپله اصلي بڼه پاتی نه شي؛ بلکه دلته یو نوی دین رامنځته شو چې د عیسی علیه السلام د راوړي دین ځای یی ونیو، دې دین ته موږ د کلیسایي دین نوم ورکولی شو (په دې معنی چې د حضرت عیسی علیه السلام د راوړي دین او د کلیسایی دین ترمنځ بشپړ تناقض او توپیر وجود درلود).

دویم: همدا تحریف شوی نصرانیت په اروپا کې داسې خپور شو چې تقریبا ټوله اروپا یې تر خپلې اغیزې لاندې راوستله.

دریم: دا نصرانیت چې په اروپا کې خپور شوی وه،، څرنګه چې انساني افکار د هغې بنسټیزه برخه ګرځیدلي ؤ، او ورسره پکښې د کلیسا د مشرانو لپاره د طغیان او سرکشی ټول اسباب برابر ؤ، نو د منځنیو پیړیو په پای کې ډیر داسې اسباب او لاملونه برابر شول چې د اروپا خلک او مثقف شخصیتونه د دې کلیسایي دین په مقابل کې ودریږي، په عامه توګه د کلیسا او کلیسایي دین سره د مخالفت دریځ په حقیقت کې د کلیسا د ظلمونو او استبدادونو په مقابل کې د یو

عکس العمل حیثیت درلوده، په حقیقت کې د کوم الهي دین پر ضد د انسانانو په مخالفت او مخالف دریځ دلالت نه کوي.

څلورم: کلیسا په ډېر شدت سره هغه خوځښتونه ځپل چې په علمي لحاظ د ټولنې د پرمختګ لپاره راپورته شوي ؤ، ځکه چې د کلیسا د محرف دین سره په ټکر کې واقع شول، او علمي بحثونه یې داسې نتائجو ته ورسیدل چې د کلیسا د عقائدو خلاف ؤ، دې علمي استبداد لا پسې د علمي نړۍ او کلیسایي دین ترمنځ واټن پراخه کړ.

پنځم: د دې پرځای چې د هغه وخت پوه او مثقف خلک دې نتیجې ته رسیدلې وی چې دا اختلاف د علم او د کلیسا د محرف دین ترمنځ دی، له بده مرغه دې نتیجې ته ورسیدل چې دا اختلاف د مطلق دین او علم (ساینس) ترمنځ دی، له دې امله دا مثقف قشر د مطلق دین، په مخالفت کې ولویده، او ددې مخالفت له لارې ورو ورو د الحاد په لمن کې پریوت.

شپږم: دا الحادي نظریات لومړی په انفرادي ډول د بیلا بیلو فیلسوفانو په نظریاتو کې راڅرګند شول، چې وروسته یې بیا د یو عام خوځښت حالت غوره کړ، چی په پیل کی د طبیعي یا ربوبي دین (Deism) په شکل کې د الحاد په لومړي پړاو منتج شول، او دې ته مو لومړی پړاو ځکه ووایه چې په دې کې د الله تعالی د وجود اقرار وه، مګر له دی پرته د نور هر ډول ما وراء طبیعي وجود نفي شوې وه، د دې تر

څنګ د پرښتو، معجزاتو، پیغمبرانو، آسماني دین، او همدا راز د الله تعالی د معرفت قضیه هم عقل او طبیعي دلایلو ته سپارل شوې وه.

اووم: له دې وروسته بیا دا تمدن په بشپړ الحاد کې پریوت، چې هغې ته کله د شمولي سکولریزم،، او کله ورته د یوې او بلې فلسفی نوم ورکول کیږي، مګر بنسټیز عقائد او افکار یې مشترک دي، او درست او صحیح نوم یی فکري او کله هم عملي الحاد دی.

اتم: د الحاد هغه وروستنی شکل څه دی چې اوسنی غربي تمدن پرې ولاړ دی؟ دا په پای کې ذکر شوي دي، ځکه دا کائنات د درې موجوداتو څخه جوړ دي:

- دکائناتوخالق.
- په نړۍ کې دعقل یوازینی درلودونکی متمایز مخلوق (انسان).
- ټول مادي شیان او طبیعت.

ددې درې واړو عناصرو په اړه د غربي تمدن د بنسټیزو جهتونو افکار وړاندې شوي دي چې هغه په بنسټیزه توګه الحادي دي، همدا د غربي تمدن لرلید او عقیده ده. د دې الحادي افکارو ترڅنګ د غربی تمدن څه ایجابي تصورات او معتقدات هم ذکر شوي دي، مګر اصل هدف هغه الحادي تصورات ذکر کول ؤ چې پر بنسټ یې دا تمدن ولاړ دی، تر څو د اسلامي تمدن سره یې توپیر او تناقض په ګوته شي او هغه عناصر معلوم کړی شي چی په اسلامي نړۍ یی ناوړه اغیزی درلودی، تر

څو ددی افکارو او عقایدو او تصوراتو سره د تعامل لاری چاری په ګوته کړی شو.

نهم: دا هم په نظر کی نیول پکار دي چی په لیبرال دیموکراسۍ کی چی د کوم ډول ازادۍ غوښتنه کیږي، چی په هغی کی د دین، الله، اخلاقو ... څخه ازادي هم شامل ده، دا په حقیقت کی د هغه استبداد عکس العمل وه چی د کلیسا لخوا نه په اروپا کی تری د خلک پر وړاندی تری کار اخیستل کیده، ځکه که موږ هغه فلسفي مدارسو ته وګورو چی اوس په غربي نړۍ حاکمی دي هغه ټولی د هغه فکر امتداد دی چی د کلیسا د استبداد په مقابل کی را پیدا شوی وه.

لسم: د غربي تمدن د اصولو سره سم چی کومه ټولنه رامنځته شوه، هغه د انسانانو د خوابونو هغه تعبیر نه وه چی غربي انسان د خپل اوسني تمدني خوځښت په نتیجه کی ورته منتظر وه، ځکه په هغی کی انسان خپل انساني حیثیت او فطرت له لاسه ورکړی او د یو مادي توکي په حیث ورته کتل کیږي او په همدی بنسټ ورسره تعامل کیږي.

یوولسم: د همدی یو اړخیز مادي فلسفی د حاکمیت او برلاسۍ په نتیجه کی او همدا راز د هغه لویو سرمایه دارانه مؤسساتو د تحکم په نتیجه کی داسی په غربي ټولنو داسی یو استبدادي نظام حاکم شوی چی انسان د هغی په چاپیریال کی د استعمالي توکو د اختیار او انتخاب د ازادۍ درواغجن احساس خو لري مګر په حقیقي ډول ازادي چی ددی

نظام بنسټونه نقد کړی شي، او داسی کوم نظام د ځان لپاره غوره کړي چې ددی نظام سره توپیر ولري د هغی اختیار تری سلب شوی دی، دا کار خو یا د انسانانو په خاصو قالبونو کی د اچولو له لاری شوی چې هغوي په خپل اوسني حالت قانع کړي دي، او د هغوي څخه یی نقدي عقل، او کلي عقل سلب کړی دی (دا کار د غربي نړی په دننه کی سرته رسیدلی دی) او کله هم دا کار د زور او قوت د استعمال له لاری کوي چې هر څوک د غربی تمدن بنسټونه نقد کوي، او یا داسی نظام پلی کول غواړي چې د غربی تمدن د بنسټونو سره توپیر ولري هغه د قوت او زور له لاری ځپل کیږي او دی کار ته نه پریښودل کیږي، په دی حالت کی مشکل دا دی چې هغه انسان چې په دی مخصوصو قالبونو کی اچول شوی او روزل شوی دی ددی نظام د استبداد احساس نه کوي.

دولسم: د دې معنی دا نه ده چې اسلامي نړۍ دې له غرب سره بیخي متارکه وکړي، دا کار نه معقول او نه هم ممکن دی، په تمدنونو کې علمي پرمختګونه د بشریت لاس ته راوړنې دي، دا په کوم تمدن پورې ځانګړې اړه نه لري، په شرق کی بابلي تمدن د پخواني مصري تمدن بنسټ وګرځید، بیا د مصري تمدني پرمختګونو پر بنسټ یوناني تمدن پرمختګونه درلودل، د هغو پر بنسټ اسلامي تمدن نور پرمختګونه وکړل، او د اسلامي امت د پرمختګونو پر بنسټ غرب د خپل تمدن او پرمختګ ماڼۍ تعمیر کړه، اوس که اسلامي امت له دوي څخه ټکنالوجی اخلي نو دا د بشریت د تجاربو څخه استفاده ده، او اسلامي امت باید په دې کې د هیڅ تردد څخه کار وانه اخلي، او هر ډول ممکنه استفاده ترې

وکړي، خو دا باید په پام کې ونیسي چې ټکنالوجی منتقله کړي، نه د غربي تمدن انتاجات، عقاید او لرلید، او د ټکنالوجی په انتقال کې غرب باید داسې قیود وضع نه کړي (کوم کار یې چی تر اوسه پورې کړی دی او کوي یې) چې دا کار مشکل وګرځوي، لکه څرنګه چې اسلامي امت د اړتیا په وخت کی غرب ته د ټکنالوجۍ په انتقال کې د بخل څخه کار وانه اخیست.

ددې ترڅنګ بل شی چې د غربي تمدن تر شا پروت لرلید او روح دي چې د الحاد او دین دښمنۍ څخه عبارت دی، هغه انتقالول او پر هغې باندې د خپل پرمختګ تعمیر درول د اسلام د اصولو سره په بشپړ تعارض او تناقض کې واقع کار دی، د دې د انتقال څخه مسلمان باید ځان وساتي، او دا هغه وخت نقل کیږي چې د تصفیې او فلتر څخه پرته فکري، اجتماعي، سیاسي او اقتصادي نظامونه کاپي، او په اسلامي نړۍ کې د هغو د تطبیق هڅی صورت ونیسي، د مالک بن نبي په اصطلاح : "هغه افکار چې د تصفیې او فلتر څخه پرته د غرب څخه اخیستل شوی وي، وژونکي افکار دي، او هغه افکار چې په وراثي توګه موږ ته راپاتې دي او د پرمختګ په مخکې خنډ واقع کیږي هغه مړه افکار دي، ".مالک بن نبي وايي چې د مړو افکارو تصفیه او دوژونکو افکارو فلتر کول د ترقی او پرمختګ لومړی شرط دی.

# لومړی فصل
# اروپا او کليسا
# استبدادي کړنلاره

## لومړی: اروپا او د کلیسا محرف دین

غربي تمدن چې د منځنیو پیړیو د کلیسایی دین سره د ټکر په نتیجه کی رامنځته شو، او الحادي لرلید یی غوره کړ، ددی تمدن لپاره ددی لرلید د غوره کولو زمینه څنګه برابره شوه؟ د دې لپاره به یو ډیر ځغلنده نظر په اروپا کې د مسیحیت په تاریخ او بیا د منځنیو پیړیو په اروپا باندې اچول پکار وي، اوس دا سوال چې دې الحادي تمدن ته څرنګه په اروپا کې د نشر او خپریدو زمینه برابره شوه؟ د دې لپاره لومړی په دې پوهیدل پکار دي چې دا تمدن په لومړي سر کې د هغه مسیحیت عکس العمل وه چې په اروپا او غرب کې یې په خلکو حکومت کاوه، د دې لپاره چې په دې پوه شو چې هغه عمل څه وه چې په مقابل کې یې داسې غبرګون منځ ته راغی؟ نو لومړی باید هغه مسیحیت و پیژنو چې هلته یې حکومت کاوه، بیا هغه حالت باندی یو ځغلنده نظر واچوو چې په منځنیو پیړیو کې د کلیسایی دین تر حاکمیت لاندې په اروپا او غرب کې حاکم وه او وروسته دا وګورو چې څرنګه نوي غربي تمدن د منځنیو پیړیو د نصرانیت او مدرسي حکمت ځای ونیوه، او په څه توګه د یو محرف دین د تشدد او استبداد په نتیجه کې د اروپا ټول وګړي

د الحاد په لمن کې پریوتل؟ ددی ټولو لنډیز به دا وي چې په غرب کی اصل پاڅون په حقیقت کی د کلیسا د استبدادي، په خرافاتو ولاړ، ظالمانه نظام پر ضد وه، او ددی ډول نظام پر ضد ددوي پاڅون په حقه هم وه، مگر غلطی هلته منځ ته راغله چی دی پاڅون د مطلق دین پر ضد د پاڅون بڼه غوره کړه او په نتیجه کی یی ټول غربي تمدن د الحاد په لمن کی پریوت.

## أ- د عیسی علیه السلام په دین کی د تحریف لاملونه

کله چې حضرت عیسی علیه السلام دنیا ته راغي او د پیغمبر په حیث مبعوث شو، نو د فلسطین منطقه هغه وخت د رومیانو لخوا اداره کیدله، نو کله چې حضرت عیسی علیه السلام خپل دعوت پیل کړ، په پیل کې خو یې د یهودي شریعت سره سم د خلکو د اصلاح کوښښ کاوه، مگر وروسته یې چې کله د الله تعالی په حکم په یهودي شریعت کې بیلا بیل اصلاحات پیل کړل نو یهودانو (چې د رومي قانون سره سم یې خپلې داخلي چارې پخپله اداره کولې) د رومیانو څخه غوښتنه وکړه چې دا شخص چې د پیغمبرۍ دعوه لري خلک گمراه کوي، باید د دې مخنیوی وشي، خو رومیانو د هغه قانون سره سم چې یهود به خپلی دیني قضایا پخپله حل کوي او رومیان به پکښې هیڅ ډول لاس وهنه نه کوي، په پیل کې د یهودانو شکایت هیڅ ډول پاملرنه ونه کړ، څرنگه چی

پخپله حضرت عیسی علیه السلام او د هغه موحد او خدای پرسته پیروان د الله جل جلاله څخه پرته له بل چا څخه نه ویریدل، او خپل دعوت ته یې ادامه ورکوله، او د رومیانو د مستضعفو ټولنو سره یې اړیکې ټینګې کړې چې په نتیجه کې یې د رومیانو د ظلم پر ضد پاڅونونه پیل شول(١)، د دې پاڅونونو په نتیجه کې یهودان له یوې خوا له دې څخه ویریدل چې هغه نیمه آزادي (د رومیانو په امپراطورۍ کې داخلي دیني آزادي) چې د رومیانو په امپراطورۍ کې هغوی ته تر لاسه وه، له لاسه ور نکړي، او له بلې خوا دحضرت عیسی علیه السلام لخوا په یهودی شریعت کې د تعدیلاتو، بدلونونو او اصلاحاتو(٢) سره په بشپړه توګه مخالف ؤ، او د حضرت عیسی علیه السلام لخوا د هیکل(٣) د له منځه وړلو قضیه هم د هغوی حساسیت راپارولی وه، همدا راز یهودان له دې څخه هم ویریدل چې د حضرت عیسی علیه السلام تحرکات او دعوت رومیان داسې تلقي نه کړی چې دا د یهودانو لخوا د آزادۍ خوځښت دی چې په نتیجه کې به یې یهودان هغه ټولې آزادۍ له لاسه ورکړي چې هغه وخت ورته

---

(١) تفصیل لپاره وګوری قصة الحضارة ج ١١ ص ٢٣٠ ـ ٢٣١ ل ویل دیورانت ترجمة محمد بدران، طبع دار الجیل، بیروت، وتونس.

(٢) چونکه د هر پیغمبر په راتګ سره د مخکیني شریعت څه احکام منسوخ کیږي او څه پخپل حال پاتی کیږي، د حضرت عیسی علیه السلام به راتګ هم په یهودی شریعت کی همداسی بدلونونه رامنځته کیدل یوه طبیعی خبره وه.

(٣) د حضرت عیسی علیه السلام د له منځه وړلو لپاره یهودانو حضرت عیسی علیه السلام په دی متهم کړ چی هغوی د حضرت سلیمان علیه السلام په لاس جوړ شوی هیکل (چی د یهودانو لپاره یی د قبلی حیثیت درلوده) د ورانولو هڅه کوله.

حاصل وي، او د رومیانو د غضب او انتقام سره به هم مخامخ شي، د دې ټولو اسبابو له امله یهودي دیني شخصیتونه او حاخامات (د یهودو مذهبي او دیني شخصیتونه) راټول شول تر څو د حضرت عیسی علیه السلام په اړه پرېکړه وکړي، په اجتماع کې لوی حاخام (مشر دیني او مذهبي شخصیت) وویل: (بهتره دا ده چې د ټول ملت د هلاکت پرځای یوازې یو انسان (حضرت

عیسی علیه السلام) له منځه ولاړ شي)(٤) عیسی علیه السلام ته چې کوم تهمت متوجه کړای شو هغه دا وه چې هغه د هیکل سلیماني د تخریب او له منځه وړلو اراده درلوده، حضرت عیسی علیه السلام له خپلو حواریونو سره یوځای په یو کور کې پټ وه، چې په دې وخت کې د هغی یو ملګری چې (یهوذا الاسخریوطی) نومیده منحرف شوی وه، همدې د هیکل محافظینو ته د حضرت عیسی علیه السلام په اړه معلومات ورکړل، چې د هغه په نتیجه کې الله تعالی د یهوذا الاسخریوطی شکل د حضرت عیسی علیه السلام په څیر وګرځاوه، همدا وه چې دا دحضرت عیسی علیه السلام سره د مشابهت له امله، اعدام کړای شو، او حضرت عیسی علیه السلام ـ د قرآن کریم د تصریح سره سم ـ آسمان ته پورته کړای شو، په دی اړه قرآن کریم داسی فرمایي: ﮋﭭﭮﭯﭰﭱﭲﭳﭴﭵﭶﭷﭸﭹﭺﭻﭼﭽﭾﭿﮀﮁﮂﮃﮄﮅﮆﮇﮈﮉﮊﮋﮌﮍﮎﮏﮐﮑﮒﮓﮔﮕﮖﮗﮘﮙﮚﮛﮜﮝﮞﮟﮠ ﮊ [النساء: ١٥٧ - ١٥٨] او ددوي دا (نادرسته) وینا چې موږ مسیح عیسی بن مریم وژلی

(٤) قصة الحضارة ج ١١ ص ٢٣٥.

دی، نه دوي وژلی، او نه یی په دار زړولی، بلکه دوي په اشتباه کی لویدلی دي، او هغه څوک چی په دی کی اختلاف کوي هغوي ټول په دی اړه په شک کی دي (یعنی د ټولو خبره د شک په بنسټ ولاړه ده) دوي سره هیڅ ډول یقیني علم نشته، دوي د شک او ظن پسی روان دي، او یقیني خبره دا ده چی دوي هغه (حضرت عیسی علیه السلام) نه دی وژلی، بلکه هغه الله تعالی د خپل ځان په لور پورته کړی دی، او الله تعالی غالب او د حکمت خاوند دی.

ددی اختلافاتو په نتیجه کی چی کله د حضرت عیسی علیه السلام اصلي موحد اتباع د یهودانو او یونانیانو لخوا د شدید امنیتي تعقیب لاندې راغلل( )، او په ازادۍ سره یې نه تبلیغ کولی شو، او نه یې ٥
د انجیل کومه برخه له ځان سره ګرځولی شوه، نو په شفوي توګه یې د حضرت عیسی علیه السلام تعلیمات خلکو ته رسول پیل کړل، له دی امله دا تعلیمات د وخت په تیریدو سره په خپل اصلي شکل کې پاتې نه شول، او تحریف پکښې ښکاره شو، ددی لامل ترڅنګ د حضرت عیسی علیه السلام په تعلیماتو کی د تحریف رامنځته کیدلو ګڼ شمیر نور لاملونه هم درلودل، چی مهم یی په لاندی توګه په ګوته کولی شو.

---

(٥) ددی تعذیبونو د تفصیل لپاره وګوری د مشهور مصري عالم شخ محمد ابو زهرة کتاب: محاضرات فی النصرانیة ص ٣٦ و ما بعدها، طبع الرئاسة العامة لادارات البحوث العلمیة، والافتاء، والدعوة والارشاد، الریاض ـ المملکة العربیة السعودیة، الطبعة الرابعة کال ١٤٠٤هـ.

# لومړی لامل: د پخوانیو ادیانو او فلسفو اغېزې

هغه افکار، وثني (بت پرسته) ادیان، او فلسفي نظریات چې په هغه وخت کې په یونان، روم، اسکندریه او فارس کې رائج وه، په ډېر اغېزناکه توګه په مسیحیت کې د تحریف لامل وګرځیدل(٦)، او دا په دې شکل چې کومو خلکو د نصرانیت تبلیغ په غاړه واخیست هغوی د دې افکارو، ادیانو او فلسفو څخه په ډیره ژوره توګه اغیزمن وه، څرنګه چې د حضرت عیسی علیه السلام موحد او حقیقي اتباع تر درې پیړیو پورې د تعذیب او تعقیب لاندې ؤ، او د حقیقي دین د رسولو فرصت یې و نه موند، نو د مسیحیت په نوم دې محرف دین ته د خپریدلو زمینه برابره شوه، د بیلګې په توګه یو د هغو کسانو څخه چې د رسولانو په نوم شهرت لري او مسیحیت ته یې په نوې بڼه ورکولو کې خورا زیات لاس درلود او د پخوانیو افکارو او ادیانو او فلسفو څخه متاثر وه، پولس یا (شاوول) دی چې د میلاد په لسم کال په طرسوس کې زیږیدلی وه، د یهودانو د (فریسیانو) طائفې (ډلې) سره یې اړیکې درلودې، او پلار یې د روم تابعیت هم درلود، په پیل کې پولس ډېر سر سخته او متعصب یهودي وه او د مسیحانو په تعذیبولو او ځپلو کې یې خورا زیاته ونډه درلوده، خو له مقدماتو پرته ناڅاپه د یهودیت څخه نصرانیت ته ور واوښت ـ سره له دې چې تر اخره پورې یې فریسی یهودي ډلې ته په انتساب افتخار کاوه ـ پولس چې اوسني نصراني عقاید تقریبا ټول همده جوړ کړي دي، او دا

---

(٦) د دی تفصیل لپاره وګوری: محاضرات فی النصرانیة ص ٤١ او له دی وروسته.

ځکه چې د عیسی علیه السلام حقیقي موحد اتباع د تعقیب او ځپلو له امله په دې نه توانیدل چې په لیکلې بڼه د حضرت عیسی علیه السلام تعلیمات خلکو ته وړاندې کړي، له دې امله به یې یوازې په شفوي توګه د تعلیماتو په وړاندې کولو اکتفاء کوله، او پولس (شاول) به د بیلا بیلو رسائلو له لارې خپل تعلیمات خلکو ته په لیکلی بڼه رسول، چې ورو ورو هغه شفوي تعلیمات په ډیره محدوده ساحه کې پاتې شول، او په عامه توګه هغه افکارو رواج وموند چې د پولس په رسائلو کې مطرح شوي ؤ، په دې توګه د پولس افکار د نوي مسیحیت لپاره مصدر وګرځیدل، او لکه چې ټول مؤرخین په دې تصریح کوي او تقریبا اتفاق پرې لري چې پولس په حقیقت کې د یونانیانو د وثنی افکارو، اسکندري او هیلیني دیني تصوراتو نه متاثر وه، چې د یهودی او هیلیني دیني تصوراتو او د یونانیانو د ما وراء الطبیعي افکارو څخه یې نوي افکار جوړ کړل( ) او دا ځکه چې پولس پخپله رومي تابعیت درلود او پر رومي عقایدو لوی شوی وه(۸).

د بیلګې په توګه د مسیحیانو دا عقیده پولس ایجاد کړې چې عیسی علیه السلام په خپلې قربانۍ د بشریت د هغه ګناهونو فدیه ورکړې چې هر انسان یې په وراثت سره د ادم علیه السلام د خطاء په نتیجه کې په غاړه لري، دا عقیده په حقیقت کې د یونانیانو مشهوره عقیده وه چې هغوی د خپلو خدایانو ـ اوزریس، انیس، دیونیشس ـ په اړه

(۷) قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲٦۹

(۸) قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۴۹

درلوده چې دوی د دې لپاره مړه شوي چې په خپل مرګ د انسانانو د ګناهونو فدیه وړاندې کړي.

همدا راز هغه القاب چې د پولس لخوا حضرت عیسی علیه السلام ته استعمال شول لکه (سوتر) ـ چې د ژغورونکي (المخلّص) معنی لري ـ او (الیوثریوس) (Eleutherios) ـ چې معنی یې نجات ورکوونکی (المنجی) دی ـ دا ټول القاب د یونانیانو له خوا همدې خدایانو لپاره استعمالیدل.

همدا راز د (کریوس) (Kyrios) ـ چې معنی یې خدای (الرب) ده ـ او د پولس لخوا د لومړي ځل لپاره د حضرت عیسی علیه السلام لپاره استعمال شوه، دا لفظ هم په یوناني دیني ادبیاتو کې د (دیونیشس) ـ چې ځان یې فداء او قرباني کړې وه ـ لپاره استعمالیده[9].

غربي محققین په دې اعتراف کوي چې اوسنی مسیحیت د حضرت عیسی علیه السلام سره هیڅ تړاو نه لري، بلکې دا د پولس ایجاد کړی دین دی چې د بیلا بیلو مصادرو څخه یې اختراع کړی دی.

په دې اړه یو برتانوي محقق (ویلز) وایي: *(وظهر للوقت معلم آخر عظیم، یعده کثیر من الثقاة العصریین المؤسس الحقیقي للمسیحیة، وهو شاول الطرسوسي أو پولس ... والراجح أنه کان یهودي المولد، وإن کان بعض الکتاب الیهود ینکرون ذلك، ولا مراء في أنه تعلم علی أساتذة من الیهود، بید أنه کان متبحراً في لاهوتیات الإسکندریة الهیلینیة .. وهو*

---

(۹) ددی او نور تفصیل لپارهوګورې: قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲٦۴

*متأثر بطرائق التعبير الفلسفي للمدارس الهلنستية، وبأساليب الرواقيين، كان صاحب نظرية دينية ومعلماً يعلم الناس قبل أن يسمع بيسوع الناصري بزمن طويل .. ومن الراجح جدا أنه تأثر بالمثرائية، إذ هو يستعمل عبارات عجيبة الشبه بالعبارات المثرائية . ويتضح لكل من يقرأ رسائله المتنوعة جنباً إلى جنب مع الأناجيل أن ذهنه كان مشبعا بفكرة لا تظهر قط بارزة قوية فيما نقل عن يسوع من أقوال وتعليم، ألا وهي فكرة الشخص الضحية الذي يقدم قربانا لله، كفارة عن الخطيئة. فما بشر به يسوع كان ميلادا جديدا للروح الإنسانية . أما ما علمه پولس فهو الديانة القديمة، ديانة الكاهن والمذبح، وسفك الدماء لاسترضاء الإله"*[1].

په هغه وخت کې يو بل لوی معلم را ښکاره شو، چې په دې عصر کې اکثره د اعتماد وړ علماء يې د مسيحيت[1] حقيقي بنسټ اېښودونکی ګڼي، او هغه شاول الطرسوسی يا پولس وه ... باوري خبره دا ده چې هغه په اصل کې يهودي وه ـ سره له دې چې يو شمير يهودي ليکوالان له دې نه انکار کوي ـ ليکن په دې کې خو هيڅ شک نشته چې هغه له يهودي استاذانو څخه علم ترلاسه کړی وه، ولې له دې سره سره

---

(1) "معالم تاريخ الإنسانية " ترجمة عبد العزيز توفيق جاويد، طبع لجنة التأليف والترجمة والنشر بالقاهرة، ج ٣ . ص ٧٠٥.

(1) د هغه دين چې اوس د مسيحيت په نوم په نړۍ کې معروف دی، حقيقي مسيحيت چې حضرت عيسى عليه السلام د الله له لوری راوړی وه هغه ترې مراد نه دی.

هغه د اسکندري هیلیني( ) دیني علومو متبحر عالم هم وه، او د یونانی فلسفې په ځانګړي توګه د اسکندري هیلني فلسفي مدرسې د تعبیراتو او د رواقي( ) فلسفي د اسالیبو څخه اغېزمن وه، پولس د حضرت عیسیٰ علیه السلام له تعلیماتو څخه تر خبریدو ډیر وړاندې د یوې دیني نظریې څښتن او یو معلم وه چې خلکو ته به یې ښوونې کولې (یعنې پخپله یې مستقل دین درلود او د حضرت عیسی علیه السلام پیرو نه وه ) سمه خبره دا ده چې هغه د مثرائی( ) دین څخه متاثر وه، ځکه هغه مثرائی تعبیراتو ته ډیر ورته تعبیرات استعمالوي، څوک چې د پولس رسائل د اناجیلو سره یوځای مطالعه کړي هغه ته په څرګنده توګه دا ثابتیږي چې د هغه ذهن د داسی افکارو څخه ډک وه چې د حضرت عیسی علیه السلام څخه په نقل شوو تعلیماتو او اقوالو کې هیڅ بارز حیثیت نه لری (یعنی د حضرت عیسی علیه السلام د اقوالو او تعلمیاتو سره اړخ نه لګوي) د بیلګې په توګه هغه فکر چې د هغې سره سم یو شخص د (حضرت ادم علیه السلام څخه په وراثت باندی ټولو انسانانو ته د منتقل

---

( ۱) مؤرخین وایي چې یونانی تمدن په دوه مرحلو ویشل کیږی چې یوه یې هیلینی دوره ده چې دا د یونانی تمدن د عبقریت دوره ده چې د قبل المیلاد د څلورمی پیړی څخه پیل کیږی او د اسکندر مقدونی تر وفات پورې دوام کوي، او بله مرحله یې هلنسی دوره ده چې دا یې د تنزل دوره ده چې له دی وروسته پیل کیږي..

( ۱) دا یوه فلسفی مدرسه ده چې فیلسوف رینان تاسیس کړی وه او بنسټ یې په دنیاوی لذتونو کې په زهد او حسی لذتونو او تکلیفونو څخه په بی پروایی ایښودل شوی وه.

( ۱) مثرا په پخوانی فارسی دین کی د نور او رڼا خدای ته ویل کیده، مثرائی یعنی پخوانی فارسی دین.

شوی) ګناه د کفارې لپاره قربانيږي، نو د حضرت عيسى عليه السلام راوړی دين په حقيقت کې د يو نوی انسانی روح پيدايښت وه، او د پولس تعليمات قديمی او پخوانی اديان ؤ، د کاهن او مذبح دين، او د خدايانو د خوشحالی لپاره د وينو تويولو دين!

د پولس (شاول) په اړه ويل ديورانت دا خبره په نور صراحت سره کوي. هغه وايي چې پولس يو داسی دين ايجاد کړ چې لپاره يې د حضرت عيسى په اقوالو کې هيڅ دليل نه ليدل کيږي، او هغه دين چې شاول ايجاد کړ، شايد د هغې اصلي سبب هغه پښيماني وه چې هغه ورسره مخامخ شو (يعني د مسيحيانو د تعذيب په اړه پښيماني) او يا هغه تصور د دې دين مصدر وه چې دده په اند عيسى عليه السلام ده ته خوب له لارې منتقل کاوه، همدا خبره ويل ديورانت د يوحنا په باره کې هم کوي، هغه وايي: کوم کار چې پولس پيل کړی وه هغه يوحنا پرمخ يوړ، حضرت عيسى عليه السلام چې د خپل ځان په باره کې څه ويلي ؤ- چې هغه (مسيح منتظر) دی چې د بنی اسرائيلو د اصلاح لپاره راليږل شوی-، پولس( ) او يوحنا او نورو هغه کسانو چې د يوناني او قديمو ٥

( ١) په دی باب د معاصری نړي د مقارنة الاديان يو مشهور عالم هيم ماکبی کتاب (بولس وتحريف المسيحية) ترجمة سميرة عزمی الزين، من منشورات المعهد الدولی للدراسات الانسانية، دلوستلو وړ دی، هغی په ډير تفصيل سره او د مکملو شواهدو سره دا ثابته کړی چی دااوسنی مسيحيت هغه مسيحيت نه دی چی حضرت عيسی عليه السلام راوړی وه، بلکه دا دبولس ايجادکړی مسيحيت دی چی دبيلا بيلو وثنياتو او منحرفو افکارو څخه يی راټول کړی دی.

فارسي او هيليني( ) تمدنونو او افکارو څخه متأثر ؤ، او وثنيت (بت ٦
پرستی) يې په فکرونو کې اغښتل شوې وه، دوي يو نوی مسيحيت را
ايجاد کړی چې اجزاء يې د بيلا بيلو پخوانيو فلسفي افکارو او اديانو
څخه اخيستل شوي ؤ، په اخر کې وايي: (*وقصارى القول إن المسيحية
كانت اخر شيء عظيم ابدعه العالم الوثني القديم*)( ) خلاصه خبره دا ده
چې مسيحيت( ) هغه وروستنی لوی شی دی چې د پخوانی بت پرستې ٨
نړۍ له بطن څخه راپيدا شوی دی، يعنې د پخوانی‌بت پرستې دنيا د
افکارو او اديانو څخه بيلا بيل افکار او معتقدات د پولس، يوحنا او داسې
نورو په ذريعه راجمع کړای شول او دا مسيحيت ترې ترتيب شو، په دې
معنی چې دا محرف مسيحيت وه او هغه مسيحيت نه وه چې حضرت
عيسى عليه السلام د يو سماوي دين په حيث د الله تعالی له لوري د
بشريت (بلکې په ځانګړی توګه د بني اسرائيلو) د هدايت لپاره راوړی وه
.

دا لومړی لامل وه چې پر بنسټ يې د حضرت عيسى عليه السلام
اصلي دين د تحريف سره مخامخ شو، ډير خلک خو دا تصور لري چې د
پولس نصراني کيدل په حقيقت کې د يهودانو له خوا يوه پلمه وه چې د
حضرت عيسى عليه السلام هغه دين چې هغوي د تعذيبونو او زورونو له

---

( ١) هيليني د يونانيانو د فلسفي فکر د اوج مرحلی ته ويل کيږي چی د اسکندر اعظم څخه دمخه پای ته رسيدلی.

( ١) قصة الحضارة ج ١١ ص ٢٧٦.

( ١) هغه مسيحيت چی په اروپا کی رائج وه، ددی څخه مراد هغه اصلی مسيحيت نه دی چی حضرت عيسى عليه السلام دالله تعالی له لوری راوړی وه.

لارې و نه توانیدل چې له منځه یې یوسي ویې غوښتل چې د داخل څخه یې تحریف کړي او په دې توګه یې له منځه یوسي، چې تر ډیره حده په دې وتوانیدل، دا محققین د پولس دا کوښښ له هغو کوښښونو سره مقایسه کوي چې د عبدالله بن سبأ یهودي او نورو زندیقانو لخوا د اسلام د معنوي تحریف لپاره په لومړۍ هجري پیړۍ کې سرته رسیدلی.

څرنګه پولس (شاول) د دې ادعاء وکړه چې هغه د هغه اویا کسانو له جملې څخه دی چې د حضرت عیسی علیه السلام د اوچتیدو څخه وروسته د هغه سره په تماس کې دي، او هغوي ورته وحی راځي، او په مسیحیت کې د داخلیدو لپاره یې هم داسې یوه لاره اختیار کړه چې د هغه د مکر، چالاکۍ او فریب له امله مسیحیانو هغه د (معلم اول) په حیث ومانه، یوازې دا نه بلکې د انجیل ډیر لیکونکی لکه، مرقس او لوقا یې شاګردي اختیار کړه، دې کار پولس ته د دې امکان ور په برخه کړ چې د نصرانیت په اصولو او فروعو ـ ټولو کې ـ داسې تحریف او تبدیلۍ وکړي چې هغه ته له خپلی اصلي بڼې څخه په بشپړه توګه مغایر شکل ورکړي.

## د پولس دین د اصلي دین ځای ونیوه

د دې نوي مسیحیت ـ چې د پولس او نورو څه رسولانو (هغه اویا کسانو چې د دې ادعاء به یې کوله چې دوی د الهام او وحې په توګه تعلیمات له حضرت عیسی څخه نیغ په نیغه اخلي، او د هغه د پخوانیو

تعلیماتو پابند نه دي) په لاس رامنځ ته شو ـ نه وړاندې یو ډول تشه موجوده وه، ځکه چې هلته په ټولنه باندې یا خو رواقي او ابیقوري فلسفي نظریاتو حکومت کولو او یا هم هغه محرف یهودیت چې پر یو ځانګړي ملیت او قومیت پورې تړلی دین وه،:، او یا هغه بت پرستي چې د رومیانو د امپراطورۍ رسمي دین وه حاکمیت درلود، دې ټولو ادیانو او افکارو د هغه وخت د ټولنې روحي اړتیاوې نه شوای پوره کولی، له دې امله هغه مسیحیت ـ چې د بیلا بیلو افکارو او معتقداتو څخه په استفادې سره د پولس او نورو رسولانو په لاس رامنځ ته شوی وه او څه نا څه د حضرت عیسی علیه السلام اصلي تعلیمات هم پکښې ؤ ـ د دې فراغ په پایله کې د هغه لپاره د خپریدو زمینه برابره شوه، او د اسیا، افریقا او اروپا بیلا بیلو ساحو ته خپور شو، په همدې وخت کې بیلا بیلې کلیساګانې رامنځ ته شوې، او مقدس کتاب لاتیني ژبو ته ترجمه شو، دا پیشرفت له دې مخکې رامنځته شو چې په دریمې میلادي پیړۍ کې روما په رسمي توګه مسیحیت ومني او امپراطور یې مسیحیت قبول کړي، په دې اړه دیورانت داسې وایي: (*وبعد أن تشكّل الدين الجديد بحيث يفي بحاجات الإنسان أخذ ينتشر بين الناس بما أوتي من قدرة على الذيوع والانتشار، فكان كل مَن اعتنق هذا الدين ينصب نفسه داعياً له بحماسة لا تقل في قوتها عن حماسة الثوار*)( ). ٩

---

( ۱) قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۸۸- ۲۸۹.

وروسته له دې چې دا نوی دین (د پولس مسیحیت) تشکیل شو، په داسې توګه چې د انسانانو اړتیاوې (د هغه وخت د بت پرستی، یهودیت، او فلسفي نظریاتو په پرتله په بهتره او غوره توګه) پوره کولی، نو د خلکو ترمنځ یې په خپریدلو پیل وکړ، او دا دهغه توان په پایله کې چې دې دین د خپریدلو لپاره درلوده، او دا ځکه چې هر چا به دا دین قبول کړ ځان به یې د دې دین یو هڅاند دعوتګر ګرځاوه چې جوش او خروش به یې د انقلابیانو څخه کم نه ؤ.

د مسیحیت د انتشار او خپریدو په اړه همدا لیکوال وایي: *(ویمكننا أن نقول بوجه عام إنه لم یحل عام ۳۰۰ بعد المیلاد حتی کان ربع سکان الشرق وجزء من عشرین جزءاً من سکان الغرب من المسیحیین. وفي ذلك یقول ترتلیان (حوالي عام ۲۰۰): "یجهر الناس بأن الدولة مكتظة بنا، ذلك أن الخلائق على اختلاف سنهم، وأحوالهم، ومراتبهم، یهرعون إلینا، وینضوون تحت لوائنا. إنّا أبناء الأمس القریب ولكننا رغم هذا قد ملأنا العالم كله)*[2] په عامه توګه دا ویلی شو چې ۳۰۰ میلادی کال د راتلو څخه دمخه د شرق څلورمه برخه او غرب شلمه برخه اوسیدونکي مسیحیان شوي ؤ، په دې اړه ترتلیان (چې شا او خوا ۲۰۰ میلادي کال کې وفات شوی) وایي: خلک په صراحت سره وایي چې (رومی) دولت له موږ څخه ډک دی، او دا ځکه چې ټول خلک د عمرونو، حالاتو، او مرتبو د اختلاف سره سره موږ ته رامات دي، او زموږ تر

---

(۲) قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۲۸۹.

بیرغ لاندې راغونډېږي، موږ ډیر اوسني خلک یو مګر له دې سره سره په موږ ټوله دنیا ډکه ده.

د مسیحیت د انتشار ترڅنګ د مسیحیت په داخل کې ډیر متنوع افکار او عقاید رامنځ ته شول، څه خلکو دا عقیده درلوده چې حضرت عیسی علیه السلام د الله رسول دی، او له دې څخه پرته بل څه نه دی، یو شمیر خلک په دې نظر ؤ چې هغه د الله تعالی ځوی، او قدیم دی، .یوې فرقې دا نظر درلود چې هغه سره له دې چې د الله ځوی دی، مخلوق هم دی، .دا ډول ډیرې فرقې موجودې وې، . د فرقو د کثرت په اړه ویل دیورانت د هغه وخت د یو مسیحی چې سلس نومیده کیسه کوي، چې هغه ویل: *(ان المسیحیین تفرقوا شیعا کثیرة، حتی اصبح همّ کل فرد منهم أن یکون لنفسه حزبا)*[2] مسیحیان په ډیرو فرقو وویشل شول، تر دې چې د هغوی څخه د هر فرد قصد دا دی چې د ځان لپاره یوه ډله جوړه کړي، او هرې فرقې دا نظر درلود چې همدا د حضرت عیسی علیه السلام د راوړي دین صحیح نمایندګي کوي.

## دویم لامل: په مسیحیت کې د رومیانو شمولیت

د حضرت عیسی علیه السلام اتباع د هغه د دعوت د څرګندیدو او بیا اسمان ته تر اوچتیدو وروسته د سختو تعذیبونو لاندې ؤ، لومړی د

(۲) قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۳۱۴.

(نیرون) په وخت کې چې د ۵۴م څخه یې تر ٦٨ پورې حکومت کړی( )، بیا د امپراطور (تراجان) په وخت کې چې د ۹۸م څخه[۲] یې تر ۱۱۸م پورې حکومت کړی، دهغه په وخت کې د مسیحیت تهمت به چې په چا ولګیده د هغه سزا اعدام وه، همدا راز د امپراطور (دیکیوس) چې د ۲۴۹م څخه یې د ۲۵۱م پورې حکومت کړی، او بیا د امپراطور (دقلدیانوس) په حکومت کې چې د ۲۸۴م تر ۳۰۵م پورې یې حکومت کړی، د سختو تعذیبونو سره مخامخ ؤ، دې امپراطور د مسیحیانو د کلیساګانو د ورانولو او د هغوی د کتابونو د سوزولو عام حکم صادر کړی وه، نو ترکومه چې د دې رومانې امپراطورانو په وخت کې مسیحیان د تعذیب لاندې او په ستونزو کې یې ژوند تیراوه، تر دې وخته د دوی تر منځ شته اختلافات راڅرګند نه شول، ځکه هیچا د خپلو افکارو د اظهار توان نه درلود، په دې افکارو کې په طبیعي توګه هغه افکار هم ؤ چې د بت پرستو دینونو د اغیزی له امله مسیحیت قبول کړي ؤ، ځکه ډېر داسې خلک چې بت پرستانه نظریات یې درلودل د خپلو پخوانیو عقایدو سره په مسیحیت کې شامل شوي ؤ، په دوی کې په ډېر لوی تعداد کې د پولس (شاول) د محرف مسیحیت منونکي هم ؤ، د دې ترڅنګ څه هغه خلک هم موجود ؤ چې د اصلي مسیحیت تر اغیزې لاندې یې حضرت عیسی علیه السلام یوازې پیغمبر باله، د دې بیلا بیلو افکارو ترمنځ شدید اختلافات موجود ؤ، د بیلګې په توګه د اسکندریې د کلیسا سره په مخالفت کې د مسیحیت یو عالم چې اریوس نومیده په دې عقیده وه

---

( ۲) د حضرت عیسی علیه السلام اتباع یې په دې متهم کړل چې دوی د روما ښار سوځولی دی.

چې حضرت عیسی علیه السلام خدای نه دی، کله چې د روم امپراطور قسطنطین د څه سیاسي ملحوظاتو له امله په ظاهري توګه مسیحیت قبول کړ( ) نو دلته دا اختلافات را څرګند شول، د دې اختلافاتو د[3] له منځه وړلو لپاره قسطنطین په ۳۲۵ م کال کې د مسیحي دیني مشرانو یوه اجتماع راوغوښتله چې د (مجمع نیقیه) په نوم یادیږي، او هلته په بنسټیزه توګه د حضرت عیسی علیه السلام د الوهیت قضیه بحث شوه، چې د مجمع اکثر غړي د اریوس نظر او رایه تایدوله، خو څرنګه چې قسطنطین په خپله بت پرستی ته میلان درلود نو هغه پخپله د خپل اثر او رسوخ په نتیجه کې د هغه چا رای ته رسمي بڼه ورکړه چې د حضرت عیسی علیه السلام په الوهیت یې ایمان درلود، په دې توګه هغه بت پرستي چې په مسیحت کې ننوتی وه رسمي بڼه غوره کړه، او د توحید اواز خفه کړی شو، د دې نظریې او د حضرت عیسی د ابن الله د نظریې سره مخالفت لرونکو دکتابونو د سوزولو حکم ورکړای شو، څوک چې د توحید قائل ؤ، ملعون وګرځولی شول او د کلیسا څخه یې د شړلو حکم

---

( ۲) چی د مسیحیت د اظهار په نتیجه کی یی غوښتل چی مسیحیان چی شمیر یې تر هغه وخته پوری ډیر زیات شوی وه له یوی خوا د خان سره و دروی، او له بلی خوا چی کله یی دا ولیدل چی مسیحیان د خپلو مذهبی مشرانو څومره تقدیس او احترام کوی غوښتل یی چی دا احترام دی ته ترلاسه شی له له دی امله یی په ظاهری توګه مسیحیت قبول کړ مګر په حقیقت کی پری هغه پخواني پت پرستانه نظریات غالب وو چی د یونانیانو دین وه. وګوره: قصة الحضارة ج ۱۱ ص ۳۸۷ (دا په حقیقت کی د امپراطور لخوا د نصرانیت منل نه ؤ، بلکه د وثنیت او نصرانیت ترمنځ یو ډول ایتلاف وه چی ددی په نتیجه کی رامنځ ته شو، ددی په نتیجه کی نصرانیت د ډیرو عقایدو څخه تنازل وکړ، او د پت پرستی ډیر عقاید یی ومنل).

صادر شو( )، په دې توګه ويلی شو چې روميان په مسيحيت کې داخل[٤]
نه شول بلکې د مسيحيت او روماني بت پرستۍ څخه يو نوی دين ايجاد
شو، او دا د روميانو او يونانيانو او په عامه توګه په غرب کې خپريدونکی
دين وګرځيده( )، له همدې امله لوی مؤرخين په پوره اطمينان سره ٥
وايي چې دا مسيحيت په بشپړه توګه د قسطنطين د تاثير لاندې وه، ولز
وايي: (*والجلی الذی لاخفاء فيه ان قدرا کبيرا من تاريخ المسيحية فی
ذلک العصر يشف عن روح قسطنطين الکبير بقدر ما يشف عن روح
يسوع ان لم يزد*) هغه څرګند حقيقت چې هيڅ ډول پټه، غموض او خفاء
پکښې نشته دا دی چې په هغه وخت کې د مسيحيت تاريخ د حضرت
عيسی د روح څخه چې څومره نمايندګي کوي په هماغه اندازه د لوی
قسطنطين د روح څخه نمايندګي کوي، دا (قسطنطين ونډه) که زياته نه
وي نو کمه خو نه ده)( ) او دا خو څرګنده خبره ده چې د قسطنطين ٦
کبير روح د يوناني بت پرستۍ روح وه، او په غرب کې خپريدونکی
نصرانيت د همدې روح څخه اغيزمن وه، چې دا په حقيقت کې د
مسيحيت د تحريف دويم لوی لامل وه .

## همدا مسيحيت په اروپا کې خپور شو

( ٢) ددی تفصيل لپاره وګوری محاضرات فی النصرانية د شيخ محمد ابو زهرة ص ١١٢ او له دی ورسته صفحات.

( ٢) همدی دين ته کاتوليکی دين وويل شو (چی لفظی معنی يی عام دين دی) يعنی د امپراطوری رسمی او عام دين ايجاد شو.

( ٢) معالم تاريخ الانسانية مخکينی کتاب ج ٣ ص ٣٨.

تر پنځم قرن پورې همدا رسمي مسیحیت (کاتولیکی مذهب) د نړۍ اکثره سیمو ته خپور شو چې په کې د اروپا، افریقا او اسیا زیاتې برخی شاملې دي( )، د مسیحیت د انتشار ترڅنګ د کلیسا د واکمنانو ۷
سره د سیاسي حاکمیت د ترلاسه کولو تصور را پیدا شو، د بیلګې په توګه اغسطین د (۳۵۴- ۴۳۰) په خپل لیکلي کتاب (د خدای مملکت) کې د کلیسا د سیاسي افکارو د تطور او خپریدو انځور وړاندي کوي، هغه په خپل یاد شوي کتاب کې لوستونکي ته دا تصور ورکوي چې دا ټوله نړۍ د الله مملکت (د کلیسا امپراطوري) ګرځیدلی شي( )، له دې څخه څو لسیزې وروسته دا تصورات یوه ځانګړې سیاسي نظریه وګرځیده، څه وخت وروسته چې بیلا بیل قومونه په مسیحیت کې داخلیدل نو پاپ د دې ادعاء کوله چې هغه د ټولي مسیحي نړۍ په بادشاهانو تسلط لري، ورو ورو دا تصور مستحکم شو او د یو څو پیړیو په دننه دننه کې پاپ په نظري او عملي لحاظ د مسیحي نړۍ مرکزي شخصیت وګرځید، هغه هم دیني رهبر وه، هم قاضي او هم مقدس پادشاه او د پادشاهانو څارونکی وه، او په دې توګه کاتولیکي مذهب په غربي نړۍ خپل تسلط قائم کړ.

## د کلیسا د ټولواکۍ مرحله پیل شوه

( ۲) معالم تاریخ الانسانیة ج ۳ ص ۳۹.

( ۲) معالم تاریخ الانسانیة ج ۳ ص ۴۱.

کله چې کلیسا د اروپا سیاسي، اجتماعي، اودیني ټولواکي ترلاسه کړه، او نور ټول ځواکونه ضعیف شول نو د دې په نتیجه کې د کلیسا د زور ځواکی او استبداد مرحله پیل شوه، او دا له دې امله چې د مسیحیت مشرانو له یو اړخ نه ځان ته د الله تعالی د نمایندګانو حیثیت ورکړ، او له بلې خوا په سیاسي لحاظ هم داسې کوم ځواک نه وه چې د کلیسا او د مسیحیت د مذهبي مشرانو واک محدود کړی شي، د دې ترڅنګ داسې څه عوامل او لاملونه هم ؤ چې کلیسا یې د خلکو په اذهانو کې منفوره کړه، نو لکه څنګه چې په اروپا کې د همدې محرف مسیحیت او کلیسایي دین څخه پرته بل څه د دین په نوم نه پیژندل کیده، له دې امله هغه ټول نفرت چې د دې محرف مسیحیت او کلیسا سره ایجاد شوی وه، هغه د مطلق دین سره په نفرت باندې بدل شو، او په دې توګه د الحاد لپاره لاره هواره شوه، د اروپایانو غلطي داوه او تر اوسه پورې همدا ده چې پرته له دې چې څیړنه وکړي چې ایا هغه قابل نفرت عوامل چې د کلیسا پر ضد د نفرت لامل وګرځیدل په ټولو ادیانو کې مشترک دي او که یوازې په همدې محرف کلیسایي دین کې منحصر دي؟ ددی سوال لپاره د ځواب د لټولو پرته یې ټول ادیان یې یو ډول وانګیرل، او د ټولو ادیانو د مطلق ردولو دریځ یې غوره کړ، په داسې حال کې چې دا ممکنه وه چې د صحیح او درستې څیړنې په نتیجه کې د حق دین منلو ته رسیدلي وی، مګر دلته هم د کلیسا هغه متعصبانه تعامل چې د اسلام پر ضد یې اختیار کړی وه، داسې رول ولوباوه چې

اروپایان یې د اسلام او حق له منلو څخه محروم کړل، او هغه په دې توګه چې کله اروپایان د کلیسا څخه د تنفر په حالت

کې ؤ او د دې امکانات پیدا شوي ؤ چې اسلام مطالعه کړي او دلچسپی په کښې واخلي، په دې وخت کې کلیسا د اسلام په اړه داسې زهرجن تبلیغات پیل کړل چې په نتیجه کې یې اسلام د مسیحیت یوه منحرفه فرقه، او یو خونخوار دین معرفي کړ، د دې ترځنګ یې خپل ټول توان په دې مصرف کړ چې اروپایان په هیڅ ډول د عالم اسلام سره تماس ونه شي نیولی تر څو د کلیسا د مشرانو په قبضه کې پاتې شي، په دې توګه ددوی دا کړه وړه صحیح دین ته په لار نه موندلو او د کلیسا څخه تنفر په الحاد منتج شول، او د مطلق دین پر ضد یې بیرغ پورته کړ.

دلته په لنډه توګه هغه لاملونه په ګوته کوو چې اروپا کې یې د کلیسا پر ضد د خلکو نفرت راوپاروه.

## د کلیسایي نظام څخه د خلکو د تنفر لاملونه

ډیر داسې عوامل پخپله کلیسا برابر کړل چې د هغو د رد عمل په نتیجه کې یې د اروپا خلک د هغی پر ضد قیام ته وهڅول، او نه یوازې دا چې د کلیسا د ټولواکی څخه یې ځانونه وژغورل، بلکې د مطلق دین انکار او الحاد ته یې اماده کړل، دا لاملونه او عوامل په لاندې ډول دي:

### لومړی: دیني استبداد

په حقیقت کې د کلیسا لخوا دیني استبداد هغه وخت پیل شو، چې پاپ او د مسیحیت دیني مشرانو ځان ته هغه ټول صلاحیتونه ورکړل چې هغه د الله حق وه، د دې تر څنګ په خلکو د غیر معقولو عقایدو فرض کول (تپل) لکه تثلیث، العشاء الربانی( )، عقیدة الخطیئة الموروثة( )، د صلب او فداء( ) عقیده او داسی نور او دا خو واضح خبره ده چې په عقلي لحاظ دا باطل او بې معنی شیان دي، مګر کلیسا د استبداد په نتیجه کې په دې اړه د تفکیر څخه هم خلک منع کړل.

ځان یې د حلال او حرام ګرځولو مصدر وګرځاوه، دا کار به کله د کلیسا د مشر پاپ او یا هم د مسیحیانو د دینی علمي ټولنو (مجامعو) له لارې سرته رسیده، د بیلګې په توګه په لاندې چارو کې یې د دین حکم

---

(۲) د عشاء رباني څخه مراد هغه عقیده ده چې مسیحیان یی لری او هغه دا چی په کومه شپه حضرت عیسی علیه السلام نیول کیده هغوی د خپلو ملګرو سره یوځای د شپی ډوډی وخوړه او شراب یی وڅښل، اوس چی څوک د هغی په یاد کی شراب وڅښی هغه د حضرت عیسی وینه بلل کیږی او کومه فتیره ډوډی چی وخوری هغه د حضرت عیسی جسم او جسد بلل کیږی او کله چی د حضرت عیسی علیه السلام جسم او د هغی وینه د چا د بدن جزء وګرځی نو بیا هغه د جهنم اور نه سوځوی، همدا د عشاء ربانی تصور دی.

(۳) د موروثی خطاء مفهوم دا دی چی مسیحیان عقیده لری چی هر انسان چی پیدا کیږی هغه په وراثت سره د هغه ګناه یوه برخه په غاړه لری چی حضرت ادم علیه السلام یی په جنت کی د میوی د خوړلو په شکل کی ارتکاب کړی وه، او حضرت عیسی علیه السلام د همدی خطاګانو او ګناهونو د فدیی او بدلی د ورکولو لپاره خان قربانکړ او په صلیب راوځړیده، دا وروستی عقیده د صلب او فداء په نوم یادیږی.

(۳) دا هم د پورته عقایدو پوری تړلی یوه عقیده ده چی حضرت عیسی علیه السلام چی ـ والعیاذ بالله ـ د الله ځوی وه په دار کړی شو تر څو د خپلو ټولو اتباعو د ګناه فدیه وګرځي.

په بشپړه توګه بدل او تحریف کړ، ختنه (ماشومان سنتول) په مسیحیت کې واجب ؤ، دوی حرامه وګرځوله، مرداره (المیتة) خوړل حرام ؤ، دوی یې خوړل مباح وګرځول، خنزیر مردار او خوړل یې حرام ؤ، دوی حلال وګرځاوه، تماثیل او بتان جوړول شرک او بت پرستي بلل کیده، او حضرت عیسی علیه السلام یې پرضد مبارزه کوله، مګر دوی هغه د تقوی او د حضرت عیسی او د هغه د مور د یاد وسیله وګرځوله، د پاپانو او دیني مشرانو لپاره نکاح او واده جایز وه، دوی حرام وګرځاوه، د مسیحیت د منونکو مال اخیستل حرام ؤ، مګر وروسته د کلیسا ټیکس فرض وګرځیده، او نور ډیر داسې قضایا چې د دوی دیني مجامعو پکې حلال، حرام او حرام، حلال وګرځول.

بل مظهر یې د "رجل دین" تصور وه، کلیسا ټول دیني مصادر په بشپړه توګه په خپل واک کې ساتل، هیچا ته د هغو د لوستلو اجازه نه وه، او د الله سره د ارتباط یواځینی وسیله همدا کلیسا وه، هر هغه څه به حق ؤ چې کلیسا مشرانو به حق وګڼل، او هر هغه شی به باطل ؤ چې کلیسا به ورته باطل وویل، ځکه کلیسا ځان د خطا او غلطۍ څخه معصوم باله، د کلیسا مشران د الله تعالی نمایندګان ؤ، د هغوي خبره د الله تعالی خبره ګڼل کیده، د مقدس کتاب هر تفسیر به چې دوی وکړ هغه به هماغسې مقدس وه لکه پخپله مقدس کتاب، خلکو به د رجال دین (دالله د نمایندګانو) په وړاندې د خپلو ګناهونو اعتراف کاوه او بیا به د دې اعتراف په نتیجه کې هغوی ته د کلیسا د مشرانو او رجال دین لخوا معافي ورکول کیده، دوي تر دې حده پورې ځانونه د الله تعالی

نمایندګان ګرځولي چی د دوی د وسیلې څخه پرته چا د الله تعالی څخه د خپلو ګناهونو مغفرت هم نشو غوښتلی.

د دې استبداد یوه بله نمونه هغه حقوق ځان ته ثابتول ؤ چې د الله جل جلاله څخه پرته د بل چا لپاره ممکن نه دي، لکه د حق الغفران، حق الحرمان (دا د کلیسا په لاس کې داسې لویه او خطرناکه وسله وه چې د هر مخالف د ویرولو لپاره یې کفایت کاوه، له دې وسلې څخه د ډیرو خلکو پرضد کار واخیستل شو لکه اریوس، لوثر، او ډیر بادشاهان) یعنې هر چا به چې د قسیس پر وړاندی د ګناه اعتراف وکړ هغه ته به قسیس ګناه معاف کوله او هغه ته به یې د مغفرت چک ورکاوه چې دې ته صکوک الغفران[3] ویل کیدل، او چا به چې د کلیسا د کوم قانون او یا هم د کلیسا د واکدارانو د کوم فرمان مخالفت وکړ هغه به یی د هر ډول حقوقو څخه محروماوه دی ته حق الحرمان ویل کیده، یعنی د کلیسا د خوښی په نتیجه کی هر ډول لویه ګناه معاف کیده او د کلیسا د قهر او مخالفت په نتیجه کی انسان د هر ډول حق څخه محرومیده.

یو بل خدایي حق چې کلیسا دځان لپاره اختیار کړی وه او د دیني استبداد یو مظهر وه، هغه (حق التحلة) وه، د دې حق معنی دا وه چې کلیسا ته په ځانګړې توګه دا حق حاصل وه چې کله به د کلیسا

---

(3) په ځانګړی توګه به صکوک الغفران د مغفرت چکونه هغه چا ته ورکول کیدل چی په صلیبی جنګونو کی به کومو ځوانانو ګډون کاوه، هغه به چی هر څومره بدکرداره وه د قسیسانو لخوا به ورته د مغفرت چک ورکړ شو او ټول ګناهونه به یې معاف کړی شول.

مصلحت د دې غوښتنه کوله چې د مسیحیت په تعلیماتو باندې عمل ونه کړي نو په دې تعلیماتو ورته عمل کول اړین او ضروري نه ؤ، په دې توګه ټول دین د هغوی د غوښتنو، خوښیو او ناخوښیو تر سیوري لاندې وه، که خوښه به یې شوه عمل به یې پرې کاوه که خوښه به یې شوه په دی دلیل به یې پرې عمل پریښوده چې دا د کلیسا د مصلحت غوښتنه ده او دوی ته حق التحلة تر لاسه دی.

د دې استبداد بل مظهر دا وه چې د مقدس کتاب نصوص د کلیسا ملکیت ؤ، هیچا اجازه نه درلوده چې دې نصوصو ته لاس رسی ولري، او له بلې خوا د دې نصوصو د تفسیر حق هم یوازې د کلیسا د مشرانو او د کلیسا د مجامعو (د کلیسا د مذهبي شخصیتونو څخه تشکیل شوی شوراګانو) سره وه هیچا د دې اجازه نه درلوده چې د مقدسو نصوصو تفسیر وکړي، او کوم تفاسیر به چې د کلیسا لخوا صادر شول هغه به هم همداسې مقدس ګڼل کیدل لکه چې پخپله د مقدس کتاب نصوص ګڼل کیدل، په دې توګه ډیر داسې انساني تصورات او افکار د دین بنسټیزې برخې وګرځیدلې چې د دین سره یې هیڅ تړاو او اړیکې نه درلودې، ډیر ځله به دا افکار او تصورات د داسې څه په باره کې ؤ چې د تجربي علومو سره به یې اړیکه درلوده، نو کله چې تجربوي علومو پرمختګ وکړ نو دا بشري تصورات او افکار چې د زماني په تیریدو سره د دین برخه ګرځیدلي ؤ د دې تجربوي او ساینسي علومو د نتایجو

سره په ټکر او تضاد کې واقع شول، په دې توګه د علم او دين ترمنځ د تضاد قضيه( ۳ ) رامنځ ته شوه.

د دې استبداد بل مظهر دا وه چې هر چا به د رسمي کليسا سره مخالفت وکړ، او يا به يې د داسې څه په اړه د خپلې راى او نظر څرګندونه وکړه چې د کليسا د اعلان کړي دريځ او عقايدو سره به يې مخالفت درلود، د هغه د عقايدو تفتيش به کيده او محاکمه کيده به، او داسې سزاګانې به

ورکول کيدلې چې تصور يې هم د انسان غوني زيږوي، او دا د دې لپاره چې بل څوک د کليسا د مخالفت تصور هم ونه کړاى شي( ).

همدا راز په دې اړه د تفتيش د محاکمو قضيه چې اصلي موخه يې د اندلس د هغو مسلمانانو کړول ؤ چې مسيحيت به يې نه مانه. مګر وروسته بيا د کليسا د ټولو مخاليفينو پر ضد استخدام شوې، او د کليسا د تعليماتو هر مخالف او د هغې په غير معقولو خبرو اعتراض درلودنکى هر شخص به يې په ډيره وحشتناکه توګه تعذيبوه، چې د نورو لپاره يې د عبرت نښې وګرځوي.

---

( ۳) دا يوه لوى فلسفي مشکل دى چې د دين او علم، او دين او فلسفې د تضاد او تناقض تر عنوان لاندې څيړل کيږي.

( ۳) ددې لپاره وګورئ: الالحاد وأسبابه ( الصفحة السوداء للكنيسة )، ص:۸۱ ومابعدها، أ.د. زينب عبدالعزيز، دارالكتاب العربي، دمشق، والقاهرة، لومړى طبع۲۰۰۴م، اومعالم تاريخ الانسانية ج۳ص۱۷۹ و بعدها. محاضرات في النصرانية ص۱۵۳.

د همدې کلیسایي ارهاب په نتیجه کې کلیسا هر ډول آواز خاموش کړ، او هر چا به چې د کلیسا د محاکمو نوم واوریده له ویرې څخه به لړزیده، له همدې امله هیچا په ځان کې د دې توان نه درلود چې دا اظهار وکړي چې هغه په مسیحیت ایمان نه لري او یا هم د هغې کومه عقیده نه منې، ولو که دا عقاید او افکار به په بربنډه توګه د سلیم عقل او منطق سره په تناقض او تضاد کې واقع ؤ، تر دې چې لوی فلسفیان او علماء چې د کلیسا پرضد د انقلاب او د نوې نړۍ جوړوونکي شمیرل کیږي، لکه: نیوټن، فرانسیس بیکون، دیکارت، کانت او داسی نورو هم د دې جرأت نه شو کولی چې ووایي چې دوی مسیحیان نه دي، او یا دکلیسا پر هغو عقایدو چې په بشپړه توګه د عقل سره په مخالفت او تناقض کې واقع دي ایمان نه لري او یا هغه نقد کړي، د همدې استبدادي حالت یادونه برنتن په دې الفاظو کې کوي: "*لم يكن بوسع الكثيرين من أفراد المجتمع الغربي أن يعترفوا صراحة وجماعة بالإلحاد أو اللاأدرية أو بمذهب الاتصال بالله أو بأية عقيدة أخرى غير المسيحية إلا خلال القرون القلائل الأخيرة، وقد كان الكفار الذين يجاهرون بكفرهم قلة نادرة في الألف سنة التي استغرقتها القرون الوسطى، ولما كان الناس جميعاً مسيحيين فلم يكن هناك مفر من أن تكون المسيحية هي كل شئ لكل الناس، فلقد كان القديس فرانسيس وإرازمس ولويولا وميكافيلي وباسكال ووزلي ونابليون وغلادستون وجون روكفلر جميعاً مسيحيين*"( ) د غربي ټولنی ډیرو خلکو دا توان نه لاره چې په صراحت

( ۳) افکار و رجال ص ۲۰۷.

سره او د یو جماعت او ټولګي په شکل کې د الحاد، لا ادري مذهب، او الله سره د اتصال په مذهب او مسیحیت د عقیدې څخه پرته په کومه بله عقیده ایمان ولري، مګر په دې ورستیو څو پیړیو کې دا ممکنه شوه، د زرو کلونو په دوران کې چې منځنۍ پیړۍ تشکیلوي هغه کسان ډیر نادر او کم ؤ چې په ښکاره به یې د خپل کفر اظهار کولی شو، نو کله چې ټول خلک مسیحیان ؤ نو له دی څخه پرته بله چاره نه وه چی مسیحیت دی، د هر چا لپاره هر څه وي، نو له دی امله (نه د قناعت پر بنسټ) فرانسیس، ارازمس، لویولا، میکاولي، پاسکال، وزلي، ناپلیون، ګلادستون، او جان روکفلر ټول مسیحیان ؤ.

او دا ځکه چې د کلیسا د استبداد په پایله کې بل کوم فکر او دین اصلا وجود نه درلود، چې څوک یې قبول کړي، نو له دی امله دا ټول خلک سره له دې چې لوی مفکرین او شخصیتونه ؤ، او په فکري او عقلي لحاظ یی مسیحیت د عقل سره په تناقض کی ګاڼه مګر د مسیحیت په منلو مجبورؤ، د هغی د منلو څخه یې پرته بله چاره نه درلوده. دې دیني استبداد خلک دکلیسا څخه داسې متنفراو زړه توري کړل چې کله یې فرصت پیداکړ، نه یوازې دا چې دکلیسا دین یې مسترد کړ بلکې مطلق دین یې د همدې ډول استبداد مظهر وباله او مسترد یی کړ.

## دویم: سیاسي استبداد

له بل پلوه کلیسا په اروپا کې د داسې سیاسي استبداد فضاء جوړه کړه چې یوازې کلیسا پکې ازادي درلوده نور ټول خلک د کلیسا د رحم او کرم لاندې ؤ، پاپ به ځان په حقیقت کې د ټولو سلطاتو او قواو مصدر گاڼه، او تصور یې دا وه چې بادشاهان باید له دوی څخه خپل مشروعیت ترلاسه کړي، دا د پاپ (نقولا الأول) د هغه بیان څخه چې هغې په دې اړه یې صادر کړی وه ښه په څرگنده توگه ثابتیږي، هغه وایي: "*إن ابن الله أنشأ الكنيسة بأن جعل الرسول بطرس أول رئيس لها، و أن أساقفة روما ورثوا سلطات بطرس واحدا بعد واحد في تسلسل متصل... (لذلك) فإن البابا ممثل الله على ظهر الأرض يجب أن تكون له السيادة العليا والسلطان الأعظم على جميع المسيحيين؛ حكاما كانوا أو محكومين*"[ ] د الله ځوی (حضرت عیسی علیه السلام) کلیسا هغه وخت منځ ته راوړه، کله یې چې پطرس پیغمبر د هغې لومړی رئیس وټاکه، او دروم مذهبي مشرانو ته په پرله پسې توگه د پطرس همدا ځواک منتقل شو، ... نو له دې امله پاپ د ځمکې پر مخ د الله نماینده دی، نو باید چې په ټولو مسیحیانو باندې ـ هغه که حاکمان دي او که ولس دی ـ هغه ته تر ټولو لوړځواک او مشري حاصله وي.

ددې سیاسي استبداد لامل هم همدا بې ځایه او له حقیقت څخه لیرې کلیسایي محرف عقائد ؤ، د همدې عقیدی پر بنسټ کلیسا ځان ته دا حق ورکاوه چې څوک وغواړي هغه ته حکومت وسپاري او څوک چې وغواړي هغه د حکومت له چوکۍ څخه محروم کړي، او طبیعي خبره وه

---

(۳) قصة الحضارة ج ۱٤ ص ۳۵۵.

چې د صلاح او فساد معیار هغه نه وه چې باید وی، بلکې د صلاح او فساد معیار د کلیسایي مشرانو خوښې او ناخوښي او د کلیسا د ګټو ساتل ؤ، هغه چا به چې د کلیسا مشرانو ته په ظلم او زور اخیستل شوې پیسې ورکولې او خلک به یې د ظلم او بربریت ښکار ؤ، هغوی به همیشه د کلیسا د تأیید څخه برخمن ؤ، او کومو حاکمانو به چې له دې څخه سرغړونه کوله هغه به د کلیسا او دکلیسا د مشرانو د قهر مستحق ګرځیدل.

په دې اړه د کلیسا مشهور پاپ جریجوري السابع( ) وایی:*"إن الکنیسة بوصفها نظاما إلهیا، خلیقة بأن تکون صاحبة السلطة العالیة؛ و من حق البابا وواجبه، بصفته خلیفة الله في أرضه أن یخلع الملوك غیر الصالحین و أن یؤید أو یرفض اختیار البشر للحکم أو تنصیبهم حسب مقتضیات الأحوال"*( ) کلیسا د یو الهي نظام په صفت د دې حق لري ۸
چې د نړیوالې سلطې او ځواک خاونده وي، او د پاپ دا حق هم دی او فرض یې هم دي ـ ځکه چې هغه پر ځمکه د الله تعالی نماینده دی ـ چې غیر صالح او او د ناوړه کړو وړ ښتن پادشاهان له حکومت څخه معزوله کړي، او یا دا چې د حکومت لپاره څه خلک نا اهله وګڼي او یا د حالاتو د غوښتنو سره سم د خلکو لخوا د چا د عدم اهلیت او یا په حکومت باندې د ګمارلو فیصله تأیید او یا یې رد کړي.

---

( ۳) دی په صلیبي جنګونو کی ډیره لویه ونډه درلوده.

( ۳) قصة الحضارة ج ۱۴ ص ۳۹۷.

طبعا دا دینی تسلط خلک هغه وخت تر یو حده پوری مني او تحمل کوي یې چې د دې سلطې لرونکي خلک د خپلو تعلیمات نمونه وي، او هغوي پخپله پرې عمل وکړي، مگر د کلیسا د مشرانو په اړه دا قضیه بالکل چپه وه، ځکه د کلیسا مشران پخپله فاسد، ماده پرسته، په اخلاقي فساد کې اخته خلک ؤ، مگر د نورو خلکو په اړه به یې داسی احکام صادرول چی دا وړ دی او دا وړ نه دی، د هغوي د فساد کومې کیسې به چې د هغه مغلق نظام څخه بیرون راوتلې، عام خلک به یې حیرانول، .له دې امله دوی خپل اخلاقي لوړوالی او برتري له لاسه ورکړې وه، له همدې امله د کلیسا د مشرانو لخوا به د حکامو او بادشاهانو په ټاکلو کې دا ډول لاس وهنه د هغه وخت د سیاسی مشرانو او عامو وگړو لپاره د منلو وړ نه وه او په پرله پسې توگه د دې خلکو د مخالفت سره مخامخ کیدله، نو ځکه اډوارډ اول د انگلستان بادشاه، او د فرانسې بادشاه فلیپ الحمیل د دې جرأت وکړ چې ووایي: دا ضروري نه ده چې بادشاه دې د پاپ د لاس لاندې وي چې په آخرت کې جنت تر لاسه کړي، نو دې دواړو بادشاهانو د دې اراده وکړه چې په خپل مملکت کې سردار او مشر واوسیږي، او دا چې د هغه ملت هغه په ټوله معنی باندی تأییدوي( ). ۹

دداسې جرأت په نتیجه کې به د کلیسا او حکومتونو ترمنځ شخړې راپیدا کیدلې، او کله به چې د بادشاهانو او کلیسا ترمنځ مشکل پیدا شو

( ۳) تاریخ أوروبا في العصور الوسطى، فشر، ج۱ ص ۲٦٠.

نو همیشه به برې د کلیسا په برخه وه او دا ځکه چې هغې په ټوله اروپا دینې او روحي اغیزه درلوده او او ښه تنظیم یې لاره، له دې امله هرهغه څه به چې کلیسا غوښتل دوی به سرته رسول، په دې توګه د کلیسا مالي غوښتنې ورځ په ورځ زیاتیدلې او دا ټول به د عامو خلکو او ملتونو په سر پریوتل، هغوی په دې توګه به ملتونو باندې د ظلم لپاره زمینه برابروله، کوم سیاسي نظام به چې د مالي ټیکسونو په ذریعه کلیسا خوشحال ساتله هغوی به بیا په خپل رعیت باندې د ظلم کولو لپاره ازاد ؤ، او هر ډول ظلم به یې چې په غریبو خلکو کاوه، دکلیسا د تایید له امله به محفوظ ؤ، مګر چا به چی د کلیسا غوښتنی نه منلی هغه به د کلیسا د قهر سره مخامخ کیدل، په دی ډول د ظالمو واکمنانو، ظالمو سرمایه دارانو او دلویو لویو چایدادونو لرونکو او کلیسا ترمنځ یو ایتلاف رامنځ ته شو او په دې توګه کلیسا دخپل ځان پرضد د قیام لپاره زمینه برابروله.

## دریم: د کلیسا د مشرانو د قول او فعل تضاد

په داسې وخت کې چې د کلیسا مشرانو به د خلکو څخه د دې غوښتنه کوله چې ټول خلک باید ځانونه په ټوله معنی دوی ته وسپاري او د دوي هر ډول قیادت او مشري ومني مګر پخپله هر ډول فساد کې اخته او ککړ ؤ، دوی به خلکو ته د رهبانیت درس ورکاوه او پخپله به یې د دې ادعاء کوله مګر دوی او د دوی د دیني مشرانو قاطع اکثریت تر غوړونو په اخلاقي فساد کې ککړ ؤ، دوی به د دنیوي جاه او جلال نفی کوله او د فقر دعوه به یې درلوده، خو په عملي لحاظ به دوی د هر چا په پرتله

زیات د دنیا او جاه او جلال غوښتونکی ؤ، په دې اړه یو غربی مورخ کرسون وایی: *"كانت الفضائل المسيحية كالفقر والتواضع و القناعة والصوم والورع والرحمة كل ذلك خيرا للمؤمنين و للقسسين و للقديسين و للخطب والمواعظ، أما أساقفة البلاد والشخصيات الكهنوتية الكبيرة فقد كان لهم شيء آخر: البذخ والأحاديث المتأنقة مع النساء والشهرة في مجالس الخاصة والعجلات والخدم، والأرباح الجسيمة والموارد والمناصب"*[٤] د مسیحیت اخلاقي فضائل لکه فقر، تواضع، قناعت، روژه، تقوی او په خلکو شفقت او رحم کول دا د عامو مسیحیانو، وړو دینی شخصیتونو، او یوازې په خطبو او موعظو کی د اورولو لپاره ؤ، پاتې شول د کلیسا مشران او لوی دینی شخصیتونه نو د هغوي لپاره څه نور شیان ؤ: بی اندازه مال او دولت جمع کول او مصرفول، د پردیو ښځو سره په ناز او اداء خبری، د مشرانو په مجالسو کې شهرت، د سپرلۍ لپاه ځانګړی بګې، خدمتګاران، بی اندازه لویې لویې ګټې، د پیسو پیدا کولو موارد او لوړ لوړ منصبونه.

دلته که یوازې د کلیسا او د کلیسا د مشرانو د مالي حالت په اړه څه حقائق وړاندی کړو نو معلومه به شي چې دوی څومره په خپلو دعوو کې ریښتیني ؤ، او څومره یې د قول او عمل ترمنځ تضاد موجود وه ؟ دوی چې د رهبانیت او ترک دنیا کومه دعوه کوله او خلک به یې ورته رابلل په هغی کې دوی څومره ریښتیني ؤ، کلیسا په هغه وخت په اروپا

---

(٤) المشكلة الأخلاقية والفلاسفة ص ١٦٧، تاليف: كرسون، ترجمة: عبد الحليم حمود، القاهرة.

کې دومره جائدادونه او مالي موارد درلودل چې تقريبا د اروپا ټول مالي موارد د همدوی په لاس کې ؤ، هيڅ امپراطور، هيڅ کوم بادشاه او هيڅ کوم بل جهت د دوی سره په مالي لحاظ مقابله نه شوه کولی، د دوی مالي موارد او مالي حالت په لاندی ډول وه:

لومړی لوی لوی جاګيرونه: کليسا په اروپا کې لوی لوی جاګيرونه درلودل، په اروپا کې د کليسا د مځکی په لحاظ تر هر چا زيات سرمايه داره وه، بی شميره غلامان يې درلودل، ټولې ټولې سيمې او د هغی سيمی په مځکو کې کارکوونکی او دهقانان ټول د کليسا ملکيت ؤ، ويل ديورانت په دې اړه پوره تفصيلات راټول کړي دي، هغه وايی: د (فلدا) کليسا د اطرافي منطقو د وړو قصرونو څخه د پنځلس زره قصرونو ملکيت درلود، د (سانت ګول) کليسا په خپلو ځمکو کې د کار کولو لپاره (۲۰۰۰) تنه غلامان په خپل ملکيت کې درلودل، همدا راز په تور کې کليسا په مځکو د کارکونکو غلامانو څخه د شل زره تنو مالکه وه، دوی يوازې د مځکو او غلامانو مالکان نه ؤ بلکې هغه ټول خدمات به يې بادشاهانو ته وړاندی کول چې نورو خانانو او شتمنو به وړاندی کول(٤).

دوهم اوقاف او عشرونه: د خپلو جاګيرونو او نوابيو تر څنګ کليسا په اروپا کې ډير لوی وقفي مځکی هم درلودی، په دی اړه فشر د هغه وخت د مسيحي مصلحينو له قوله ليکی چې کليسا د انګلستان يوه په

(٤) د تفصيل لپاره وګوری: قصة الحضارة ج ١٤ ص ٤٢٥.

دری برخي ځمکه په خپل ملکیت کې لري، او د نورو مځکو څخه ډېر لوی لوی ټکسونه اخلي، (ویکلف) چې یو مسیحي مصلح وه هغی د دې وقفي ملکیتونو د لغو کولو غوښتنه کوله، او ویل به یی: (دوي (د کلیسا مشران) د پادشاهانو پیروان دي د الله تعالی پیروان نه دي)( ).

ددی ترڅنګ به کلیسا د مځکو د مالکانو څخه عشرونه هم اخیستل، په دې اړه ویلز وایي:کلیسا به ټکسونه راټولول، د خپلو لویو لویو ملکیتونو او ټکسونو د بې اندازې دخل او درآمد تر څنګ یې په خپل رعیت د عشر ټکس هم ټاکلی وه، او دا به یې د صدقې په شکل نه اخیسته بلکې خپل حق یې ګاڼه او د حق په حیث به یې غوښته( ).

دریم صدقات او خیراتونه: د کلیسا او کلیسایي مشرانو د درآمد یو بل لوی مصدر صدقات او خیراتونه هم ؤ، څه خلکو به کلیسا ته د ځان د نږدی کولو، تملق، د کلیسا د قهر او غضب څخه د ځان ژغورلو په موخه او یا په ښه نیت ډېر صدقات او خیراتونه کلیسا ته وړاندې کول، دا هم دومره زیات اموال جوړیدل چې تصور یې هم نشي کیدلی( ). دا د کلیسا او د کلیسا د مشرانو حالت وه، د خلکو څخه به یې د رهبانیت او متواضع ژوند غوښتنه کوله او پخپله یې په داسې حالت کې ژوند کاوه، طبیعي خبره وه چې په داسې حالاتو کې خلک د دې پر ځای چې د کلیسا د پیروۍ او

---

( ٤) دی لپاره وګوره: تاریخ اوروبا، د فشر لیکنه، ج ۲ ص ۳٦۲- ۳٦۴.

( ٤) معالم تاریخ الانسانیة ج ۳ ص ۸۹۵ هـ. ج. ویلز، ترجمة: عبد العزیز توفیق جاوید، القاهرة ۱۹٦۷م.

( ٤) د تفصیل لپاره وګوری: معالم تاریخ الانسانیة دریم جلد.

طاعت جذبه په کې پیدا شي دې حالاتو په خلکو کی د کلیسا پر ضد د راولاړیدو جذبه یې پکې را ټوکوله.

## څلورم: فکري او علمي استبداد

د کلیسا د دې ټول واکی په پایله کې ډیر شدید فکري او علمي استبداد هم رامنځ ته شو، او دا په دې توګه چې کلیسا حق د کلیسا په تعلیماتو کې منحصر وګاڼه، دا تعامل یوازې د دیني معارفو په اړه نه ؤ بلکې د دقیقو تجربي او ساینسي علومو په اړه هم د کلیسا مشرانو خپل افکار او اراء د غلطی او صحت لپاره معیار ګڼل، او د هر علمي کشف د صحت او درستوالي لپاره دا

شرط ګڼل کیده چې هغه باید د کلیسا د محرف کتاب د تعلیماتو او کلیسا د مشرانو د نظریاتو سره برابر وي، او هر څه به چې د کلیسا د تعلیماتو سره برابر نه ؤ هغه به که هر څومره په علمي معیارونو برابر ؤ هغه به نه د منلو وړ ؤ او نه به د هغې د اعلان چا جرأت کولی شو، او که چا به د هغې د اعلان جرأت وکړ هغه به په ارتداد (هرطقه) متهم کیده اوخپل کیده به او یا به له منځه وړل کیده، د دې استبداد بنسټیز لامل دا وه چې کلیسا خو له یوی خوا خپل مقدس کتابونه تحریف کړي ؤ، له بل پلوه یې هغه ټول علوم چې تر هغه وخت پوری بشریت ورته رسیدلی وه هغه د مقدس کتاب په شروحو کې داخل کړل، او دا شروح یې هم د مقدس کتاب په څیر همداسې مقدس وګڼل، په دې توګه د هغه وخت په مسیحیت کې د هر څه لپاره تفصیلي معلومات موجود ؤ، او دا معلومات

تر هغه وخته پورې شايد ترټولو لوړ بشري معارف هم ؤ مګر څرنګه چې د انسان علم د پرمختګ په حالت کې دی، نو دا معلومات د انساني علم اخيري پړاو نه وه، خو څرنګه چې دا د ديني تعليماتو برخه ګرځيدلی وه نو د نورو الهي تعليماتو په څير نهائي ګڼل کيدل، له دې امله يې هيچا ته د مخالفت اجازه نه ورکول کيدله، چې دا پخپله د شديد فکري او علمي استبداد لامل وګرځيده، يعنی دا په حقيقت کې د هغه ديني استبداد يوه طبيعي نتيجه وه چې د منځنيو پيړيو په اروپا کې حاکم وه، دې استبداد لاندې مظاهر درلودل:

لومړی: کليسا د علم او معرفت يوازينی مصدر وه، چې څه به يې غوښتل خلکو ته يې وړاندی کول، او څه به يې چې نه غوښتل هغه په خلکو حرام ګرځيدل، چا د دې جرأت نه شو کولی چې هغه حاصل کړي.

دويم: د کليسا علمي استبداد دې مرحلې ته ورسيده چې مطلق طلب علم يې جرم او کفر باله، په دې اړه يوه الماني ليکواله ليکي: *"بينما ذهب رجال الدين النصارى آنذاك إلى أن طلب العلم والمعرفة بعد ما أنزل الإنجيل تجديف وكفر بالله، مثلما زعم من قبل ترتوليان وأغسطين اللذان لعنا حب الاستطلاع أو الفضول المريض واصفين إياه بأنه من أخطر صور الوسوسة والضلال مما يسلم الفضولي إلى الملاحقة والتعذيب*( ). د نصراني دين ديني مشران په هغه وخت کې په دې نظر ؤ

---

( ٤) الله ليس كذلك، زيغريد هونكه ص ٥٥.

چې د انجیل د نازلیدو نه وروسته د علم او معرفت طلب کفر او الحاد دی، لکه مخکې چې ترتولیان او اغسطین دا گمان درلود، او په حب استطلاع او مرضی پلټنې باندې یې لعنت ویلو، او دا یې د وسوسې او گمراهی یو خطرناک شکل باله چې دا مرضی پلټن کوونکی د تعذیب او امنیتي پلټنی مستحق گرځوي.

دریم: هغه تفصیلی نظریات چې نصرانیت د فلسفي او د هغه وخت تجربوي او ساینسي علومو څخه ترلاسه کړي ؤ کلیسا را خپل کړل، له دې امله به هر هغه فکر چې د کلیسا د دې تفصیلي اراو سره ـ چې په حقیقت کې بشري افکار ؤ او د وحی سره یې هیڅ تړاو نه درلود، دیني او مقدس نظریات وبلل شول، او کلیسایي حقایق د هرې علمي نظریې لپاره معیار وبلل شول ـ مخالف ؤ هغه به په ډیر شدت سره ځپل کیدل، او د کلیسا د روحاني تسلط له امله تر ډیره وخته په دې وتوانیده چې د هر ډول علمي پرمختگ مخنیوی وکړي، او هر ډول علمي نظریات خنثی کړي، او په دې توگه یو ډول شدید فکري استبداد
رامنځ ته کړي، د علمي پرمختگ مخه ونیوله شوه او د کلیسا همدې حرکت ته د اصولیت( ) (Fundamentalism) حرکت وویل شو. ٦

---

(٤) دا کلمه چې پښتو کی ورته بنسټ پالي، فارسي کی ورته بنیادگرایي او په عربي ژبه کی ورته الأصولیة او انگلیسي کی ورته Fundamentalism وایي، تر نن ورځی پوری مسلمانانو ته استعمالیږي، او هدف یې دا دی چې د اروپا د خلکو په ذهنونو کی دا کښینوي چې اسلام هم په هغه څیر د بشري پرمختگ او تجربوي علم او ساینس خلاف دی لکه په منځنیو پیړیو کی چې کلیسایي نظام وه، دوي ددی لپاره د بنسټ پالی لفظ ځکه استعمالوي چی ددوي له نظره هر څوک چې په دیني نصوصو التزام کوي

د دې استبدادي فضاء د حاکمیت ترڅنګ کلیسا همیشه د دې کوښښ کاوه چې د اروپا اوسیدونکي د اسلامي نړۍ سره له اړیکو څخه لیرې وساتی، او هر چا به چې عربي علوم ترلاسه کول او یا به یې هغه په ښه نوم یادول هغه به زندیق او مرتد بلل کیده او کلیسا به ورسره دښمني کوله، بلکې کلیسا د هر هغه څه سره دښمني درلوده چې مسلمانانو ته به منسوب ؤ، یو کلیسایي مشر (بترارک) په دې اړه خپل یو دوست ته داسې وایی: "*أرجو منك فیما هو خاص بي ألا تعتمد علی عربك، وأن تعدهم کأنهم لم یکونوا، فأنا أمقت هؤلاء القوم و أعرف أن بلاد الروم أنجبت علماء و بلغاء وفلاسفة و شعراء و ریاضیین وخطباء، وهناك ولد الطب أیضا، و أما أطباء العرب فعلي أن أعرف من هم؟ و أما أنا فإنني أعرف شعراءهم فلایمکنني أن أتصور من هو أکثر منهم تخنثا وارتخاء وهجرا... ولا أکاد أحمل علی الاعتقاد بإمکان صدور ما هو صالح عن العرب، ومع ذلك فبأي حق لا أدریه أیها العلماء تغمرونهم بمدائح لا یستحقونها*"( ). ۷

---

هغه به هرو مرو د علمي پرمختګ مانع او سرسخت مخالف وي، حال دا چې دا خبره قطعا غلطه او بی بنسټه ده، ځکه هغه څوک چې په واقعي اسلام چې هغه د الهي وحي څخه عبارت دی پوهیږي او التزام پرې کوي هغه هیڅکله هم د بشري پرمختګ او علم (ساینس) مخالف نشي کیدلی، اسلام په دی باب هیڅکله هم د کلیسا په محرف دین نشي قیاس کیدلی، ځکه هغه د بشري افکارو مجموعه او دا الهي پیغام دی.

( ٤) ارنست رینان، ابن رشد والرشدیة ص ٣٣٨- ٣٣٩، ترجمة عادل زعیتر، دار احیاء الکتب العربیة ـ عیسی البابی الحلبی وشرکاؤه القاهرة ١٩٥٧م.

یعنی له تا څخه مو طمع او امید دا دی چې د هغه څه په باره کې چې په ځانګړې توګه ما پورې اړه لري په خپلو عربو اعتماد ونه کړې، او په دې اړه عرب داسې وانګیره چې ګویا اصلا وجود نه لري، ځکه زه دوی ډیر بد ګڼم او کرکه مې ترې کیږي، زه خبر یم چې د روم سیمې لوی لوی علماء، بلیغ او فصیح شخصیتونه، فلسفیان او شاعران زیږولی دی، په همدې سیمه کې طب زیږیدلی دی، او پاتې شول عرب طبیبان نو باید زه یې وپیژنم چې دوی دي څوک؟ زه خو د هغوی شاعران پیژنم، له دوی څخه زیات مخنث، سست، بیکاره او زیات چټیات ویونکي خلک راته بل څوک نه دي معلوم! ... زه دا تصور هم نشم کولی چې عربان دې کوم داسې کار هم وکړی شي چې ګټور وي! نو ای علماوو تاسې په کوم حق ددوی هغه تعریفونه کوی چې دوی یې په هیڅ لحاظ مستحق نه دي، بیا په اخر کې وایی: څوک چې زما په موجودیت کې د عربو توصیف کوي هغه لکه ما چې په چاړه وهي، او یا مې په زړه زړه کې په چاقو وهي.

دا هغه حساسیت وه چې د کلیسا مشرانو د هغه اسلامی افکارو او علومو سره درلوده، د همدی کرکی او حساسیت په نتیجه کی کلیسا د هغه افکارو چې د اسلامي نړۍ څخه د اندلس له لارې اروپا ته ننوتل، د مقابلې لپاره دوی توماس الاکوینی او د هغې په څیر نور خلک ګومارلي ؤچې هغه افکار په فلسفي طریقې سره رد کړي تر څو د اروپا اوسیدونکي ددی اسلامي افکارو د اغیزی څخه وساتي، خو دا کار کله ممکن دی، او کله څوک د فکر په مخ کی بند اچولی شي.

# دویم فصل

# د کلیسایي دین پر ضد پاڅون

## د کليسا د استبداد پر ضد د پاڅون مباشر لاملونه

د کليسا او کليسايي مشرانو[٤] دې هر اړخيز استبداد فضاء دې ته برابره کړه چې خلک د کليسا پر ضد قيام وکړي او له تسلط څخه يې ځان وژغوري، په دې وخت کې څه نور داسې لاملونه هم موجود شول چې د خلکو دې احساساتو ته جهت ورکړي او داسې يو موج ترې جوړ کړي چې د کليسا د استبداد څخه د ځان ژغورنې په خوځښت بدل شي، دا عوامل او لاملونه په لاندې ډول ؤ.

## لومړی: اروپا ته د اسلامی ثقافت ننوتل:

د اندلس له لارې د مسلمانانو ليکوالانو کتابونه په اروپا کې خپاره شول، او د دې ثقافت تاثير دومره زيات ؤ چې کليسايي مشرانو ترې ډير سر ټکاوه، او په حقيقت کې يې دا د کليسا د تسلط لپاره انتهايي لوی تهديد باله، د قرطبې مسيحي مشر (القارو) وايي: *(إن كثيرين من أبناء ديني يقرؤون أساطير العرب ويتدارسون كتابات المسلمين من الفلاسفة وعلماء الدين ليس ليدحضوها، وإنما ليتقنوا اللغة العربية، ويحسن*

(٤) چې دا د حقيقی مسيحيت سره پرته له نوم څخه نور هيڅ تړاو نه لری، له له دی امله په اروپا کی پاڅون د دين پر ضد نه وه بلکه د هغه انسانی افکارو پر ضد وه چی هغه د زمانی په تيريدو سره د دين برخه گرځيدلی وه، او خلک ورته په تقدس قائل وو، سره له دی چی دی افکارو د انسانی افکارو په حيث هيڅ عصمت نه درلود بلکه غلطي يی د تجربی په رڼا کی بالکل څرگنده وه.

*التوسل بها، و أين نقع اليوم على النصراني من غير المتخصصين الذي يقرأ التفاسير اللاتينية للإنجيل؟ بل من ذا الذي يدرس منهم حتى الأناجيل الأربعة، والأنبياء ورسائل الرسل؟.. واحسرتاه! إن الشبان النصارى جميعهم اليوم الذين لمعوا وبذوا أقرانهم بمواهبهم لا يعرفون سوى لغة العرب والأدب العربي! إنهم يتعمقون في دراسة المراجع العربية باذلين في قراءتها ودراستها كل ما في وسعهم من طاقة، منفقين المبالغ الطائلة في اقتناء الكتب العربية وإنشاء مكتبات ضخمة خاصة، ويذيعون جهرا في كل مكان أن ذلك الأدب العربي جدير بالإكبار والإعجاب! ولئن حاول أحد إقناعهم بالاحتجاج بكتب النصارى فإنهم يردون باستخفاف ذاكرين أن تلك الكتب لاتحظى باهتمام! ... وامصيبتاه! إن النصارى قد نسوا حتى لغتهم الأم، فلاتكاد تجد اليوم واحدا في الألف يستطيع أن يدبج رسالة بسيطة باللاتينية السليمة، بينما العكس من ذلك لا تستطيع إحصاء عدد من يحسن منهم العربية تعبيرا وكتابة وتحبيرا، بل إن منهم من يقرضون الشعر بالعربية حتى لقد حذقوه وبذوا في ذلك العرب أنفسهم)*( ).

زما دين ته منسوب ډير وګړي د عربو قصې لولي، د مسلمانو علماوو او فلسفيانو ليکنې په خپل منځ کې سره تدريسوي، د دې لپاره نه چې هغه رد کړي بلکې د دې لپاره چې عربي ژبه زده او ښه استفاده ترې وکړی شي.

( ٤) الله ليس كذلك زيغريد هونكه ص ٤٢.

مگر نن هغه غیر متخصص نصرانیان چېرته دي چې د انجیل هغه تفاسیر ولولي چې په لاتیني ژبه لیکل شوي دي؟ بلکې هغه خلک چېرته دي چې دا څلور گوني اناجیل، د انبیاوو (په نوم رسائل) او د رسولانو رسائل ولولي؟ ای افسوس! نن چې کوم نصراني ځوانان د خپلو استعدادونو له امله د نورو څخه وړاندې دي هغوی د عربي ژبې او عربي ادب څخه پرته په بل څه نه پوهیږي، دوی د عربي مراجعو او کتابونو په لوستلو کې د تعمق څخه کار اخلي د دې په لوستلو او څیړلو کې خپل اخیري توان مصروفوي، د کتابونو په لاس ته راوړلو او خاصو لویو کتابخانو د جوړولو لپاره بی دریغه پیسې مصرفوي، او په هر ځای کې په څرگنده توگه اعلان کوي چې عربي ادب د تعظیم او احترام وړ ادب دی! او که څوک د دې کوښښ وکړي چې د نصاراوو په کتابونو د استدلال کولو قناعت ورته ورکړل وغواړي، په ډیره سپکه لهجه ځواب ورکوي او وایي: دا کتابونه د پاملرنې وړ نه دي.

ای افسوس! چې نصاراوو خپله مورنی ژبه هم هیره کړه، نن په زرو کې یو تن هم داسې نشته چې په صحیح لاتینی ژبه یوه وړه رساله ولیکي، او د دې برعکس د هغه کسانو شمیر نشته چې د عربي ژپی په لیکلو او لوستلو ښه پوهیږي، بلکې داسې خلک خو هم شته چې په عربي ژبه شعر وایي، او تر دې حده یې عربي زده کړې چې په دې کې پخپله د عربانو څخه هم وړاندی دي.

د دې عبارت څخه دا په څرګنده توګه معلومیږي چې د عربي ثقافت تأثیر په هغه وخت کې په ځوانانو څومره وه، له یوه پلوه د کلیسا له لوري په هر ډول علمي کار بندیز لګیدلی وه او له بله پلوه عربي ثقافت هر هغه څه خلکو ته وړاندې کول چې هغوی ورته اړتیا درلوده، له دی امله خلک عربي ثقافت ته رامات شول، او په دې توګه دې ثقافت خپل تأثیر په اروپایي نړۍ باندې پریښووده.

## دویم: صلیبی جنګونه

په داسې حال کې چې په یوولسمه پیړۍ کې د کلیسا مشرانو تږوله اروپا د مسلمانانو پر ضد په داسې توګه راوپاروله چې هر مسیحي وګړی یې د مسلمانانو د وینو تږی کړی وه، په ځانګړې توګه د کلیسا مشر اوربان الثانی چې غوښتل یې د پخواني کلیسایي مشر پاپ جریجوري السابع هغه نیمګړی هدف تکمیل کړي چې مسیحیان به یې په دې راپارول چې د حضرت مسیح علیه السلام قبر(5)! د کفارو (مسلمانانو) په لاس کې او د ورانیدو د خطر سره مخامخ دی، هغې به په دې ټکو د مسیحي وګړو احساسات د مسلمانانو پر ضد راپارول ویل به یې: (*علیکم أن تطهروا الأرض المقدسة التی یعیش فیها إخوانکم المسیحیون من أولئك الرعاع*) تاسې باندې فرض دی چې هغه پاکه ځمکه چې ستاسې مسیحي ورونه پکې اوسیږی د دې پستو (سپکو)

---

(5) سره له دی چې حضرت عیسی علیه السلام د هغوی په عقیده هم د وژل کیدو او په دار باندی د راځړول کیدو او د دری ورځو پوری په قبر کی د پاتی کیدو نه وروسته اسمان ته ختلی دی!!.

خلکو څخه پاکه کړی، همدا راز به یې ویل: *(أي خزي یجللنا، وأي عار لو أن هذا الجنس من الکفار الذي لا یلیق به إلا کل احتقار، والذي سقط في هاویة التعري عن کرامة الإنسان جاعلا نفسه عبدا للشیطان قد قدر له الانتصار علی شعب الله المختار)*( ) یعنی موږ ته به څومره لویه رسوایي، عار او شرم وي که چېرې دا کفار (هدف یې مسلمانان دي) چې د حقارت نه پرته د بل شي لیاقت نه لري، هغه قوم چې د انساني کرامت نه یې ځان لوځ کړی دی، هغه ډله چې ځان څخه یې د شیطان بندګان جوړکړي دي، که چېرې دې کفارو ته د الله تعالی په برګزیده ملت (نصاراو) باندې غلبه تر لاسه شي.

په ۲۷ نومبر کال ۱۰۹۵م کې د کلیسا همدې مشر (اوربان الثانی) د فرانسې په کلیر مونت کې د لومړي صلیبي جنګ اعلان وکړ، د همدې جنګ په نتیجه کې صلیبیانو بیت المقدس ونیوه او د اروپایی مورخینو د وینا سره سم یې په هغه مقدس ښار کې هغه څه وکړل چې قلم یې د لیکلو څخه عاجز دی( ) د همدې صلیبي جنګ په نتیجه کې په بیت المقدس کې مسیحي حکومت قائم شو، او د همدې څخه د صلیبي جنګونو لړۍ پیل شوه، دوهم صلیبي جنګ په کال ۱۱۴۴م کې وشو او حمله ناکامه شوه، بیا په کال ۱۱۸۷م کې سلطان صلاح الدین ایوبي بیرته بیت المقدس د صلیبیانو څخه ازاد کړ، له دې وروسته هم

---

( ٥) الله لیس کذلك زیجرید هونکه ص ۲۳.

( ٥) الله لیس کذلک ص ۲۱ ـ ۲۲.

صلیبیانو متعددې حملې وکړې چې په بشپړه توګه د شکست سره مخ شوي، دې ناکامیو دوه پایلې درلودې:

لومړی: دا چې خلک د کلیسا په دین بی باوره شول، او دې نتیجې ته ورسیدل چې که د کلیسا دین حق وي نو په دې توګه به د شکست سره نه وی مخامخ شوی.

دوهمه: دا چې د دې جنګونو په نتیجه کې چې د مسلمانانو او اروپايي مسیحیانو ترمنځ کوم تعامل رامنځته شو د هغې په نتیجه کې اروپايي مسیحیانو ته د مسلمانانو او اسلام له نږدې څخه د مطالعې زمینه برابره شوه، چې دې کار په اروپا کې د مسیحیت او کلیسا پر ضد د پاڅون زمینه لا برابره کړه، په دې اړه زیجرید هونکه وايي: "*وفي النهاية حلت الهزيمة الكاملة بالصليبيين، واستقرت الصدمة في كيان الغرب، وراح البعض يتساءل: أليس قضاء الله وحكمه الذي أنزل العقاب بالنصارى؟ .. ألم يكتب الله النصر لأتباع محمد على الدين النصراني؟ .. ألم يكن ذلك هو الخزي والهوان الذي حاق بهم والذي كان البابا أخشى ما يخشاه، واصفا إياه بأنه العار الذي لا عار بعده؟ .. ألم يكتب الله "انتقاما منه وغضبا" النصر لمحمد على المسيح؟ .. ألم يحكم بأن أولئك المحتقرين "عبدة الشيطان" "الكفرة الفجرة" بأنهم على حق؟ .. ويمضي ريكولدوس دي مونت كروكس متسائلا: ألم تهزم بركات محمد وهديه بلا*

*مراء هدي المسيح؟.. ويتمادى شاعر الفروسية "أوستورك" في شعره الاستنكاري متسائلا: أما آن لنا أن نؤمن بمحمد بعد؟!"* ( ).

يعنی په پای کې صلیبیان په بشپړه توګه د شکست سره مخامخ شول، او لویدیځ د ډیرې لویې صدمې سره مخامخ شو، او یو شمیر خلکو دا ډول سوالونه مطرح کول پیل کړل: ایا دا د الله فیصله او تقدیر نه دی چې په مسیحیانو یې عذاب نازل کړ؟ ایا الله تعالی د محمد پیروانو ته په مسیحیت باندې برلاسی او غلبه ورنه کړه؟ دا څه باندی چې دوی (مسیحیان) اخته شول ایا هغه شرم او سپکاوی نه دی چې پاپ به ترې تر هر څه زیات ویریده؟ ایا د الله له لوري د غضب او انتقام په توګه الله تعالی محمد ته په مسیح باندې غلبه او برلاسی ورنکړ؟ ایا دا د دې دلیل نه دی چې کومو خلکو ته به چې پاپ (د مسیحیانو مذهبي مشر) حقیران او د شیطان بندګان، کافران او فاجران ویل هم هغوی حق دي؟ ریکولدوس خو له دې هم مخکې ځي او دا سؤال مطرح کوي: ایا د محمد برکتونو او هدایت بې له شکه د مسیح لارې ته شکست ورنه کړ؟ او انقلابي شاعر اوستورک خو په خپل شعر کې لړ نور هم وړاندې ځي او وایي: ایا تر اوسه د دې وخت نه دی رارسیدلی چې موږ په محمد ایمان راوړو؟.

دا عبارت په څرګنده توګه دا وایي چې په صلیبي جنګونو کی د شکست په پایله کی په اروپا کې یو خوځښت پیل شو، هلته خلک د

---

( ٥) الله ليس كذلك ص ٢٤.

کلیسا په حقانیت بی باوره شول، د هغوي په ذهنونو کی د کلیسا د عظمت هغه ټول ځلي ونړیدل چی د کلونو کلونو خواریو په نتیجه کلیسایي مشرانو تعمیر کړي ؤ، د اروپا وګړي د اسلام مطالعې ته راغب شول او دې ته تیار شول چې اسلام مطالعه کړي، او دا د کلیسا لپاره یوه بی ساری لویه صدمه وه، ځکه د اسلام د مطالعې په نتیجه کې د کلیسا حقیقت خلکو ته څرګندیده.

## دریم: رشدي فلسفه

هغه بل لامل چې اروپا کې د کلیسا پر ضد د پاڅون لامل وګرځیده هغه اروپا ته د ابن رشد د فلسفې ننوتل ؤ، په لومړیو کې کلیسایي مشرانو ابن رشد د کفر او الحاد نماینده او د هغې افکار یې کفر، الحاد او زندقیت وبلل، تر څو په دې توګه وتوانیږي چې د دې افکارو په مخ کې بند واچوي، او په اروپا کی یې له خپریدو څخه مانع شي، په حقیقت کې خو نه ابن رشد لادینه او سیکولر وه، بلکې پخپله د مسیحیانو د مدرسي فلسفیانو په څیر د ارسطو پیرو او تمجید کوونکی وه، مګر توماس الاکویني او نورو مسیحي مفکرینو د هغې افکار او اراء یوازې له دې امله رد کړي چې هغه یې د اسلام سره تړلي ګڼلي، او هغه یې په کفر، الحاد او زندقیت باندې متهم کاوه، چې په دې توګه هغه د عربي فکر او ثقافت د نماینده په توګه وړاندې کړي، او دا ثابته کړي چې (د کلیسا د خود ساخته دین په خلاف) د کفر، الحاد او زندقیت خوځښت او حرکت د شرق څخه را وارد شوی حرکت دی، ترڅو په دې

توګه وتوانیږي چې د دې افکارو پر ضد د هغه حساسیتونو، تعصباتو او دښمنیو څخه ګټه واخلي چې د عربي ثقافت او فکر په وړاندې د غرب او اروپا په مسیحي نړۍ کې له پخوا څخه موجودې وې.

د ابن رشد اروپایي اتباعو او په اروپا کې هغه نوی راپورته شوی عقلاني خوځښت چې د کلیسا او د هغې د هر اړخیز استبداد پر ضد یې د پاڅون اراده کړې وه، او د عربي ثقافت څخه اغیزمن وه په ډیرې خوشحالۍ د ابن رشد هغه تصویر قبول کړ چې کلیسا د خلکو په ذهنونو کې ترسیم کول غوښتل (چې هغه د کلیسا د نظام پر ضد د کفر او الحاد نماینده دی) د ابن رشد څخه اغیزمنو ځوانانو او پوهانو وویل که د ابن رشد افکار کفر او الحاد وي نو دوي دی کفر او الحاد منلو ته تیار دي، او په دی توګه یې همدا د کلیسا پر ضد د وسلې په حیث استعمال کړ، او ویې ویل چې دوي د کلیسا په عقایدو باندې د ایمان پر ځای د کفر او الحاد منلو ته ترجیح ورکوي، په دې توګه د ابن رشد افکار دوه ځله د تحریف سره مخامخ شول:

لومړی د کلیسا له پلوه، چې هغه یې په کفر او الحاد(٥) متهم کړ، او دوهم ځل د هغې سره د متعاطفینو او د هغې د اتباعو له پلوه چې

---

(٥) کلیسا ابن رشد ددی لپاره په کفر، الحاد او زندقه باندی ددی لپاره متهم کړ چی د افکارو څخه یی خلک متنفر کړي، مګر ددی پرځای چی خلک د ابن رشد د ==

== افکارو څخه متنفر شي، د هغوي زړونو کی د الحاد، کفر او زندقی محبت ځای ونیوه، او دا یی وویل که کفر او زندقه او الحاد هغه وي چی ابن رشد یی بیانوي نو دوي هغی ته د کلیسا په دین باندی ترجیح ورکوي.

غوښتل یې د هغې[٥] افکار د وسلې په حیث د کلیسا پر ضد استعمال کړي، او د کلیسا د استبداد څخه پرې ځان وژغوري، دوي دا قبول کړل چې ابن رشد یو ملحد دی، او دوي ته د کلیسا د نظام په مقابل کی همدا الحاد د قبول وړ دی چی ابن رشد یی په دی روښانه فکر نمائندګي کوي، کله به چی خلکو د ابن رشد افکار (چی د دوي له نظره د الحاد نمائندګی یې کوله) د کلیسا د فکر سره مقایسه کاوه نو په طبیعی توګه به دوي ته د ابن رشد عقلاني فکر راجح او غوره معلومیده، چی دا د کلیسایي فکر په مقابل کی د را ولاړ شوي خوځښت لپاره د ستر تقویت لامل وګرځیده، او د همدی مقایسی له امله خلکو د تدین پرځای الحاد ته ترجیح وکړه چی د ابن رشد په څیر یو علمي شخصیت یی نمائندګي کوي.

په دې توګه ابن رشد او د هغې (د تحریف سره) ترجمه شوي افکار د کلیسا د مخالفت رمز او سمبول وګرځیدل، او په ډیر سرعت او تیزی سره خپاره شول، په دې توګه رشدي فکر په علمي مراکزو او لویو پوهنتونونو او جامعاتو کې د رهبری او سیادت مقام ترلاسه کړ، لکه په ایټالیا کې د (بادوفا) پوهنتون چې وروسته بیا د رشدي فکر اساسي مرکز وګرځید[٥]، رشدي فکر په هغه وخت کې په اروپا کې هغه حیثیت ځوره

(٥) اوس هم یو شمیر غرب مشربه لیکوالان ابن رشد د همدی الحادی، او د مطلق دین پر ضد د یو انقلابی فکر په حیث وړاندی کوی، چی دا په حقیقت کی د هماغه اروپایی فکر تر تاثیر لاندی صورت نیسی او سرته رسیږی چی په منځنیو پیړیو کی رائج وه.

(٥) تاریخ الفلسفة الحدیثة یوسف کرم ص: ١٠.

کړ چې نن سبا په عالم اسلام او دریمه نړۍ کې اروپایي نوګرایي او سیکولر فکر غوره کړی دی( )، لکه څنګه چې هغه چا ته چې د غربي نوګرایۍ او سیکولر فکر سره نا اشنا وي هغه د غرب ګرایانو په نزد وروسته پاتې بلل کیږي، همدا راز په هغه وخت کې به په علمي اوساطو کې هغه څوک چې د ابن رشد د افکارو سره به اشنا نه وه متخلف او وروسته پاتی بلل کیده، دا د هغه محاورې څخه په بشپړه توګه په ډاګه کیږي چې د (بترارک) او د ابن رشد د افکارو د یو پیرو ترمنځ پیښه شوې، کله چې بترارک د پولس په څه خبره استدلال وکړ نو د ابن رشد هغه پیرو په ډیرې استهزاء سره ورته وویل: *(احتفظ لنفسک بهذ النوع من المعلمين، وأما أنا فلي معلمي، و أعرف من أعتقد ... ايه! ابق نصرانيا صالحا، و أما أنا فلا أومن بواحدة من جميع هذه الأساطير، ولم يكن پولسك، و أغستنك (أوغسطين) وجميع هؤلاء الناس الذين تقيم لهم وزنا غير ثرثارين، آه! ليتك كنت قادرا على مطالعة ابن رشد فتعرف ما هو أعلى من هؤلاء المجّان)* ( ). ٨

ته دې دا ډول معلمین خپل ځان سره وساته، پاتې شوم زه نو زما خپل معلم او راهنما دی، او زه پوهیږم چې په چا عقیده ولرم ... ته پخپله صالح نصراني اوسه، پاتې شوم زه نو زه له دې خرافاتي کیسو څخه په

( ٥) خو په دومره توپیر سره چې د رشدي فکر په مقابل کی د کلیسا خرافاتی افکار ؤ، او دلته ددی غربی فکر په مقابل کی متنور په علمی معیارونو ولاړ د الهی وحی پر بنسټ ولاړ اسلام دی، چی د حقیقی مقایسی په وخت کی هیڅکله هم نشی دریدلی.

( ٥) إرنست رينان، ابن رشد والرشدية ص ٣٤١.

هیڅ شي هم ایمان نه لرم، ستا پولس او ستا اوغسطین او هغه ټول خلک چې ته ورته ډیر اهمیت ورکوې د خبرلوڅانو څخه پرته بل څه نه ؤ، کاشکي چې تا د ابن رشد د افکارو د مطالعې توان درلودی چې د دې بې حیثیته خلکو (د افکارو) څخه ډیرو ښو او اعلی افکارو ته دې لاسرسی پیدا کړی وی.

په دې توګه د ابن رشد افکار په هغه بڼه چې د اروپایانو له پلوه ترجمه شوي ؤ د کلیسا د مخالفینو لپاره د راجمع کیدو بنسټ وګرځیدل، او پخپله ابن رشد د دې فکر محور وګرځیده.

د ابن رشد فلسفه خو سره له دې چې د ارسطو د فلسفې تفسیر وه، او د نوې زمانې فلسفیان د دې فلسفې پر ضد شدید مخالف جذبات او احساسات درلودل او دا ځکه چې دا فلسفه کلیسایي دین خپله کړې وه، بلکې د خپلو عقایدو برخه یې ګرځولې وه، مګر څرنګه چې په عین وخت کې ابن رشد د دې کلیسیایي یا تومایي (توماس اکویني) فلسفې د مخالفت رمز بلل کیده له دې امله د نوي فکر لپاره یې هم د یو رمز رول ولوباوه.

او کله چې اروپایانو د کلیسا پر ضد د پاڅون فیصله وکړه نو د ابن رشد افکار یې د تحریف سره ترجمه کړل په داسې توګه چې هغه یې د

لادینیت( ) رمز وګرځاوه، په دې توګه رشدی فلسفه او د رشدي فلسفې اروپایي اتباعو د کلیسا پر ضد د پاڅون لپاره لاره هواره کړه.

## څلورم: ظلمونه، وژنې او دتفتیش محکمې

یو د هغه لاملونو او اسبابو څخه چې په اروپا کې یې خلک د کلیسا پر ضد راوپارول هغه ظلمونه، وژنې او د عقائدو د تفتیش او پلټنې محکمې وې چې د کلیسا له لوري سرته رسیدلې، د عقائدو د اختلاف له امله د خلکو محاکمه کولو خو له پیل څخه په نصرانیت کې وجود درلود مګر تر کال ۱۲۳۱م پورې دا کار په انفرادي توګه د کلیسا دیني مشرانو کاوه، خو چې ثقیل پرې تمام شو نو په هم دې کال پاپ د دې لپاره یوه ځانګړې مؤسسه و ټاکله چې وروسته هغه د عقائدو د پلټنې د محکمې (د تفتیش محکمې) په نوم یاده شوه، یو څېړونکی (ریبوني) وایي: دې محکمو د یو میلیون څخه زیات هغه کسان ووژل او له منځه یې یوړل چې د مسیحي عقائدو د مخالفت، سحر او کوډو تهمت پرې پورې وه او یا هم هغه یهودان او مسلمانان چې مسیحیت کې خو داخل کړی شوي ؤ مګر د هغوي په ولاء او اخلاص کې شک وه( )، دا ډول محاکم د مسیحیانو ټولو فرقو درلودلې، په دې کې د کاتولیکیانو او پروتستانتیانو فرق نه وه، د عقائدو د پلټنو دا محکمې به د دیني شخصیتونو له خوا

---

(٥) د کلیسا نه منل لادینیت بلل کیده، او ابن رشد خو دا کار کړی دی، مګر دا نسبت ابن رشد ته درست نه دی چې هغه د مطلق دین نه منه.

(٦) الالحاد و أسبابه ص ٨١، ا.د. زینب عبد العزیز.

تنظیمیدلې او کله به چې په چا فیصله وشوه، پولیسو ته سپارل کیدل چې حکم پرې نافذ کړي، په ۱۲۵۱م کې دې محاکمو ته اجازه وکړل شوه چې د متهمانو څخه د اعتراف اخیستلو لپاره هر ډول تعذیب استعمال کړي، د دې په نتیجه کې کلیسا فیصله وکړه چې د ۱۴ کلنو هلکانو او په جنکیو کې ۱۲کلني پورې د تعذیب استعمال قانوني دی، بیا په هسپانیا کې دا تفریق هم ختم شو، او هلکانو او نجونو دواړو لپاره د تعذیب د استعمال لپاره د لس کلنۍ عمر وټاکل شو، او که کوم ماشوم به له دې څخه وړوکی وه، مشرانو ته به یې په محکمه کې د حاضریدو اجازه ورکول کیده، ډیر ځله په ۷ کلنۍ کې هم ماشومان تعذیب کړی شوي، محاکمه شوی او اعدام شوي دي.

د دوي په اصطلاح د ملحدینو ماشومان به د خپلو پلرونو د تبعیت په بنسټ ملحد بلل کیدل، او که عمرونه به یې د تعذیب او محاکمې نه ؤ، نو د ګرمو اوبو په لوښو کې به واچول شول، لاسونه به یې وتړل شول، او بیا به یې د هغوي د مړوندونو رګونه پرې کړل چې د وینی د ضائع کیدو په نتیجه کې له منځه ولاړ شي، د دې محاکمو له نظره د ژوندي سوزولو څخه دا ډول وژل د رحم تعامل بلل کیده.

ددې محاکمو په نتیجه کې د مسیحي عقائدو سره مخالفت کوونکي، په سحر او جادو باندې متهم خلک، هغه مسلمانان او یهودان چې په نصرانیت مجبور کړی شوي ؤ مګر په اخلاص کې یې شک وه، همدا راز ساینس پوهان او د علمي فلسفې څیړونکی تعذیب کړی شول،

دلته د يو څو مشهورو علماو او شخصيتونو يادونه کوو چې د کليسا لخوا د الحاد په تور وژل شوي دي:

- جيو فروي فاليه د فرانس يو قهرمان چې په کال ۱۵۷۴م کې د الحاد په تور اعدام کړی شو، سره له دې چې هغه په الوهيت ايمان درلود، مګر د اديانو سره يې دښمني لرله ځکه چې د هغې له نظره اديان د انسان په زړه کې ويره او خوف اچوي، له دې سره يې د دې څخه انکار کاوه چې حضرت عيسی عليه السلام دې د اقتداء وړ شخصيت وي( ).

- جيوردانو برونو د فلکياتو يو عالم وه چې د کوپرنيک فلکي نظريه يې خپله، او اعلان يې کړه، د دې ترڅنګ يې طبيعت د الله د تجلی

يوازنی مظهر وباله، بلکې د دې قائل وه چې دا طبيعت او الله يو شی دی، د دری ګونو اقانيمو انکار يې وکړ حضرت عيسی عليه السلام يې يو دجال معرفی کړ، په کال ۱۵۴۸م کې کليسا اعدام کړ( ).

- په کال ۱۵۸۷م کې بومبو نيو راستيکو په روم کې اعدام شو، ځکه چې د هغې رايه دا وه چې په مقدس کتاب کې راغلې

---

( ٦) الالحاد فی الغرب ص ١٦ رمسيس عوض، مؤسسة الانتشار العربي، بيروت، و سينا للنشر، القاهرة، مصر، لومړی طبع ۱۹۹۷م.

( ٦) همدا مصدر ص ۴۷- ۴۹.

کیسې د استهزاء او استخفاف څخه پرته د بل څه مستحقې نه دي( ). ٣

- بارثو لومیو لیګات په کال ١٦١٢م کې اعدام کړی شو ځکه چې هغه د حضرت عیسی علیه السلام د الوهیت انکار کاوه، او هغه یې یو انسان ګاڼه( ).

- په همدې کال ١٦١٢ کې یو بل شخص ادورد وایټمن هم اعدام شو ځکه چې هغې د تثلیث انکار کوه، او د دې انکار یې کاوه چې الله دی د دری اقانیمو څخه مرکب وي، د عشاء رباني د قدسیت انکار یې کاوه او د اطفالو د تعمید (په مسیحیت کې د شاملو مراسم) مخالف وه( ).

- په کال ١٦١٩م کې جولیو سیراز فانیني د الحاد په تور اعدام کړی شو( ). ٦

- په کال ١٦۴۴م کې په فرانسه کې فیرانت بالا فیسینو په دې اعتراض اعدام کړی شو، چې کلیسا علم او معرفت احتکار کړي دي، او خلک جاهل ساتل غواړي، او دا یې رایه وه چې جنسي بې لاریتوب یو طبیعي کار دی( ).

( ٦) همدا مصدر ٢٧.

( ٦) همدا سابقه مصدر ص ٦٧.

( ٦) الالحاد فی الغرب ص ٦٨.

( ٦) همدا سابقه مصدر ٢٧.

( ٦) همدا مصدر ص ٢٩.

- په کال ۱٦٥۱م کې جون اسکاتلنډي له دې امله اعدام کړی شو چې د تثلیث او د حضرت عیسی د الوهیت انکار، او په ادیانو پورې به یې استهزاء کوله( ).

په اروپا کې د مثقفو خلکو او اهل فکر شخصیتونو اعدامونه ډېر زیات ؤ دا څو مو د نمونې په توګه وړاندې کړل، لورنتي (د تفتیش د محاکمو سکرتر) وایي چې په دوه کلونو کې د ۱۷۹۰م څخه تر ۱۷۹۲م پورې څه نا څه دیرش زره تنه ژوندي سوځول شوي دي( )، د اروپا وګړو د دې اعدامونو څخه د ځان ژغورلو یوازنی لاره د دین څخه ځان خلاصول بلل، له دی امله یی د کلیسا پرضد خوځښت پیل کړ.

# د ذکر شوو لاملونو اغیزی او د تیرو مباحثو لنډیز

د ذکر شوو لاملونو په پایله کې له هر څه وړاندې د کلیسا د فکري، علمي او معرفتي استبداد پر ضد پاڅون رامنځ ته شو، او دا ځکه چې د هغه تحریفاتو په نتیجه کې چې په نصرانیت کې په بیلا بیلو ختونو او د بیلا بیلو لاملونه له امله رامنځ ته شوی ؤ ډېر داسې څه د کلیسایي دین برخه ګرځیدلي ؤ چې یوازې د انسانانو اراء او افکار ؤ، یوازې دا نه بلکې د علم په بیلا بیلو څانګو او په ځانګړې توګه د تجربوي

---

(٦) همدا سابقه مصدر ص ۱۱۱.

(٦) التاریخ الأسود للکنیسة، دي روزا ص ۱۲۰.

او ساینسي علومو په ډیرو تفصیلي قضایاو کې د مقدس کتاب او د هغې د شارحینو تفصیلي اراء موجودی وی، چې د زمانې په تیریدو سره د دین داسې برخه ګرځیدلی وی چې نه منل یې کلیسا ته د دین څخه د انکار سره مترادف ښکاریدل، حال دا چې هغه یا خو د ارسطو، بطلیموس او نورو یوناني او روماني فلسفیانو په نظریاتو ولاړې وې او یا هم د نورو انسانانو افکار او اراء ؤ چې هیڅ ډول قداست یې نه درلود، بلکې د دین او فلسفې ترمنځ د توافق د پیدا کولو په غرض د مسیحي مجامعو او د کلیسا د علمي او دیني شخصیتونو لخوا تبنی شوی او خپلی کړی شوی وی چې په دې توګه د هغه وخت د فلسفي نظریاتو سره د مخالفت له امله په مسیحیت اعتراض ونه کړی شی، له دی امله د دې لاندې دوه لاملونو له امله د علم او کلیسا ترمنځ شدید اختلاف رامنځته شو:

لومړی: هغه انساني افکاروته د تقدس په سترګه کتل چې د وخت په تیریدو سره د دین برخه ګرځیدلي ؤ، د بیلګې په توګه د عناصر اربعه(  ) تصور، او دا چې د دې کائناتو مرکز ځمکه ده، همدا راز هغه طبي تصورات چې په خرافاتو ولاړ ؤ او د مرض علاج د یو لړ ځانګړو دیني مراسمو په جوړولو، د حضرت مریم عذراء عکس او یا د صلیب نښه د مریض سرته په ایښودلو کې لیده.

---

( ۷) پخوانی فلاسفه په دی یقین وو چی په کائناتو کی هر ډول ماده د نسبتونو په تفاوت سره له څلورو عناصرو څخه جوړه ده چی هغه عبارت دی د اوبو، اور، خاوره، او هوا څخه، په طبیعی توګه کله چی علماو ولیدل چی عناصر بی شمیره دی نو ددی او داسی نورو علمی قضایاو چی د دین برخه ګرځیدلی وی د خلکو په اذهانو کی د دین په باب شکوک را پیدا کړل.

دوهم: دداسې قضاياوو په اړه په ټولو خلکو داسې تسلط قائمول چې هغه د کليسا د مکلفيتونو څخه په يقيني توګه خارجى[( )] وى، د بيلګې په توګه په تجربوي او ساينسي علومو کې خلک دې ته اړ کول چې د خپلو تجاربو نتائج پرېږدى او د هغې پر ځاى د کليسا په خرافاتو ولاړ نظر او خبره ومني، ځکه د هغوى په نزد د صحت او خطاء معيار يوازې او يوازې کليسا ګڼل کيده.

په دې اړه شيخ ابو الحسن على الندوى چې د بشريت په تاريخ باندې ډير ژور نظر لري داسې وايې: په اروپا کې د دينى مشرانو د لويو غلطيو او په خپل ځان باندى د لويو جنايتونو او په هغه دين باندې ـ چې دوى يې نمايندګى کوله ـ د لويو ظلمونو څخه تر ټولو لوى ظلم او لويه غلطي دا وه چې دوى په خپلو دينى کتابونو کې انساني معلومات، او د تاريخ او جغرافيا او طبيعي او ساينسي علومو په اړه د هغه زماني مسلمات ور داخل کړل، کيدلى شي چې دا هغه معلومات وي چې په هغه زمانه

---

( ۷) يو سمير خلک په غلطه همدى ته سيکولريزم وايي چى د تجربوى او سيساينسى علومو په تفاصيلو کى شريعت او نصوص دخل ونه لري، او وايي چى په هغه وخت کى کليسا ددى مسايلو څخه ليرى ساتلو ته سيکولريزم وويل شو، دا درسته خبره نه ده، او په حقيقت کى دا سيکولريزم هم نه دى، بلکه دا د تخصص احترام دى چى شريعت پرى ټينګار کوي، قرآن کريم په همدى اړه فرمايي: ژأب ٻ ڀ ٺ ٿ ٹ ٺ ٿ ٹ ث ٹ ٹ ٺ ڈ [النحل: ٤٣] مګر په دى کى هم شرعي نصوص تردى حده مداخله کوي چى ساينس او علم هم د هغه اخلاقياتو پابند وساتي چى شريعت يى په ټولو چارو کى التزام لازم ګڼى، دا د کليسا د نادرست او احمقانه تعامل يوه نمونه وه چى د هغى له امله خلک د هغى پر ضد راوپاريدل، سيکولريزم په بشپړه توګه يو بل مفهوم دى چى وروسته به په کوم ځاى کى پرى بحث وشى.

کې ورته د انسان علم رسیدلی وي، او دا د هغه زمانې داسې حقائق وي چې د هغې زمانی خلکو په کې یوه ذره هم شک نه درلود، خو دا په هغه زمانه کې د انساني علم انتها وه، که چېرته دا په هغه وخت کې د انساني علم وروستۍ پایلې وي نو بیا هم په کې تعارض او تغییر رامنځ ته کیدلی شي، ځکه چې د انسان علم خو په تدرج سره مخ ته ځي او ترقي او پرمختګ پکې راځي، نو څوک چې په داسې څه د خپل دین ټول بنسټ دروي نو دا د داسې چا په څیر دی څوک چې د شکو په غونډۍ لویه کلا جوړول غواړي.

کیدلی شی دوی دا کار په ښه نیت کړی وي، مګر دا ددوی لخوا په خپلو ځانونو او په خپل دین تر ټولو لوی جنایت او ظلم وه، ځکه چې دا د علم (ساینس) او دین ترمنځ د هغه نا مبارک اختلاف او جنګ لامل شو، هغه جنګ چې په اخر کې په کې هغه دین شرمناک شکست وخوړ چې هغه د انساني علم سره ګډ شوی وه چې په هغې کې حق او باطل، او خالص اوکوټه (ناخالص) دواړو ډولو شیانو وجود درلود. رجال دین (دینی مشران) داسې ولویدل چې بیا پکې د راپورته کیدو توان نه وه، او د دې ټولو څخه بدتره او خرابه خبره دا چې اروپا بې دینه او ملحده شوه.

رجال دین (دینی مشرانو) یوازې په هغه څه اکتفاء ونه کړه چې په خپلو کتابونو کې یې شامل کړي ؤ، بلکې هر هغه جغرافیایي، تاریخي، او مادي (ساینسي) معلومات به یې مقدس ګڼل چې د خلکو په منځ کې مشهور شوي،

او د تورات او انجيل څه شارحينو او مفسرينو به ذکر کړي ؤ، ؛ ديني بڼه به يې ورکوله، او د دين د هغه تعليماتو او اصولو څخه يې شميرل چې بايد خلک پرې عقيده ولري او څه چې د دې مخالف وي هغه خلک پريږدي، په دې اړه يې کتابونه وليکل، او دا جغرافيا يې (د بيلګی په توګه) چې الله تعالی هيڅ کوم دليل پری نه دی نازل کړی مسيحي جغرافيا يا د کتاب مقدس جغرافيا بلله، او په بشپړه توګه يې خپله کړه او هر چا چې دا د خپل دين برخه نه ګرځوله هغه به يې کافر ګاڼه( ).

په داسې حالاتو کې چې د کليسا د دې تعامل په نتيجه کې کليسايي دين خپل اعتبار له لاسه ورکړ، او هغه څه چې د وحی اومقدس کتاب په نوم په تېولنه کې حاکم ؤ د لارښووني مصدر پاتې نه شول او د اروپا خلک د داسې نوو مصادرو په لټه کې ؤ چې دمقدس کتاب پرځای ترې لارښوونه ترلاسه کړي، همدا وخت وه چې د اروپا خلک د هغه علومو او معارفو په نتيجه کې چې د اسلامی نړۍ نه هلته په بيلا بيلو طريقو او لارو منتقل کيدل د ژور خوب څخه را بيدار شول او هغه منهج او طريقه يې ياده کړه چې اسلام يې په اساس او بنسټ د تجريبی علومو سره تعامل کوي، او هغه دا چې هر هغه تجربوي علم چې د بشريت لپاره مفيد او ګټور وي هغه درست ګڼی، د تجربوي علومو په اړه تفصيلي اراء هم په خلکو نه ورتپي او نه يې پرې فرض کوي بلکې خلکو ته د دې فرصت ورکوي چې خپل عقول استعمال کړي او نوي او ګټور شيان استنباط کړي، او بشريت ته د هوسا ژوند د پرابرولو لپاره هلی ځلی

( ٧) ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين ص ١٥٧، طبع مكتبة الايمان، المنصورة، امام جامعة الأزهر، القاهرة.

وکړي، د انسان په وړاندی پرتو ټولو مشکلاتو او ستونزو لپاره د حل لاری ولټوي.

په دې وخت کې مطبعه هم ایجاد شوه چې د علم او معرفت په نشر کې یې ډیر مهم رول ولوبوه، دې ټولو پرمختګونو اروپایان دې ته وهڅول چې د کلیسا د غیر معقولو تصوراتو او په ځانګړې توګه د هغه کلیسایي معلوماتو چې د تجربوي علومو سره یې اړیکې لرلې پر ضد عکس العمل څرګند کړي او د منلو څخه یې انکار وکړي، مګر د دې پر ځای چې کلیسا خپلو دې اشتباهاتو ته متوجه شي په خپلو نظریاتو یې ټینګار وکړ، او هغه څوک چې په علمي میدان کې به یې د تجربوي او ساینسي علومو په بنسټ نظریات قائمول او د مسلمانانو د علومو څخه به یې استفاده کوله تر سخت فشار لاندې ونیول، هغوی لپاره یې ځانګړې تفتیشي محکمې وټاکلې، چې دې کار د علم او کلیسایي دین( ) ترمنځ کشمکش نور هم شدید کړ، د کلیسا لپاره له بده مرغه تر ټولو وړاندې دا تضاد او کشمکش په طبیعی علومو کې پیل شو، په پیل کې خو کلیسا د

---

( ۷) چی په فلسفه کی د مطلق دین او علم ترمنځ د کشمکش او تضاد د عنوان لاندی راوړل کیږی، حال دا چی علم د مطلق دین سره په تضاد کی واقع نه دی بلکه د کلیسایی دین سره په تضاد کی واقع دی بلکه د هغه څه سره په تضاد کی واقع دی چی هغه د پخوانیو انسانانو افکار دی چی د وخت په تیریدو سره د نصراني دین برخه ګرځیدلی دی، او داځکه چی علم پرمختګ کوی په هغه وختونو کی علم دومره پرمختګ نه وه کړی کله چې دا نظریات راپیدا شول او د دین برخه وګرځیدل، نو اوس چی کله علم پرمختګ وکړ نو هغه پخوانی نظریات د علم سره په ټکر کي واقع شول، او هغه نظریات چونکه د دین برخه ګرځیدلي وه نو خلکو داسی وانګیرله چی دین د مطلق علم او په ځانګړی توګه د تجربیی علم سره په تناقض کی واقع دی.

استبداد څخه کار واخیست او ډیر علماء او پوهان یې وځپل او ووژل، مگر په پای کې د کلیسا په مقابل کې د تجربوي او ساینسي علومو څخه د دفاع کوونکو تله درنده او کلیسا مغلوبه شوه.

خو دلته یوه لویه اشتباه چې رامنځ ته شوه، او هغه دا وه چې د کلیسا د احمقانه تصرفاتو په مقابل کې چې کوم عکس العمل را ښکاره شو هغه د دې پر ځای چې د کلیسا او د کلیسایي دین د محرفو افکارو په مقابل کې منحصر پاتې شوې وې، په کلي توگه یې د دین په مقابل کې حساسیت پیدا کړ، بلکې د عقل په تقدیس او د هر هغه څه په انکار باندې منتج شو چې د مادي موجوداتو تر څنگ د ماوراء طبیعي موجوداتو اقرار کوي، یعنې وحی او هغه څه چې عقل او تجربه یې نه ثابتوي هغه یې د خرافاتو او بی بنسټه کیسو څخه پرته بل څه نه بلل، او په دې توگه اروپا په بشپړه توگه د الحاد په غیږ کې ولویده، دلته د دې امکان موجود وه چې اروپا د بشپړ الحاد په طرف د تللو پرځای هغه درست دین ته رجوع کړې وی، چې هغه په وحی مبتني دی، د عقل او علم فیصلو ته اهمیت ورکوي، تخصص ته احترام لري، او دا کائنات یوازې په مادي وجود کې منحصر نه گڼي، مگر په منځنیو پیړیو کې د د دې دین (اسلام) پر ضد د کلیسایي نظام د ناروا او نادرستو تبلیغاتو له امله دا کار تر سره نه شو، او فلسفیانو او ساینس پوهانو د دې پر ځای چې اسلام مطالعه کړي د هماغه تبلیغاتو په نتیجه کی اسلام هم د کلیسا په محرف دین باندې قیاس کړ، او په ډیره نادرسته او غلطه توگه یې تصور دا وکړ چې ټول ادیان په جوهر کې په یو ډول دي، له دې امله یې د ټولو ادیانو پر ضد یو ډول دریځ غوره کړ، او د الحاد په لور یې

حرکت وکړ، په اجمالي توګه همدا د اوسنۍ اروپا سرګذشت وه اوس لږ په تفصیل سره ګورو چې دا کار په کوم تدریج سره سرته ورسید، او څنګه اورپا په وور ورو د الحاد لمن ته پریوته.

څرنګه چې د کلیسا پر ضد په لومړي سر کې رشدي فلسفه (د ابن رشد لاتیني ته ترجمه شوي فلسفي افکار) د وسیلې په حیث استعمال شول، او بیا فوري وروسته ورته د کوپرنیک د فلکي نظریاتو مرګوني ګذارونه متوجه کړل، نو په ورستیو پیړیو کې علم (ساینس) او فلسفې دواړو په ګډه د کلیسایي دین پر ضد دریغ غوره کړ، او څرنګه چې فلسفه هم په دې ورستیو پیړیو کې په بشپړه توګه د علم (ساینس) تر اغېز لاندې وه له دې امله په عامه توګه په غرب کې مؤثرو فلسفي مدارسو او ساینس پوهانو یو ډول دریغ غوره کړ، او څرنګه چې علم (ساینس) په مادي لحاظ ډیرې لاس ته راوړنې هم درلودې چې خلک یې د افراط تر حده مغروره کړي ؤ نو دې غرور ورو ورو خلک د الحاد لور ته وهڅول، او تصور یې دا وکړ چې ساینس او تجربوي علومو په الله تعالی باندې د ایمان درلودلو اړتیا له منځه وړې ده، ځکه دوي تصور درلود چې په ماوراء طبیعي موجوداتو باندې د ایمان ترټولو لوی او بنسټیز لامل د حوادثو د منځ ته راتللو په حقیقي لاملونو نه پوهیدل دي، او دا جهالت د ساینس او تجربوي علومو د منځ ته راتللو په نتیجه له منځه ولاړ، نو په دې چې کومه نتیجه بناء وه چې هغه په الله تعالی او په ماوراء طبیعي موجوداتو د ایمان درلودلو اړتیا وه هغه هم له منځه ځي، سره له دې چې درسته خبره دا وه چې دا یې ویلي وی چې تجربوي او ساینسي علومو د هغه خرافاتو د منلو اړتیا ختمه کړېده چې په کلیسایي دین کې ننوتي ؤ، مګر

دوی دا په داسې توګه تعمیم کړه چې د الله تعالی د وجود څخه په انکار منتج شوه او د مطلق غیبی وجود څخه یې انکار وکړ او په دې توګه غرب د بشپړ الحاد په لمن کې پریوت، دا څرنګه تر سره شول؟، تفصیلات یې دا دي:

## لومړی: د رینیسانس (Renaissance) خوځښت

د کلیسا پر ضد چې لومړی کوم حرکت پیل شو هغه د رینیسانس خوځښت وه چې په اټالیا کې په ۱۴ میلادي پیړۍ کې د مدیچي کورنۍ (د اټالیا د پادشاهانو یوه کورنۍ) په وخت کې پیل شو، دا حرکت په طبیعي توګه د مدرسي فلسفي (په منځنیو پیړیو کې د مسیحیت فلسفه چې په اروپا کې یې رواج درلود) په مقابل کې پیل شو، ددوی بنسټیز هدف دا وه چې پخوانی یونانی ثقافت راژوندی کړي، دا په حقیقت کې کوم ولسي خوځښت نه وه بلکې د یو شمیر مثقفو خلکو حرکت وه، په دې خوځښت کې اصلا د انسان په اختیار باندی ډیر ترکیز شوی، ځکه چې انسان په منځنیو پیړیو کې یو د فاقد اختیار (بی اختیاره) موجود حیثیت غوره کړی وه، همدا راز په دی خوځښت کی د انسان او د خدای ترمنځ د واسطې په نفي ډیر ترکیز کیده، همدا راز د دوی له نظره د بشریت د سعادت یوازنۍ لاره د پخوانیو یوناني علومو، فنونو، اخلاقو او نظامونو او سیستمونورا ژوندي کول ؤ، او نظري علوم لکه ما وراء الطبیعت او داسې نورو شیانو باندی بحث کول یې نادرست او ناروا بلل ځکه دا ډول مباحث د انسان په عملي ژوند باندې کومه اغیزه نه لري، د دې

عصر د مشهورو شخصیتونو څخه میکاولی، لیوناردو دافینشی، میکلانګلو، ارازموس، رابلیه او مونتیني ؤ، خو د خپلو افکارو په لحاظ د کلیسا د مخالفت لومړی خوځښت بلل کیږی.

## دویم: د دینی اصلاح (Religious reform) خوځښت

دویمه لویه معارضه د کلیسا پر ضد د دینی اصلاح خوځښت وه، دا خوځښت په لویدیځه اروپا کې په ۱٦ پیړۍ کې د کاتولیکي کلیسا په داخل کې د یو اصلاحي خوځښت په حیث پیل شو چې وروسته یې د یو عقیدوي خوځښت بڼه غوره کړه او د پروتستانتي فرقې په نوم مشهور شو، د کلیسا پر ضد د دې ډول خوځښتونو پیل خو له ډیر پخوا راهیسې شوی، د بیلګې په
توګه په ۱۴ پیړۍ کې د (جون ویکلیف) خوځښت، بیا وروسته هغه خوځښت چې (جان هوس) یې مشري کوله، خو د رینیسانس د حرکت او نورو عواملو په نتیجه کې زمینه دې ته برابره شوه چې دا خوځښت په پوره قوت سره پیل شي، همدا وه چې کله مارتن لوثر په ۳۱ اکتوبر ۱۵۱۷م کال کې خپل ۹۵ مادیی غوښتنې د فیتنبرګ په کلیسا راوزړولې، چې بنسټیزې غوښتنې یې دا وې چې باید د مغفرت ورقې نورې د کلیسا د مشرانو لخوا په خلکو ونه ویشلی شي، خلک باید پخپله مقدس کتاب ولولي او د مقدس کتاب د تفسیر حق یوازې د کلیسا سره

په احتکار کې نه وي، او په دې توګه يې د کليسا بنسټيز عقايد نقد او د هغې علني مخالفت يې پيل کړ، چې بيا د دې په نتيجه کې ډير جنګونه رامنځ ته شول، خو کليسا ته يې يو مضبوط ګذار ورکړ، او د کليسا د واک لپاره يې يو چلنج رامنځ ته کړ.

## دريم: د علمي فلسفې او کليسا ترمنځ کشمکش

بيا وروسته د کليسا او ساينس ترمنځ هم داسې کشمکش را پيدا شو چې په نتيجه کې يې د دې دواړو څخه يو بايد پاتې شي، څرنګه چې علم چې په هغه وخت کې د طبيعي فلسفې په نوم ياديده خلکو ته داسې څه تقديم او وړاندې کړل چې هغوي ورته اړتيا درلوده، د هغوی مشکلات يې حل کول، او تر ټولو مهمه دا چې د عقل سره برابر ؤ نو له دی امله خلکو د کليسا پر ځای علم ته ترجيح ورکړه چې په نتيجه کې کليسا او کليسايي دين دا معرکه هم بايلوده او په دې توګه يې هر څه له لاسه ورکړل، چې د دې تفصيل په لاندې ډول دی.

## کوپرنيکي انقلاب

کليسا په دې عقيده درلوده چې ځمکه د دې کائناتو مرکز دی، او دا ځکه چې په دې باندی دويم اقنوم عيسی متجسد شوی دی، په همدې باندې د فداء او خلاص عمليې ترسره شوې، په همدې عشاء

رباني خوړل کیږي، او په مقدس کتاب کې راغلی دی "*الأرض قائمة أبد الدهر والشمس تشرق، والشمس تغرب، وتسرع إلی موضعها حیث تشرق*"( ) ځمکه د همیش لپاره قائمه او دائمه ده، همدا لمر دی[٤] چې راخیژی او پریوزی، او په ډیر سرعت سره هغه ځای ته ځان رسوي له چېرته نه چې راخیژی، دا عقیده کلیسا د بطلیموس د نظریی څخه اخیستی وه او بیا یې د تقدس وصف ورکړی وه تر دی چې د دې مخالفت یې د مقدس کتاب مخالفت باله، سره له دی چې د دې عقیدی د مقدس کتاب او دین سره هیڅ اړیکې نه وی( ).

د کلیسا بله عقیده دا وه چې دا ځمکه کروي شکل نه بلکې مسطح شکل لري او دا ځکه چې دا خو ډیره د بې عقلۍ خبره ده چې څوک دا عقیده ولري چې څه داسې انسانان شته چې د هغوی پښې د سرونو دپاسه وی، همدا راز دا هم د پوره بې عقلۍ خبره ده چې څوک دا عقیده ولري چې څه ونې او بوټي ښکته لور ته د نمو او غځیدو په حال کې دی( )، او دا یې هم ویل که دا[٦]
ربښتیا شي چې دا ځمکه کروی شکل لری نو بیا خو دا ضروري او اړین دي چې مسیح علیه السلام د مځکې هغه بل مخ ته هم ورشي او هلته باید په دار کړی شی چې هغوی ته هم (خلاصی) او نجات تر لاسه

( ٧) النزاع بین الدین والفلسفة ص ٢٠٣ د توفیق الطویل لیکنه.

( ٧) الالحاد فی الغرب، ٤٥- ٤٦، رمسیس عوض، سیناء للنشر، القاهرة، الطبعة الأولی عام ١٩٩٧م.

( ٧) دوی خو چونکه د کشش ثقل د قانون څخه خبر نه وو نو دا یی تصور نشو کولی چی ښکته او پورته شاته مخکی او داسی نور نسبی جهتونه دی، حقیقی جهتونه نه دی، یعنی څوک چی د مځکی په بل اړخ دی دا ضروری نه ده چی زموږ ښکته دی د هغوی لپاره هم ښکته وی.

شی[ ] په دې احمقانه استدلالونو دوی د مځکې د کرویت قضیّه نفی کوله.

د لومړی ځل لپاره یې چې کلیسا ولړزوله هغه په همدې اړه د (نیکولس کوپرنیک) (Nicolaus Copernicus) نظریه وه چې په کال ۱۵۴۳م کې یې را ښکاره کړه او لنډیز یې دا وه چې ځمکه د دې کائناتو مرکز نه دی، بلکې پخپله ځمکه د لمر تر شا او خوا ځرخیږي او دا چې ځمکه مسطحه نه بلکې بیضوي شکله ده، سره له دې چې د کوپرنیک څخه د مخه هم څه خلک داسې ؤ چې د کلیسا د عقیدې په خلاف یې دا رای درلوده چې د مځکې نور اړخونو هم اباد دي او ځمکه مسطحه نه ده مګر کوپرنیک هغه څوک وه چې دا یې ولیکل، د دې کتاب لیکل د دې لپاره کافی وه چې هغه د تفتیش د محاکمو لخوا په سختې سزا محکوم کړی شی مګر د هغې طالع په دې کې وې چې د کتاب د انتشار څخه وروسته ډیر ژر وفات شو، مګر د دې سره سره کلیسا د هغې کتاب چې (د فلکی توکو حرکت) (Revolutions of the heavenly bodies) نومیده ممنوع اعلان کړ، او ویې ویل چې دا د داسې شیطاني وسوسو څخه ډک دی چې د انجیل د روح سره په تناقض کې واقع دی[ ].

کلیسا داسې فکر کاوه چې د کوپرنیک په مرګ به دا مسأله سړه او له منځه به ولاړه شي، مګر دا درسته نه وه، ځکه چې د هغه د وفات څخه

( ۷) النزاعبین الدین والفلسفة ص ۱٦۷.

( ۷) کتب غیرت وجه العالم ص ۲۱۵ – ۲۳۳ د (رابرت ب ـ داونز) لیکنه او د (امین سلامة) ترجمة، طبع الهیئة المصریة العامة للکتاب، کال ۱۹۷۷م.

لږ کلونه وروسته دفلکیاتو یو بل ایټالوي عالم او فیلسوف چې جیوردانو برونو (Giordano Bruno) نومیده دا بیا را پورته کړه، او کله چې کلیسا ونیوه نو پخپله خبره یې اصرار وکړ له دی امله د کلیسا لخوا په کال (۱٦۰۰م) کې ژوندی وسوځول شو.

لږ وخت وروسته (گالیلو) تلسکوپ جوړ کړ او د تجربې په بنسټ یې هغه څه ثابت کړل چې کوپرنیک او نورو مخکې خلکو په نظري توگه ویل، سره له دې چې عمر یې (۷۰) کالو ته رسیدلی وه بیا هم د کلیسا د تفتیش د محکمې لخوا ونیول شو، او د یوې اوه کسیزې محکمې لخوا په زندان محکوم شو، او تر درې کالو پورې هر هفته یو وار د توبې د (مزامیرو) په لوستلو محکوم کړی شو، کله یې چې د دې احساس وکړ چې ژوند یې د جیوردانو په څیر خاتمه پیدا نه کړي نو د محکمې په وړاندې یې داسې اعتذار وړاندې کړ: *(أنا جاليليو وقد بلغت السبعين من عمري سجين راكع أمام فخامتك: والكتاب المقدس أمامي ألمسه بيدي، أرفض وألعن وأحتقر القول الإلحادي المخطئ بدوران الأرض)*[7] زه گالیلو یم د خپل عمر اویا کلنې ته رسیدلی یم، زه بندي او ستاسې محترم په وړاندې سرټیټې ولاړ یم، مقدس کتاب می مخ ته ایښی دی په خپل لاس یې لمس کوم، زه هغه نادرست او الحادي نظر چې د مځکې د څرخیدو قایل دي ردوم، حقیر یې گڼم او لعنت پرې وایم.

---

(۷) قصه النزاع بين الدين والفلسفه ص ۱۹۷- ۱۹۸، وكواشف زيوف في المذاهب الفكرية المعاصرة ص ۴۸ د شیخ عبد الرحمن حسن حبنكة الميداني ليكنه.

دا دعلم او هغه څه په اړه چې د تجربې په بنسټ ثابت شوي ؤ د کلیسا او کلیسایي دین د مشرانو دریځ وه، د کلیسا دې دریځ او همدا راز هغه علمي لاس ته راوړنو چې کوپرنیک، جیوردانو او ګالیلو درلودې په اولسمه پیړۍ کې په علماوو او ساینس پوهانو ډیرې ژورې اغیزې پرېښودې، چې یو لړ یې په لاندې ډول خلاصه کولي شو:

لومړی: د حقیقت مطلقه تصور چې د کلیسا تر اغیزې لاندې اوسیدونکو اروپایانو په ذهنونو کې د پیړیو پیړیو راهیسي ترسیخ شوې وه له منځه ولاړه، په دې معنی چې ډیر داسې شیان ؤ چې هغې ته به اروپایانو د ثابتو حقایقو په سترګه کتل، او دهغی د مناقشې امکان وجود نه درلود، د هغې په اړه چا د شک اظهار هم نه شو کولی، په ځانګړي توګه هغه څه چې د کلیسا لخوا ورته د عقایدو درجه ورکړ شوې وه چې په دې کې د ځمکې په اړه د هغوي عقاید هم شامل ؤ د کوپرنیک او د هغې د اتباعو لخوا دا ډول حقایق بې حیثیته شول، او په دې توګه د مطلقو حقایقو تصور له منځه ولاړ، چې پخپله یې د شکاکیت لپاره لاره هواره کړه.

دوهمه اغیزه: دا وه چې د کوپرنیک او په ځانګړي توګه د ګالیلو تجربوي لاس ته راوړنو د مثقفو خلکو په ذهنونو کې د کلیسا اعتبار په بشپړه توګه له منځه یوړ، او دا ځکه کله چې په علمي لحاظ او د تجربې په بنسټ د کلیسا یو لړ معتقدات غلط ثابت شول نو د مثقفو خلکو سره د کلیسا د ټولو معتقداتو او د هغه ټولو معلوماتو په اړه چې مصدر یې کلیسا

وه همدا تصور ایجاد شو چې دا ټول د اعتبار څخه لویدلي شیان دي، په دې توګه کلیسا بلکې مطلق دین د مثقفینو له نظره بی اعتباره وګرځیده، او د اروپا مثقف وګړي دې نتیجې ته ورسیدل چې د کلیسا مقدس کتابونه او نصوص د علم لپاره د اعتماد وړ مصادر نه دی.

دریمه اغیزه: ددې معارضې دریمه اغیزه دا وه چې ددې مثقفو خلکو په نزد حقیقت ته د رسیدلو یواځینی لار عقل او تجربه وګرځیده، له دې څخه وړاندې د هر ډول معلوماتو یواځینی سرچینه کلیسا او د مقدس کتاب محرف نصوص ؤ، خوځرنګه چې په فوري توګه دا ممکن نه وه چې د مقدس کتاب پر ځای د علم او معرفت مصدر عقل او تجربه وګرځي نو یوه فتره او موده داسې وه چې خلکو د شکاکیت په حالت کې تیره کړه، ځکه چې خلک د کلیسایي مصادرو څخه ترلاسه شوو هر ډول معلوماتو بې اعتماده شول، او د معلوماتو لپاره نوي داسې کوم موثق مصادر نه ؤ چې اعتماد پرې شوی وی.

# دریم فصل

# د ساینس او کلیسا ترمنځ تصادم

# د ساینس پوهانو، فلسفیانو او کلیسا ترمنځ کشمکش

په اولسمه پیړۍ کې د تجربوي علم (ساینس) او د مقدس کتاب د نصوصو ترمنځ کشمکش یو بل شکل غوره کړ چې هغې ته د دین او عقل ترمنځ د کشمکش عنوان ورکړ شو، په پیل کې د کلیسا او د تفتیش د محاکمولو ویرې چا ددې ځرګندونه نه شوه کولی، بیا ورو ورو په انفرادي توګه ساینس پوهانو او فلسفیانو هغه بنسټونه تر نقد لاندی ونیول چې د کلیسا د نظام عمارت پرې ولاړ وه، د همدی انفرادي هلو ځلو په پایله کی بیا عقلاني موج په بشپړ قوت سره د کلیسایي دین پر ضد ودریده، دا عقلاني څپه یواځې د کلیسایي دین سره په مخالفت کی پاتی نه شوه، بلکه د مطلق دین د مخالفت په څپې بدله شوه، چې په نتیجه کی یې د مکمل الحاد شکل غوره کړ، په دې پیړۍ کې زیات مؤثر

شخصیتونه علماء او فلسفیان موجود ؤ چې د کلیسا د نظام بنسټونه یې نقد کړل، او په ورستیو زمانو یې خورا زیاتې اغیزې درلودې، ددوی له جملې څخه لاندې شخصیتونه ډېر مهم دی:

## فرانسیس بیکون (۱۵۶۱ـ ۱۶۲۶)

د منهج او تګلارې له پلوه فرانسیس بیکون د نوي علم بنسټ ایښودونکی بللی شو، سره له دې چې فرانسیس بیکون نه په عملی لحاظ کومې د ملاحظی وړ کامیابۍ ترلاسه کړې او نه په علمي لحاظ، مګر د هغه اهمیت په دې کې دی چې د لومړیو هغه کسانو له جملې څخه وه چې د ارسطویي فلسفې (چې د کلیسا لخوا د خپلولو له امله هغه په منځنیو پیړیو کې مسیحي فلسفه ګرځیدلې وه) او افلاطوني فلسفې پر ضد بیرغ پورته کړ، بیکون د ارسطویي منطق په اړه ویل: چې دا په هیڅ شکل د نوې اختراع لپاره وسیله نشي ګرځیدلی، د دې منطق دلایل خو موږ د نتیجې په منلو مجورويي مګر هیڅکله هم کوم نوی شی نشي اختراع کولی، دا تجربه د ځان پسې راکاږي لکه هغه چې په قید او بند کې وي! یعنی د دې پر ځای چې دا د تجربې تابع وي تجربه خپله تابع ګرځوي.

بل کوم شدید نقد یې چې ارسطویي او قدیمي یوناني فلسفې ته متوجه کړ هغه دا وه چې د علم او معرفت د هدف په ټاکلو کې یې بدلون راوست، په پخوانۍ یونانۍ فلسفه کې د علم او معرفت اصل هدف د

شیانو غایت او غرض په اړه سوالونه مطرح کول ؤ، بیکون دې ته ستره ضربه متوجه کړه، د هغې نظر دا وه چې د علم او معرفت هدف د شیانو د غرض او غایت بیانولو پر ځای باید په کائناتو د انسان تسلط وټاکل شي، د بیکون په عقیده د هغې د لوی اصلاحي خوځښت موخه او هدف دا وه: *(معرفة الأسباب والحركة الخفية للأشياء، وتوسيع حدود المملكة الانسانية توسيعا من شأنه أن يتيح لنا التأثير فى كل الأشياء الممكنة)*[ ] د اسبابو، علتونو، او د شیانو د پټو حرکتونو پیژندل او ادراک، او د انساني تسلط دومره پراختیا چې په ټولو ممکنو شیانو باندې اغیزه ولرلی شو.

بیکون چې بل کوم تمیز درلود هغه د ده استقرائي منهج وه، دا منهج د واقع، حادثې، او موجود حالت په ملاحظې پیل کیږي او د هغې واقع په اړه د طبیعي قوانینو په استنباط بشپړ او سرته رسیږي، چې د هرې پدیدې او واقعی په اړه دری فهرسونه جوړوی، په یو فهرس کې هغه مثالونه راجمع کوی چې د بحث او نظر وړحادثه تائیدوي، په دویم فهرس کې د هغې واقع مخالف مثالونه راجمع کوي، او په دریم فهرس کې د بحث او نظر لاندې حادثې داسې مثالونه راټولوي چې په درجه کې متفاوت او مختلف وي، او د دې دری واړو فهرسونو د مقارنې په نتیجه کې د هغې پدیدی طبیعي قانون ته رسیږي[ ]، سره له دې چې د

(٨) الموسوعة الفلسفية المختصرة د. زكى نجيب محفوظ ص ١٤٩.

(٨) الموسوعة العربية الميسرة ج ٢ ص ٨٨٧.

فرانسیس بیکون دا استقرائي منهج د شدید نقد سره هم مواجه شو مگر په هغه وخت کې يې د ارسطويي منهج پر ضد یو گام پورته کړ، او له همدې امله فرانسیس بیکون د جدید علم (ساینس) د مؤسس په حیث پیژندل کیږي، د ارسطو د منهج په نقد او د هغی د ستنو د نړولو په ذریعی فرانسیس بیکون مدرسي فلسفی ته ـ چی مسیحي فلسفه بلل کیده ـ او ورسره کلیسا ته ستره ضربه متوجه کړه.

## دیکارتی انقلاب (١٥٩٦ــ ١٦٥٠)

په اروپا کې په شپاړسمه پیړۍ کې په فکري لحاظ یو د اضطراب کیفیت حاکم وه، شک خپلي پنجي کلکي کړي وي، د کوپرنیک او گالیلو او نورو د علمي څیړنو په نتیجه کې کلیسایي دین، او د هغوی مقدس کتاب خپل اعتبار د لاسه ورکړی وه، او د هغې په اساس بناء شوی ایمان د نړیدو په حال کې وه، همدا راز د ارسطو فلسفی او منطق (چې مسیحیانوخپله کړې وه، او نوم به يې خلکو د سند په حیث منلو) او د منځنیو پیړیو مدرسي فلسفی د فرانسیس بیکون (١٥٦١- ١٦٢٦) د استقرایي منهج په نتیجه کې ستره ضربه ولیده، او تر هغه وخت پورې علمي منهج هم په بشپړه توگه مستقر شوی نه وه، او تجربوي منهج خپل افادیت هم تر هغه وخته پورې نه وه ثابت کړی چې د یوازیني منهج په حیث راڅرگند شی، د اضطراب او بي باورۍ په دې فضاء کې دیکارت پیدا شو او د نوې فلسفې بنسټ يې کیښوده چې د یوه لوری يې د شک د مذهب پر ضد مبارزه پیل کړه او له بل پلوه يې د کلیسا د فکري

استبداد څخه د نړۍ د ژغورلو دنده په غاړه واخیسته، له همدې امله ورته ابو الفلسفه الحدیثه (د نوی فلسفی پلار او موجد) ویل کیږي.

هغې د منهجي شک(٨) په بنسټ د خپلې فلسفې بنیاد کیښود، او د هغه عقل څخه پرته ـ چې حدس او بداهت (Intuition) یې بولي بل هر مسصدر او مرجع یې مسترد کړه، او یواځی همدا ډول عقل یې د هر حقیقت لپاره یواځینی معیار او مصدر وګاڼه، او حقیقت ته د رسیدلو لپار یې دوه مرحلې وټاکلې:

لومړي حدس او بداهت (Intuition): ددې څخه د دیکارت مطلب هغه تصورات دی چې په نفس سلیم کې د یو فطري او طبیعي نور څخه راپیدا کیږي او انسان ته د بسیطو افکارو د فهم توان وربښي.

دوهم استنباط (Deduction): دې ته استدلال هم ویلی شو، او دا هغه فکري نشاط او خوځښت ته ویل کیږي چې په نتیجه کې یې د مجهول شي علم د معلوم شي څخه په لاس راځي.

دیکارت د خپلې عقلي اتجاه د تاکید په خاطر د ریاضي منهج ضوابط وضع کړل، او دا یې د هر ډول حقیقت د کشف کولو یواځینۍ لاره وبلله، په دې منهج کې لومړنۍ قاعده (یقین) وه، ددې قاعدې معنی

---

(٨) سره له دی چی ډیر علماء او پوهان وایي چی دا منهج یی د امام غزالي رحمه الله څخه اخیستی وه، او د لږ څه تعدیل او تغییر سره یی په نوي قالب کی وړاندی کړ، نو په حقیقت کی (د نوی فلسفی موجد) د لقب اصلی حق دار امام غزالي دی.

دا وه چې یو باحث او څیړونکی باید هیڅ یو شي هم د حقیقت په حیث قبول نه کړي تر څو چې د ازاد عقلي (چې د هر ډول میتافیزیکي قیودو څخه ازاد وي) بحث او څیړنی په نتیجه کې په داسې توګه ثابت نه شي چې د هیڅ ډول شک او شبهې مجال په کښې نه وي.

د دې قاعدې په نتیجه کې هغه ټول معارف او احکام چې دکلیسا لخوا د مقدس کتاب او یا په کوم بل شکل کې خلکو ته رسیدلي ؤ، او یا یې په وړکتوب کې د کوم عقلي بحث څخه پرته په ذهن کې ترسیخ شوي ؤ، او یا هم هغه افکار چې عقل د هغې په اړه کامل یقین ته نه وه رسیدلی داسې ټول معارف د دیکارتي منهج او تګلارې په نتیجه کې د سوال لاندې راغلل او خپل حیثیت یې د لاسه ورکړ، او مرجعیت یې بایلوده.

له بل پلوه دیکارت هم یو د مادي مذهب لرونکو فلسفیانو له جملې څخه وه او د نړۍ په اړه یې ماشیني نظریه درلوده، او تصور یې دا وه چې ټول کائنات د دری موجوداتو څخه عبارت دی، لومړی: ماده، دوهم: نفس، او دریم: الله، د نفس او الله څخه پرته نور د هر څه په باره کې د مادې او ماشیني نظریې قائل وه .

د دیکارت دې نظریاتو کلیسایي نظام ته داسې مستحکمه ضربه متوجه کړه چې په پای کې د هغې د له منځه تللو لامل وګرځیدل، همدا کافي وه چې دیکارت د کلیسا د تعذیب د پنجې لاندې راشي، مګر څرنګه

چې دیکارت له یوې خوا غوښتل چې د هغې فلسفه په اروپا کې د ارسطو د فلسفې ځای ونیسي، او له بلې خوا یې غوښتل چې په اطمینان سره خپل علمي بحث او څیړنو ته ادامه ورکړي او د تفتیش د محاکمو په لاس د هغه انجام سره مخامخ نه شي چې (جیوردانو بورنو) او د هغې په څیر نور ډیر خلک ورسره مخامخ شوي ؤ، او دا یواځې هغه وخت ممکن وه چې کلیسا او د کلیسا واکداران خفه نه کړي[8]، له دې امله یې هر هغه څه چې د کلیسا واکداران پرې خفه کیدل یا خو اصلا نه نشرول او یا به یې د خپل نوم څخه پرته په بدل نوم نشر ته سپارل.

## کلیسایي عقائد د عقل څخه لوړ دي!

د همدې ملاحظې له امله دیکارت د خپل منهج لومړۍ قاعده په ټولو معارفو تطبیق کړه او یواځې وحي او دین یې ددې قاعدې څخه مستثنی وګرځول، د خپل شک اجراء یې د عقیدې په مباحثو کې نه کوله، ویل یې چې عقیده د عقل د مجال څخه بیرون شی دی، او ایمان یې د ارادې د افعالو له جملې څخه باله، نه د ذهن او عقل د افعالو څخه، او عقل یې په فلسفي بحث کې منحصر ګاڼه، او ویل به یې: ایماني او دیني مباحث د عقل په دایره کې نه راځي بلکې دا د عقل د دایرې څخه پورته شیان دي، هغه زیاتوي: نو دا هیڅکله د حکمت

(٨) مګر ددې ټولو کوښښونو سره سره هغه د کلیسا د غضب څخه بچ نه شو، په الحاد متهم کړې شو او په ژوند او مرګ د کلیسا د غضب څخه بچ نه شو، دې لپاره وګورئ: قصه النزاع بین الدین والفلسفه د. توفیق الطویل ص ١٧٣ - ١٧٦

غوښتنه نه ده چې دا عقاید موږ خپلو ضعیفو عقلي استدلالونو ته وسپارو او د هغې تابع یې وګرځوو، او دا ځکه چې په دې اړه بحث یواځې او یواځې د اسماني مدد (وحي) په ذریعې ممکن دی، چې الله تعالی یې په خپلو خاصو بندګانو نازلوي، او کله چې دا وحي راشي نو دفعتا پرته د عقلي استدلال څخه عقیدې داسې مرحلې ته پورته کړي چې هغه معصومه وي او د غلطی هیڅ احتمال په کې نه وي( ).

دیکارت په حقیقت کې د علم او دین په اړه د ازدواجیت قائل وه، او دا به یې ویل چې کیدلی شي چې یوه قضیه د علم په معیار په بشپړه توګه نادرسته او غلطه وي خو هماغه حکم د دین له نظره درسته او صحیح وي او په دې کې هیڅ ډول تناقض نشته او دا ځکه چې د دین او علم د بحث میدانونه مختلف دي، په دې اړه امیل بوترو وایي: (*یفرض دیکارت مبدأ الاستقلال المتبادل بین الدین والعلم، فمیدان العلم الطبیعة؛ وموضوعه استغلال القوی*

*الطبیعیة، و أدواته الریاضة والتجربة، ویختص الدین بمصائر الناس في العالم الآخر، ویعتمد علی اعتقادات معینة في غایة البساطة، ولا صلة لها بدقائق اللاهوت المدرسي، فلا مضایفة بین العلم والدین، ولا سلطان لأحدهما علی الآخر، لأن نموهما الطبیعي والمشروع لا یجعلهما یلتقیان، ولقد مضی الزمن الذي کان الدین یفرض نتائجه علی الفلسفة التي کان*

---

( ٨) د دیکارت د دې نظریاتو لپاره وګورئ: قصه النزاع بین الدین والفلسفه ص١٦٥ – ١٧١.

*من واجبها أن تبرهن على تلك النتائج وتشرح أصولها، كما كان الحال في العصر الوسيط، فلكل من العلم والدين استقلاله الذاتي)*( ).

ديكارت د علم او دين ترمنځ د استقلال په اصل تاكيد كوي، چې د علم ميدان طبيعت دی، او موضوع يې د طبيعت د قوتونو څخه استفاده ده، او وسائل يې تجربه او رياضي منهج دی، او دين په اخرت كې د خلكو د انجام څخه بحث كوي، او په يو څو ځانګړو او ډيرو بسيطو او ساده عقايدو ولاړ دی چې د (منځنيو پيړيو د مدرسي الهياتو) سره هيڅ تړاو نه لري، نو د علم او دين ترمنځ هيڅ مناسبت او دتعارض مجال نشته، او د دواړو څخه يو هم د بل تر تسلط لاندې نه دي، نو که دا دواړه (علم او دين) په طبيعي او روغه توګه پرمخ ولاړ شي نو هيڅ كله به هم يو بل سره په ټكر كې واقع نه شي، او هغه زمانه تيره شوه چې دين به خپل نتايج په فلسفې باندې مسلط كول، او دفلسفي كار به يواځې دا وه چې د هغې داصولو لپاره دلايل ولټوي او اصول يې شرح كړي، لكه په منځنيو پيړيو كې به چې كيدل، نو علم او دين په ذاتي توګه يو د بل څخه مستقل شيان دي.

يو شمير څيړونكي وايي چې د ديكارت دا نظر هم په حقيقت كې د كليسايي عقايدو په اړه د دې څرګندونه وه چې دا ټول عقايد د عقل سره مخالف دي، مګر څرنګه چې د كليسا د عقائدو په اړه د مطلق ايمان څخه د

---

( ٨) العلم والدين في الفلسفة المعاصرة ص ١٩ – ٢٠ تاليف اميل بوترو، ترجمة: د. أحمد فؤاد الأهواني، الهيئة المصرية العامة للكتاب، عام ١٩٧٣.

مطلق عقلانیت او د هغې پر بنسټ بیا د مطلق الحاد په لور د انتقال لپاره د یوې انتقالي زمانې یافترې اړتیا وه نو د علم او دین (وحي) د ازدواجیت( ) په اړه د دیکارت او د هغه په څیر د نورو فلسفیانو دا رای په حقیقت کې همدا انتقالي زمانه ده، ددی ترځنګ دیکارت ددی هڅه هم کوله چی داسی څه تری څرګند نه شي چی د کلیسا د واکدارانو قهر راوپاروي، د همدی لپاره یی دا ویل چی دیني عقائد د عقل څخه لوړ دي، او د علم او دین د ازدواجیت قائل وه، او دا ځکه که د کلیسا عقائد یې د خپلو علمي قواعدو لاندی راوستی وی، او دا عقائد یی د دی قواعدو په بنسټ نقد کړی وی نو حتما به د کلیسا د محاسبی لاند راته او عقائد به تفتیش کیدل.

## (ب ـ پایل (B - Payle) ۱۷۰٦م)

یو له هغو فلسفیان څخه چې د کلیسا له ویرې یې خپل اصلي افکار نه شو څرګندولی، خو ترپردې لاندې او استهزائي اسلوب کې یې د کلیسا پر دین

( ۸) په دي معنی چې یو قضیه کیدلي شي چې د عقل او علم له نظره بالکل نادرسته او غلطه وي مګر د دین له نظره هغه بالکل صحیح او درسته وي، د ازدواجیت دا تصور هغه وخت صحیح کیدلي شي چې هیڅ مفهوم ته خارجي واقعیت ثابت نه کړي شي او هغه یواځي نفسي قضایا وبلل شي لکه سوفسطانیان چې وایي، او که څوک چې د دیني معتقداتو لپاره هم دخارجي وجود په شتون عقیده ولري نو بیا دا خبره هیڅکله هم نه صحیح کیږي چې دوه متضاد شیان دي صحیح او درست وي، د بیلګي په توګه مځکه دي په یو وخت کي متحرکه او ساکه وي، او یا دي په یو وخت کی مسطحه او بیضوي الشکله وي.

په ډیره ژوره توگه نقد کړی، (ب ـ پایل) دی، دا فیلسوف هم په فرانسه کې زیږیدلی دی، او بیا د کلیسا لخوا هالینډ ته تبعید شوی دی، تر ټولو وړاندې یې د انجیل د دې آیت چې (أجبروهم علی اعتناق دینکم...) او په همدې اړه د کلیسا د یو پخواني ستر مشر أوغسطین په اقوالو د رد او د دیني تسامح د اثبات لپاره د (په ایت (أجبروهم...) تر سرلیک لاندې کتاب ولیکه، دا کتاب په کال ۱٦۸٦م کې خپور شو، بیا یې (قاموس فلسفي) ولیکه، په دې کتاب کې یې هغه ټول اعتراضات راټول کړل چې د نصرانیت او د دې دین د بنسټیزو عقایدو د ابطال او ردولو لپاره ترې د اروپا خلکو استفاده کوله، د دې ترڅنگ یې کله چې د هغو کیسو او خرافاتي واقعاتو په اساس چې د حضرت داود علیه السلام په اړه په مقدس کتاب کې راغلي په ډیر صراحت سره ولیکل چې دا (چې مقدس کتاب یې د الله حبیب گڼي) داسي څوک دی چې ته ورسره مصافحه کول هم نه تحمل کوې! او کله چې له دې امله د خلکو غصه را وپاریدله نو هغه د ځان خلاصولو لپاره وویل: دا د عقیدې مسائل دي او عقل باید د عقیدې څخه لرې وساتل شي.

پایل دا هم وایي چې که یو څوک د عقل او منطق پر بنسټ مسیحي عقائد ومني نو هغه حقیقي مسیحي نه دی، حقیقي مسیحي هغه وخت انسان کیدلی شی چې هغه څه ومني چې د عقل او منطق څخه اوچت وی، او هر څومره چې انسان د عقل او منطق څخه لیرې او مستبعد شیان ومني هومره یې د ایمان قدر او قیمت زیات وي، په ظاهر

خو پایل په دې توګه د ایمان او عقیدې څخه دفاع کوله خو په حقیقت کې یې د کلیسایي دین اود عقل او منطق ترمنځ تضاد ثابتوه.

همدا راز د دې اعتراض په ځواب کې چې هغه په خپل فلسفي قاموس کې د هغه چا ډېر تعریفونه کړي چې هغوی د الله تعالی د وجود څخه انکار کوي، پایل وایی: که ما داسې ملحد پیدا کړی وای چې د الله د وجود څخه انکار کوي، او کردار یې هم خراب وی نو ما به د هغه ډېر زیات مفاسد بیان کړي ؤ، خو ما د تاریخ په اوږدو کې داسې څوک پیدا نه کړ، خو بالعکس هر هغه مجرم چې د هغه ګناهونه او فساد انسان لړزوي هغوی ټول د الله په وجود ایمان لري، او دا د دې دیني عقیدې طبیعي نتیجه ده چې وایي شیطان دی چې انسان ګناهونو ته هڅوي، بیا وایي: په دې توګه انسان د ابلیس سره شباهت لري ـ ځکه هغه هم د الله د وجود انکار نشي کولی او دا متدین ظالم انسان هم همداسې دی ـ او آیا دا د الله د لوی حکمت دلیل نه دی چې په تاریخ کې په لویو ګناهکارانو کې یو هم ملحد نه وه، او د څومره ملحدینو واقعات او حالات چې موږ ته رارسیدلی دي هغوی ټول د مرؤت او شرافت خاوندان ؤ، او دا په دې خاطر چې الله انسان د لوی فساد څخه وساتي، ځکه که الحاد او ګناهونه دواړه سره په یو چا کې یوځای شوی وای نو دا دنیا به د ګناهونو طوفان پرمخ اخیستی وای( ).

---

( ۸) قصة النزاع بين الدين والفلسفة ص ۱۷۸-۱۸۰

په دې ډول پایل د کلیسایي نصرانیت او عقل او منطق ترمنځ تناقض هم ثابت کړ، او د کلیسایي عقیدې برجونه یې هم ونړول، او دا ټول کار یې له کلیسایي عقیدې څخه د دفاع په نوم کاوه، نو په دې توګه وتوانید چې ځان د کلیسا او تفتیشي محاکمو د تهدید او محاکمې څخه هم وساتي او خپله خبره هم وکړي.

## توماس هوبز (١٥٨٨- ١٦٧٩م)

یو د هغه فلسفیانو څخه چې کلیسایي دین ته یې ضربه متوجه کړه توماس هوبز وه، هوبز د انګلستان اوسیدونکی وه، او د یونان د پخوانۍ مادي فلسفې (د دیموقریطیس او ابیقور د فلسفې) را ژوندی کوونکی بلل کیږي، هغه وایي چې دین اصلا په حقایقو ولاړ شی نه دی، بلکې د دین بنسټ د مجهولو قوتونو او مرګ څخه د انسان په ویره ایښودل شوی دی، او خدای ته چې موږ کوم صفات ثابتوو هغه په حقیقت کې څه بې حقیقته اوصاف دي چې زموږ په عجز باندې دلالت کوي، یعنی کله چې موږ هغه نه پیژنو نو له دې امله هغه ته دا ډول صفات ثابتوو، او هدف مو په کې دا وي چې موږ هغه مجهول قوت په داسې صفاتو وستایو چې عظمت یې پکې بیان شوی وي ترڅو هغه له موږ څخه خوشحاله شي( ). د دین په اړه د توماس هوبز نظر دا وه چې ٨
دا په سیاسی لحاظ ګټور دی، او د حاکم په لاس کې په خلکو باندې د

(٨) تاریخ الفلسفة الیونانیة، یوسف کرم، ص٤٠، قصة الفلسفة ول دیورانت ص ٣١٧.

حکومت کولو یوه وسیله ده، نو بناء پکار دا ده چې د عقیدې، عبادت، او د مقدس کتاب د تفسیر پورې تړلي تول مسایل د حاکم پورې اړه ولري، او د هغې خبره په کې نهائي وي، په دې توګه هغه دې نتیجې ته رسیږي چې دین یوازې د بانفوذه اشخاصو او حکومتونو د اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره یوه وسیله ده( ) همدا راز هوبز د اخلاقو په اړه په بشپړه توګه د ۹
ابیقور (پخوانی یونانی فلسفی) تابع وه، اخلاق د هوبز په نزد د لذت او انانیت په بنسټ ولاړ دی، او هر انسان د بل لپاره داړوونکی حیوان دی، هغه اخلاق د یوې وسیلي په حیث
معرفي کوي او مادیت او نفعیت یې بنسټ ګڼي( ). په دې توګه هوبز دین ته په عامه توګه او کلیسایي دین ته په ځانګړې توګه داسې ګذار متوجه کړ چې په فکري لحاظ یې اروپا د الحاد لور ته نوره هم ورنږدې کړه.

## جان لاک (J. Locke) ۱۷۰۴م

جان لوک چې یو انګریز پروتستانتي فیلسوف ؤ سره له دې چې د خپل پروتستانتي مذهب څخه یې کلکه دفاع کوله، او په دې اړه یې یو کتاب هم لیکلی چې بنسټ یې دا دی چې وحی او مسیحي دین د عقل سره هیڅ تناقض نه لري، او د دین او فلسفې ترمنځ توفیق او همغږي هم آسانه او ساده کار دی، د دې کتاب نوم ( The Reasonableness of

(۸) وګوری: الله فی الفلسفة الحدیثة ص ۱۴۰.

(۹) تاریخ الفلسفة الحدیثة، یوسف کرم ص ۵۵-۵٦.

Christianity) یعنې (د عقل سره د مسیحیت تطابق) وه . مګر دوه داسې آراء یې غوره کړل چې هغه کلیسا او د هغه وخت د کلیسایي دین د ځان لپاره خطرناک بلل، دا دوه مسایل په لاندې ډول ؤ:

لومړی: د حکومت او وحې د تسلط څخه د عقل آزادي: جان لوک په ډیره کلکه توګه د عقل څخه دفاع وکړه او هغه یې د (حکومت) او (نقل) یعنی نصوصو او وحی د تسلط څخه د ژغورلو لپاره سخته مبارزه وکړه، په دې اړه یې خپل مهم فلسفي اثر (Essay on Human Understanding) یعنی "د انساني عقل او فهم په اړه یو مضمون" ولیکه، په دې کتاب کې یې د دې خبری د اثبات کوښښ کړی چې تجربه د هر ډول معرفت منبع او مصدر دی، یوازې احساس دی چې د هغې څخه موږ ته د موجوداتو بیروني صورتونه ترلاسه کیږي، او یوازې د عقلي تأمل او تفکر له لاری موږ ته ذهني صورتونه په لاس راځي، نو په دې توګه یې معرفت او علم د حکومت له تسلط څخه ازاد کړ، او علمي حقیقت یې د هغه وخت د خرافي دین د قیودو څخه وژغوره، او دا په طبیعي توګه د کاثولیکي دین لپاره یوه لویه ضربه په دې وه چې هغوی د هر معرفت مصدر یوازې او یوازې د خپل مقدس کتاب نصوص بلل، او نور هر ډول معرفت او علم ته د هغوی په اند باید د مقدس کتاب په رڼا کې وکتل شي، که چېرته د هغې سره موافق وي نو د منلو وړ به وي او که د هغې سره مخالف وي نو که د هرې لارې او هر دلیل په اساس ثابت شوی وی هغه نادرست بلکې کفر او هرطقه بلل کیده.

ددې ترڅنګ سره له دې چې جان لوک پخپله مسيحي وه مګر په دې يې تصريح کوله چې که وحی د عقل سره په تعارض او تناقض کې واقع شي، نو بايد وحی مسترد کړای شی، او په هيڅ ډول بيا د منلو وړ نه ده، او دا ځکه چې د وحی څخه ترلاسه شوی علم او معرفت په هغه درجه قطعي نه دی په کومه درجه چې د عقل څخه ترلاسه شوی علم او معرفت يقيني او قطعي وي، هغه په دې اړه وايي: (*ومن استبعد العقل ليفسح للوحي مجالا فقد أطفأ نور كليهما، وكان مثله كمثل من يقنع إنسانا بأن يفقأ عينيه ويستعيض عنهما بنور خافت يتلقاه بواسطة المرقب من نجم سحيق!*)[1] څوک چې عقل يو طرف ته کوي چې د وحې لپاره ميدان خالي کړي په حقيقت کې دا انسان د عقل او وحې–دواړو- نور او رڼا له منځه وړي، او مثال به يې د هغه چا په څير وي چې بل انسان ته په دې قناعت ورکوي چې خپلې سترګې ړندې کړي او د هغو په بدل کې په هغې تتې رڼا باندې اکتفاء وکړي چې د يو بې نهايته لرې ستوري څخه موږ ته د کوم تلسکوپ په ذريعه را رسيږي!.

---

(۹) قصة النزاع بين الدين والفلسفة ص ۲۰۷، دا فکرة اصلا د مسلمانو متکلمينو په کتابونو کی موجوده ده، خو هغوي ددی څخه انکار کوي چی عقلي قطعي او د وحي قطعي دلايل دی سره په تناقض کی واقع شي، خو کله چی د وحي ظنی د عقلي قطعي سره په تعارض کی واقع شي نو بيا به د ظني نص تأويل کيږي، همدا راز دا فکره چی عقل د بصارت حيثيت لري او وحي د لمر د رڼا حيثيت لري، که ==

== څوک درست منزل ته ځان رسول غواړي نو بايد له دواړو څخه استفاده وکړي، دا فکرة امام غزالي د خپل کتاب الاقتصاد فی الاعتقاد په مقدمه کی ذکر کړی ده.

دوهم: د اعتقاد آزادي: دوهمه مسأله چې جان لوک مطرح کړه او کلیسا او کلیسایي تفکیر ته یې پرې ګذار متوجه کړ هغه د عقیدې د ازادۍ قضیه وه، د جان لوک څخه وړاندې د کلیسا د استبدادي نظام تصور دا وه چې هیڅوک د اعتقاد په غوره کولو کې ازاد نه دی، بلکې هر چا به خپل ځان په دې مجبور ګاڼه چې مسیحیت ومني، د دې ترڅنګ کله چې توماس هوبز دا ولیدل چې د کلیسا مشرانو هغه واک او اختیار چې هغوی ته حاصل وه غلط او نادرست استعمال کړ نو د دې غوښتنه یې وکړه چې دا واک باید د کلیسا له مشرانو څخه واخیستل شي او حاکمې طبقې ته دې وسپارل شي، او دا ځکه چې دوی د خپل عادل استبداد په ذریعه په دې توانیږي چې هغه دیني مسایل کنټرول کړي چې هغه د جدل لامل ګرځي، نو له دی امله دوی ته دا حق حاصل دی چې خپل رعیت د هغه دین په منلو مجبور کړي چې دوی یې غواړي، مګر د دې دواړو نظریاتو برعکس، جان لاک د عقیدوي آزادۍ قائل وه، چې باید عقیده نه د دولت او نه هم د کلیسا د تاثیر لاندې وي، او دا ځکه چې عقیده د قناعت په نتیجه کې انسان خپلوي او دا قناعت د زور له لارې نه شي مسلط کیدلی( ). د جان لاک دا او داسې نور نظریات ددی لامل وګرځیدل چې د کلیسا تسلط راکم کړي او هغی ته خطر متوجه کړي.

## پیندکت سپینوزا (Spinoza)

( ۹) د تفصیل لپاره وګورئ: قصة الصراع بین الدین والفلسفة ص ۲۰۶-۲۰۸.

یو د هغه فلسفیانو څخه چې نصرانیت یې نقد کړ، یو یهودی مشربه فیلسوف وه چې سپینوزا نومیده، سپینوزا د وحدة الوجود قائل وه، هغه الله او طبیعت یو شی ګڼل، هغی به دا (الله چې د ده په نزد د طبیعت دوهم نوم دی) حقیقی ازلي موجود ګاڼه، او هغه غیر متناهي جوهر به یې باله چې پخپله قائم دی او په خپل وجود کې کوم علت ته اړتیا نه لري، لانهائی تفکیر د هغې د اعراضو څخه دی، بشري نفوس او محسوس اجسام د هغې احوال بلل کیږي، په دې توګه سپینوزا د خالق او خلقت تصور مسترد کړ چې ټول ادیان پرې اعتراف کوي، او رایې یې دا وه چې ټول کَوني ظواهر د الله څخه صادریږی( ).

همدا د وحدة الوجود د مذهب له امله سپینوزا د نصرانیت او همدا
راز د نورو ادیانو د بنسټیزو قواعدو نه انکار وکړ، هغه-سره له دې چې په
تاریخي لحاظ یې په حضرت مسیح علیه السلام ایمان درلود-، مګر د الله
تعالی د عنایت( ) او رحمت منکر وه، په اخرت کې د بیرته راژوندي ٤
کیدو، ارواحو او پربښتو انکار یې کاوه، د غائي علتونو( ) څخه یې انکار
کاوه، د الله اختیار او آزادي یې مستبعده ګڼله، د نصرانیانو د مقدس

( ٩) په صدور او خلقت کی فرق دی، او هغه داچی صدور له ارادی پرته صورت نیسی، او خلقت په ارادی پوری تړلی دی.

( ٩) د الهی عنایت تعریف فلاسفه داسی کوی: *العنایة هی علم الله بما ینبغی أن یکون علیه الوجود حتی یکون علی أحسن نظام و أکمله*) المعجم الفلسفی، د. جمیل صلیبا ج ٢ ص ١١٠.

( ٩) غائی علت تعریف داسی کوی: هی التی یکون وجود الشیء لأجلها یعنی علت غائی هغه څه ته ویل کیږی چی د یو شی وجود د هغی له امله منځ ته راځی، دی ته علة العلل هم ویل کیږی، دی لپاره وګوری المعجم الفلسفی ج٢ ص ٩٦.

کتاب ظاهر یې نه قبلوه، ځکه چې په هغه کې داسې څه ؤ چې د هغه ذهن پرې نه قانع کیده، لکه د الله صفات او داسې نور. په دې توګه سپینوزا لکه (ولف) چې وایي: د خپل وخت دوه مقتدر نظریات او عقائد یې مسترد کړل، لومړی په حرفي توګه د مقدسو نصوصو فهم او په هغې التزام کول، او دوهم معجزات او خارق العاده کارونه.

د لومړي عقیدی په اړه یې نظر دا وه چې اصلا عقل د هر څه د حاکمیت څخه ازاد دی، که هغه مقدس کتاب وي او که هر بل څه، په عین وخت کې مقدس نصوص تاریخي وثیقې دي، او د ټولو تاریخي او ادبي وثیقو په څیر دا هم په استعاراتو او مجازاتو مشتمل دی، او دا هم د حکمت له امله، ځکه چې د دې اصل هدف دمشاعرو راپارول دي، نو که دا په ظاهر باندې حمل کړای شي دا به درست نه وي، بلکې دې کې باید داسې تاویل وکړل شي چې د عقل سره هم برابر شي او د فهم وړ هم وګرځی.

همدا راز یې د مقدس کتاب په اړه د نقد پیل وکړ او د متن په لحاظ یې نقد کړ، اوثابته یې کړه چې کوم کتاب چې حضرت موسی علیه السلام ته منسوب دی هغه د حضرت موسی علیه السلام د وخت نه ډیر وروسته لیکل شوی دی، ځکه په هغه کې د حضرت موسی د مرګ تذکره ده او د هغه له

مرګ څخه وروسته د هغه مرثیې (ویرنې) دي، دا په سفر التثنیة کې دی او له دې وروسته د دې کتاب لیکوال وایي: (د موسی علیه السلام نه

وروسته د هغه په څیر بل پیغمبر نه دی راغلی) همدا راز اسپینوزا دا ثابته کړې چې په تورات کې د ځایونو داسې نومونه راغلي چې هغه د حضرت موسی علیه السلام د وفات نه ډیر وروسته په هغه ځایونو باندې اینبودل شوي دي( ). په دې توګه اسپینوزا په هغه وخت د کلیسایي ٦
تصور سره په ټکر کې واقع شو ځکه کلیسا دا تصور درلود چې په مقدس کتاب کې وارد شوي ټول نصوص په ظاهر باندې حمل دي او هیڅ تاویل په کې درست نه دی، او عقل په دې نصوصو حاکمیت او تسلط نه لري، بلکې عقل باید د دې تابع وي، ځکه د علم او معرفت یوازنی مصدر د مقدس کتاب نصوص دي.

همدا راز یې له معجزاتو او خارق العاده کارونو انکار وکړ ځکه کله چې د هغه په نزد الله او طبیعت د یو شي نوم دی نو د خوارقو د اثبات څخه د طبیعي حوادثو او د الله تعالی د فعل ترمنځ تناقض او تعارض لازمیږي، او دا درست کار نه دی، ځکه چې د الله په عجز باندې دلالت کوي، له دې امله یې دا عام تصور مسترد کړ چې د خوارق عادت په اثبات د الله تعالی عظمت ثابتیږي او د نفي له امله یې د الله تعالی انکار لازمیږي( ). ٧

---

( ٩) دی لپاره وګوری د اسپینوزا کتاب رسالة فی اللاهوت والسیاسة ترجمة دکتور حسن حنفی او په ځانګړی توګه اوم فصل تفسیر الکتاب، او اتم فصل البرهنة علی أن الأسفار الخمسة لیست صحیحة ص ۲۳۲ او له دی وروسته، طبع دار التنویر للنشر والطباعة والتوزیع، بیروت، لومړی طبعه کال ۲۰۰۵م تقدیم د. فؤاد زکریا.

( ٩) دتفصیل لپاره وګوری رسالة فی اللاهوت والسیاسة ص ۲۱۳ شپږم فصل المعجزات.

## اسحاق نیوټن (Sir Isaac Newton)(۱٦۴۲-۱۷۲۷م)

یو له هغو شخصیتونو څخه چې په دې پیړۍ کې پیدا شو او سره له دې چې پخپله یې د الله تعالی په وجود قوي ایمان هم درلود مګر علمي کار یې د الحاد په غیږ کې د اروپا د غورځولو لپاره بشپړه زمینه برابره کړه هغه اسحاق نیوټن وه (چې په کال ۱٦۴۲م کې پیدا شوي) بلکه د کلیسا پر ضد راپاڅیدونکو د هغی علمي اکتشافات ددی هدف لپاره استعمال کړل، اسحاق نیوټن چې کله د کوپرنیک، جیوردانو برونو او ګالیلو د اکتشافاتو په رڼا کې د جاذبیت نظریه وړاندې کړه او دا یې د ریاضي په یو شامل قانون باندې ثابته هم کړه نو دې کار هغه خلک چې د کلیسا د استبداد په نتیجه کې د دین څخه بیزاره شوي ؤ دې نتیجې ته ورسول چې (د طبیعي ظواهرو تفسیر د یو بل سره د ارتباط( ) په ورکولو او علت او معلول د قانون له مخی ممکن دی، نو له دی امله دې ته اړتیا نشته چې انسان په دې ایمان ولري چې په کائناتو کې کوم داسې قوت (یعنې الله) هم مداخله کوي چې هغه د دې کائناتو جزء نه

---

(۹) په دې توګه چې هره پدیده د بلې لپاره مباشر علت وي او یا د بلې پدیدې معلول وي، ددوی د نظر سره سم نور نو په الله باندې ایمان ته اړتیا نشته ځکه دوی په الله تعالی ځکه ایمان درلود چې د دنیوي ظواهرو تفسیر ورته مشکل وو او باید دا ظواهر یې ما وراء الطبیعي قوت ته منسوب کړي، خو دوی چونکه په دې نه پوهیږي چې د کومې پدیدې د مباشر علت د معلومولومعنی دانه ده چې غائي علت (چې هغه الله تعالی دی) انسان تجاهل کړي، ځکه چې په دې کائناتو کې بلکې د علت او معلول ددې قانون په ایښودلو کې مؤثر او حقیقي قوت یواځې او یواځې الله تعالی دی.

وي)[9] همدا د نیوټن نظریه او د هغی علمي اکتشافات ؤ چې په حقیقت کې یې (طبیعي دین) ته لاره هواره کړه او دې نظریې ته په بشپړه توګه ظروف اماده کړل چې دا کائنات د یو مشین په څیر د کوم غیبي قوت د مداخلې څخه پرته حرکت کوي، دا نظریه د ( میکانیکي نظریې) په نوم یادیږي.

## د نیوټن د نظریې اغیزې

کله چې نیوټن د جاذبیت نظریه وړاندی کړه نو د کلیسایي دین مخالفینو ـ چې د کلیسا دغلط او نادرست دریځ په نتیجه کې د مطلق دین مخالفین ګرځیدلي ؤ ـ د داسې یو بري احساس وکړ چې اوس نو په دې کائناتو کې پیښیدونکې هره پیښه د دې قانون په اساس تفسیریدلی شی، له دې امله نو د کوم داسې غیبي قوت په وجود ایمان ته اړتیا نه لیدل کیږي چې مخکې به خلکو د دې پیښو نسبت هغې ته کاوه، همدا راز د کلیسا، علم او فلسفې ترمنځ په روان کشمکش کې د علم او فلسفې دریځ قوي شو، د کوپرنیک، جیوردانو برونو او ګالیلو نظریات هم صحیح ثابت شول، او د کلیسا ضعیف او کمزوری دریځ نور هم ضعیف شو، له همدې امله سره له دې چې نیوټن د الله په وجود باندې ایمان درلود ـ او دا یې د نظریې برخه وه چې الله دا کائنات جوړ کړي او دا د یو ساعت په څیر د جاذبیت د قانون سره سم حرکت کوي، او د الله مداخلې ته هغه

( ۹) العلوم والدین ص۱۹.

وخت اړتيا پيدا کيږي چې کله کومه سياره د خپل مدار څخه ووځي، چې هغه يې بيرته خپل مدار ته راولي ـ مګر کليسا د هغې پر ضد ودريده او هغه يې تهديد کړ، د کليسا دليل دا وه چې د نيوټن دا نظريه به د الله د وجود څخه په انکار باندې تمامه شي، او دا ځکه چې هغه قوانين چې دوی وضع کړل هغه ددوی په نظر حتمي ؤ، يعنې په هغه کې هيڅ ډول بدلون ممکن نه وه، نو له دی امله دا نامکنه خبره وه چې هغه سائنس پوهان او رياضي پوهان چې د نيوټن په فيزيک يقين ولري هغه دې د کومې معجزې او کوم خارق العاده شي په وقوع، او يا د کوم غيبي قوت وجود ته په اړتيا ايمان ولري، د نيوټن د نظريې سره سم د معجزاتو زمانې چې خلکو به پکښې په غيبی موجوداتو ايمان درلود هغه زمانې ولاړې، بلکې د دې اړتيا هم د هغوی له نظره له منځه ولاړه چې د دې کائناتو د چلولو لپاره دې د الله تعالی او يا کوم غيببي قوت ضرورت او اړتيا وي، او دا ځکه چې دا کائنات ـ د نيوټن د نظريې سره سم ـ کله الله تعالی جوړ کړل، او د جاذبيت قانون يې وضع کړ نو بيا هر څه پخپله د همدې قانون سره سم حرکت پيل کړ پرته له دې چې د کوم غيبي قوت يا خدای مداخلې ته اړتيا ولري، نيوټن خو د کائناتو د حرکت د پيل لپاره د الله تعالی د وجود په اړتيا ايمان درلود مګر وروستني ساينس پوهانو دې ته هم اړ نه ګڼلو، بلکې د هغوی په نزد انسان د الله تعالی په وجود ايمان ته هغه وخت اړتيا پيدا کوي چې کله په کائناتو کې د داسې څه سره مخامخ شي چې د الله تعالی د موجوديت څخه پرته يې تفسير ممکن نه وي، او کله چې په کائناتو کې هر څه په مادي لحاظ او د نيوټن د

قوانینو سره سم تفسیر کېدل ممکن شو نو بیا د الله تعالی په وجود باندې ایمان ته هیڅ اړتیا پاتې نه شوه( ).

په دې توګه دا ویلی شو چې د اولسمی پیړۍ د نورو فلسفیانو د افکارو ترڅنګ د نیوټن دې نظریې په وروستیو پیړیو یعنې اتلسمه او نوولسمه پیړۍ کې د اروپا د لرلید د تشکیل په اړه ډېرې خطرناکې پایلې درلودې، همدا نظریه د (Naturalism) او د کائناتو په اړه د ماشیني نظریې، او بالآخره د بشپړ الحاد په لور لومړی ګام او بنسټ ثابت شو، همدې نظریې عقلي مذهب تقویه کړ، او د اروپا د اوسني الحادي فکر بنسټ یې کېښود، دا ټول سره له دې چې پخپله نیوټن د الله تعالی د وجود قائل وه.

## د ډارون (۱۸۰۹-۱۸۸۲) نظریه او د هغې پایلې

د نیوټن نظریې خو د فلکیاتو د حرکت په اړه مادي نظریه وړاندې کړه نو اروپا ـ چې د کلیسایي مسیحیت د استبداد او ظلم څخه په تنګ شوې وه، او اروپایان چې د هر ډول علمي پرمختګ سره د کلیسا د بشپړې دښمنۍ له امله د کلیسا او کلیسایي دین څخه بېزاره شوي ؤ ـ دا یو فرصت وباله چې د مطلق دین سره یې د مخالفت وسیله وګرځوي،

(۱) مګر دوی دا له یاده وباسي چې دا قوانین چې انسان یې قطعي ګڼي او دا نړۍ او کائنات د هغې په بنسټ تفسیروي دا قوانین د الله جل جلاله څخه پرته چا په دې مادي نړۍ کې ایښې دي؟.

بلکې د الله د وجود څخه د انکار فرصت یې وبولي، او ووایي چې له دې مخکې خلکو د الله په وجود ځکه ایمان درلود چې د افلاکو او سیاراتو حرکت یې د الله د وجود څخه پرته نشو تفسیر کولی، مګر اوس دا د نیوټن د قوانینو په نتیجه کې ممکن شوه نو له دی امله د الله په وجود باندې ایمان لرلو ته اړتیا پاتې نه شوه، او په دې توګه دا د الحاد په لور یو لوی ګام وګرځیده.

د دې ترڅنګ چې کله ډارون (Charles Robert Darwin) د موجوداتو په اړه عموما او د ژوندیو ژوو په اړه په ځانګړې توګه خپله نظریه وړاندې کړه، دی ـ سره له دې چې دی نظریې هیڅ علمي بنسټ او اساس هم نه درلود ـ د اروپایانو هغه الحادي ذهنیتونه دې ته وهڅول چې د بشپړ الحاد په لور یو بل ګام هم اوچت کړي، د ډارون د ساینسي فرضیې(١) لنډیز دا وه چې:

لومړی: ټول ژوندي موجودات په پرله پسی توګه د یو ارتقائي عمل (پرمختګ) څخه تیریږي، په داسې توګه چې ادنی په اعلی او اعلی د هغې څخه په اعلی بدلیږي، او دا چې انسان د دې ارتقاء او پرمختګ وروستی شکل او منتهی ده(١).

---

(١) د علم په ژبه کې فرضیه هغه افتراض ته ویل کیږي چې د نورو افتراضاتو په منځ کې خو راجح وي مګر تجربې او علمي دلیل په اثبات نه وي رسولی.

(١) خو دلته هر څوک دا پوښتنه مطرح کولی شي چې د ارتقاء عمل ولی په انسان پای ته رسیږي، ولی له دی څخه مخکی نه ځي؟.

دویم: د ژوو او حیواناتو د څه انواعو پاتې کیدل او د څه نورو له منځه تلل په حقیقت کې د هغې مقابلې او کشمکش نتیجه ده چې د بقاء او پایښت لپاره د دې انواعو ترمنځ موجود ده، او دا ځکه چې یوازې هغه انواع باقي پاتې کیږي چې له نورو څخه بهتر او په دې مقابله کې ځان د بقاء وړ ثابت کړي، او کوم ډول (نوع) حیوانات چې د بقاء لپاره هڅې نه کوي نو هغه ضعیف کیږي او په پایله کې له منځه ځي.

دریم: او د حیواناتو په جسم کې چې کوم غړی مهمل پاتې شي او کومه تړاکلی دنده ونه لري، هغه غړی هم ضعیف کیږي او په پای کې له منځه ځي، تر دې چې کله خو یې هیڅ اثار هم پاتې نه شي، او کله کله یې بیا یو څه اثار پاتې وي چې په هغې دلالت کوي.

دا په اصل کې د ژوندیو حیواناتو په اړه د ډارون نظر وه بیا دا ټول مادي وجود ته تعمیم کړی شو، او وویل شو چې دا ټول کائنات د غازي کتلې څخه د همدې طبیعي تطور او پرمختګ د قانون سره سم رامنځته شوي دي، دا کهکشانونه، ستوري، سیارات، بیا د تطور په نتیجه کې هغه مواد چې د ژوند صلاحیت په کې وه، بیا دا په نباتاتو بدل شول، او بیا یې د یو حجریي حیوان شکل غوره کړ، او بیا ترې نور حیوانات رامنځته شول، او په دې توګه (تطور او ارتقاء) فرضیې د یو مذهب شکل غوره کړ( ٣ ).

---

( ١) مګر عجیبه خبره خو دا ده چې کله یو ډول حیوانات ترقي وکړي بیا خو باید د هغې نسل له منځه ولاړ شي او په دی نوي شکل باقي پاتی شي مګر د دارون د قانون سره سم بیزو هماغسی بیزو هم

د الحادي تصور پلویانو دا بې سره او پښو فرضیه د یوې علمي نظریې په حیث وړاندې کړه او دومره یې ترویج کړه چې ډیر پوه خلک( ) یې هم د تاثیر لاندې راوړل، او موخه او هدف یې د ا وه چې د دې په بنسټ دوی د دې کائناتو خلقت توجیه کړی شي او دا ادعاء وکړی شي چې د کائناتو موجودیت انسان دې ته نه اړ کوي چې د الله په وجود دې ایمان ولري، او دا ځکه چې دا ټول کائنات ـ د دوی په اند ـ د طبیعي تطور د قانون سره سم د یو بسیط ګاز د کتلې (غونډوسکي) نه پیدا شوی دی، په دې توګه چې دا بسیط ګاز لومړی په مرکبو ګازونو بدل شو، بیا ترې کهکشانونه او سیارې او ستوري جوړ شول( )، بیا ترې هغه مواد پیدا شول چې د ژوند صلاحیت یې درلود، او بیا ترې حیوانات راپیدا شول( )، په دې توګه دا نظریه د اوسنی زمانې د الحاد لپاره یو بنسټ وګرځیده.

---

پاتی ده او انسان هم تری جوړ شوی دی!! او اوس خو لرغون پوهانو د داسی حشراتو جسمونه لاس ته راوړي دي چی په ډبرو کی ډبری شوي دي یعنی په زرګونه کاله پری تیر شوي دي مګر د خپل موجوده حالت سره یوه ذره هم توپیر نه لري، یعنی لړم په هماغه شکل لړم دی هیڅ بدلون پکی نشته او نه هیڅ ارتقاء پکی شته، له دی امله ټول شواهد دا بی سر وپا فرضیه ردوي.

( ۱) تر دې چې ددې فرضیې په نتیجه کې یو شمیر مسلمانو علماو ددې څخه انکار وکړ چی آدم علیه السلام دې ابو البشر وي، او وېې ویل چې د آدم علیه السلام څخه دمخه هم په نړۍ کې د انساني تهذیب او تمدن آثار لیدل شوي دي.

( ۱) دا تقریبا د لاپلاس سحابي نظریه ده.

( ۱) خو دا فکر نه کوي چی دا د کوم طبیعي قانون سره سم سرته ورسیدل، هغه کوم طبیعی قانون دی چی د یو جامد جسم څخه دی ذي روح موجود منځ ته راشي، که داسی کوم قانون وجود ولري دا

سره له دې چې یو شمیر لیکوالان په دې نظر دي چې ډارون د ذاتي تولد او تطور قائل نه وه بلکې په دې یې ایمان درلود چې په ماده کې الله تعالی دا ځانګړتیا او خاصیت اچولی دی چې هغه تطور کوي، اسماعیل مظهر په خپل کتاب ملقی السبیل فی مذهب النشوء والارتقاءکې د ډارون د کتاب (اصل الأنواع) څخه داسې ډیر نقول راوړي دي چې پکې د الله په خالقیت ایمان ترې په څرګنده توګه واضح کیږي، د هغه کتاب د پنځلسم فصل څخه د ډارون د عبارت داسې ترجمه نقل کوي: (*هناک مؤلفون من ذوي الشهرة و بُعد الصیت مقتنعون بالرأي القائل بأن الأنواع قد خلقت مستقلة، أما عقلیتي فأکثر التئاما مع المضي فیما نعرف من القوانین والسنن التي بثها الخالق في المادة...*) یعني یو څه مشهور لیکوالان په دې قانع دي چې د حیواناتو مختلف ډولونه (انواع)

په جلا جلا شکل خلق شوي دي، مګر زما عقلیت د هغه کشف کړی شوو قوانینو سره تر ټولو زیات اړخ لګوي چې خالق ذات[1] په ماده کې ایښي دي... د دې او داسې نورو عبارتونو څخه دا څرګندیږي چې هغه پخپله د الله په وجود ایمان درلود او په مسیحیت باندې ټینګ وه او دا یو

---

قانون اوس ولی عمل نه کوي؟ فرضا که دا ټول کارونه په همدی شکل سرته رسیدلي هم وي نو دا خو نور هم د الله په قدرت دلالت کوي.

(1) دلته ډارون د خالق ذات د وجود قائل دی، او دا مني چې دا د تطور قانون ـ چې د هغی عقل ورسره ډیر اړخ لګوي ـ هم په ماده کې الله تعالی ایښی دی.

شمیر خلک دا راجح هم ګڼي او دا ځکه چې هغه د (لاهوتي زده کړو) لړونکی وه .

مګر یوسف کرم وایي: چې ډارون په پیل کې د الله په وجود ایمان درلود بیا ورو ورو پکې بدلون او تطور رامنځته کیده تر دې چې په دی یې د افسوس اعلان کاوه چې د عامه خلکو له ویرې یې د خلق او خالق الفاظ استعمال کړي دي، بیا له دې وروسته (لا أدري) مذهب ته ورسیده، چې نه د الله په قدرت او عنایت قائل وه او نه یې د تصادف خبره کوله، او اخیري خبره یې دا وه: چې دا مسأله د انساني عقل له دائرې څخه بیرون ده، مګر انسان دا کولی شي چې خپل فرض اداء کړي(۱).

د ډارون اصل مذهب او رایې چې هر څه وي، خو دا یو حقیقت دی چې د نیوټن او ډارون د نظریاتو په نتیجه کې ـ سره له دې چې نیوټن خو په قطعي توګه د الله په وجود پوخ ایمان درلود او د ډارون په اړه هم همدا ویل کیږي چې د الله په وجود یې ایمان درلود ـ په اروپا کې د الحاد لپاره لاره هواره شوه، او یو شمیر ملحدینو دا دواړه نظریات د دې لپاره استعمال کړل چې د علیت د قانون په بنسټ چې د الله په وجود

(۱) ددې لپاره وګوره تاریخ الفلسفة الحدیثة د یوسف کرم ص ۳۵۴ـ ۳۵۵.

کوم دلیل قائم دی هغه نفی کړي( )، او ساینس د دین په مقابل کې و دروي.

( ۱) حال دا چې د نیوټن نظریه چې د حرکت قوانین یې تثبیت کړي دي پخپله په دې دلالت کوي چې دا پخپله الله تعالی چی علیم او حکیم ذات دی دا قوانین وضع کړي دي چې د هغو په بنسټ دا سیارات حرکت کوي، نو ځکه خو دومره دقیق دي، څوک چې د الله تعالی په وجود ایمان لري، هغوی د دې ټول قوانینو د موجودیت څخه انکار نه کوي، بلکې داد الله تعالی په موجودیت تر ټولو لویې دلیل ګڼي، همدې قوانینو ته په قرآن کریم کې په دې کلماتو اشاره شوې ده ژۆۋې ې ېيه نانلئەنەنونونۇنۇ نۆنۆنۆنۆنۆنى ىنىنىنى ندى ى يېي□□□□□ژ [یس: ۳۸ - ٤٠] پاتې شوه د ډارون نظریه نو هغه خو اصلا کومه نظریه نه ده بلکې د ډارون یو تخمیني افتراض دی چې د انسان په باب خو قطعا غلط او خطا دی ځکه چې قرآن د هغې د مستقلې نوعې په حیث په خلقت تصریح کوي، مګر که چیرته په نورو داسې مواردو کې ثابت هم شي - بالفرض والتقدیر ځکه چې تر اوسه په علمي توګه دا ډیره مستبعده خبره ده - نو دا د دین سره کوم تعارض نه لري ځکه دا تطور به هم د هغه تأثیر له امله وي چې الله جل جل جلاله په ماده کې ایښی دی، لکه پخپله چې ډارون په پیل کې ددې اعتراف کاوه.

# څلورم فصل

# اروپا د الحاد په غیږ کې پریوته

# په اتلسمه پیړۍ کې د (تنویر) د مرحلې دوهم پیل

په اولسمه پیړۍ کې د دیکارت عقلاني فلسفې ـ سره له دې چې هغې د الله د وجود او وحی ته احترام درلود ـ خپلې اغیزې درلودې، د دیکارت لیکنو د کلیسا میتافیزیک (ما وراء طبیعي فلسفې) ته ضربه ورکړه، مګر په اتلسمه پیړۍ کې د دیکارت عقلاني فلسفي اتجاه د جون لاک په تجربوي اتجاه بدله شوه، نو تجربې د عقل ځای ونیوه، چې په نتیجه کې (کوندیاک Condillac او لا متري (La Mettrie) چې د ماشیني انسان (Machine man) په نوم کتاب یې لیکلی، همدا راز بفون (Buffon) چې د طبیعي تاریخ (Natural History) په نوم یې په ۳٦ مجلدو کې یوه موسوعه لیکلې، او ریمور (Reaumur) او لاپلاس (Laplace) او داسې نور ساینس پوهان او فلسفیان را پیدا شول چې د هغوی د کوښښونو په نتیجه کې د تنویر (روښنګرۍ) فلسفه را پیدا شوه، او عقل په یو تجربوي عقل(١) بدل شو، او د دې ترڅنګ یو بل بت چې د (طبیعت) په نوم یاد شو را پیدا شو، له همدې امله دا مقوله مشهوره ده چې د اتلسمې پیړۍ فلسفې د دیکارت د عقلاني مذهب څخه استفاده وکړه بلکې په دې کې یې دومره مبالغه وکړه چې د کلیسایي دین لپاره د

(١) چې وروسته یې د ابزاري عقل بڼه غوره کړه.

ديكارت په فلسفه کې چې کومه نرمه گوښه موجوده وه هغه هم له منځه ولاړه او په ډيره بربنډه توگه يې په کليسايي دين بريدونه پيل کړل، په همدې پيړۍ کې څرنگه چې د کليسا پر ضد پيل شوی علمي او عقلاني خوځښت داسې مرحلې ته رسيدلې وه چې نور يې هدف يوازې د کليسا د استبداد څخه د خلکو ژغورل نه ؤ بلکې د دې ترڅنگ يې غوښتل د ديني او کليسايي مرجعياتو پر ځای بايد داسې مرجعيات ايجاد کړی شي چې د مطلق دين څخه په عامه توگه او د کليسا د دين څخه په ځانگړي توگه خلکو ته بديل مهيا کړي، له دې امله د دې زمانې فلسفيانو د دې بديل په توگه لاندې دوه مرجعيات معرفي کړي:

لومړی: عقل بلکې تجربوي عقل

دوهم: طبيعت

همدا دواړه د د دې عصر د نوو خدايانو په حيث معرفي کړای شول، تر څو د مطلق دين او په ځانگړي توگه د کليسايي دين د پرې ښودلو په نتيجه کې د مرجعيت په اړه رامنځته شوې خلا ډکه کړي، او په دې توگه د غربي نړۍ لپاره په بشپړه توگه د الحاد په لمن کې د پرېوتو زمينه برابره شوه، په دې اړه (سول) وايي:"*صار لزاما على الذين نبذوا الإيمان بالله كلية أن يبحثوا عن بديل لذلك ووجدوه في الطبيعة*"(1) هغه خلکو چې په بشپړه توگه يې پر الله تعالی باندې ايمان پرېښوده

---

(1) المذاهب الاقتصادية الكبرى ص ٥١

چې باید د بدیل په تلاش کې شي او هغوی دا بدیل د طبیعت په شکل کې وموندہ.

دلته نور هر څه د تجربوي عقل په تله تلل کیدل پیل شول، یوازې هغه څه د منلو وړ ؤ چې تجربوي عقل به منل، او هره هغه عقیده چې د علم (ساینس) او عقل سره په ټکر کې واقع وه، او یا د علمي (ساینسي او تجربوي) منهج له لارې د اثبات قابل نه ؤ هغه خلکو ته د منلو وړ پاتې نه شوه، له همدې امله د تثلیث عقیده او د بشریت د ګناه د فدیې په شکل د حضرت عیسی علیه السلام په دار باندې راځړول، رهبانیت ... همدا راز ټول معجزات خرافات وبلل شول، او د دې پر ځای چې د اروپا خلک درست دین ته مخه کړي د الحاد خوا ته ولاړل، او دا ځکه چې د کلیسا واکمنانو او مستشرقینو د صحیح دین (اسلام) پر ضد - چې هیڅ هغه شیانو په کښې وجود نه لري چې د هغې له امله د عقل خاوندان د کلیسا پر ضد را پاڅیدلي ؤ - داسې منفي تبلیغات کړي ؤ چې خلک یې ترې خوابدي کړي ؤ، له بله پلوه هغه خلکو چې د کلیسایی دین پر ضد راپاڅیدلي ؤ هغوی ټولو ادیانو ته د کلیسایي محرف دین په سترګه کتل، او تصور یې دا وه چې ټول ادیان په جوهر کې سره مشترک او ګډ دي، حال دا چې دا قضاوت په بشپړه توګه غلط او ناسم وه، او دا ځکه چې د کلیسا دین په انساني تصوراتو[1] په بنسټ ولاړ دین وه، او اسلام د

(1) چې هم په کی استبداد وه، هم پکی انسان د انسان غلام وه، او هم د علم او معرفت سره دښمني، او د خرافاتو څخه هم ډک وه چې دا ټول هغه صفتونه دي چې په اسلا کی ددی نوم او نښان هم نشته بلکه اسلام ددی د له منځه وړلو لپاره رالیږل شوی دی.

الهي وحی په بنسټ ولاړ دین دی، خو څرنګه چې اروپایان د تجربوي او ساینسي منهج د کامیابیو په نتیجه کې د داسې غلط فهمۍ ښکار شوي ؤ چې هر هغه څه چې د تجربوي ساینسي منهج او علمي تګلارې په بنسټ ثابت نه شي هغه ورته د منلو وړ نه دي، چې دا پخپله د مادي فلسفو د ډیرو ناوړه اغیزو له جملې څخه یوه اغیزه وه، له همدې امله یې د عقیدو په معقولیت ترکیز نه کولو بلکې د تجربوي منهج په اساس او بنسټ به یې تللې، او د عقائد ردول او نه منل ددی تعامل یوه طبعي نتیجه وه ځکه چې کوم عقائد چې مادي نه وي هغه خو په عقلاني منهج ثابتیدلی شي مګر په هیڅ ډول د تجربوي علمي منهج او تګلارې تابع ګرځول یې ممکن نه دي.

د دې پیړۍ فلسفیانو او ساینس پوهانو د کلیسا د دین او هغه الحادی دین چې دوی عقل او طبیعت د هغې دین د خدایانو په څیر خلکو ته وروپیژندل ترمنځ مقایسه کوله چې کوم دین د منلو وړ دی، دوی به دا مقایسه داسې کوله:

د کلیسایي دین خدای حاقد او ظالم دی ځکه نو ټول بشریت ته یوازې له دې امله سزا ورکوي چې د دوی پلار او لومړی انسان (حضرت ادم علیه السلام) د هغه (الله تعالی) د باغ (جنت) څخه میوه خوړلې وه، او د همدې لپاره یې خپل زوی (د کلیسا د عقیدې سره سم) هم په دار کړ، تر څو د دې ګناه کفاره اداء کړي.

د کلیسایي دین خدای یو تنگ نظری خدای دی ځکه چې انسانانو باندې یې داسې قیود ایښي دي چې انسانان یې سرته هم نشي رسولی، د بیلگې په توگه رهبانیت[1] په دنیا کې خپلو نمایندگانو ته (د کلیسا د عقیدې سره سم د کلیسا کشیشان د خدای نمایندگان دي) په ډیر ذلت د خلکو تابع گرځول چې په هره توگه یې استغلال کولی شي.

د دې برعکس د طبیعت خدای پراخه سینه لري، نه کوم عبادتځای لري، نه کومه کلیسا، نه په انسان کومه پابندی لگوي، او نه یې څوک نمایندگان او کشیشان شته چې خلک غلامان کړي، بالعکس له انسان څخه دا غواړي چې د یوه طبیعي انسان په توگه ژوند وکړي، او خپلې طبیعي غوښتنې په بشپړې ازادۍ او صراحت سره ترسره کوي!.

همدا راز دا دین نه کوم اسرار لري، د (روسو، ولتیر، او دیدرو) په څیر خلک د دې نمایندگي کوي، او ددوی لیکلي کتابونه لکه (العقد الاجتماعی) (دائرة المعارف) او (روح القوانین) د دې دین دساتیر دي.

د جاذبیت طبیعي قانون، او د نیوټن د حرکت قوانین دا کائنات د یو مترابط او منظم عالم په حیث وړاندې کوي، همدا راز طبیعت د بشریت لپاره داسې طبیعي قانون ټاکلي دي چې د انسان لپاره بشپړ سعادت تأمینوي، او دا انساني نظامونه او ادیان دي چې دا قانون یې بی

---

(1) چې انسان باید د هر ډول دنیوي لذتونو څخه ځان لرې وساتي، او هر څومره چې چټل او په بدحالت کې وي هومره به الله ته نږدې وي.

رنګه کړی او له منځه یې وړی چې په نتیجه کې یې انسان د شقاوت کندې ته پرې وتی و( )، په دې توګه طبیعي تألیه یا د طبیعي دین خوریدلو ته لاره هواره شوه، طبیعي تألیه یا طبیعي دین څه شی دی؟ ٤

## لومړی: د الحاد لومړی پړاو یا (Deism)

طبیعي دین (ربوبیت( )) هم په حقیقت کې د هغه دیني او مذهبي تسلط پر ضد یو عکس العمل وه چې کلیسا به ترې په منځنیو پیړیو کې د خلکو پر ضد کار اخیسته، د طبیعي تألیه یا طبیعي دین مفهوم( ) دا دی چې کله په علمي لحاظ (په ځانګړې توګه د نیوټن د حرکت د قوانینو او د دوی په زعم د ډارون د نشأت او ارتقاء د فرضیې په رامنځته کیدلو سره) د دې کائناتو تفسیر ممکن شو نو د یو شمیر فلسفیانو له نظره د دې اړتیا پاتې نشوه چې د کائناتو د تفسیر او یا هم د هغه څه د تفسیر لپاره چې پخوا به یې خلک په اسبابو نه پوهیدل په معجزاتو او خارق العاده کارونو اعتماد وکړی شي، ځکه ددوی له نظره د

---

( ۱) که له دوي څخه اوس څوک دا پوښتنه وکړي چې ایا دی نوي دین (د طبیعت دین) د انسان لپاره هغه سعادت ترلاسه کړ چې په هغه وخت کې دعوه درلوده؟ نو د اوسنی زمانی د ټولنپوهانو په ژبه حتمي ځواب دا وي چې هیڅکله هم نه، که په مادي لحاظ بشریت ډیر پرمختګ کړی دی خو په همدی پرمخ تللو ټولنو کی د بشریت د سعادت او نیک بختی وسایل مهیا نه دي.

( ۱) په دې وجه ورته (ربوبیت) یا (الهي دین) هم ویل کیږي چې یواځې په ربوبیت یا د الله په موجودیت ایمان لري او نور په هیڅ دیني عقایدو باندې ایمان نه لري، او ځان په ژوند کی آزاد ګڼي چې د خپل ځان لپاره قانون وټاکي.

( ۱) ددې لپاره وګوره: المعجم الفلسفید جمیل صلیبا ج ۱ ص ۲۳۱ د التألیه د اصطلاح لاندې.

طبیعت قوانین حتمي دي، او په دې قوانینو کې تغییر ناممکن دی نو له دی امله د عادت( ) خلاف هم ناممکن دی او خارق العادت شیان هیڅکله هم نشي واقع کیدلی. ۷

څرنګه چې ددوی له نظره خارق العاده کار او معجزه په حقیقت کې د هغه ټولو ادیانو اصل او اساس دی چې په نړۍ کې موجود دي ځکه دوی د معجزې په ذریعه نبوت ثابتوي او د نبوت په ذریعه وحي او بیا په دې توګه د الله تعالی وجود ثابتوي، نو چونکه ددوی له نظره د طبیعت د قوانینو د اکتشاف په نتیجه کې د معجزاتو امکان له منځه ولاړ نو له دی امله هر هغه څه چې په وحی بناء دي هغه هم باید له منځه ولاړ شي، چې هغه د نبوت، مقدسو کتابونو عباداتو او د هر هغه څه نه عبارت دي چې په دې وحي کې راغلي دي.

همدا راز څرنګه چې مسیحي دین او د دې مقدس کتاب په داسې څه باندې مشتمل وه چې په هغه عصر کې - چې د عقلانیت او تنویر عصر بلل کیږي - په هیڅ ډول د خلکو لپاره د منلو وړ نه ؤ د بیلګې په توګه د تثلیث (د درې ګونو خدایانو) عقیده، د حضرت عیسی علیه السلام د الوهیت عقیده او همدا راز د هغه ټولو مشکلاتو سره چې په مقدس کتاب کې موجود دي، د دې کتاب په عصمت او تقدس باندې ایمان درلودل، دا او داسې نورې هغه ټولې عقیدې او د دې ټولو ترڅنګ چونکه د دوی له نظره د الله په وجود باندې ایمان درلودل هم ضروري او

( ۱) د عادت څخه مراد دلته د طبیعی قوانینو هغه طبیعی روند دی چی په عادي توګه جریان لري.

اړین ؤ، نو له دې امله د دوی له نظره باید خلک په داسې یو دین باندې ایمان راوړي چې هغه کې د خدای وجود د وحي او خارق العاده کارونو او معجزاتو پر ځای یوازې په طبیعي دلایلو اثبات شوی وي، او په هغې کې نه د معجزاتو او خارق العادة کارونو تصور وي، او نه د نبوت او دیني نصوصو او نه دین په نوم کوم بل تسلط او نه په کې د رجال دین تصوروي، نه د هغه عقایدو تصور وي چې د عقل په تله برابرې نه وي، او حتی چې په کې په دې کائناتو کې د الله د تدبیر او ارادې د مداخلت وجود هم نه وي، داسې یو دین دوی طبیعي دین یا (Deism) وباله.

په دې توګه د طبیعي دین منونکي د یو داسې خدای وجود خو مني چې هغه د خیر، حکمت او صلاح په صفتونو متصف دی، خو په عین وخت کې د اسمان څخه د نازل شوي دین څخه انکار کوي، او تصور یې دا دی چې کله الله تعالی د کائناتو د خلقت او پیدا کولو څخه فارغ شو، نو نور یې د کائناتو په چارو کې له مداخلې څخه لاس واخیست، او پرې یې ښودل چې د هغه طبیعي قوانینو د غوښتنو سره سم حرکت وکړي چې هیڅ بدلون پکې نشي راتلای.

یو انګریز مفکر (Leslie Stephen) په خپل کتاب (په اتلسمه پیړۍ کې انګریزي فکر) کې وایي چې طبیعي دین دوه ډوله عقاید لري:لومړی هغه عقاید چې دوی یې په ثبوت ایمان لري: هغه دا درې دي:

١. د الله تعالی په وجود ایمان او دا چې هغه خالق دی.

۲. دا چې همدې الله انسان ته عقل ورکړی چې د هغې په ذریعه انسان خپل ټول کارونه سرته رسولی شي، او د خپل ژوند ټول معاملات پر مخ وړلی شي نو له دی امله داسې کوم قانون ته اړتیا نشته چې په وحي باندې بناء وي.

۳. دا چې الله تعالی د انسان څخه د دې غوښتنه لري چې د ښو اخلاقو سره چلند وکړي.

د آخرت په اړه د طبیعي دین د منونکو تصورات مختلف دي، یو شمیر عقیده لري چې آخرت شته او هلته به حساب او کتاب وي، نور بیا دا عقیده لري چې آخرت نشته او ثواب او عقاب په همدې ژوند کې سرته رسیږي.

دوهم هغه عقاید چې باید نفی کړی شي: په دې اړه اکثریت په دې نظر دي چې نبوت او معجزات د منلو وړ نه دي، مگر بیا هم ځان مسیحي گڼي، او تصور یې دا دی چې حقیقي مسیحیت د غامضو او مبهمو عقایدو څخه پاک دی، په خرق عادت ایمان نه لري، او نه د تثلیث عقیده مني او نه هم په نبوت ایمان لري، همدا راز د طبیعي دین یو شمیر اتباع حضرت عیسی علیه السلام د یو صالح انسان او نیکو اخلاقو ښوونکي په حیث خو مني مگر په قطعي توگه دا ردوي چې په هغه کې دې د الوهیت کوم صفت وي، د دوی له جملې څخه یو د امریکا دریم رئیس جمهور توماس جیفرسون (Thomas Jefferson) هم وه چې د

جیفرسون بایبل یې لیکلی دی، په هغه کې یې د مقدس کتاب څخه هغه ټول مباحث ایستلي دي چې د نبوت او معجزاتو سره یې اړه درلوده.

س. کلارک په خپل کتاب (د الله د صفتونو وضاحت) چې په کال ۱۷۰٦م کې یې لیکلی دی د دې طبیعي دین لاندی څلور ډولونه یا دوی:

لومړی: د دې نظر منونکي وايي چې الله تعالی دا کائنات پیدا کړل، بیا یې دا غوره وګڼله چې د دې کائناتو په چارو کې هیڅ ډول لاس وهنه ونه کړي.

دوهم ډول: د الله د موجودیت ترڅنګ د الله په عنایت او اهتمام هم ایمان لري، او په کائناتو کې د یو نظام په موجودیت هم قائل دی، مګر دا نظام یو مادي نظام بولي، او روحي او اخلاقي نظام باندې نه دی قائل.

دریم ډول: د دې ډول دین منونکي د الله په څه ځانګړو صفاتو ایمان لري مګر د آخرت په ورځ ایمان نه لري.

څلورم ډول: هغه خلک دي چې د طبیعي دین په حقایقو د ایمان لرلو سره د آخرت په ژوند هم ایمان لري مګر عین وخت کې د وحی څخه انکار کوي(۱). دا اختلافات ددی ښکارندوی دي چی کله انسان دین د خپلو غوښتنو تابع کړ بیا په هیڅ شي باندی د هغوي اتفاق راتلل ګران

(۱) الالحاد فی الغرب ص ۱۱۴.

کار دی، خو که په لنډه توګه د دی دین خلاصه او لنډیز بیانول وغواړو نو وبه وایو چې دا یو داسی دین دی چې منونکی یې د الله په وجود خو ایمان لري مګر وحي او هر هغه څه چې د انسان څخه په ژوند کی څه التزامات غواړي د هغی څخه انکار وکړي، ترڅو د ژوند په چارو کی فیصله یواځی د خپل عقل او نفسي خواهشاتو په بنسټ وکړی شي، همدی ته عملي الحاد ویل کیږي او همدا د سیکولریزم عملي نتیجه هم ده.

دا دین دوی له یوې خوا د تقلیدي تدین او تألیه په مقابل کې اختیار کړ او له بلې خوا یې د الحاد په مقابل کې هم اختیار کړ، مګر په حقیقت کې دا

ډول تدین د غربي فکر او تمدن له پلوه د بشپړ الحاد په لور په خپل سفر کې یو تم ځای وه، او په حقیقت کې دا د هغه بشپړ الحاد یو ابتدائي شکل وه، او دا ځکه چې د ټولو منزلو ادیانو بنسټ په وحی، مقدسو نصوصو، نبوت، او په غیبیاتو باندې په ایمان ایښی دی، او دا ټول د معجزاتو سره نیغ په نیغه تړلي دي، کله چې څوک له دې شیانو نه انکار وکړي نو د داسې اله په موجودیت ایمان راوړل هیڅ معنی نه لري چې هغه په کائناتو کې د هر ډول تصرف او ارادې څخه عاجز وي، او یوازې د علة العلل په حیث ومنل شي!! هغه کوم قانون ونه لري چې دنیا د هغی سره سمه اداره شي، کوم شریعت ونه لري چی خلک خپل ژوند د هغی سره سم برابر کړي، داسی خدای نو څه معنی لري؟ له دی امله پوهان دا د هغه تجربوي عقلانیت نتیجه بولي چی د تیرو پیړیو د فلسفیانو د

افکارو په پایله کی رامنځته شو او غوښتل یی چی دا نړۍ باید انسان د خپل عقل او تجربی مطابق اداره کړي، که په دی کی په داسی کوم اله او خدای باندی ایمان هم څوک ولري چی د انسان د ژوند سره یې کار نه وي نو کوم باک پکی نشته!.

د اروپا فکري قیادتونو چې د کلیسا د ظلم او د علمي پرمختګونو او د کلیسایي دین، او مدرسي فلسفې په مقابل کې د علم د کامیابیو او لاس ته راوړنو په نتیجه کې ددین څخه بیزاره شوي ؤ، او د دین د تسلط څخه د ځان د ژغورلو لپاره او د الحاد په لور د مؤثر ګام د اوچتولو لپاره د طبیعي دین په لور یې پناه یوړه، دوی د مسیحیت او د هغه مقدس کتاب د نقد لاندې ونیوه، او د همدې نقد په نتیجه کې یې دا دین ایجاد کړ، په دې کې ډیر مؤثر شخصیتونه شامل ؤ.

دلومړي ځل لپاره د دې دین د ایجاد هلې ځلې هربرت چربري (Herbert Churbery) ۱٦۴۸م کې پیل کړې، هدف یې دا وه چې یو داسې طبیعي دین ایجاد کړي چې په طبیعي توګه یې انساني عقل ثابتوي، او دا کار یې د دې لپاره کاوه چې خلک د تقلیدي دین څخه وژغوري هغه دین چې د هغه بنسټ د تسلط په اساس ایښودل شوي دی، د هربرت د رایې سره سم دین یوازې هغه څه بلل کیږي چې ټول خلک یې په اتفاق سره تعلیماتو ته غاړه کیږدي او ویې مني، او په دې کې به د حق معیار یوازې هغه څه وي چې ټول بیلا بیل ادیان پرې متفق دي او درست یې ګڼي، اوهغه څه چې په ټولو ادیانو کې مشترک دي یعنې ټول متدین خلک یې مني او تسلیموي یې هغه دا څو اصول دي، چې مهم یې د الله د وجود عقیده، د هغې د عبادت وجوب او اړتیا،

او د آخرت د جزاء او سزاء او ثواب او عقاب تصور، او د ګناه په وخت د توبې او جزاء قبلول او داسې نور... شیان دي.

همدا راز سپینوزا (۱٦۳۲- ۱٦۷۷م) دا دین تبني او خپل کړ، او ویل به یې: موږ په پیغمبرانو باندې ایمان راوړلو لپاره اړ کیږو چې د وحی روح او اصل هدف ته ورسیږو، او د وحی اصلي غرض او هدف د الله تعالی سره ریښتینی محبت، د خلکو سره مینه او د نیکي کارونه کول دي، مګر بیا د الله صفات چې د هغې په اساس ورسره محبت کیږي، او د نیکي کارونه (خیر) هغه پخپله اسپنوزا ټاکي یعنې نبي او پیغمبر ته اړتیا نه پاتې کیږي، که یوازې د اسپینوزا د کتاب رسالة في اللاهوت والسیاسة هغه دوه فصلونه چې د نبوت او معجزاتو[1] په اړه سپینوزا لیکلي دي، وکتل شي نو طبیعي دین ته به د هغې څرګند میلان واضح شي.

بیا وروسته د طبیعي دین (Deism) په اړه جون لوک خپلو څیړنو ته دوام ورکړ، هغه خو د یو اله وجود مانه، خو ویل یې چې انسان پخپله د خدای تصور د هغه صفاتو څخه چې د هغه په نزد د کمال صفتونه دي جوړ کړی دی او هغه یې لوی کړی او خدای ته یې د هغه نسبت کړی دی، هدف یې دا وه چې دا کوم فطري تصور نه دی، نو ځکه یې د دې څخه انکار کاوه چې ټول خلک دې د الله په اړه په تصور کې سره متفق وي او یا دې د هغې د عبادت په تصور کې سره یو شانته وي، او دا ځکه چې جان لاک اصلا د داسې فطري تصوراتو د وجود څخه انکار کاوه چې

(۱) د سپینوزا د کتاب رسالة فی اللاهوت والسیاسة دویم او شپږم فصل، ترجمه د. حسن حنفی، طبع دار التنویر للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت، لومړی طبع کال ۲۰۰۵م، مراجعه او تقدیم د. فؤاد زکریا.

ټول خلک دې پرې متفق وي، او دا دې په فطري توګه راپیدا شوي وي او د تجربې په پایله کې دې منځته نه وي راغلي لکه دیکارت چې وایي، لوک د طبیعي مذهب څخه داسې تعبیر کوي: کله چې الله تعالی موږ ته د معرفت او فهم داسې طبیعي وسائل را په برخه کړل چې هغه د هر څه نه زیات یقیني دي نو اصلا وحی ته نه کومه اړتیا شته او نه کومه ګټه لري( ).

بیا وروسته تولند (Toland) ۱۷۲۱م او تندال هڅه وکړه چې دا دین په یو نوي بنسټ ودروي، او دغه نتیجه یې د مسیحیت او کلیسایي تعلیماتو د نقد په نتیجه کې ترلاسه کړه، دوی په بشپړه توګه له وحی او اسماني ادیانو څخه انکار وکړ، او د کائناتو حرکت یې په بشپړه توګه په ماشیني توګه تفسیراوه (یعنې په دې معنی چې په دې حرکت کې د خدای هیڅ دخل نشته او دا یوازې د ماشین په حیث د سبب او مسبب د قانون سره سم حرکت کوي) او له دې به یې انکارکوه چې الله دې د دې کائناتو په اداره او د انجام په تعیین کې کوم رول ولري، په دی توګه یې د تدین بنسټ هم ونړوه، دی دین بیا وروسته د یو عمومي خوځښت بڼه غوره کړه( )، یو د هغه کسانو څخه چې په اتلسمه پیړۍ کې یې[1] د کلیسایي دین پر ضد طبیعي دین خپراوه هم ولتیر وه، ولتیر(Voltaire)

---

( ۱) تکوین العقل الحدیث، راندال، ص: ۴۴۰.

( ۱) د طبیعي تألیه د تاریخي اړخونو لپاره وګورئ: د (O. Kulpe)کتاب ( Introduction to Phelosophy) عربي ته ترجمه او تعلیق پرې دکتور ابو العلا عفیفي کړی دی په عربي کې یې عنوان دی (المدخل الی الفلسفة) کال ۱۹۴۲م.

یو فرانسوي فیلسوف وه چې د دې اړتیا یې محسوسوله چې باید خلک د الله په وجود ایمان ولري، دا عقیده یې د دلایلو په بنسټ نه درلوده، بلکه دا یې ټولنیز ضرورت اود ټولنی اړتیا بلله، او ویل به یې: "*إذا لم یکن الله موجودا لوجب اختراعه!*" که الله وجود هم ونه لري نو موږ یې باید را ایجاد کړو، او یا به یې ویل: "*یجب أن نؤمن بالله حتی تکون زوجتي أکثر وفاء لي وخادمي اقل لصوصیة!*"( ) دا پکار ده چې موږ په الله باندې ایمان ولرو ترڅو زما ښځه ماته زیاته وفاداره واوسي، او زما خادم له ما څخه لږه غلا وکړي( )، هدف یې دا دی چې کله څوک دا ډول عقیده ٣
ولري نو هلته یو داخلي او عقیدوي محاسبه ایجادیږي، ځکه هغه انسان بیا د الله تعالی د حساب او کتاب څخه ویریږي، مګر دا ډول ناقصه عقیده هیڅکه هم هغه داخلي باعث نشي تقویه کولی چې په هغی کی د اخرت په حساب او کتاب او د ښه او بد بشپړ تصور وجود ونه لري، او په طبیعي دین کی دا شیان وجود نه لري، دا یواځې په حق او درست دین کی وجود لري، خو دا پخپله د طبیعي دین منونکی و.

د دې ترڅنګ ولتیر د کلیسایي دین او د هغه د تعصباتو او خرافاتو پر ضد سخته مبارزه کوله او د هغه ظلمونو سره یې چې د کلیسا لخوا په خلکو کیدل ډیر شدید مخالفت درلود، چې په دې اړه د (جان لاک) او بولنګبروک (Bolingbroke) څخه متأثر وه، ولتیر د کلیسایي

---

(١) قصة النزاع بین الدین والفلسفة ص ١٨١.

(١) هدف یې دا دی چې په الله باندې ایمان انسان په اخلاقي لحاظ منضبط ساتي.

دین نقد تقریبا د اتلسمي پیړۍ په منځ کې پیل کړ، او لومړۍ حمله یې په کلیسایي دین باندې هغه کتاب وه چې د (تعصب مقبره) یې ونوموه، چې په کال ۱۷۳٦م کې یې ولیکه لیکن د نشر فرصت ورته په ۱۷٦۷م کې برابر شو، د دې وړوکي کتاب په مقدمه کې وایي: څوک چې کوم دین د سوچ او فکر څخه پرته مني ـ لکه دعامو خلکو اکثریت ـ هغه د هغه غوایي په څیر دی چې ظلم ته تسلیمیږي او بیا یې په خپله خوښه په ځان باروي، بیا یې هغه تناقضات چې په انجیل، د مسیحیت په رامنځته کیدو او د کلیسا په تاریخ کې وجود لري، ذکر کړي او د دې تاریخ په اړه وایي: هر عاقل انسان باید د مسیحیت د منلو څخه و ویریږي او هغه انسان به ړوند وي چې ( طبیعي دین) چې ډېر بسیط دین دی او ټول خلک یې مني، داسې دین باندې داسې یوې متناقضی، خونخوارې عقیدې ته ترجیح ورکړي چې جلادان یې حمایت کوي او شا او خوا یې یو څو بدمعاش فرصت طلبان راټول شوي دي، هغه عقیده چې یوازې هغه خلک یې مني چې د دې څخه قوت او دولت لاس ته راوړي، داسې یوه عقیده چې د نړۍ ډېر لږ خلک یې مني.

دا طبیعي دین په اتلسمه پیړۍ کې په انګلستان، هالند، فرانس، او المان کې ډېر زیات خپورشو، او ډېر زیات پلویان یې پیدا کړل، د بیلګې په توګه د (London Corresponding Society) چې یوه فکري اجتماعي ټولنه وه هغې دا دین خپل کړ، او ډېر داسې کتابونه یې نشر کړل چې په نصرانیت پورې به یې استهزاء کوله او دا تألیهي او طبیعي دین به یې ثابتوه، د دې جملې څخه دا لاندې کتابونه د یادولو وړ دي،

(The Age of Reason) د توماس (Thomas Paine) ليکنه، او ( The System of Nature or, the Laws of the Moral and Physical World) د (ميربودو) ليکنه، او (Ruins of Empires) د (امپراطوريو کنډوالی) د (Volney) ليکنه، همدا راز (د طبيعي مذهب بنائست ) او (د اخلاقياتو قاموس) همدا راز (طبيعي افکار د خارق عادت افکارو په مقابل کی) دا او داسې نور ډير کتابونه يې نشر کړل چې په ځرگنده توگه په دې دلالت کوي چې دې دين ډير زيات پلويان درلودل[1]، همدا راز په لندن کې يوه بله ټولنه وه چې په اتلسمه پيړۍ کې خورا زياته مشهوره شوه او نوم يې (د ازادو او مخلصو څيړنو ټولنه) وه، د غړو شمير يې په ۱۷۵۲م کال کې تقريبا ۳۰۰ تنو ته رسيده چې اکثريت مطلق يې د طبيعي تأليهی دين منونکي ؤ.

په امريکا کې د طبيعي دين مشهور دعوتگر بنيامين فرانکلين (۱۷۰٦- ۱۷۹۰م) وه، چې د مسيح د الوهيت څخه يې انکار کاوه، او ديني اخلاق يې په نفعي او پراگماتيکي توگه منل، او ځان به يې (د طبيعي دين ) منونکی باله، د ځان لپاره يې ځانگړی عبادت او لمونځ ايجاد کړ چې د مسيحيت د عبادت او لمانځه سره يې توپير درلود[1] په دې توگه دا دين چې د الحاد په لور يو بنسټيز گام وه په ټوله اروپا کې خپور شو، دې ته مو د الحاد په لور لومړی گام څکه ووايه چې په دې کې خو د الله د وجود څخه پرته نور هر ډول ما وراء الطبيعي وجود رد شوی

( ۱) ددې لپاره وگوره: الالحاد فی الغرب ص ۱٦۱- ۱٦۲ د رمسيس عوض ليکنه.

( ۱) الالحاد فی الغرب رمسيس عوض ص ۱۸۷.

دی، په دې دین کې چا په فرښتو، انبیاوو، او وحي باندې ایمان نه درلود، د الله تصور هم بالکل یو غلط تصور وه چې یوازې باید هغه څه الله تعالی ته ثابت کړی شي چې د انسان عقل یې غوښتنه کوي، او داسې یو دین په حقیقت کې دین نه دی بلکې یو الحادي تصور دی.

## ددی برخې نتائج

د غربي فکر ددی اوږد تاریخي پس منظر او شالید د مطالعی څخه وروسته دا نتائج لاس ته راځي:

۱. اروپا له پیل څخه د داسی دین د تسلط لاندی راغله چې په انساني افکارو یې بنسټ ایښودل شوی وه.

۲. بیا وخت تربله د کلیسا مشرانو په هغی دین کی داسی بدلونونه راوستل چې هغوي یې د هر ډول واک واکداران کړل.

۳. ددی بی ساري واک څخه د کلیسا دیني مشرانو ناوړه ګټه پورته کړه، او په ټولنه کی یې بی ساری اختناق او استبداد رامنځ ته کړ.

٤. دی هر اړخیز استبداد د هر ډول علمي او ساینسي پرمختګ مخه ونیوله، همدی ته په غرب کی (اصول ګرایي) یا (Fundamentalism) وویل شو، چې له امله یې پوهان او علماء

او فلسفیان د بیلا بیلو لاملونو په نتیجه کی دی ته اړ شول چی د عکس العمل په حیث ددی استبداد پر ضد راولاړ شي.

۵. په پیل کی دا عکس العمل انفرادي وه چی وروسته یی عام حالت غوره کړ، او خلکو د انتقالي مرحلی په توګه داسی یو دین ایجاد کړ چی د الله تعالی د وجود څخه صراحتا انکار هم پکی نه وه خو د الله په وجود باندی ایمان په انساني ژوندی کی کومه اغیزه هم نه درلوده دی ته طبیعي، یا ربوبي، یا الهي دین وویل شو، او مفهوم یی دا وه چی یواځی د الله په وجود باندی ایمان لري او نور په هیڅ شی باندی ایمان نه لري، لکه پیغمبران، وحي، اخرت...او له همدی امله په ژوندی کومه اغیزه هم لري.

٦. په دی وخت کی غلطي دا وشوه چی پر ځای ددی چی د غربي تمدن مفکرینو دا عکس العمل د همدی تحریف شوي کلیسایي عقیدی په مقابل کی منحصر پاتی شي، دی عکس العمل یو عام حالت خپل کړ، او ټول ادیان په کلیسا باندی قیاس کړی شول، او د اروپا خلکو د ټولو ادیانو په مقابل کی هماغه دریځ غوره کړ چی د کلیسا په مقابل کی یې غوره کړی وه.

۷. ددی نادرست قیاس او عکس العمل په نتیجه کی د اروپا په خلکو داسی تصورات حاکم شول چی هغه په بشپړه توګه الحادي تصورات ؤ، سره له دی چی یو زیات شمیر وګړي یې تر اوسه په مسیحیت د ایمان دعوه هم لري، مګر د هغی سره سره دوي په بشپړ عملي الحاد کی ژوند کوي، چی دا به موږ په دویمه برخه کی په تفصیل سره ولولو.

## دویم: په غربي نړی د بشپړ الحاد تسلط

کله چې د کلیسا او کلیسایي دین پر ضد قیام وشو، او د هغه د فکري او علمي استبداد څخه خلک خلاص شول، نو په پیل کې مفکرین او ساینس پوهان د الله تعالی په وجود قائل ؤ، او په بشپړه توګه مادي ګرایان او ملحدین شوي نه ؤ لکه د نیوټن او داسې نورو ساینس پوهانو په اړه مو چې ولوستل، مګر کله چې د وخت په تیریدو سره علم (ساینس) ترقي وکړه، او په عین وخت کې د کلیسا او کلیسایي دین څخه خلک مایوس شول، اوشدید نفرت یې ورسره پیدا شو، ځکه چې له یوې خوا د هغې بنسټیز عقائد د تجربوي علومو په رڼا کې غلط ثابت شول، او له بلې خوا د هغې فساد او فکري او علمي استبداد له حد څخه تیر شوی و، او په عین حال کې علم او ساینس په مادي اړخ کی دومره ترقي وکړه چې خلکو ته یې داسې اسانتیاوې برابرې کړې چې د کلیسا د واک لاندی یې چا تصور هم نشو کولی، د خلکو ژوند یې بدل کړ، د صحت په میدان کې یې

هغه څه انسان ته مهیا کړل چې له دې مخکې د دغه انسان په تصور کې هم نه راګرځیدل، د برق اختراع او د بیلا بیلو موخو لپاره د هغې او د انرژي د نورو مصادرو څخه استفاده یو بل داسې انقلاب وه چې د ساینس او تجربوي علم په نتیجه کې ورته انسان لاس رسی پیدا کړ.

## ددی مادي فلسفو عقیده او فکر

دا خو یې مادي نتائج ؤ، خو د دې ټولو سره سره کوم شی چې د تأمل وړ دی هغه دا دی چې د ساینسي او تجربوي علومو له لارې لاس ته راوړل شوي نتائج د دې لامل شول چې د عقیدې او نړیوال لرلید (جهان بینی) او نړۍ پیژندنې له پلوه غربي انسان ځان په همدې مادي دنیا کې منحصر وګرځاوه، او د دې دنیوي ژوند او له هغه څخه د اعظمي استفادې پرته بل هر هدف یې د پاملرنې له دایرې څخه بیرون کړ، ارزښتونه یی له پامه وغورځول، اخلاقیات او اصول هم د مادي ګټې او تاوان تابع وګرځیدل، لنډه دا چې انسان په پایله کی د یو مادي توکي حیثیت غوره کړ، د نوي علم او ساینس د همدې اغیزې په نتیجه کې د غرب ماده پرست او ظاهر بینه پوهان ورو ورو د الحاد په لور وروښوییدل، او مادي او الحادي تګلاره یې خپله کړه، چې دا د هغی اوږدی مقابلی طبیعي پایله وه چې د علم (ساینس) او کلیسایي دین ترمنځ واقع شوه.

د غرب په مقدراتو باندی د مسلطو مادي او الحادي فلسفو له نظره په الله باندې د عقیدې لرلو سبب او علت د انسانانو جهل او

ناپوهي وه، د دوی له نظره کله به چې انسان لدې څخه عاجز شو چې د موجوداتو او پدیدو د طبیعي اسبابو په رڼا کې تعلیل وکړي او سبب یې بیان کړي نو هغه به یې د همدې جهالت له امله الله ته منسوب کړې، په دې اړه اوجست کونت وایي: "*إن الإنسان إذا عجز عن تعليل ظاهرات الكون ومعرفة أسبابها الطبيعية عزاها إلى قوى شبيهة بقواه البشرية*" ( )

انسان چې کله د کَوني پدیدو د تعلیل څخه عاجز شي، او د هغې طبیعي اسباب او لاملونه ونه پیژني نو داسې قوتونو ته یې نسبت کوي چې د دې بشري قواوو سره مشابهت ولري.دا یوازې د اوجست کونت خبره نه وه، بلکې دلته کونت تقریبا د ټولو معاصرو مادي فلسفي مدارسو ترجماني کوي، د همدې عقیدې په بنسټ په غرب کې ډیر فلسفي الحادي مذاهب ایجاد شول، او دا الحادي مذاهب په بیلا بیلو نومونو ونومول شول، مگر د ټولو ترشا یو لر لید او یوه عقیده پرته وه او هغه دا چې دا مادي نړۍ نه په خپل پیدایښت او نه هم په استمرار کې کوم داسې ما وراء طبیعي قوت ته اړ ده چې ادیان یې خدای بولي، بلکې دا په طبیعي توگه د طبیعي قوانینو سره سمه منځ ته راغلی( ) او د طبیعي قوانینو سره سمه چلیږي، له دی امله د الله په وجود باندې ایمان ته کومه اړتیا نشته، دوی دا هم وایي: چې د دې مادي نړۍ په اړه د معلوماتو یوازینۍ موخه دا ده چې موږ هغه وپیژنو او اعظمي گټه ترې

( ۱) وگوره ملقی السبیل فی مذهب النشوء والارتقاء، اسماعیل مظهر ص ٦٨.

( ۱) چې اکثره یې په دې عقیده دي چې د ډارون د نشأت او ارتقاء د خرافي نظریې سره سم پرې ژوندي موجودات منځته راغلي.

واخلو، او طبیعت او ماده د خپل ځان تابع وګرځوو، او هغه په داسې توګه بدله کړو چې د انسان د غوښتونو سره برابره شي.

د اوسني غربي تمدن همدا عقیده په ډېرو لنډو ټکو کې اوجست کونت (۱۷۹۸- ۱۸۵۷) داسې بیانوي: *"إن الاعتقاد في ذوات عاقلة أو إرادات عليا، لم يكن إلا تصورا نخفي وراءه جهلنا بالأسباب الطبيعية. أما الآن و كل المتعلمين من أبناء المدنية الحديثة يعتقدون بأن كل الحوادث العالمية والظاهرات الطبيعية لا بد من أن تعود إلى سبب طبيعي، و أنه من المستطاع تعليلها تعليلا علميا مبناه العلم الطبيعي، فلم يبق ثمة من فراغ يسده الاعتقاد في وجود الله، ولم يبق من سبب يسوقنا إلى الايمان به"*[1] په عقل لرونکو ذواتو، او علیا ارادو (یعنې د الوهیت په عقیدې) عقیده په حقیقت کې یوازې داسې تصورات

ؤ چې د هغې ترشا موږ د طبیعي اسبابو څخه خپله ناپوهي او جهالت پټاوه (یعنې د کومې حادثې او دکومی پدیدې طبیعي علت او سبب به چې راته معلوم نه شو هغه به مو ما وراء الطبیعي موجود یعنې الله ته منسوبوه) مګر اوس د نوي تمدن ټول باسواده بچیان په دې عقیده دي چې ټول کَوني حوادث او طبیعي پدیدې خامخا یو طبیعي سبب او

(۱) ملقى السبيل فى مذهب النشوء والارتقاءو أثره فى الانقلاب الفكرى الحديث، ص ۷۰، اسماعيل مظهر، دويم چاپ، المطبعة العصرية، باهتمام الياس انطون الياس، الفجالة، بشارع الخليج الناصرى، رقم ٦، مصر.

لامل[1] لري، او اوس دا ممکن شوي چې د طبیعي علم په اساس تعلیل کړی شي (یعنې علت او سبب یې معلوم کړی شي) نو له دی امله کوم داسې فراغ (تشه) پاتې نشوه چې ډکول یې څوک د الله په وجود باندې ایمان درلودلو ته اړ کړي، او داسې کوم سبب او لامل پاتې نشو چې موږ د الله په وجود باندې ایمان درلودلو ته سوق کړي.

اوجست کونت چې په نولسمه پیړۍ کې د وضعي ملحدانه فلسفې موجد او د غربي تمدن یو لوی فیلسوف بلل کیږي په دې نظر دی چې د پخوانیو خلکو د الله په وجود باندې د ایمان درلودلو بنسټیز سبب او لامل د طبیعي ظواهرو او پدیدو د علتونو او اسبابو څخه ناپوهي وه، ځکه د دې طبیعي اسبابو څخه بې خبرۍ او ناپوهۍ او جهالت خلک دې ته اړ کول چې د الله په وجود ایمان ولري او دا ټول حوادث، ظواهر او پدیدې هغې ته منسوب کړي، مګر د ساینس او طبیعي علومو د پرمختګ نه وروسته دې ته اصلا اړتیا پاتې نشوه چې څوک د الله په وجود ایمان ولري، ځکه د دې ظواهرو تعلیل او تفسیر له دې ایمان څخه پرته اوس ممکن دی، په دې شکل د دوی له نظره اوس الحاد ته بشپړه زمینه برابره ده، او ایمان ته اړتیا نشته.

## همدا د نوولسمی او شملی پیړیو د ټولو فلسفی مدارسو نظر دی

(١) د کوم طبیعي سبب او لامل موجودیت ایا انسان دی ته هڅوي چې هغه د الله تعالی انکار وکړي، بلکه دا اسباب یې دی ته هڅوي چې په دی فکر وکړي چې دا اسباب په دی شکل او دومره دقیقه توګه چا وضع کړي؟ چې دا پخپله عاقل انسان په الله تعالی باندی ایمان ته هڅوي.

سره له دې چې غرب په فکري، سیاسي او دیني لحاظ يو تشخص نه لري، هلته ډير فلسفي مدارس وجود لري، په سياسي لحاظ يو دبل سره ډير اختلافات لري، په ديني لحاظ يې څه خلک اصلا په هيڅ دين عقيده نه لري، يو شمير نور يې ځان مسيحيان بولي، بيا په مسيحيت کې هم ډيرې فرقې او ډلې وجود لري چې په خپلو کې ډير شديد اختلافات لري، مګر ددې ټولو اختلافاتو سره سره دوي د غرب د اوسني تمدن په فکري بنسټونو باند په خپلو کې سره اتفاق لري، او ددې بنسټونو څخه يو بنسټيز اصل هم د عملي ژوند څخه د الله تعالی بې دخله کول او دا ټوله نړۍ په مادي شکل تفسيرول او د طبيعي قونينو تابع ګڼل دي، چې د هغې په نتيجه کې بيا د الله تعالی مداخلې ته د هغوي له نظره کومه اړتيا نه پاتې کيږي، له دې امله ويلی شو چې همدا د غرب د ټولو لويو فلسفي مدارسو نظر دی، ځکه هغه ټول فلسفي مدارس چې په بيلا بيلو نومونو په نوولسمه او شلمه پيړۍ کې په غرب باندې حاکمې وې او تر اوسه حاکمې او مسلطې دي په حقيقت کې ټولې مادي فلسفې دي او همدا يې د نظر لنډيز دي، دوي که ځان ته مادي فلسفې ووايي او که نه ځکه چې يو شمير فلسفې ـ سره له دې چې په بشپړه توګه مادي فلسفې دي ـ لدې څخه انکار کوي چې مادي فلسفې ورته وويل شي، او دا له دې امله چې دا نوم د تحقير او سپکاوي لپاره استعماليږي، په دې اړه يو غربي څيړونکی جون سومر فيل وايي:

*(إن مجرد تسمية إحدى الفلسفات لنفسها ب"المادية" يعتبر عادة في نطاق حدودنا الثقافية أمرا يدعونا إلى النفور منها، وقفل الأبواب دونها، و*

*أن كلمة "مادية" تستخدم في العادة في سياق الاتهام لا من أجل التصنيف فقط*

*....... لهذا فهم يميلون إلى إطلاق اسم "التجريبية" و "الطبيعية" و"الإنسانية" و"الواقعية" و ما شابه ذلك على فلسفات كان الأدق أن تسمى "مادية"* )[1] كله هم چې كومه فلسفه ځان ته مادي فلسفه ووايي نو زموږ د ثقافت او علم تر حده دا يو داسې شی ښکاره کيږي چې موږ ترې متنفر کوي، او د هغې په وړاندې دروازې بندوي، او په عامه توګه د (مادي) کلمه د تهمت په سياق کې استعماليږي، د فلسفو د تصنيف په سياق کې نه استعماليږي، د همدې امله دوی خپلو هغو فلسفو ته چې ـ دقيقه خبره خو دا ده چې هغه د مادي فلسفو په نوم يادی شي ـ د (تجربوي )، (طبيعي)، (انساني) او (واقعي) او داسی نورو فلسفو نوم ورکول غوره ګڼي.

دا مادي فلسفې هغه که رومانتيکې فلسفې دي او که عقلاني فلسفې، ټولې په حقيقت کې د يوې مادي فلسفې ښاخونه او څانګې دي، په دې وخت کې چې په غربي ټولنه کوم فلسفي مذاهب او مدارس په فکري لحاظ حاکم دي هغه ټول د هغه علمي او مادي تګلارې او منهج څخه اغېزمن دي چی د مخکی فلسفيانو د مذاهبو په ضمن کی یی يادونه وشوه، په دی کی په غرب کی حاکم نظامونو کمونيزم او ليبرال

---

(1) فلسفة القرن العشرين د جون سومر فيل بحث د (نحو البراجماتية الامريكية) ص ٢٥٨ ترجمه: عثمان نويه، مراجعه: دكتور زكي نجيب محمود، سلسلة مجموعة الألف كتاب (الادارة العامة للثقافة بوزارة التعليم العالي) كال: ١٩٦٣م القاهرة ـ مصر.

دیموکراسۍ کې هم فرق نشته، تول په دې مادي منهج او تګلاره کې سره شریک دي، او دا علمي او مادي تګلاره په بشپړه توګه په یو الحادي لرلید او جهان بینۍ باندې ولاړه ده، دا لرلید او جهان بینې په لاندې توګه خلاصه کولی شو:

# پنځم فصل

# د دی الحادی تمدن

# فلسفي او فکري بنسټونه

## د غربی تمدن لرلید (جهان بیني)

د علمي او مادي فلسفو په مقابل کی د کلیسا د پرله پسی ماتو په نتیجه کې په غرب هغه تصور حاکم شو چې هغه هر څه ته د مادې په

سترګه ګوري، یعنې داسې یو اړخیز تصور چې معرفت، په خپله انسان او ټولو اجتماعی قوانینو ته د همدې مادي تصور له نظره ګوري، الله او خدای یې په بشپړه توګه حذف کړی، که څوک پری ایمان هم ولري هغه داسی ایمان نه وي چی په بشري ژوند څه اغیزه ولري، دا په حقیقت کي هغه الحادی تصور دی چې د ټول غربي تمدن په بنسټ کې پروت دی، همدې فکر ته کله د روشنفکرۍ خوځښت ویلی شي، او کله ورته سیکولریزم ویل کیږي، د دې فکر بنسټ هغه لر لید (جهان بینی) تشکیلوي چې غربي انسان یې د دې کائناتو او د هغې درې ګونو عناصرو (اله، انسان، او طبیعت) په اړه لري.

موږ هم چی کله د غربي تمدن لرلید او جهان بیني معلومول وغواړو نو باید د همدی دری عناصرو په اړه ددی تمدن فکر او عقیده معلومه کړو، ځکه دا دری واړه هغه موضوعات دي چې بشري فکر یې له پیل څخه تر اوسه پورې مشغول ساتلی دی، ټول فلسفي تصورات د همدې موضوعاتو په محور څرخیږي، د همدې درې ګونو عناصرو په اړه د انسان عقیده د انسان سلوک او د تمدنونو قبله ټاکي، د همدی دری ګونو عناصرو په اړه د غرب عقیدی ته د غرب لرلید او جهان بیني ویل کیږي، په دې اړه خو بحثونه ډیر اوږده او تخصصي دی مګر دلته زه په ډیره لنډه توګه د غربي تمدن په بنسټ کې پروت د غربي انسان په عامه توګه او غربي فکري قیادتونو په ځانګړې توګه دغه لرلید د درنو لوستونکو مخ ته ږدم، او دا د دې لپاره چې موږ د دې تمدن حقیقت د دې په رڼا کې درک کړی شو:

# لومړی: د اله (خدای) په اړه د غربي تمدن لرلید

غربي تمدن کې په ظاهري لحاظ ضروري نه ده چې ټول خلک په ښکاره د الله او خدای نه انکار وکړي، ځکه د الله په اړه د بیلا بیلو فلسفیانو افکار او نظریات مختلف دي، مګر په پای کې او په عملي لحاظ ټول په دي متفق دي چې د دنیوي ژوند سره د الله او هیڅ مقدس کوم کار او اړیکې نشته او باید هیڅ ډول مداخله په کې ونه لري، بلکې دا ژوند به پخپله انسان په بشپړې ازادۍ سره د خپل عقل او خپل مادي منفعت سره سم عیاروي او جوړوي، د غرب د فلسفیانو تصور د الله تعالی په اړه په لاندې اشکالو کې راخلاصه کیدلی شي:

## د الله په اړه مادي وحدة الوجودي تصور

یو شمیر غربي مفکرین ـ چې په فکري لحاظ د غربي تمدن په بنسټ کې د هغوی افکار او تصورات پراته دي ـ د الله په اړه دا عقیده لري چې الله په بشپړه توګه په طبیعت کې تجلي کوي او راڅرګندیږي، دوی د طبیعت څخه پرته په بل کوم ځانګړي خالق یقین نه لري، یوازې همدا مادي طبیعت د الله تعالی مظهر بولي، دوی مادي نړۍ ته په هغه بڼه احترام لري چې علمي (ساینسي) اصول یې شرح کوي او د حسي معلوماتو په عقلاني تفسیر یقین لري، د دوی په نزد الله یو داسې قوت دی چې په طبیعت کې جریان لري د همدې طبیعي مادي قوانینو او کَوني سنتو په ضمن کې فهم کیدلی شي، نو الله د طبیعت، مادې او

مادي قوانینو سره مرادف ګرځي، د طبیعي یا مادي وحدة الوجود تصور د جیوردانو بورنو، جون تولاند، باروخ سپینوزا، ایرنست هاکل، او البرت اینشتاین او داسې نورو فلسفیانو د افکارو په بنسټ ولاړه نظریه ده.

## ب ـ د الله په اړه میکانیکي تصور

د یو زیات شمیر غربي مفکرینو او ساینس پوهانو تصور دا وه چې الله موجو د دې او دا کائنات هم هغه د څه طبیعي او مادي قوانینو سره سم د مادې څخه پیدا کړي دي مګر د هغه حیثیت د یو داسې ساعت جوړونکي دی چې ساعت جوړ کړي او بیایې پرېږدي چې د هغه ماشیني قوانینو[1] مطابق حرکت ته دوام ورکړي چې د هغه پر اساس او بنسټ جوړ شوي دي، دوی هم په دې تصور دي چې الله تعالی دا دنیا د همدې ماشیني (ساینسي) قوانینو سره سمه پیدا کړې ده او بیا یې د

---

(١) د ماشیني یا میکانیکي مفکورې معنی دا ده چې دې دنیا ته د داسې یو ماشین یا ماشیني آلې سره تشبیه ورکړی شي چې د عقل او یا کوم غیر مادي قوت د مداخلې پرته یوازې د مادي اجسامو د حرکت د قوانینو سره سم حرکت کوي، ماشیني مفکوره عقیده لري چې په نړۍ او مادي دنیا کې ټول حوادث یو د بل سره د علت او معلول، او سبب او مسبب رابطه او اړیکې لري، او حرکت په مادي او طبیعي موجوداتو کې یوه عامه پدیده ده چې د څه ځانګړو قوانینو او اصولو په بنسټ رامنځ ته کیږي، ددې په مقابل کې دینامیکي مفکوره ده چې د بیلا بیلو قواو ترمنځ په متبادل تفاعل باندې قائله ده او تصور یې دا دی چې ټول احداث ددې قوتونو ترمنځ د متبادل تفاعل په نتیجه کې منځ ته راځي، حال دا چې میکانیکي اتجاه وایي چې د مادي شیانو ترمنځ انفصال موجود دی، قوت او ماده دوه جلا شیان دي، او ټول حوادث د مادي شیانو د حرکت په نتیجه کې منځ ته راځي نه د قواو د تفاعل په نتیجه کې.

همدې قوانينو سره سم د حرکت لپاره پريښي ده او هيڅ ډول مداخله پکې نه کوي، په دې تصور کې د الله تعالی د کار تصور ډير را مختصر کيږي، ځکه هغه خو د کائناتو په پيل کې د پيدايښت مسؤوليت په غاړه لري او کيدای شي چې د کائناتو د اختتام او پای ته رسولو مسؤوليت هم په غاړه ولري (د هغه چا له نظره چې د قيامت په ورځ او ددی کائنات په پناه کيدو او له منځه تلو هم ورسره ايمان ولري) مگر د ژوند په معاملاتو کې هيڅ ډول تأثير نه لري او نه يې لرلی شي، دلته په دې زماني او مکاني نړۍ کې به هغه څه سرته رسيږي چې د همدې ماشيني قوانينو مطابق او د دې طبيعي اسبابو سره سم وي، ځکه د ميکانيکي او ماشيني تصور سره سم د حرکت دا قوانين حتمي(1) او لازمي دي، د دې څخه تخلف ممکن نه دی، يعنې پخپله خدای هم دا قوانين نشي بدلولی.

د نړۍ او کائناتو په اړه دا ماشيني او ميکانيکي تصور د نيکولای کوبرنيک(۱۴۷۳ـ۱۵۴۳) کبلر(۱۵۷۱ـ۱۶۳۰) گاليلو(۱۵۶۴ـ۱۶۴۲) جيوردانو بورنو (۱۵۴۸ـ ۱۶۰۰) څخه پيل شو او مشهور فرانسوي فيلسوف رينيه ديکارت (۱۵۵۶- ۱۶۵۰) دا په يو مکمل قالب کې واچوه، او هغه ټول لومړني فلسفيان او ساينس پوهان چې د تجربوي منهج (ساينسي او علمي منهج) پيروان ؤ د همدې نظر قائل ؤ، چې په دوی

(1) د دی طبيعي قوانينو د حتميت چی کوم تصور په هغه وخت کی قائم وه اوس په بشپړه توگه له منځه تللی دی، دا حتميت نه په طبيعي قوانينو کی مني او نه په نور څه کی، بلکه په ( Post Modernism) کی خو ترکيز په دې دی چی هر څه متغير دي، ثبات اصلا وجود نه لري.

کې توماس هوبز (۱۵۸۸- ۱٦۷۹م) بونيه (۱۷۲۰- ۱۷۹۳م)، لامترى (۱۷۰۹- ۱۷۵۱)، هولباخ (۱۷۲۳- ۱۷۸۹)، ديدرو (۱۷۱۳- ۱۷۸۴م) او هلفتيوس (۱۷۱۵- ۱۷۷۱م) په څير فلسفيان او ساينس پوهان شامل ؤ، دا د غربي فكر يو بنسټيز اصل بلل کيږي امانويل کانت (۱۷۲۴- ۱۸۰۴م) هم د غربي فكر دې بنسټيز اصل ته چې هغه ميكانيكي مذهب دى په بشپړه توګه مخلص و، او دا مذهب يې د خپلو ټولو کمزوريو سره په ټول تفصيل سره قبلوه، او دا يې تصور وه، چې همدا ميكانيكي مذهب د تجربې په نړۍ حكومت کوي، او تجربوي نړۍ د همدې د اصولو سره سم مخ ته ځي.

همدا راز الماني مادي فلسفې هم د همدې ميكانيكي نظريې څخه په کلکه دفاع کوله، د دې فلسفې تمثيل کوونكي فويرباخ (۱۸۰۴- ۱۸۷۲)، موليشوط (۱۸۲۲- ۱۸۹۳م)، بوخنز (۱۸۲۴- ۱۸۹۹م) او کارل فوجت (۱۸۱۷- ۱۸۹۵م) ؤ، دوى په دومره شدت سره د ميكانيكي تصور څخه دفاع کوله تر دې چې پخپله د عقل وجود يې نفى کاوه، او د کامل حتميت څخه به يې په شدت دفاع کوله(۱).

ميكانيكي تصور د اوسنۍ غربي فلسفې يوه داسې ځانګړتيا ده چې اکثره فلسفيان او تجربوي ساينس پوهان پرې عقيده لري، په دې اړه د الفلسفة المعاصرة فى اوربا مؤلف وايي: (*فجاءت الفلسفة الغربية*

---

(۱) المعاصرة فى أوربا ص ۲۰- ۲۸ تأليف: ا. م. بوشنسكي، ترجمة: د. عزت قرني، سلسلة كتاب عالم المعرفة رقم ۱۵٦، دولة الكويت.

*الحديثة وعارضت كل هذه السمات (سمات الفلسفة المدرسية، وكل تلک القضايا، ذلک أن مبادئها الجوهرية هي القول بالاتجاه الميكانيكي الذى يستبعد التصور العضوي والتدرجي للوجود، وبالاتجاه الذاتي الذى يجعل الانسان مستقلا عن الاله ويحول اتجاه اهتمامه ناحية الى ذات)*( ) نو نوې غربي فلسفه راغله او د منځنيو پيړيو د مدرسي فلسفې د دې ټولو ځانګړتياو سره يې مخالفت وکړ،

ځکه چې د دې نوې غربي فلسفې بنسټيز اصول دا دي چې دا فلسفه د ميکانيکي يا ماشيني نظريې قائله ده چې د وجود عضوي( ) او تدريجی تصور مستبعد ګڼي، او دا فلسفه د ذاتي نظريې قائله ده چې انسان د خدای څخه مستقل او مستغني ګڼي او ټوله پاملرنه د انساني ذات لور ته متوجه کوي.

## ج ـ د الله په اړه د طبيعي دين (Deism)عقيده

يو شمير نور غربي مفکرين د الله په اړه د طبيعي دين په عقيده دي، دا په دې معنی چې دين ـ لکه څرنګه چې مخکې مو ورته اشاره وکړه( )ـ د انسان طبيعي او غريزي اړتيا او ضرورت نه دی، بلکې[٦] دا په

( ١) الفلسفة المعاصرة فى أوربا ص ٢٤ تأليف: ا. م. بوشنسكي، ترجمة: د. عزت قرني، سلسلة كتاب عالم المعرفة رقم ١٥٦، دولة الكويت.

( ١) د وجود عضوي تصور دا دی چې ټول وجود مترابط ګڼي په داسی توګه چې ګويا ټول يو جسم دی، چې څه يې اعلی برخه ده او څه يې ادنی برخه ده او څه يې منځنی برخه ده، يعنی يوه برخه يې تر ټولو غوره ده او يوه يې تر ټولو خرابه ده او يوه يې هم متوسطه برخه ده، اعلی برخه يې الله تمثيلوي، او ادنی برخه يې ماده او په منځ کې يې انسان قرار لري.

( ١) د الحاد په لور لومړی ګام تر عنوان لاندې.

اصل کې همداسې یو علم دی لکه فیزیک او کیمیاء په دې معنی چې دا یو داسې نظام دی چې د یو شمیر عقلي قضایاو څخه تشکیل شوی دی چې موږ ته له بهر څخه راکړل شوی دی تر څو یې موږ د هرې بلې قضیې په څیر د عقلي براهینو او دلایلو په بنسټ امتحان کړو، او د امتحان طریقه یې هم بالکل هماغه ده چې موږ یې د کوم فیزیکي قانون، یا سیاسي اصل او یا هم د کوم اقتصادي قاعدې د امتحان لپاره په کار اچوو.

د دین هدف هم بالکل معلوم او څرګند دې او هغه دا چې انساني اخلاق په الهي قانون بناء کړی شي، تر څو په انسانانو کې د خیر د کولو قوي
باعث ایجاد کړی شي، او دا باعث موږ د طبیعي دین (Deism) له لارې ایجادولی شو، هغه دین چې بنسټ یې په درې اساسي قضایاوو باندې دی، لومړی د یو قوي او قدرتمند خدای په وجود ایمان درلودل، دوهم دا چې دا خدای له انسان څخه د دې غوښتنه کوي چې د فضیلت څخه ډک ژوند اختیار کړي په دې توګه چې د الهي ارادې اطاعت وکړي، دریمه دا چې یو بل ژوند هم شته چې په هغې کې به نیکانو ته جزاء او بد کارانو ته سزاء ورکول کیږي، او کله چې یو انسان خپل عقل پکار واچوي او عقلي مقدمات سره وجنګوي نو د فضیلت څخه د ډک ژوند فوائد درک کولی شي او خپل ژوند په داسې بنسټونو عیارولی شي چې د آخرت نیکه جزاء ترلاسه کړي نو له دی امله نه وحي ته اړتیا شته او نه پیغمبر باندې ایمان راوړلو ته او نه په کوم بل خارق العاده او غیر مادي مخلوق لکه پرښتو باندې ایمان راوړلو ته، ځکه انسان دا درې واړه اصول

د عقل له لارې پيژندلی شي، د دې عقيدې لرونکي په هغه توګه په الله ايمان لري چې د دوی تصور دی نه په هغه توګه چې الهی وحی يې غوښتنه کوي، د دې ترڅنګ هر هغه څه چې د دوی عقل يې ښه ګڼي هماغه د الله اراده ده ځکه چې دوی په داسې خدای ايمان لري چې نه يې پيغمبر ليږلی نه يې وحی راليږلې، او کله يې چې پيغمبر او وحي نه ده راليږلی نو د الله او ښه او بد په اړه فيصله يوازې عقل ته پاتې شوه، له دې امله ولتير په ډير يقين سره وايي : (*أفهم بالدين العقلي مبادئ الأخلاق المشتركة للجنس البشري*)[1] زه د عقلي دين په ذريعه د نوع انسانيت لپاره د اخلاقو ګډ اصول پيژندلی شم (يعنې په نبوت او وحي ايمان درلودلو ته اړتيا نشته) همداراز جان لوک وايي : (*لم تبق حاجة أو نفع للوحي في مثل هذه الأمور كلها طالما أن الله أعطانا وسائل طبيعية أكثر يقينا لنتوصل بها إلى معرفة هذه الأمور؛ لأن الحقائق التي تتضح لنا من معرفتنا لأفكارنا أو تأملنا لها تكون دائما أوثق من تلك التي تأتينا عن طريق الوحي التقليدي*)[1] د دې ټولو امورو په فهم کې وحی ته کومه اړتيا نشته او نه پرې کومه ګټه مرتبيږي، ځکه چې الله موږ ته د وحي څخه زيات يقين ته رسوونکي طبيعي وسائل او اسباب را په برخه کړي دي چې د هغو په ذريعه موږ د دې امورو معرفت ته ورسيږو، ځکه هغه حقائق چې موږ ته زموږ د افکارو د معرفت او زموږ د تدبر په نتيجه

---

(1) تکوين العقل الحديث ج۱ ص ۴۲۰، تأليف: جون هرمان راندال، ترجمة: دکتور جورج طعمه، دار الثقافة، بيروت، بالاشتراک مع مؤسسة فرانکلين للطباعة والنشر.

(1) تکوين العقل الحديث ج۱ ص ٤٢٠ مخکينی مصدر.

کې موږ ته راڅرګندیږي هغه همیشه د هغه څه نه زیات مؤکد او قوي دي چې موږ ته د تقلیدي وحي له لارې رارسیږي.

په دې توګه د هربرت اوف شرپوري (۱۶۲۴م) نه نیولې د اتلسمې پیړۍ تر پای پورې یو ډیر زیات شمیر غربي مفکرین په یو داسې خدای باندې قائل ؤ چې د هغه اراده، د هغه غوښتنې، د هغه دین، هر څه د دوی د عقل تابع ؤ، داسې یو خدای چې په عملي توګه یې د انسانانو په ژوند هیڅ اغیزه او تأثیر نه درلود، دا د طبیعي یا عقلي دین منونکي ؤ.

## د ـ د الله تعالی په اړه مطلقه الحادي عقیده

د الله تعالی په اړه د غربي مفکرینو د یو زیات شمیر کسانو عقیده په الحاد باندې ولاړه ده، د الحاد عقیدې په غرب کې هغه وخت قوت پیدا کړ چې خلک د نوي تجربوي علمي منهج د رامنځ ته کیدو په نتیجه کې دې قناعت ته ورسیدل چې نور نو د حوادثو د تعلیل لپاره په کوم میتافیزیکي قوت او خدای باندې ایمان لرلو ته اړتیا نشته، ځکه هر څه اوس د علم په رڼا کې تعلیل کیدلی شي، الحاد چې په انګلیسی ژبه کې ورته (Atheism) ویل کیږي دا کلمه په اصل کې په کال ۱۵۸۷م کې د فرانسیسي ژبې د (athéisme) کلمې څخه انګلیسي ته منتقله شوه، چې هغه په خپل وار د قدیمي یوناني ژبې د (atheos) کلمې څخه اخیستل شوې چې معنی یې(بې خدایي)، (له خدایانو انکار) او (له خدای سره اړیکې شلول) ؤ، دا په عامه توګه په الله باندې د ایمان څخه انکار ته ویل

کيږي، او يا د خدايانو د عدم موجوديت عقيدې ته الحاد ويل کيږي، بلکې يو شمير فلسفيان لکه (انطوني فلو)، (مايکل مارتن) او (ويليم الرو) او داسې نور ليکوالان الحاد په دوه ډوله ويشي:

لومړی: قوي الحاد: دا هغه الحاد ته ويل کيږي چې د الله له موجوديت څخه په ښکاره ډول انکار وشي، او د دې لپاره د دلايلو راوړلو کوښښ هم وشي، دې ډول الحاد ته کله کله ايجابي الحاد هم ويل کيږي .

دوهم: ضعيف الحاد: دا ډول الحاد په الله تعالی باندې د عدم ايمان نورو ټولو اشکالو ته ويل کيږي، هغه که د لا أدريت په بنسټ وي او که د تشکيک په بنسټ، دې ډول الحاد ته سلبي الحاد هم ويل کيږي، د الحاد د همدې مفهوم په بنسټ عامو ماده پرستانو ته ضعيف ملحدين ويل کيږي.

د يو بل تقسيم په بنسټ بيا الحاد په دوه ډوله ويشل شوی دی، يو ته يې عملي الحاد ويل کيږي، او دوهم ته يې نظري الحاد ويل کيږي، عملي يا واقعي الحاد چې په انگليسي کې ورته (Apatheism) ويل کيږي، په دې ډول الحاد عقيده لرونکي ټولی مادي پديدې له دې پرته چې د الوهيت قضيې ته کومه توجه وکړي، تفسير اوتبيين کوي، دوی حتما له الله او يا خدايانو څخه انکار نه کوي مگر عقيده لري چې د خدايانو په وجود ايمان او عدم ايمان دواړه يو حيثيت لري، نه يې په

وجود باندې ایمان عملي ژوند ته کومه ګټه رسوي او نه انکار کوم تاوان لري، د دې په مقابل کې نظري الحاد دی، دا هغه الحا د دې چې صراحة د الله په عدم وجود بیلا بیل دلایل راوړي او د الله د وجود او د هغه د وحدانیت دلایل پرې ردوي( ).

کله چې نوی عصر پیل شو او علمي (ساینسي) تګلارې او مناهج رامنځ ته شول او دا تصور د عامو خلکو په ذهنونو کې راسخ شو چې علم او ساینس د هغوی هر ډول سوالونو ته ځواب ویلی شي، او د حوادثو په تعلیل او فهم کې اوس کوم بل غیر مرئي ځواک ته اړتیا نشته نو دې تصور د الحاد لپاره لاره هواره کړه، له همدې امله د اتلسمې پیړۍ په پیل کې په اروپا کې په علني توګه خلکو د الحاد اعلان پیل کړ، چې په دوی کې لومړی ملحد (جان میسلیر) نومیده (دا یو فرانسوی دیني مشر وه چې د اتلسمې پیړۍ په پیل کې یې ژوند کاوه) له دې وروسته نور مفکرین د الحاد په لور رامات شول لکه (بارون هولباخ) او (جاک اندریه نایجیون) له دې وروسته (د یوېد هیوم) د معرفت متشککانه نظریه وضع کړه چې په تجربې باندې بناء وه، د دیوېد هیوم دې نظریې د طبیعي دین میتافیزیکي بنسټ ونړاوه او له منځه یې یوړ او په دې توګه د الحاد لپاره بشپړه زمینه برابره شوه.

او کله چې د فرانس انقلاب رامنځ ته شو نو په غرب کې یې الحاد د علمي مجالسو څخه د عوامو منځ ته رامنتقل کړ، او کله چې

( ١) دلیل اوکسفورد للفلسفة د (الله والفلاسفة) عنوان لاندې ج ١ ص

ناپیلیون د فرانسې ټولنه د علمانیت لور ته سوق کړه نو ډیرو ملحدو مفکرینو خپل ژوند د سیاسي او ټولنیز بدلون او انقلاب لپاره وقف کړ چې په نتیجه کې یې نړیوال اشتراکي خوځښت ته هم زمینه برابره شوه چې د الحادي جریان اخیري څوکه وه.

او د نوولسمې پیړۍ په اخیري نیمه کې د عقلاني او مادي فلسفو د تأثیر په نتیجه کې الحاد په غربي نړۍ باندې برلاسې او حاکمیت پیدا کړ، ډیرو فلسفیانو لکه لودفیغ فویرباخ، ارثر شوپنهاور، کارل مارکس، فریدریک انگلز، سیگموند فروید، فریدریک نیتشه او داسې نورو د الحاد بیرغ اوچت کړ، د هر ډول میتافیزیک څخه یې انکار وکړ، د دوی څخه ډیرو دین د ملتونو لپاره افیون و گاڼه، مارکس او انگلز به ویل چې دین هغه وسیله ده چې حکومتونه یې د کارگرانو د ځپلو لپاره کاروي، سیگموند فروید به ویل چې د الله تصور او همدا ډول نور دیني عقائد په حقیقت کې د انسان جوړ کړي تصورات او عقائد دي چې خپل یو لړ نفسي او عاطفي اړتیاوې او ضرورتونه پرې پوره کړي، یعنې دا کوم حقیقت نه لري، میخائیل باکونین به ویل: د الله د وجود تصور د انساني عقل او عدالت څخه د لاس اخیستلو معنی لري، بلکې دا د انسان د آزادۍ قطعي نفی ده، له همدې امله (د دین) نظریه او تطبیق د بشریت په غلامۍ منتج کیږي .

دغه (باکونین) (چې د مادي اشتراکي فلسفې یو مفکر وه ) د (ولتیر) دا خبره چې که (الله فعلا موجود هم نه وي نو دا تصور باید

اختراع کړی شي) بالکل معکوس کوله، ده به ویل: که الله فعلا موجود هم وي نو دا تصور باید لغو کړی شي او له منځه یوړل شي (   ).

په شلمه پیړۍ کې الحاد او په ځانګړې توګه عملي الحاد د نړۍ په ډیرو ټولنو کې خپور شو، ډیرو فلسفي مذاهبو او فکري مدارسو الحاد ومانه او د یو اصل په حیث یې قبول کړ، په دې کې وجودي فلسفه (   )، موضوعاتي فلسفه، اومانیستي نظریه، عدمي فلسفه، وضعي منطقي فلسفه، مارکسي فلسفه، د فیمینسم خوځښت، عام علمي او تجریبي خوځښتونه شامل دي.

وضعي منطقي فلسفې او علمي ساینسي مذهب (Scientism) تحلیلي او بنیوې او ساختاري فلسفو او مادي (طبیعي) مذهب (Neturalism) ته لاره هواره کړه چې بیا د دې فلسفي مذاهبو په نتیجه کې هغه قاطع تجربوي مذاهب او د ژبې په اړه هغه فلسفې چې اصلا دیني ژبه او مصطلحات یې بی معنی شیان بلل منځ ته راغلل، چی په نتیجه کی یې هره هغه کلمه چی د تجربی په لحاظ اثبات یا رد نه شي هغه بی معنی او بی مفهومه کلمات دي، ددی په نتیجه کی ټول دیني

---

(   ١) میخایل بوکانین (١٩١٦) کتاب (God and the State) طبع ( New York: Mother Earth Publishing Association Retrieved 2007-04-12)

(   ١) وجودي فلسفه او په خانګړې توګه د هغې الحادي برخه په دې یقین لري چې انسان په بشپړه توګه مختار او ازاد دی، او د همدې په بنسټ د الله د وجود انکار ته رسیږي، ځکه کله چې هغه یو ازلي او مطلق خالق ولري چې د هغه اراده په دې انسان باندې حاکمه وي هغه بیا مختار او ازاد نشي پاتې کیدلی.

او میتافیزیکی مصطلحات بی معنی او بی مفهومه شول لکه الله، پیغمبر، معجزة، اخرت، فرشتی او داسی نور.

په سیاسي لحاظ هم الحاد په شلمه پیړۍ کې هغه وخت زیات پرمختګ وکړ چې د مارکس او انګلز د تصوراتو سره سم لومړی په روسیه کې په کال ۱۹۱۷م بلشویکي انقلاب رامنځ ته شو، او وروسته بیا د نړۍ نورو هیوادونو ته خپور شو، او دا خو څرګنده خبره ده چې دوی د الحادي نظام ترویج کاوه او په شدت سره یې د دین مخالفت کاوه بلکې د تدین پر ضد یې د هر ډول زور او ځواک څخه کار اخیسته، په دې توګه قوي الحاد او یا هم سلبي الحاد د غربي نړۍ په فکري او فلسفي مدارسو او مذاهبو او سیاسي او اجتماعي میدان کې خپور شو، چې نن ورځ هم د غربي نړۍ یو لوی شمیر خلک الحادي تصورات لري[1] په دې توګه ویلی شو چې زیات شمیر غربي مفکرین د الله تعالی په اړه الحادي تصور لري.

## د الوهیت په اړه د غربي تصور لنډیز

په غربي تمدن کې که د الله په اړه دوی د وحدة الوجود عقیده ولري او که میکانیکي تصور او عقیده او یا د (ربوبیت) (Deism) عقیده

(1) ددې لپاره د۲۰۰۵کال شمیرې وګورئ:
(http://ar.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D9%84%D8%A5%D9%84%D8%AD%D8%A7%D8%AF
http://www.adherents.com/largecom/com_atheist.htmlهمدارازا

ولري، او که د بشپړ الحاد په نظر وي د ټولو نتیجه یوه ده، او هغه د دې مادي دنیا او بشري ژوند څخه د خدای ګوښه کول دي، او که ایمان پرې ولري هغه به داسې خدای وي چې نه به د انسان د ژوند سره کوم سروکار لري، نه به په دې مادي دنیا کومه اغیزه لري، او نه به د مرجعیت حیثیت لري، په دې ډول په عملي توګه د مادي او غیر مادي او خالق او مخلوق ترمنځ د ثنائیت یا دوه ګوني تصور له منځه ځي او په ټولو باندې یو ډول مادي/طبیعي قوانین جاري کیږي، بلکې د نیتشه په اصطلاح (الله مړ کیږي ) یعنې د هغه هر ډول تأثیر له منځه ځي، د الدین والعقل الحدیث مؤلف (ولتر ستیس) په دې اړه د ریدرز ډایجسټ نه یو ټول پوښتنه نقل کړې د هغې لنډیز دا دی چې په خوله باندې خو د امریکا یو زیات شمیر وګړي وایي چې دوی په الله ایمان لري، مګر بیا مطلق اکثریت دا ایمان په خپل ژوند کې مؤثر نه ګڼي، د دې ټول پوښتنې په اړه په خپل تحلیل کې ډاکټر ګرینبرګ وایي : (*الشعب لا یجعل الله مرتبطا علی نحو مباشر بسلوکهم*) ملت الله تعالی په مباشره توګه د خپلو سلوکیاتو سره مرتبط نه ګڼي.

بیا وروسته ولتر ستیس وایي : ولې موږ له یوې خوا نه عام وګړي ګورو چې د الله تعالی په وجود باندې خو تقلیدي ایمان لري، مګر له بل پلوه ګورو چې د هغه عملي حوادثو سره چې د هغوی په ژوند کې واقع کیږي د دې ایمان هیڅ اړیکې نشته، او دا ټول حوادث چې د هغوی په ژوند کې پیښیږي هغه د طبیعي/مادي اسبابو په بنسټ تفسیروي، چې په دې کې په طبعي ډول د هغوی ذاتي، شخصي او خاص افعال هم

شامل دي؟ دا عقیده چې ټول حوادث او واقعات د طبیعي اسبابو په نتیجه کې واقع کیږي، او دا چې د الله سره د دې هیڅ اړیکې نشته ـ که موږ پرې اعتراف وکړو او که نه ـ په ډیر آسانۍ سره دا ویلی شو چې دا د هغه مسلماتو یو جزء دی چې جدید عقل پرې یقین لري، او دا د هغه انځور (تصویر) برخه ده چې د نوي عقل په مخیله کې د دې نړۍ او کائناتو په باره کې پروت دی، همدا راز دا د هغه تراث برخه ده چې په اولسمه پیړۍ کې موږ ته د علم (ساینس) څخه په میراث پاتې دی، موږ عادتا وایو چې منځنۍ پیړۍ د ایمان زمانه وه، او زموږ زمانه داسې نه ده، سره له دې چې د اوسنۍ زمانې ۹۵٪ خلک وایي چې دوی په الله تعالی باندې ایمان لري، مګر دا د دې دلیل نه دی چې دوی په دین باندې ایمان لري، دا ډول ایمان یوازې یوه عقلي قضیه ده چې د انسان په سلوک او عمل کې کومه اغیزه او تأثیر نه لري، دا یوه تقلیدي بی معنی او بی مفهومه لفظي کلمه ده چې خلک یې عادتا تکراروي، مګر د دې په نتیجه کې هیڅ کله دې ته تیار او اماده نه دي چې خپل سلوک او ژوند بدل کړي، داسې یو خدای چې په نړۍ کې هیڅ نشي کولی، او دنړۍ په حوادثو کې هیڅ اغیزه نه لري په ډیره ساده توګه باید ووایو چې داسې خدای هیڅ اهمیت نه لري، او د اوسنۍ زمانې او د جدید عقل خدای همداسې یو خدای دی[ ] همدا د خدای په اړه د غربي ټولنو د دریځ ٣
بهترین تصویردی، نو له دی امله دا ټولنې ټولی که څوک د الله په وجود

---

( ١) الدین والعقل الحدیث، ولتر ستیس، ترجمه: امام عبد الفتاح امام، ص ١٠٩.

اعتراف کوي او که نه په عملي الحاد کی ژوند کوي، او د الله په اړه يې تصورات په همدی الحاد باندی ولاړ دي.

## دوهم: د طبیعت/مادی په اړه د غربي تمدن عقیده

د طبیعت په اړه د غربي تمدن مفکرین ځانګړی نظر او عقیده لري چې هغې ته طبیعت ګرايي یا (Naturalism) ویل کیږي، او دې عقیدې لرونکو ته طبیعت ګرایان (Naturaists) ویل کیږي، دا هغه عقیده ده چې د (علم ګرايي) (scientism) په نتیجه کې رامنځ ته شوه، او دا په داسې توګه چې کله علم او ساینس ترقي وکړه او د انسان هغه مسایل يې حل کړل چې هغه
ورسره لاس او ګریوان وه، هغه که د صحت او صنعت په میدان کې وی او که د علم او معرفت په میدان کې، او هغه څه يې کشف او اختراع کړل چې په مادي لحاظ يې انسان ته پرمختګ ورکړ او د راحت او خوښی اسباب او لاملونه يې ورته برابر کړل، نو د دې په نتیجه کې د علم ګرايي[1] (Scientism) خوځښت رامنځ ته شو، چې دا پخپله بیا په طبیعت ګرايي منتج شو.

---

(1) سره له دې چې طبیعت ګرايي او علم ګرايي بیلا بیل خوځښتونه بلل کیږي مګر په حقیقت کې علم ګرايي د طبیعت ګرايي لپاره د مقدمې او سبب حیثیت لري، ځکه طبیعت ګرايي یوه عقیده ده چې د علم ګرايي په نتیجه کې رامنځ ته شوې.

طبعا په پخوانیو متدینو ټولنو او په ځانګړې توګه په اسلامي ټولنه کې طبیعي علومو او طبیعي څېړنو دوه هدفونه درلودل، یو دا چې له دې لارې انسانانو ته اسانتیاوې برابرې کړای شي او د انسانانو د مشکلاتو د کمولو له لارې د بشریت د پرمختګ لپاره زمینه برابره شي، او دوهم هدف یې دا وه چې څرنګه چې هغه علماوو دا عقیده درلوده چې دا کائنات یو حکیم او توانا خدای پیدا کړي دي نو د دې عقیدې سره سم د دوی له نظره طبیعت او ماده د یو غرض او هدف لپاره منځته راغلي دي، د دې علومو دوهم هدف د جهان او نړۍ معرفت دی چې په نتیجه کې یې هغه اسرار او حکمتونه و پیژندل شي چې الله تعالی یې د دې کائناتو په خلقت کې اراده کړې ده، تر څو د دې په نتیجه کې پخپله د الله تعالی د معرفت لپاره لاره هواره شي(1).

په اروپا کې په منځنیو پیړیو کې حاکم کلیسایي محرف دین ټولې طبیعي څېړنې چې په عامه توګه د یونانیانو په فلسفه باندې ولاړې وې د دې لپاره سرته رسولې چې خپل محرف عقائد پرې توجیه کړي، او د دې نړۍ او کائناتو غرض او هدف پرې مشخص او تعیین کړي، مګر د اوسنۍ زمانې د طبیعي علومو خوځښت اصلا د تدین په مقابل کې راولاړ شوی خوځښت دی چې اصلا د الله په وجود یقین نه لري نو دا خو سوال نه پیدا کیږي چې د طبیعت په اړه د دې لپاره بحث وکړي چې د الله معرفت

(1) په دې باب برتراند رسل وايي: "كان للعلوم من زمن العرب وظيفتان: الأولى تمكننا من معرفة الأشياء، والثانية تمكننا من فعل الأشياء، أما الإغريق فقد كانوا باستثناء ارخميدس يهتمون بالناحية الأولي فقط". اثر العلم في المجتمع ص ٤١.

ترې ترلاسه کړي او د طبیعت هدف او غرض او غایت درک کړي، ځکه چې اصلا په دې یقین نه لري چې دا نړۍ او کائنات هم کوم غرض او غایت لري، بلکې د طبیعي څېړنو او تجربوي علومو یوازینی هدف دا دی چې انسان په طبیعت باندې تسلط پیدا کړي.

په دې اړه د نوې فلسفې موجد دیکارت وایي :"*یمکن إدراك معرفة جد نافعة في الحياة، و بوسعنا أن نستعيض عن تلك الفلسفة التي كانت تدرس في المدارس القديمة في القرون الوسطى بفلسفة عملية، و بوساطة هذه الفلسفة نستطيع إذا تمكننا من معرفة قوة النار والماء والهواء والنجوم والسماوات وجميع الأجسام التي تحيط بنا و أفعالها بذات المقدار من الوضوح الذي به نعرف مختلف الصناعات و أصحابها ـ نستطيع بالشكل ذاته أن نستخدمها في السبل التي أعدت من أجلها، و بذلك نجعل أنفسنا أسياد الطبيعة و مالكيها*"(1). موږ کولی شو د ژوند لپاره یو ډېر مفید علم او معرفت ترلاسه کړو، او دا هم زموږ په توان کې ده چې هغه فلسفه چې په منځنیو پېړیو کې په پخوانیو مدارسو کې تدریس کیده په دې نوې مفیده فلسفه یې عوض کړو، او د دې نوې فلسفې (طبیعي علومو) په ذریعه موږ کولی شو چې د اور، اوبو، هوا، ستورو او اسمانونو، او هغه ټولو اجسامو چې زموږ شا او خوا ته موجود دي، قوت پرې په همدومره وضاحت سره معلوم کړو چې په څومره وضاحت موږ بیلا بیل صنعتونه او د هغې په لاره اچوونکي پیژنو، همدا راز موږ کولی شو چې دا

(1) تكوين العقل الحديث ج١ ص ٣٣٥، تأليف: جون هرمان راندل.

ټول شیان د هغه څه لپاره وکاروو چې د هغه لپاره جوړ شوي دي، او په دې توگه به موږ ځانونه د دې مادي کائناتو مالکان او متصرفین گرځولي وي.

کله چې د تجربوي علومو هدف دا شو چې نړۍ او طبیعت د دې لپاره و پیژني چې هغه د انسان د تسلط لاندې راولي او د انسان د گټې لپاره یې استعمال کړي، نو په ډیر لږ وخت کې یې ډیرې کامیابۍ تر لاسه کړې او خپل حریف ـ په هغه وخت کې په اروپا باندې حاکم د کلیسا محرف دین ـ یې د چلنج سره مخ کړ، نو دا د دې لامل شو چې د هغه وخت د اروپا وگړي په خپلو تقلیدی عقایدو کې له سره کتنه وکړي، او کله چې کلیسا د دې په مقابل کې مقاومت ونه ښود دا دریځ نور لا هم پیاوړی شو، او د غرب فکري قیادتونو او عامو خلکو تجربوي علوم یوازیني درست او گټور معارف و بلل، او نور هر ډول معارف یې چې د تجربې علومو په معیار او تگلاره برابر نه ؤ باطل و بلل، یعنې د درست او غلط معیار هم همدا تجربوي منهج او تگلاره وگرځیده.

د دې نوي تجربوي منهج او تگلارې بنسټ ایښودونکی «فرانسیس بیکن» (۱۵٦۱ـ۱٦۲٦) وه، چا چې ارسطویي فلسفه مسترد کړه[1]، او بیا وروسته«کوپرنیك» (۱۴۷۳ـ۱۵۴۳)، «کپلر» (۱۵۷۱ـ ۱٦۳۰)، گالیلو (۱۵٦۴ـ ۱٦۴۲) او «نیوټن» (۱٦۴۲ـ ۱۷۲۷) دې تگلارې ته پرمختگ

---

(۱) لکه مخکې چې مو ورته اشاره وکړه، د نور تفصیل لپاره وگورئ تکوین العقل الحدیث جون هرمان راندل ج ۱ص ۳۲۹، د الطریقة الجدیدة تر عنوان لاندې.

ورکولو کې لويه ونډه درلوده، مګر د نيوټن پورې تړول فزيک دانان سره له دې چې د فلکي اجرامو حرکت يې د هغه طبيعي قوانينو تابع ګاڼه چې دوی کشف کړي ول، بيا هم په لومړي ځل دې ستورو او فلکي اجرامو ته حرکت ورکولو او کله چې دا د خپل لارې او مسير څخه منحرف شي هغه بيرته خپل مسير او لارې ته د رابرابرولو لپاره د الله تعالی د وجود قائل وه، او ويل به يې چې د لومړي ځل لپاره دا فلکې اجرام الله تعالی په حرکت راوړي دي، او کله چې دا د خپل مسير او لارې څخه منحرف شي نو بيرته يې الله تعاليمسير برابروي.

د نيوټن نه وروسته «لايب نيتس» (١٦٤٦- ١٧١٦)-يوه الماني فيلسوف او رياضی پوه- د نيوټن د دې نظريې په اړه چې الله تعالی د سياراتو او فلکې اجرامو د مدار او لارې څخه د انحراف په صورت کې مداخله کوي او د هغوی لاره او مسار سموي داسې ويل: د نيوټن خدای يو ماشين جوړوونکی (مستري) دی او هغه هم داسې ماشين جوړوونکی (مستري) چې داسې ماشينونه جوړوي چې خپل کار ته د ادامې ورکولو لپاره بار بار جوړولو ته اړتيا لري!.

د نيوټن نه وروسته پيير سيمون لاپلاس (١٧٤٩-١٨٢٧) مشهور فرانسوي رياضي دان او عالم فلکيات د نيوټن دا تصور مسترد کړ او ويې ويل چې د فلکي اجرامو او سياراتو د انحراف د تصحيح په اړه نيوټن د دې څخه عاجز وه چې د خپلو قوانينو په رڼا کې هغه واضح کړی شي نو ځکه هغه دې ته اړ شو چې خدای دې جهان کې را دخيل کړي، اصلا

خدای ته اړتیا نشته ځکه چې دا سیارات په یوه نسبتا اوږده دوره کې په خپلو کې یو د بل مسیر او
لاره تصحیح کوي، له دی امله د خدای مداخلې او دخیل کولو ته اړتیا شته، نو د خدای د وجود فرضیه هم بې ځایه ده.

همدا راز د لومړي ځل لپاره د دې سیاراتو او فلکي اجرامو په حرکت د راوستلو لپاره هم د خدای د وجود فرضیې ته اړتیا نشته ځکه چې د هغو دا حرکت د (سحابي فرضیې) (یا د مرکز ښخه د قوت د تیښتي فرضیې)( ) په نتیجه توضیح کړ، او د دې د ثابتولو کوښښ یې ٨
وکړ چې اصلا د الله د وجود ثابتولو ته اړتیا نشته، او هر څه باید د طبیعي قوانینو په رڼا کې توضیح او تعلیل کړی شي.

له همدې امله کله چې ناپلیون د لاپلاس نه پوښتنه وکړه چې اوریدلي مې دي چې تاسی د دې کائناتو د نظام په اړه یو لوی کتاب لیکلی دی، مگر په هغه کې مو د دې کائناتو خالق ته یوه اشاره هم نه ده کړې! لاپلاس ځواب ورکړ: زه داسې کومې فرضیې ته اړتیا نه لرم( ).

په دې توگه تجربوي علم د لاپلاس په ذریعه دې نتیجې ته ورسید چې نوره نو د الله تعالی د وجود فرضیې ته اړتیا پاتې نه شوه، او تجربوي علوم د دې نړۍ په تبیین او توضیح کې یوازنی مصدر وگرځید.

---

( ١) سره له دې چې دا فرضیه غیر علمي ده او فیزیک پوهانو په دقیقه توگه دا نقد کړې ده، مگر په هغه وخت کې یې خپله اغیزه درلوده.

( ١) الدین والعلم الحدیث، ولتر ستیس، ترجمه امام عبد الفتاح امام، ص١٠٨ـ ١٠٩.

او کله چې تجربوي علم نور پرمختګ وکړ او د پرمختګ داسې مرحلې ته ورسیده چې د خلکو سترګې یې بریښولې نو په تدریج سره د پوهانو او

فکري قیادتونو او د هغو له لارې د عامو خلکو په اذهانو کې دا عقیده پیدا شوه چې د تجربوي علم (ساینس) په ذریعه د بشریت هر ډول مسایل حل کیدل ممکن دي، او علم، ترقي او پرمختګ د طبیعي قوانینو په نتیجه کې رامنځ ته شوي، نو له دی امله اصلا دین ته کومه اړتیا پاتې نشوه، هر څه باید همدې طبیعي/ مادي قوانینو ته منسوب کړی شي.

په دې اړه جولیان هکسلي (چې یو معاصر فیلسوف او د توماس هکسلي د یونسکو پخواني رئیس زوی دی) دا ادعاء لري چې د علم پرمختګ د خدای لپاره ځای نه دی پریښی، هغه وایي : زه فقط دا کولی شم چې دا ساده حقیقت واضح کړم چې د علم پرمختګ ماوراء الطبیعیات وجود په عامه توګه او خدای وجود په ځانګړې توګه د خلکو د یو لوی شمیر لپاره ناقابل دفاع ګرځولی دی[1].

د دې ترڅنګ دا عقیده هم راسخه شوه چې نه یوازې مادي قضایا بلکې هر ډول معرفت باید د همدې ( تجربې ) له لارې تر لاسه شي، ځکه یوازې تجربه او ساینسي تګلاره ده چې د حقیقت او واقعیت د کشف معیار بلل کیږي، بل هیڅ مصدر او بله هیڅ تګلاره حقیقت او

---

(1) ددې لپاره وګورئ: از علم سکولار تا علم دینی، مهدی ګلشنی، پژوهشګاه علوم انسانی و مطالعات فرهنګی، چاپ اول، ۱۳۷۷، ص ۲٦-۲۷.

معرفت ته د رسیدو وسیله نشی بلل کیدی، له دې امله نه یوازې ساینسي علوم بلکې ټول انساني علوم هم که غواړي چې حقیقت او واقعیت ته ورسیږي نو باید د همدې تګلارې او منهج څخه کار واخلي.

د اتلسمی پیړی یو فرانسوي فیلسوف هولباخ (۱۷۲۳ـ ۱۷۸۹) په دې اړه وایي:(دا فیزیک او تجربه ده چې باید انسان په خپلو ټولو څیړنو کې ترې کار واخلي، هغه باید دیني، اخلاقي، حکومت او سیاست، علوم، هنرونه او حتی په خوشحالی او غم کې د دې ( تجربې او فیزیک) څخه مرسته ترلاسه کړي)( ۱ ).

په دې توګه علم ګرایي (Scientism) د فلسفې او فکر میدان ته هم داخل شو، او د خپل تاثیر لاندې یې راوستله، همدې تفکیر او فلسفې ته په پیل کې ( طبیعي فلسفه) ویل کیده، او همدا په لړ تطور او پیشرفت( ۱ ) سره وضعي فلسفه بلل کیږي، څرنګه چې فلسفه او فکر

( ۱) ددې لپاره وګورئ: از علم سکولار تا علم دینی، مهدی ګلشنی، پژوهشګاه علوم انسانی و مطالعات فرهنګی، چاپ اول، ۱۳۷۷، ص ۲۱.

( ۱) څکه چې کونت وایي چې طبیعي فلسفه خو یواځې په تجربوي علومو کې منحصره وه او وضعي فلسفه د هغې ترڅنګ انساني علوم هم تر خپل پوښښ لاندې راوړي، یعنې همدا تجربوي تګلاره او منهج انساني علوم هم تر خپل پوښښ لاندې راولي، ددې لپاره کونت وایي: (هناک بدون شک تشابه کبیر بین فلسفتی الوضعیة وما یفهمه العلماء الإنکلیز من ذلک منذ نیوتن علی الخصوص بالفلسفة الطبیعیة....) وګورئ: کونت: الفلسفة والعلوم، ص ۱۲، تألیف: بیار شیري، ترجمه: د. سامي ادهم، المؤسسة الجامعیة للدراسات والنشر والتوزیع، بیروت، لبنان، الطبعة الاولی عام ۱۹۹۴.

(لرلید) د ژوند د هر اړخ سره اړیکې لري، او همدا فکر او فلسفه ده چې د ژوند په هر میدان کې د انطلاق لپاره بنسټ مهیا کوي نو له دې امله په غربي تمدن د دې اغیزې ډیرې زیاتې وي، مګر څرنګه چې زموږ هدف دلته د غربي تمدن د لرلید او عقیدې بیانول دي نو له دی امله دلته به یوازې هغه اغیزې او اثرات لږ په تفصیل سره

بیان کړو چې علم ګرایي (Scientism) د دیني عقائدو او باورونو په میدان کې درلودې، که په خلاصه ډول ووایو نو دا اغیزه د طبیعیت ګرایي د عقیدې (چې هغه د الحاد دویم نوم دی) ترسیخول ؤ، دا په ډیر لنډو ټکو کې د الفلسفة المعاصرة فی أوربا مؤلف أ. م. بوشنسکي داسې کوي:"*في نفس هذا الوقت أدى تقدم العلوم الطبيعية إلى ميلاد التصور المادي للكون الذي تطور واتسع طالما لم يجد أمامه أية فلسفة معارضة تقاومه*" په همدې وخت کې د طبیعي علومو پرمختګ د نړۍ په اړه د (طبیعت ګرایي) د تصور په راپیدا کیدلو تمام شو، هغه تصور چې د کومې معارضې فلسفې د نه موجودیت له امله یې ښه پرمختګ وکړ.

همدا خبره بالضبط برتراند رسل په تفصیل سره په خپل یو کتاب کې کړې ده، دلته د هغې عبارت ـ که څه هم اوږد دی ـ نقل کوم څکه چې ډیره ښکلې خلاصه ده، هغه وایي : *(انبثقت عن أعمال الرجال العظام للقرن السابع عشر نظرة جديدة إلى العالم. هذه النظرة بالتحديد و ليس أي حجج اخرى كانت السبب في تآكل الاعتقادات ب"المعجزات" و "السحر" و "الأرواح الشريرة" و"نذر الشؤم" .... وغيرها، إنني أعتقد بوجود*

*ثلاثة مكونات ذات أهمية خاصة في تكوين النظرة العلمية التي سادت القرن الثامن عشر وهي:*

- *أن بيانات الحقائق يجب أن تبنى على الملاحظة وليس على اشتشهاد غير مسند.*
- *أن العالم المادي يتمتع بنظام ذاتي الفعل و ذاتي الديمومة تخضع كافة التغيرات فيه إلى قوانين الطبيعة.*
- *أن الأرض ليست مركز الكون، ومن المحتمل أن الإنسان ليس غاية الكون (في حال كان للكون غاية) و أن الغاية إضافة إلى ذلك مفهوم غير ذي نفع علميا.*

*هذه الفقرات شكلت ما يدعى ب"النظرة الميكانيكية" التي حاربها رجال الكنيسة، و أدت إلى توقف الاضطهاد و تبنّي وجهة النظر الإنسانية بصورة عامة"*[1]. ٣

د اولسمې پيړۍ د لويو شخصيتونو د علمي اعمالو په نتيجه کې د نړۍ او کائناتو په اړه يو نوی لرليد راپيدا شو، همدا نوی لرليد وه او له دې پرته نور هيڅ دلايل نه ؤ چې د هغې په نتيجه کې د (معجزاتو)، (سحر)، (پيريانو او شريرو ارواحو) او (بد فالی) ... او داسې نورو شيانو په اړه عقائد کمزوري او له منځه ولاړل (دلته د دې هدف تړول ميتافيزيکې

(١) أثر العلم في المجتمع، تأليف: برتراند راسل، ص ٢٦- ٢٧.

عقائد دي، چې په دې کې په الله باندې عقیده، په پرښتو او نورو ټولو غیبیاتو پورې اړونده عقاید شامل دي) زما په عقیده د هغه علمي لرلید (طبیعت گرایي) چې په اتلسمه پیړۍ کې خپور شو لاندې درې د ځانگړې اهمیت درلودونکي اجزاء او عناصر یې درلودل، :

د حقائقو دلایل باید چې په ملاحظه او تجربه باندې مبني وي، نه په غیر ثابت شوي نقل باندې (یعنې د حقیقت د اثبات لپاره یوازینۍ لار د ملاحظې او تجربې لار ده، حقیقت د دیني کتابونو[1] څخه په نقولو باندې نه ثابتیږي).

دا نړۍ او کائنات په داسې نظام مشتمل دي چې په خپل وجود او د وجود په استمرار کې په خپل ځان متکي دي (یعنې نه په خپل وجود کې کوم خارجي قوت (الله تعالی) ته اړ دي، او نه د وجود په استمرار کې چا ته محتاج دي بلکې پخپله موجود هم دی او خپل وجود هم پخپله ساتي) په دې کائناتو کې ټول تغییرات د طبیعي او مادي قوانینو تابع دي.

څمکه د دې کائناتو مرکز نه دی، او احتمال دا دی چې انسان د دې کائناتو اصل هدف نه وي (په داسې حال کې چې د دې کائناتو کوم غرض او غایت وي) برسیره پر دې د کائناتو د غرض او غایت قضیه یو داسې قضیه ده چې هیڅ ډول علمي گټه پرې نه ده مرتبه.

---

(١) چې کله ورته تراث (Tradition) او کله ورته نقل وایي.

دا (مخکې) فقرات د هغه (میکانیکي لرلید/ طبیعت ګرایي) عناصر دي چې د کلیسا مشران د هغې پر ضد ؤ، او په نتیجه کې یې ظلم بند شو، همدا راز د همدې لرلید په نتیجه کې په عامه توګه اومانیستي تصور خپل کړی شو. د طبیعت ګرایي د عناصرو کوم اجمال چې په پورتني عبارت کې برتراند رسل ذکر کړی دی، د دې تفصیل په لاندې نقاطو کې ذکر کوو:

## أ : داکائنات په بشپړه توګه مستقل دي او هیڅ بیروني قوت ته اړ نه دي

دطبیعت ګرایي یا علمي لرلید لومړی اصل دا دی لکه برتراند رسل چې وایي : *'إن العالم المادي يتمتع بنظام ذاتي الفعل و ذاتي الديمومة، و تخضع كافة التغيرات فيه إلى قوانين الطبيعة"*[1] دا مادي نړۍ د یوه داسې نظام څخه
برخورداره ده چې هغه په خپل پیدایښت او استمرار کې په خپل ځان متکي دی، او په دې کې منځ ته راتلونکي ټول بدلونونه، اوښتونونه او تغییرات د مادي قوانینو تابع دي.

د دې معنی دا ده چې دوی عقیده لري چې دا مادي نړۍ او دا طبیعي کائنات په هر څه کې مستقل دي، نه په خپل پیدایښت کې د الله تعالی او یا کوم ما وراء الطبیعي موجود محتاج دي او نه په خپل استمرار کې د چا محتاج دي، دلته چې هر څه صورت نیسي هغه د

---

(1) اثر العلم فی المجتمع ص ٣٣.

همدې طبيعي او مادي اسبابو او لاملونو په نتيجه کې رامنځ ته کيږي، دا يوازې د کوم فلسفي مذهب رأيه نه وه بلکې دا يو عام موج وه چې ټول غربي فلسفي مذاهب د ټولو داخلي اختلافاتو سره سره د دی قائل ؤ، په دې اړه د الاتجاهات الفلسفية المعاصرة فی اوربا مؤلف وايي : "*وقد حلت عدة مذاهب متأثرة بالعلم محل المثالية الألمانية بعد هيجل، ولنذكر أولا المادية الألمانية عند فويرباخ (١٨٠٤ ـ ١٨٧٢) و موليشُط (١٨٢٢ ـ ١٨٩٣) و بوخنز (١٨٢٤ ـ ١٨٩٩) و كارل فوجت (١٨١٧ ـ ١٨٩٥) وقد نفت مذاهبهم العقل ذاته و دافعت عن الحتمية الشاملة.*

*ولنذكر بعد ذلك الفلسفة الوضعية التي أسسها في فرنسا أوجست كونت (١٧٩٨ - ١٨٥٧) و يتبعه جون استيورات مل (١٨٠٦ - ١٨٧٣) في انجلترا، و أرنست لاس (١٨٣٧ - ١٨٨٥) و يودل (١٨٤٨ - ١٩١٤) في ألمانيا، وقد رأي هؤلاء جميعا أن الفلسفة ليست إلا تجميعا لنتائج العلم، العلم مأخوذا بالمعنى الميكانيكي*"[1]. د هيګل نه وروسته د علمي جريان

(ماشيني جريان چې هغه همدا د طبيعت ګرايي فلسفه ده) څخه متأثر زيات شمير مذاهبو د الماني مثالي فلسفې ځای ونيوه، چې د فويرباخ (١٨٠٤ ـ ١٨٧٢)، موليشُط (١٨٢٢ ـ ١٨٩٣)، بوخنز (١٨٢٤ ـ ١٨٩٩) او كارل فوجت (١٨١٧ ـ ١٨٩٥) الماني مادي فلسفه تر ټولو دمخه د يادولو وړ ده، دوی (تر دې حده ميكانيكي تصور درلود چې) د دوی مذاهبو پخپله عقل هم مسترد کړ، او د بشپړ حتميت (د حتميت څخه مراد دا

---

(١) الفلسفة المعاصرة في أوربا ص ٢٩، تأليف: إ. م. بوشنسكي، ترجمة: د. عزت قرني، سلسلة عالم المعرفة رقم: ١٦٥، الكويت.

دی چې طبیعي/مادي قوانین حتمي دي، یعنې کله چې سبب موجود شي نو بیا د مسبب د موجودیدلو لپاره بل څه ته اړتیا نشته چې دا پخپله د الله انکار دی)څخه به یې دفاع کوله.

له دې وروسته باید د هغې وضعي فلسفې یادونه وکړم چې په فرانس کې یې أوجست کونت (۱۷۹۸- ۱۸۵۷) بنسټ کیښود، او په انگلستان کې جون استیوارت مل (۱۸۰٦- ۱۸۷۳) او په المان کې أرنست لاس (۱۸۳۷- ۱۸۸۵) او یودل (۱۸٤۸- ۱۹۱٤) د هغې په نقش قدم روان ؤ، د دې ټولو له نظره فلسفه یوازې د علم د نتائجو د راجمع کولو نوم وه، علم د هغې په میکانیکي معنی باندې .

ددی عبارت څخه دا په ډاگه گیږي چی د غرب تقریبا ټول مذاهب ددی قائل ؤ چی دا کائنات په ماشیني توگه کار کوي، نه په خپل وجود کی کوم غیبي قوت ته اړ دي او نه په خپل استمرار کي، او نه په هغه بدلونونو کی چی په دی کی منځ ته راځي.

## ب: د فاعلي علتونو په بنسټ د نړۍ میکانیکي تفسیر

دین په خپل نظام کې کائنات او نړۍ باهدفه گڼي، او د کائناتو ټولې پدیدې د اهدافو او غایاتو په بنسټ تعلیلوي، خو تجربوي علوم اصلا دا ډول
تعلیل او څرگندونې نه مني، بلکې هر ډول کَوني پدیدې د فاعلي علتونو په بنسټ تفسیر او توضیح کوي، طبیعي مسأله ده چې فاعلي علتونه او

اسباب د غائي علتونو سره هیڅ تناقض نه لري ځکه چې دا فاعلي علتونه هم د هغې ارادې تابع دي چې الله تعالی یې د کائناتو په اړه لري.

(ایان باربور) د طبیعت ګرایانو د دې دریځ په اړه وایي : (د اهدافو او غایاتو پلټنه تر ډېره حده پورې د دې نتیجه وه چې هر شی د موجوداتو په لړۍ کې خپل ځای او مرتبه لري، ځکه چې هغه د داسې خدای مخلوق دی چې هغه هدف او غرض لري، فرض کړئ که یو څوک پوښتنه وکړي: اوبه ولې په دومره درجه په جوش راځي؟ عصري عالم شاید د دې لپاره یو معینه او معلومه درجه حرارت د هر موجود د مالیکولونو د جوړښت سره اړونده قوانینو او نظریاتو په رڼا کې وټاکي (او ووایي چې دې درجې ته د حرارت په رسیدلو دا مایع جوش کیږي)، مګر په پای کې داسې یوې نقطې ته رسیږي چې ووایي : دا یو قطعي حقیقت دی چې هیڅ ډول توجیه نه مني، او دا سوال چې ولې داسې دی یو بې معنی او بې مفهومه سوال دی)[1].

د یوې واقعې غایي توضیح د هغې واقعې یو هدف او غایي علت په ګوته کولو ته ویل کیږي، او د هغې د علت فاعلي توضیح دې ته ویل کیږي چې د کومې واقعې ماشیني یا میکانیکي توضیح وکړی شي، چې دې ته موږ د طبیعي قوانینو په بنسټ توضیح او تبیین هم ویلی شو، د تجربوي علم یوه مهمه ځانګړتیا دا ده چې د نړۍ په اړه د هغې لرلید ماشیني یا میکانیکي[1] دی، ٨

---

(١) علم ودین، تألیف: ایان باربور، ترجمه: بهاءالدین خرمشاهی، مرکز نشر دانشگاهی، تهران، ١٣٦٢، ص ٢٠.

(١) Mechanical explanation

یعنې نړۍ ته د یو ماشین په حیث ګوري، او په کلي توګه یې د نړۍ په اړه د غایت او مقصد تصور له منځه وړی دی( ).

د نړۍ په اړه لرلید کې دا انقلاب د ګالیلو په لاس رامنځ ته شو، هغه د دې فکر بنسټ کیښوده چې باید د نړۍ د واقعاتو او حوادثو توضیح د غائي علتونو( ) پرځای د فاعلي علتونو( ) په اساس صورت ونیسي( ).

بیا دا فکر د نیوټن په لاس خپل اوج ته ورسید، او د اوولسمې پیړۍ د علمي انقلاب نه وروسته دې خبرې چې د کائناتو طبیعي پدیدې د یو ماشین په څیر دي نو نه باید د هغې لپاره هدف ولټول شي، بلکې د همدې طبیعي قوانینو په بنسټ تفسیر او توضیح کړی شي د یو منل شوي حقیقت حیثیت اختیار کړ، او دې فکر چې دا نړۍ او کائنات د یو ماشین په څیر دي ټوله اروپا په ډیر سرعت سره ونیوله، او ډیر غربي مفکرین په دې عقیده شول چې نه یوازې دا چې دا جهان یو ماشین دی بلکې په دې کې هر یو شی ځان ته یو وړوکې ماشین دی.

هوبز (۱۵۸۸- ۱۶۷۹) د انسان بدن د یو ماشین سره مقایسه کړ( )، د یوید هیوم (۱۷۱۱- ۱۷۷۶) په اتلسمې پیړۍ کې[۳] لیکي: (خپل شا او خوا دنیا باندې نظر واچوئ د یو لوی ماشین څخه پرته به بل

---

( ۱) الدین والعلم الحدیث، ولتر ستیس، ترجمه امام عبد الفتاح امام، ص ۳۲- ۳۳.

( ۱) Final causes

( ۱) Efficient causes

( ۱) د تفصیل لپاره یې وګورئ: تکوین العقل الحدیث تالیف: هرمان راندال، ترجمه : جورج طعمه ج۱ ص ۳۵۱- ۳۵۵.

( ۱) الدین والعقل الحدیث، تالیف ولتر ستیس، ترجمة: امام عبد الفتاح امام، ص ۱۱۸.

څه ونه وینئ چې په بې شمیره ورو ماشینونو باندې تقسیم شوی دی)[٤].

په همدې بنسټ آن تر نن ورځې په غرب کې نړۍ ته د همدې ماشیني لرلید نه کتل کیږي، او هر ډول غایي توضیح او تفسیر غیرعلمي بلل کیږي، برتراند رسل په دې اړه لیکي: (*نحن نعلم الغاية فى العلاقات الانسانية، ويمكننا أن نفترض وجود غايات كونية لكن العلم ينص على أن الماضي هو الذي يقرر المستقبل وليس العكس، لذا فإن الأسباب الغائية لاتوجد في السرد العلمي لواقع العالم*)[ ] موږ په دې پوهیږو چې په انساني اړیکو کې غائي اهداف شته، او دا هم ممکنه ده چې کَوني او طبیعي غایات او اهداف هم فرض کړو، مگر علم (ساینس) په دې تصریح کوي چې ماضي د آینده په ټاکلو کې مؤثره ده (یعنې ماضي چې سبب دی هغه په مستقبل چې مسبب دی مؤثره ده) د دې عکس خبره نه ده (چې مستقبل دې په ماضي کې مؤثر شي، یعنې غایات او اهداف چې هغه مستقبلي شیان دي هغه دې په ماضي کې مؤثر شي) د همدې امله په علمي توګه د نړۍ د حوادثو په بیان کې د غائي اسبابو لپاره هیڅ ځای نشته.

له دې وروسته وایي : د ډاروین کار په دې اړه ډیر مؤثر او قطعي وه، په علم حیاتیات (بیالوژي) کې د ډاروین تأثیر په فلکیاتو کې د ګالیلو او نیوټن د تأثیر سره برابر دی، او دا ځکه چې مخکې دا عقیده حاکمه وه چې هغه حیوانات ژوندي او باقي پاتې کیږي چې د چاپیریال سره برابر

---

( ١) الدين والعقل الحديث، ص ١١٨.

( ١) اثر العلم في المجتمع، برتراند رسل ص ٣٣.

کړی شي، او د چاپیریال سره د ژوو ځان برابرول د الله تعالی د ارادې او عنایت پورې تړل کیدل (یعنې په غائي توګه تفسیر کیدل) د رسل له نظره به دا تفسیرات ډیر ځله عجیب او غریب هم ؤ، مګر د رسل له نظره ژوو ته د ډاروین میکانیکي تصور او (التنازع علی البقاء) او (البقاء للأصلح) نظریو د غائي تبریر او الهي ارادې پرته موږ ته د چاپیریال سره د ژوو د ځان برابرولو تفسیر را په ګوته کړ،

د همدې امله (چې دا نظریات غائي تفسیر له منځه وړي، او میکانیکي توضیح او تفسیر ممکن ګرځوي) د ډاروین د ارتقاء فکر ډیر خلک مني سره له دې چې د پیدایښت د کیفیت په اړه د هغه له نظریاتو سره مخالف هم دي[1].

## ج: د ماورائی تفسیراتو له منځه تلل او د الله تعالی حذفول

د کائناتو د میکانیکي او ماشیني تفسیر چې د تجربوي علومو روح دی، منطقی نتیجه دا ده چې ما وراء الطبیعي تفسیرات او ورسره د خدای تصور هم له منځه ولاړل. او دا ځکه چې کله تجربوي علم دې نتیجی ته ورسیده چې د هیڅ طبیعي پدیدې په تفسیر کې باید د غايي تعلیل څخه کار وا نه اخیستلی شي، او په عین حال کې یې دا هم و پتېیله چې باید یوازې د فاعلي عللو په رڼا کې تفسیر او تبیین کړی شي،

---

(1) اثر العلم فی المجتمع برتراند رسل ص ۳۳-۳۴.

او له بلی خوا نه یې دا هم ثابته اومتعینه ده چې فاعلي علت یوازې او یوازې په طبیعي قوانینو او حوادثو کې منحصر دی نو آیا په داسې یو تصور کې د الله د وجود لپاره کوم ځای پاتې کیږي؟ .

لکه مخکې مو چې وویل په پیل کې ګالیلو او بیا نیوټن سره له دې چې د فلکي اجرامو د حرکت په اړه دا عقیده درلوده چې دا د طبیعي قوانینو سره سم حرکت کوي، مګر د لومړي ځل لپاره د دې په حرکت راوستلو کې د الله تعالی په موجودیت قائل وه، همدا راز د دې فلکي اجرامو او سیاراتو د خپل مسار او لارې څخه د انحراف په صورت کې هم دوی دا نظر درلود چې د الله تعالی د تدخل په نتیجه کې خپل مسار ته بیرته راګرځي، مګر بیا وروسته لاپلاس له دې څخه هم یو ګام وړاندې ولاړ او د دې قائل شو چې لکه څنګه
چې الله تعالی د کائناتو په بقاء کې کوم رول نه لري همدا راز د هغې په پیدایښت کې هم رول نه لري، څکه د هغې له نظره د سیاراتو منځ ته راتلل د سحابي فرضیې په نتیجه کې ممکن دي، همدا راز سیارات په خپلو کې د حرکت د یوې اوږدې دورانیې په ضمن کې یو د بل مسار او د لارې انحراف سموي نو له دی امله د الله تدخل ته اصلا اړتیا نشته، او نه د الله د وجود فرضیې ته اړتیا شته، په دې توګه د کائناتو په حوادثو او پدیدو کې د الله او هر ډول ما ورائي قوت مداخله له منځه ولاړه، څکه ټول طبیعي حوادث په ځنځیري شکل یو د بل سره په داسې شکل تړلي دي چې مخکیني د ورستنیو لپاره د علت او سبب حیثیت لري او روستني د مخکینیو لپاره د مسبب حیثیت لري، او دا اړیکه داسې منظمه او همیشه تکراریدونکې ده چې د یو حتمي او قطعي قانون شکل یې اختیار کړی

دی، په دې معنی چې په هر ځای او هر وخت کې دا سبب موجود شي نو د مسبب موجودیدل ورسره حتمي( ) دي.

ولتر ستیس وایي :" *والمعتقد العلمي الذي يقول: إن أية ظاهرة مهما تبدو غامضة لا ينبغي تفسيرها عن طريق أسباب فوق الطبيعة، وقد تجمدت في فكرة "المطلق" منذ عصر نيوتن، فلا ينبغي أن يكون هناك استثناء للقانون العلمي في أي مكان، و أصبح من الإجراءات المقررة في العلم أن أية ظاهرة نعجز الآن عن تفسيرها بالقوانين الطبيعية فلا بد أن نقول أن هذه القوانين تظل مع ذلك موجودة، و ينبغي البحث عنها*"( ).

د نیوټن د زماني نه تر اوسه پورې دې عقیدې چې هیڅ پدیده ـ هرڅومره چې عجیبه او غریبه هم وي ـ باید د ما وراء طبیعي اسبابو محصول و نه ګڼلی شي او نه د ما وراء الطبیعي اسبابو په بنسټ تفسیر کړی شي، د یوې مطلقې او قطعي عقیدې شکل اختیار کړی دی، له دې امله د علمي منهج کار دا دی چې د طبیعي قوانینو څخه د هیڅ ډول استثناء منلو ته تیار نه شي، که چیرې کومه داسې پدیده وجود ولري چې موږ د هغې د مادي او طبیعي تعلیل او تفسیر توان ونه لرو د هغې په اړه دا عقیده ولرو چې د هغې به طبیعي اسباب وي او باید د هغې په لټه کې واوسو.دا قانون یوازې په فلکیاتو کې منحصر نه دی

( ۱) ساینس پوهان اوس دا حتمیت یوه خرافه او بې اساسه خبره بولي، او وایي چې هیڅ قانون حتمي نه دی، په دې اړه به وروسته کله بحث وکړو، خو دلته دومره ویل غواړو چې په دې خبره چې کوم څه ولاړ وي هغه بې اساسه دي، څکه اساس یې متنازع دی.

( ۱) الدين والعلم الحديث، ولتر ستيس، ص ۱۱٤.

بلکې دا د معرفت په ټولو څانګو کې جاري دی، دا په تفصیل سره جون هرمان راندل ذکر کړی دی( ).

د دې معنی دا هم ده چې انسان د دوی له نظره اصلا باید په دې اړه فکر و نه کړي چې دا کائنات اصلا له کوم ځای نه پیدا شوي دي، ولې منځ ته راغلي دي، ځکه دا ما ورائي تفسیراتو ته لاره هواروي، او دا ډول سوالونه اصلا د انسان لپاره ګټور نه دي( )، ددوي له نظره انسان یواځې باید په دی فکر وکړي چې دا کائنات څنګه د ځان تابع کړي، او څنګه ترې استفاده وکړي، همدا ګټور سوال دی او فایده پرې مرتبیږي، همدا تصور وه چې په اوسنی زمانه کې یې د نفعي الحادي فلسفې د رامنځ ته کیدو لپاره لاره هواره کړه. طبعا د دې معنی دا هم ده چې هر ډول معجزات او خارق عادت شیان چې په دیني نصوصو کې وارد شوي دي د دې قانون له مخې ټول نادرست او مردود دي، ځکه هغه ټول په ما ورائي تعلیل باندې ولاړ دي.

## د: د اخلاقو نسبي کېدل او د ارزښتونو له منځه تلل

( ۱) تکوین العقل الحدیث ج ۲ ص ۲۷۹، ج ۲ ص ۱۰۹-۱۵٦.

( ۱) خو حقیقت دا دی چې دوي دی سوالونو ته خواب نه لري، ځکه دی ډول سوالونو ته بی معنی سوالونه وایي، چونکه ټول هر څه ددوي له نظره ماده ده نو د هغی په اړه باید دا سوال مطرح شي چې ددی څخه څرنګه ګټه پورته کړی شي.

د طبيعت ګرايي چې د علم ګرايي په نتيجه کې رامنځ ته شوه، د دې يوه بله نتيجه دا شوه چې د اخلاقي ارزښتونو مرجعيت د دين او الله نه انسان ته منتقل شو، او دا ځکه چې د علم ګرايي د تصور سره سم کله چې خداى د دې کائناتو په حوادثو او پديدو کې هيڅ ډول دخل نه لري نو انسان هم د دې قاعدې څخه مستثنى نه دى، ځکه چې انسان هم د دې کائناتو د طبيعي پديدو څخه يوه پديده ده، هغه هم د دوى له نظره د يو ماشين په څير عمل کوي، د هغه د تعامل لپاره هم هيڅ ډول غايي تفسير لټول په کار نه دي، د هغه تعامل او اخلاق هم بايد د نورو پديدو په څير د ميکانيکي قواعدو او طبيعي اصولو او فاعلي عللو په بنسټ تفسير او توضيح کړى شي، که کوم ارزښت او غرض هم په نظر کې نيول کيږي نو بايد د همدې اصولو په بنسټ په نظر کې ونيولى شي.

له بله پلوه طبيعت هم يو ماشين او د عللو او اسبابو يو ځنځيري سلسله ده، هغه هيڅ کله د انسان لپاره د هدف او ارزښت مصدر نشي ګرځيدلى، او څوک چې د طبيعت نه د ارزښتونو د تاکلو توقع لري هغه په حقيقت کې د واقعيت او ارزښت ترمنځ تميز نه شي کولى.

له دې امله د علم ګرايي له نظره انسان بايد پرته له دې چې د دين تعليمات او مادي پديدې په نظر کې ونيسي د خپل ځان لپاره ارزښتونه، اصول، مبادئ او اخلاق د خپلو فردي او اجتماعي ژوند د تجربو په رڼا کې وټاکي، او څرنګه چې دا تجارب تغيير مومي او وخت تر بله او شخص تر بله بدليږى
رابدليږي، همدا راز ګټه او تاوان تغيير مومي، نو له دى امله اخلاق او ارزښتونه هم همداسې د اوښتون په حالت کې دي او نسبي دي.

دکتور عبد الوهاب المسیري په خپل یو ډیر جالب کتاب (العلمانیة الجزئیة والعلمانیة الشاملة) کې دا په جالب عبارت کې توضیح کوي چې د طبیعت گرایي په نتیجه کې انسان د غربي تمدن له عقیدې او نظره څنگه انساني ارزښتونه له لاسه ورکوي او د یو مادي او طبیعي پدیدې سره مشابهت پیدا کوي او همدا عقیده او نظر د اخلاقي ارزښتونو په نسبیت باندې منتج کیږي، هغه وایي :"*أولى المصطلحات الوصفية هو مصطلح "التطبيع" (Naturalize) بمعنى رد الظواهر إلى الطبيعة/المادة أو القانون الطبيعي باعتباره مرجعية نهائية كامنة وقانونا عاما يسري على كل من الطبيعة المادية والطبيعة الإنسانية لايفرق بين أحدهما والآخر. والتطبيع يفترض أن ثمة وحدة كاملة بين العلوم الطبيعية والعلوم الإنسانية، و أن الإنسان جزء لا يتجزأ من الطبيعة، رغباته طبيعية (أي مادية) و معرفته تتلخص في اكتشاف قوانين الحركة أو الطبيعة/ المادة (وهي القوانين التي تؤكد وحدة الطبيعي/المادي بالإنساني وتساويهما). إن ما يحكم الإنسان والطبيعة هو القانون الطبيعي، والإنسان إنسان طبيعي، و لهذا ليست له مكانة أو منزلة خاصة في النظام الطبيعي، إذ أن الطبيعة/ المادة لاتعرف هدفا أو غاية، والنزعة الطبيعية (Naturalism)هي القول بأن الإنسان إن هو إلا كائن طبيعي تحركه غرائزه الطبيعية، و سائر مكوناته الحضارية والإنسانية التي تفصله عن عالم الحيوان والطبيعة ما هي إلا قشور سطحية لا علاقة لها بالجوهر الإنساني*"[1].

---

(1) العلمانية الجزئية والعلمانية الشاملة، ج١ ص ١٢٩- ١٣٠، الدكتور عبد الوهاب المسيري، طبع دار الشروق، الطبعة الأولى عام ٢٠٠٢م، القاهرة مصر.

دکتور عبد الوهاب المسيري د غربي تمدن هغه اصطلاحات ذکر کوي چې د دې تمدن ځانګړتياوې را په ګوته کوي، هغه وايي : د دې وصفي اصطلاحاتو (هغه اصطلاحات چې نقدي نه دي بلکې يوازې غربي تمدن په خپل اصلي شکل معرفي کوي) څخه لومړی اصطلاح تطبيع (طبيعي کول ) چې په انګليسي کې ورته (Naturalize) و يل کيږي، چې معنی يې دا ده چې ټولې پديدې طبيعت/مادي يا مادي قانون ته راجع کړی شي په دې اعتبار چې دې ( طبيعي قانون) ته نهائي او بشپړ مرجعيت حاصل دی، او دا يو داسې عام قانون دی چې مادي طبيعت او انساني طبيعت دواړو باندې تطبيقيږي، او په دې دواړو کې هيڅ فرق نه کوي، د تطبيع (طبيعي کول ) په مفهوم کی دا هم شامل دي چې د طبيعي علومو او انساني علومو ترمنځ بشپړ يووالی قائم دی، او انسان د طبيعت/مادې يو نه بيليدونکې جزء دی، د دې (انسان) رغبتونه طبيعي (مادي) دي، د دې معرفت او علم په دې کې را خلاصه کيږي چې د حرکت او طبيعت/مادي قوانين کشف کړي (او دا هغه قوانين دي چې په دې تاکيد کوي چې مادي/طبيعي شيان او انسان بالکل يو شی دي او هيڅ فرق پکې نشته) په انسان او طبيعت باندې چې کوم قانون حاکم دی هغه طبيعي قانون دی، او انسان طبيعي/مادي انسان دی، د همدې امله دا (انسان) په مادي/ طبيعي نظام کې کوم ځانګړی ځای نه لري، او دا ځکه چې ماده/طبيعت هيڅ کوم هدف او غرض و غايت نه پيژني، او طبيعت ګرايي (چې په انګليسي کې ورته (Naturalism) وايي ) د دې معنی په دقيقه توګه همدا ده چې انسان يو مادي/ طبيعي موجود دی، د هغه طبيعي غريزې هغه په تحرک راولي، او هغه ټول تمدني او انساني

عناصر چې هغه د حیوان څخه انسان جلا او متمیز کوي (چې اخلاقي ارزښتونه روحي اړخ هم د همدې جملې څخه دي) هغه سطحي او بی معنی شیان دي او د انساني جوهر او حقیقت (چې هغه مادي/تطبیع دي) سره کوم تړاو نه لري.

له دې وروسته دکتور عبد الوهاب المسیري د غربي تمدن یو څه نور اصطلاحات په ګوته کوي چې هغه د دې تکمله ده، چې د هغې جملی څخه د نمونی په توګه یو یې(التعاقدية) دی، د (التعاقدية) کلمه په حقیقت کې د انګلیسي کلمې (contractualization)ترجمه ده، چې لفظي معنی خو (تړوني تعامل) دی، او مفهوم یې دا دی چې د انسانانو ترمنځ د ترحم کومې اړیکې دي هغه د مادي ګټې او تاوان د دقیقو حساباتو لاندې نه راځي، د همدې امله دا مبهمې اړیکې دي، دا باید په منضبطو تړوني اړیکو باندې بدلې شي، چې هغه د راکړې ورکړې او تعامل قابلې شي، د دې وجه همدا ده چې غربي تمدن ټولې نړۍ ته د یو بازار په سترګه ګوري چې انسان هم د دې بازار د مادي توکو څخه یو توکی دی، دا توکي هم باید د هغه تعامل لاندې راشي چې په بازار کې د نورو توکو سره کیږي .

د همدې امله چې غربي تمدن انسان ته د یو مادي توکي په حیث ګوري لکه څنګه چې د دې مادي توکو په اړه قوانین بدلیږي را بدلیږي همداراز دلته هم ښه او بد بدلیږي را بدلیږي، په دې اړه یو غربي مفکر (توماس هوبز) چې د ګالیلو هم عصر وه، وايي : "*کل إنسان من جانبه یمسي ما یسره و یبهجه خیرا، و ما یحزنه شرا، و بمقدار ما یختلف کل إنسان عن غیره في التکوین فإنه یختلف عنه أیضا فیما یتعلق بالتفرقة*

*العامة بين الخير والشر، فليس هناك ما يسمى بالخير المطلق منظورا إليه بغير علاقة بأحد... فنحن نطلق كلمة الخير أو الشر على الأشياء التي تسرنا أو تحزننا"* [٢].

هر انسان له خپله پلوه څه چې هغه ته ښه ښکاري او خوند ورکوي، هغه ته ښه وايي، او څه يې چې غمجن كوي هغه ته بد وايي، په هر اندازه چې يو انسان د بل سره په شخصيت او جوړښت كې فرق ولري په هماغه اندازه د ښه او بد ترمنځ په عامه توګه فرق كولو كې يو له بل څخه توپير لري، د دې نسبيت په نظر كې د نيولو څخه پرته كوم شى د مطلق خير په نوم وجود نه لري... نو موږ د ښه او بد اطلاق په هغه څه كوو چې موږ خوشحاله كوي او يا مو غمجن كوي.

همدا مفهوم برتراند رسل د خپل كتاب (اثر العلم فى المجتمع) په شپږم درس كې د (المحاضرة السادسة العلم والقيم) تر عنوان لاندې په تفصيل سره د ثابتولو كوښښ كړى دى، هغه د دې كوښښ كوي چې دا ثابته كړي چې د اخلاقياتو او ارزښتونو په اړه د نفعې فلسفې (پراګماتيزم) تصور درست دى، هغه په پيل كې وايي : (*أما من كانوا أكثر راديكالية بين الفلاسفة الفرنسيين، ولكونهم في خلاف مع الكنيسة، فكان لهم وجهة نظر أخرى، فهم لم يعترفوا بأن القوانين تحتاج إلى منزل للشرائع، كما فكروا أيضا أن القوانين الطبيعية تستطيع توضيح سلوكية الإنسان، وقادهم ذلك إلى المادية وإلى نكران المشيئة الحرة، و تضمنت*

---

(١) الدين والعلم الحديث، ص ٤٩.

*وجهة نظرهم أن ليس للكون غاية، و أن الإنسان قضية اعتراضية غير ذات دلالة*"[٣]. په دې عبارت کې رسل وايي چې راديکاله فرانسوي فلسفيان څرنګه چې د کليسا سره په اختلاف کې ؤ، نو د هغوى بيله رايه وه، نو هغوى د دې قائل نه ؤ چې قوانين هم د شريعت کوم نازلوونکي ته اړتيا لري، همدا راز هغوى فکر کاوه چې طبيعي/مادي قوانين د انسان سلوک تفسيرولى شي، دې تصور اوعقيدې هغوى په مادي ګرايي، او د يوې ازادې ارادې په انکار باندې قائل کړل، دوى په دې هم قائل ؤ چې د دې نړۍ کوم هدف، غرض اوغايت نشته، او دا چې د انسان قضيه يوه وقتي قضيه ده کوم تميز نه لري. يعنې انسان او ټول مادي موجودات يو حيثيت لري.

همدا د اوسنيو فلسفي او فکري مذاهبو رايه او عقيده هم ده استاذ بوشنسکي د خپل کتاب الفلسفة الأوربية المعاصرة په دويم باب کې چې د معاصرو مادي فلسفو د پيژندلو لپاره يې ځانګړى کړى دى وايي : "*وهم طبيعيون لأنهم لا يرون في الإنسان إلا جزءا من كل، هو الطبيعة، و ينكرون بصفة عامة أن يكون الإنسان كائنا مميزا على الكائنات الطبيعية الأخرى*"[ ]. دا ټول فلسفي مدارس طبيعت ګرايان هم دي ځکه چې دوى انسان د طبيعت يوه برخه او جزء ګڼي، او د دې څخه انکار کوي چې انسان د نورو مادي کائناتو څخه کوم ځانګړى او متميز موجود وي.

---

( ١) العلم والمجتمع، برتراند رسل، ص ١١٣، ترجمه صباح صديق الدملوجي.

( ١) الفلسفة الأوربية المعاصرة ص ٦٩.

# دریم: د انسان په اړه د غربي تمدن تصور او عقیده

اوسني غربي تمدن د انسان په اړه دوه متضاد تصورات لري، د دې دواړو تصوراتو بنسټیز هدف دا دی چې هر ډول ماوراء طبیعي تصوراتو ته خاتمه ورکړي او انسان د هر څه محور وګرځوي، له یوې خوا غربي تمدن او د دې تمدن فکري قائدین غواړي چې انسان د دې کائناتو مرکزي نقطه وګرځوي، او د هر څه محور یې جوړ کړي، هر ډول ازادي ورته ورکړي، او وایي چې انسان د هر څه لپاره مقیاس او معیار دی، او د خپل ځان لپاره مرجعیت هم همدا انسان پخپله دی، او دا د دې لپاره کوي چې د دې په ذریعه د الله تعالی د مرکزیت تصور له منځه یوسي، انسان د هر ډول دیني سلطی څخه ازاد کړي، او دې ته یې وهڅوي چې د هر څه په باره کې د انسان انګیرنه او فیصله نهائي فیصله وبولي.

او په عین حال کې غواړي چې انسان داسې یو مادي او طبیعي توکی معرفي کړي چې د نورو طبیعي توکو او موجوداتو سره هیڅ توپیر نه لري، په دې هم هغه مادي او طبیعي قوانین تطبیقیږي چې په نورو شیانو تطبیقیږی، بیا هلته انسان یو بُعدي موجود ګرځي، د انسان یو بُعد وي او هغه همدا مادي/ طبیعي بُعد او اړخ، روحي اړخ اصلا د دوی له نظره وجود نه لري، هلته بیا داسې نه وي چې د جسد لپاره بیل قوانین

وي او د روح او نفس لپاره بیل، د انسان ماضي، حاضر او مستقبل د همدې طبیعي/ مادي قوانینو په رڼا کې تفسیر کیږي، د انسان لپاره مرجعیت همدا مادي قوانین ګرځي( )، دا هم ددې لپاره کوي چې دا تصور له منځه یوسي چې الله تعالی دا انسان د یو متمیز مخلوق په حیث د خپل عبادت لپاره پیدا کړی، او نور مخلوقات یې ددې د استعمال او فائدې لپاره پیدا کړي دي، نو بناء هلته یو خالق شته د هغې د هر شي په خلقت کې یو حکمت شته، دا تصور چونکه د الله تعالی په موجودیت منتج کیږي، او دې نتیجې ته رسیږي چې الله تعالی انسان د خپل عبادت لپاره پیدا کړی دی نو دا عبادت او دخلقت غرض باید د وحي څخه واخیستل شي او انسان باید د هغې سره سم خپل ژوند عیار کړي، ددې نتیجې څخه د تیښتې لپاره غربی تمدن د انسان په اړه دا نظر غوره کوي چې انسان هم د نورو مادي توکو په څیر یو توکی دی، له هغوي څخه هیڅ توپیر نه لري، په هغې هماغه قوانین تطبیقیږی کوم چې په نورو مادي موجوداتو تطبیقیږي، نو ویلی شو چې غربی تمدن د انسان په اړه خپل افکار په دوو انتهاګانو بناء کړي دي، او یواځې ددې لپاره چې انسان د الله تعالی د رالیږلي شریعت باندې د التزام څخه لیرې کړي، دا دوه متطرف نظریات په لاندې ډول دي:

---

( ۱) العلمانية الجزئية والعلمانية الشاملة ج۲ ص

لومړی: د هیومانیزم د نظریې په بنسټ انسان د هر څه لپاره محور گرځول، بلکه انسان د الله تعالی پرځای د کائناتو مرکز گرځول، او په دی توگه د الوهیت د تصور څخه تښتیدل او ددی عقیدی له منځه وړل.

دوهم: انسان د یو مادي توکی په حیث پیژندل چی هیڅ ډول روحی او ما وراء الطبیعی اړخ نه لري او باید د یو مادي توکی په څیر ورسره تعامل وشي، او طبیعت د کائناتو مرکز وگرځول شي، او په دی توگه د الوهیت او هر ډول ماوراء الطبیعی عقیدی څخه ځان خلاص کړی شي.

## أ: د هیومانیزم نظریه

د الله د مرکزیت له منځه وړل او پرځای یی د انسان د مرکزیت تصور رامنځته کول او په دی توگه د ماوراء الطبیعی عقیدی د تضعیفولو په اړه د غرب دا تصور د هغه خوځښت په ضمن کې په ډیر څرگند شکل مخ ته راځي چې په غرب کې د (Humanism) په نوم یادیږي، چې لفظي معنی یې انسان گرایي، یا انسان محوري ده، یعنې هر څه باید د انسان په محور باندې را وڅرخیږي، د انسان گرایي یا انسان محورۍ د تاریخ په اعتبار سره دوه ډولونه دي، لومړی: د رینسانس د زمانې هیومانیزم چې د څوارلسمې پیړۍ په دویمه نیمه کې په ایټالیا کې راپیدا شو او په عامه توگه یو ثقافي خوځښت وه، چې بنسټیزه موخه یې د پخواني یونان ثقافت راژوندي کول ؤ، سره له دې چې دا هیومانیزم په

ورستیو پیړیو کې ډیر مؤثر وه او په فکري لحاظ یې په نړۍ ژورې اغیزې پریښې دي مگر په مستقیمه توگه زموږ د بحث سره تړاو نه لري ځکه نو د هغې په اړه په تفصیلاتو کې نه ننوځو، دویم ډول هیومانیزم د نوې زمانې هیومانیزم په نوم یادیږي، دا خوځښت چې د نوي علمي (ساینسي) خوځښت سره سم په اوولسمه پیړۍ کې پیل شو او تر اوسه پورې جریان لري او تر ټولو مؤثر خوځښت بلل کیږي، موږ به د همدې هیومانیزم په اړه څه څرنگندونې وړاندې کړو ځکه د انسان په اړه د اوسني غربي تمدن د عقیدوي بنسټونو څخه یو بنسټ همدا نظریه تشکیلوي.

## نوی هیومانیزم څه ته وايي؟

هیومانیزم د علمي بحث، فلسفې، د نړیوال لرلید او عمل په میدان کې د یو داسې عملي تگلارې او منهج نوم دی چې په انساني ارزښتونو او اهتماماتو ترکیز کوي، او د مقدس او ما وراء الطبیعي قضایاوو په اړه عقیده له منځه وړي او یا یې کم رنگه کوي او پرځای یې انسان ته بې ساری اهمیت ورکوي.

گریگ م. اپستین وايي: (هیومانیزم نن یو خوځښت، د ژوند یوه فلسفه، یوه جهان بیني او د ژوند یو منهج بللی شو)(١)، سیکولر

(١) Esptein, Greg M. (2010). Good Without God: What a Billion Nonreligious People Do Believe. New York: HarperCollins. p. 169. ISBN 978-0-06-167011-4.

هیومانیزم یوه لادینه نظریه ده چې د عقلانیت، اخلاق، او عدالت اصول تبني کوي، او په عین حال
کې په ځانګړې توګه دا ردوي او د دې نه انکار کوي چې ما وراء الطبیعي او دیني معتقدات د اخلاقو او فیصلو بنسټ وګرځي( ).

په دې توګه ویلی شو چې هیومانیزم یو داسې فکري او فلسفي نظام دی چې په بیلا بیلو میدانونو کې لکه انسان پیژندنه، معرفت پیژندنه، اخلاق، سیاست او داسې نورو کې مشخص تصورات مطرحوي، او په دی ټولو اړخونو کی انسان د هرڅه محور ګرځوي، او هر ډول ما وراء الطبیعی تصور او د الله په اړه عقیده له منځه وړي، چې په ډیره لنډه توګه د دې فکر یو څه مشخصات او ځانګړتیاوې دلته په ګوته کوو:

# ۱- د انسان پیژندنې په میدان کې د هیومانیزم عقیده

تر ټولو بنسټیزه قضیه د هیومانیزم په فلسفه کې دا ده چې انسان اصل او د هر څه محور دی، په موجوداتو کې هیڅ موجود( ) د انسان څخه کاملتر موجود نشته، د همدې امله ټول موجودات باید په یوه نه یوه بڼه د انسان په خدمت کې وي، مګر انسان پخپله د هیڅ شي په خدمت

( ۱) "Genesis of a Humanist Manifesto". Retrieved May 14, 2006.

( ۱) په دې کې الله او نور ټول موجودات شامل دي.

کې باید نه وي، یا په بل عبارت انسان پخپله اجراء کوونکی او پخپله هدف هم دی(۱).

د انسان د محوریت لپاره لاره د نوې فلسفې موجد او مشهور فرانسوي فیلسوف رینه دیکارت ( ۱۵۹۶ـ ۱٦۵۰ ) د هلو ځلو په نتیجه کې برابره

شوه، او دا په دې توګه چې په منځنیو پیړیو کې د کلیسا د استبداد په نتیجه کې د علم مصدر یوازې مقدس کتاب وه، نه یوازې دا بلکې د نورو ټولو معارفو لپاره معیار هم همدا وه، د کلیسایي معارفو په اړه چا سره د پوښتنې حق هم نه وه، نو کله چې منځنۍ پیړۍ تیرې شوې او د نوي علم (ساینس) د مقاومت په نتیجه کې د کلیسا استبداد له منځه ولاړ، د دې سره نه یوازې دا چې کلیسا خپل حیثیت له لاسه ورکړ، بلکې د دې ترڅنګ د الله تعالی وجود هم تر سوال لاندې راغی، او په دې توګه د معرفت پخواني مصادر (کلیسا، د کلیسا مشران، مقدس کتاب، همدا راز ارسطویي منطق او یوناني فلسفه) له منځه ولاړل، او نوو مصادرو لا تراوسه په ټولنه کې ځای نه وه نیولی، له دې امله د شکاکیت یوه تونده چپه راغله، چې هر څه د شک سره مخ شول، ځکه د ارسطو منطق هم له اعتبار نه ولویده او د کلیسا مقدس کتاب هم، نو دلته وه چې دیکارت د شکاکیت د له منځه وړلو لپاره د معرفت نوي اصول وضع کړل چې هغه په حقیقت کې د انسان په اصالت باندې ولاړ اصول ؤ، دا داسې اصول ؤ چې انسان او د هغه فکر او معرفت یې د ټولو حقیقتونو لپاره محور

---

(۱) بحران دنیای مجدد، تالیف: رنه گنون، ترجمه: ضیاء الدین دهشیری، انتشارات امیر کبیر، چاپ دوم، ۱۳۷۲، ص۹.

وګرځاوه، هغه له دې څخه پیل وکړ چې (زه فکر کوم نو زه موجود یم) چې په لاتینی ژبه یې کلمات دا ۋ (cogito ergo sum) د همدې امله دا د دیکارت په کوجیتو مشهوره ده، د دې کوجیتو په نتیجه کې د انسان څخه پرته د بل هر څه محوریت لکه دین، مقدس کتاب، کلیسایی تعلیمات، او سیاسي څواک محوریت له منځه ولاړ، انسان، د هغې تجربوي او عقلاني تګلاره د ټولو معرفتي میدانونو لپاره محور وګرځید، د دې تګلارې په نتیجه کې د هر چا خبره (که هغه کلیسا وي او که مقدس کتاب) د مرجعیت حیثیت له لاسه ورکړ، په پخواني کلیسایی تقلیدي تفکیر کې اصل دا وه چې انسان ځان باید د هغه تعلیماتو سره برابر کړي چې د دیني او کلیسایي مصادرو څخه هغه ته

رسیدل، مګر د دې تګلارې په نتیجه کې انسان پخپله نور د هر مصدر لپاره محور شو، اوس نو باید د معرفت نور ټول مصادر خپل صحت او سموالی د انسان، انساني تجاربو، او د انسان د عقلاني تفکیر سره د یو شانته والي په بنسټ تأمین کړي.

په همدې بنسټ په دې کائناتو او نړۍ کې د انسان هدف، د انسان معنی، او د انسان حیثیت به نور په هیڅ وجه له پخوا څخه د کومې ټاکل شوې نظریې، دین او تصور په رڼا کې نه ټاکل کیږي، بلکې د انسان تعریف، معنی او هدف به په خپله د انسان له دننه را ټوکیږي، او پخپله انسان به یې ټاکي[1].

(1) An introduction to continental philosophy by David west (1st ed., polied press) 1996, p.13.

یا په یو بل عبارت انسان په بشپړه او مستقله توګه د خدای یا نورو موجوداتو د مداخلې څخه پرته خپل ځان پیژندلی شي او حقیقت شخصا پخپله درک کولی او پیژندلی شي نو له دی امله بل څه ته اړتیا نه لري او پخپله د هر څه محور ګرځي( ).

د دیکارت نه وروسته د غربي تمدن فلسفیانو په انسان محوری کې ډیر بنسټیز رول ولوبوه، چې د دوی له جملې نه یو هم مشهور الماني فیلسوف ایمانویل کانت (۱۷۲۴ـ ۱۸۰۴) وه، کانت د خپلې انتقادي فلسفې په نتیجه کې د انسان محوره معرفت لپاره لاره هواره کړه په داسې توګه چې انسان د هر څه لپاره بنیاد او بنسټ ګرځوي( )، د دې افکارو په نتیجه کې انسان یو
نوی حیثیت او تعریف پیدا کړ، د انسان قدر او قیمت دې پورې مربوط پاتې نشو چې د الله سره یې اړیکې څومره محکمې او مضبوطې دي، بلکې د هغې د قدر اوقیمت بنسټ د نظم ایجادول، عقلاني امکانات او د هغه دنیوي ژوند وګرځید، د دې د فکر په نتیجه کې غرب دې نتیجې ته ورسیده چې د انسان هدف د الله عبادت او جنت ته رسیدل نه دي، بلکې په دقیقه توګه هغه پروګرام تطبیقول دي چې د عقل، تجربې او تخیل له لارې منځ ته راځي او د دې نړۍ پورې اړیکې لري، د همدی څخه د سیکولریزم بنسټیزه عقیده منځ ته راغله.

---

( ۱) وګوره: دریای ایمان، تالیف: دان کیوپیت، ترجمه: حسن کامشاد، انتشارات طرح نو، لومړی چاپ، ۱۳۸٦، ص ۱٦۲.

( ۱) دریای ایمان، تیر شوی کتاب ص۱٦٦.

د هیومانیزم په فلسفه کې د انسان د هر اړخيز محوريت او د خدای پرځای د هغه نصبول، او د هغه خدای چې دين يې مطرح کوي د انسان د ژوند څخه ويستل د دې لامل شو چې (سارتر) (۱۹۰۵ـ ۱۹۸۰) اصلا انسان د الله پر ځای کښيناوه، هغې اعلان وکړ: (هیومانستي فلسفیانو د خدای پرستی د منګولو څخه د ځان د خلاصولو لپاره دا ونه کړل چې د متعالي وجود تصور يوې خواته کېږدي بلکې د هغه يې پوازې نوم بدل کړ)(۱) يعنې د متعالي وجود تصور يې پر ځای پريښود يوازې انسان يې د الله پر ځای کښيناوه، او نيتشه د الله تعالی د مرګ اعلان وکړ، تر څو انسان د هغی ځای ونيسي.

## ۲- د هیومانستي فلسفې معرفتي نظريه

هیومانستي فلسفې د معرفت او د هغې د وسايلو او مصادرو په اړه ځانګړی تصور درلود، د جهان او کائناتو په پيژندلو کې په عقل غير عادي اعتماد، په هر څه شک کول، او هر څه د ردولو او باطلولو قابل ګڼل د دې فلسفې د معرفتي نظريې بنسټيزې ځانګړتياوې شميرل کيږي، طبيعي خبره ده چې دلته د عقل څخه مراد د نوې زماني عقل دی چې يوازې د مادې او طبيعت
په محدوده کې کار کوي، دلته د معرفت مصدر هغه عقل دی چې يوازې بدهيات او هغه څه مني چې د ساينسي منطق د قواعدو او اصولو سره برابر وي، دلته د معرفت مصدر حواس دي چې يوازې هغه څه مني چې د پيمايش قابل وي، او هغه تجربه د معرفت مصدر ګڼي چې ټول موجودات بايد د هغه نه تير شي، او د عاقل انسان څخه (چې د عقل،

---

(۱) Humanism, Tony Davies, (New York & London) 1996, p. 124.

حواسو، تجربي منطق، او د راجمع شوي علمي او تاریخي معرفت په سرمایه سمبال دی ) مطلوب دا دي چې ټول هغه حقائق رد کړي چې د مادي واقع څخه ما وراء وي، لکه پخوانی قصې، غیبیات، تخیلات، تقلیدي دلائل، عقائد، او مسلمات، یا په بل عبارت د دوی له نظره د معرفت مصدر یوازې ماده او طبیعت دی، دیني او تقلیدي مصادر او منابع هیڅ ډول د اعتماد وړ معرفت انسان ته نشي برابرولی( ).

هیومانستي عقل یوه ثابته ځانګړتیا دا ده چې دوی وایي : هره قضیه د امتحان وړ ده، هیڅوک یا هیڅ جهت د دې ادعاء نشي کولی چې د هغه څخه غلطي نشي کیدلی یعنې عصمت د هیچا لپاره هم ثابت نه دی (هغه که الله وي او که پیغمبر او که هر جهت) د همدې امله هره ادعاء باید د معرفت د اصولو سره سمه بحث شي که د عقل، حواسو او تجربې په معیارونو برابره وه صحیح ده که نه نو باید رد کړی شي، د همدې اصل سره سم هره داسې ادعاء چې په غیبي امورو بناء وي، یا په وحي استناد کوي د هر ډول علمي اعتبار څخه عاري ده( ).

د همدې تفکیر پر بنسټ هیومانیزم دا دعوه کوي چې انسان پخپله د دې توان لري چې دا کائنات او نړۍ وپیژني نو له دی امله د جهان په پیژندلو کې دیني مصادرو او وحي ته اړتیا نشته، او په دې اړه هغه پرمختګونو چې تجربوي علم او ساینس لرلي دي د نړۍ په معرفت کې پخپل ځان د دوی اعتماد لا زیات کړی دی، او دوی یې د دې څخه

( ۱) ددې لپاره وګورئ: العلمانية الجزئية والعلمانية الشاملة ج ۱ ص ۲۹۱، الدكتور عبد الوهاب المسيري.

( ۱) ددې لپاره وګورئ: Humanism Renaissance by John Monfasani, in Encyclopedia of philosophy (Routledge London & New York) V.4, p 529- 530.

نور هم بې نیازه کړي دي چې خپل معرفت د دیني مصادرو سره برابر کړي( ٦ ).

د دې ترڅنګ د هیومانیزم د معرفت د نظریې یوه بله ځانګړتیا دا ده چې دوی وایي : د معرفت څخه هدف دا نه دی چې انسان د جهان او نړۍ په خلقت کې پراته اسرار او رموز وپیژني، ترڅو له دې لارې انسان وغواړي د الله د ارادې او حکمت سره سم عمل وکړي او د الله تعالی هدف تر سره کړي، بلکې معرفت د دې څخه عبارت دی چې په انسان کې د مستقبل په اړه د وړاند وینې او د دې پر بنسټ د پلان ګذارۍ او په طبیعت باندې د تسلط د پیدا کولو توان او ځواک را پیدا کړي، تر څو له دې لارې وتوانیږي چې د یو زیات مطمئن او آرام ژوند زمینه برابره کړي، یعنې دا چې معرفت د یوې وسیلې حیثیت لري( ).

## ۳ – د خقلت په اړه د هیومانیزم عقیده

هیومانیزم عقیده لري چې د کائناتو په اړه هر ډول ما وراء طبیعي تصور باطل او مردود دی، لکه څنګه چې دا تصور بې معنی او مردود دې چې د دې کائناتو لپاره کوم هدف، او غرض هم شته او دا چې په دې کائناتو کې هر شی

خپل ځای لري، دا هم د قبول وړ نه ده چې په دې کائناتو کې څه شیان طبیعي او څه نور ما وراء الطبیعي وجود لري او دا چې الله تعالی د ټولو مخلوقاتو او ټولو ارزښتونو منشأ او مصدر دی، له دې امله هغه ټولې هلې

---

( ١) An introduction to continental philosophy by David west (1st ed., polied press) 1996, p.11.

( ١) همدا تیر شوی مصدر ص ١٣.

څلې چې د الله د اثبات لپاره صورت نیسي هغه غیر معقولې، نا قابل تصدیق او بی معنی هلې څلې دي( )، د الله وجود نه د مادي دلایلو په اساس ثابتیدلی شي او نه د وحي په ذریعه، ځکه چې د دې کتابونو انتقادي مطالعې دا په اثبات رسولې چې هغه ټول کتابونه چې ادیان یې مقدس بولي لکه قرآن، د یهودو او نصاراو کتابونه، د هندوانو او بودایانو او نورو ادیانو کتابونه ټول د انسان په لاس لیکل شوي کتابونه دي او د وروسته پاتې ټولنو د انسانانو تصورات منعکس کوي، له دې امله دا د دې توان نه لري چې یو ما وراء الطبیعي موجود او واقعیت ثابت کړي، له دې امله د الله، خدای او داسې نور کلمات بی محتوی او د یو څرګند مفهوم څخه عاري کلمات دي، دا کلمات کوم حقیقت نفس الأمري نه په ګوته کوي بلکې دا په انساني تجربه کې یو نفسیاتي، اخلاقي او ټولنیز رول لري، یعنې کوم حقیقت نه لري مګر انسانان پرې د څه رواني، اخلاقي او ټولنیزو اهدافو لپاره عقیده ساتي( ).

---

( ١) Toward a new Enlightenment the philosophy of Kurtz Paul, (ed. Vern L. Bullough & Timothy J. Madigan) p.50-51. دا کتاب په نټ باندې د پي ډي ایف فایل په شکل کې په لاندې آدرس موجود دی:
http://books.google.com.pk/books?id=e9OJSW5dkM8C&pg=PR13&lpg=PR13&dq=Vern+L.+Bullough+timothy&source=bl&ots=-Iz3im6H6E&sig=0_hQqbAK7LwSDk1j6OCjooTAR7w&hl=en&sa=X&ei=_QZYT66QC4fD0QXLrZzNDQ&sqi=2&ved=0CCYQ6AEwAQ#v=onepage&q=Vern%20L.%20Bullough%20timothy&f=false

( ١) همدا تیر مصدر، ص ١٨٩- ١٩٠، کورتز دا خبرې د خپل کتاب په ١٧ باب کې د (Humanism and Atheism: Exploring Similarities and Differences) د عنوان لاندې کړې دي.

له بله پلوه دوی عقیده لري چې انسان یو بُعدي موجود دی، په دې کې د روح په نوم کوم غیر مادي برخه وجود نه لري، انسان د طبیعت جزء دی، د انسان په ذهن، فکر له یو پلوه او د هغه په بدن کې د بل پلوه کوم توپیر نشته، له دې امله د انسان په اړه د بقاء، د روح د عدم فناء تصور او په دې بنسټ باندې د آخرت او معاد تصورات یوه بې بنسټه ادعا او یو مغرورانه فهم دی( ).

## ۴- د هیومانیزم اخلاقی تصور او فلسفه

هیومانیزم د اخلاقو په اړه دا عقیده لري چې اخلاقي ارزښتونه هیڅ ما وراء طبیعي مصدر او منشأ نه لري، او صرف د انساني تجربې نه سرچینه نیسي، د همدې امله د انساني تجربې نه پرته هیڅ اخلاقي ارزښت هیڅ معنی نه لري( )، د همدې امله هغه ټول ادیان چې اخلاقي ارزښتونه د الهي مصادرو څخه اخلي د دې مکتب د اتباعو لپاره د منلو وړ نه دي، دوی وایي: هغه اخلاقیات چې د حضرت موسی، حضرت عیسی او حضرت محمد علیهم السلام او نورو پیغمبرانو او مصلحینو لخوا خلکو ته رسیدلي دي د هغه وخت د غیر متمدنو ټولنو او تمدنونو سره اړیکي لري، او کیدلی شي چې د هغه وخت د خلکو لپاره د اخلاقي بصیرت لامل وګرځي مګر په نوي عصر کې د دې تصور نشي

( ۱) همدا مخکی مصدر: ۱۹۰.

( ۱) همدا پورتنی مصدر ص ۵۰.

کیدلی چې اخلاقي ارزښتونه دې د داسې فلسفو څخه واخیستل شي چې هغه په الهیاتو بناء وي[1].

په دې بنسټ اخلاقي ارزښتونه په خپله د انسان څخه سرچینه نیسي، هغه څه چې انسان د خپلو تجاربو په بنسټ مفید ګڼي هغه ښه او هغه څه چې د دې تجاربو په بنسټ ورته بد ښکاره شي هغه بد دي، نو اخلاقي ارزښتونه باید د انساني ژوند له دننه نه ولټوو نه د بهر څخه.

په حقیقت کې هیومانیزم په دې عقیده لري چې د اخلاقو منشأ د انسان خواهشات، احساسات، او عواطف دي، یعنې هر څه چې انسان ته ښه معلومیږی، هغه ورته میلان لري، هغه ښه دي او د هر څه نه چې انسان نفرت ولري هغه بد دي، د همدې امله ټول هیومانستان چې یو د هغوی څخه یو (بنتام) هم دی په دې اړه داسې وایي : (ښه یعنې څه چې انسان یی غواړي، بد یعنې څه چې انسان یې نه غواړي)[1].

له بل پلوه څرنګه چې هیومانیزم د اخلاقي ارزښتونو لپاره کامل او مطلق معیارونه نه لري بلکې معیار یې هغه خوښې او اختیار دی چې انسان یې په فردي یا ټولنیز ډول د ځان لپاره غوره کوي، نو له دی امله د دوی په نزد ارزښتونه بدلیدونکی رابدلیدونکي او نسبي دي.

---

(1) همدا مخکینی مصدر ص ۱۹۰، همدا راز د برتراند رسل کتاب اثر العلم فی المجتمع شپږم محاضره (العلم والقیم) ص ۱۱۳ .

(1) لیبرالیسم غرب، ظهور و سقوط تالیف: آربلاستر آنتوني، ترجمه: عباس مخبر، نشر مرکز، چاپ سوم، ۱۳۷۷، ص ۲۰۲، همدا خبره توماس هوبز هم کړې، وګورئ: الدین والعقل الحدیث، تالیف: ولتر ستیس، ترجمه: د. امام عبد الفتاح امام ص ۴۹.

د هیومانیزم له نظر څرنګه چې اخلاقي ارزښتونه په انفرادي یا اجتماعي توګه د انسان په خوښه ولاړ دي له دې امله دوی تصور کوي چې د دوی د نړۍ په اړه دا تصور د هغه څخه ډیر واقعي او د حالاتو سره سم دی چې ادیان یې لري، ځکه د هغوی تصور کوم علمي بنسټ نه لري او یوازې په حیله او دروغجنو امیدونو ولاړ تصور دی( ).

د اخلاقو په اړه د هیومانیزم یو بل بنسټیز اصل د شخصي ازادیو څخه دفاع ده، او دا ځکه چې د دوي له نظره انسان د ځان څخه پرته بل چا ته مسؤول او ځواب ورکونکی نه دی، او نه داسې کوم جهت شته چې هغه په څه باندې مکلف کړي، له دې امله انسان ازاد دی، انسان نه د انسان په حیث بلکه انسان د یو فرد په حیث ازاد دی، او ددوي له نظره هیڅوک او هیڅ جهت دا حق نه لري چې د انسان دا ازادي له هغې څخه سلب کړي، د ازادۍ په مفهوم کې ډیر ډولونه شامل دي، چې یو د هغوی څخه د تحقیق او بحث ازادي ده، د تحقیق او بحث د ازادۍ څرګنده معنی د هیومانستانو په نزد دا ده چې انسان په وجداني لحاظ د دینداري او بې دینۍ د تصور څخه آزاد وي، همدا راز د تحقیق په آزادۍ کې دا هم شامل ده چې یو انسان د هر څه مخالفت وکړی شي او نوی شی که هغه د هر څه( ) په خلاف وي تقدیم او وړاندې ٥

کړی شي، د دې ترڅنګ په دی کې د بیان او هنر ازادي هم شامله ده، په دې معنی چې افراد حق لري چې هر څه چې وغواړي، په هر شکل

(۱ ) Toward a new Enlightenment the philosophy of Kurtz Paul, p 53-55.

( ۱) چې په دی باب نه د عقیدی نه د کوم بل څه پابندی ورباندی وي.

یې چې وغواړي، د هر هنر له لارې یې چې وغواړي بې له کوم سانسور څخه وړاندې کړی شي، د دوی تصور دا دی چې د تاریخ په اوږدو کې په ځانګړې توګه په منځنیو پیړیو کې د کلیسا لخوا خلک د بیان د ازادی، د دیني تصور د مخالفت څخه په شدت سره منع کړل شوي دي نو اوس باید د دې څخه په شدت سره دفاع وکړی شي.

یو بل ډول آزادي چې هیومانستان یې اړینه او ضروري بولي هغه اخلاقي ازادي ده، دا هم بیلا بیلو ډولونو ته شامله ده چې د لاندې ډولونو څخه عبارت دی: د راز دارۍ او سریت ازادي، جنسي ازادي، د بالغو ښځو او سړو ترمنځ په خپله خوښه د جنسي اړیکو د لرلو ازادي، د جنسي امورو د زده کړې ازادي، د تناسل حقوق، د نسل بندۍ او ماشومانو د پیدا کولو د کنټرول ازادي، همدا راز د سقط جنین ازادي.

د کثرت ګرایي، تعدد ګرایي، تحمل پذیرۍ او تساهل قضیه د هیومانیزم په تصور او فلسفه کې محوري حیثیت لري، په دې معنی چې دوی وایي: چې باید ټولنه په چا باندې ټاکلي اخلاقي ارزښتونه تحمیل نه کړي، بلکې هر انسان باید په ټولنه کې په دې کې ازاد وي چې د کوم مانع څخه پرته چې کومه طریقه او کوم اخلاق د ځان لپاره غوره ګڼي هغه خپل کړي، اګر که دا د هغې ټولنی د ټولو ارزښتونو خلاف وي، او خلکو ته عجیبه او غریبه معلومه شي(۱).

(۱) Toward a new Enlightenment the philosophy of Kurtz Paul, 60, 194-195.

دا په ډېره لنډه توګه د انسان په اړه د غربي تمدن د هیومانیستی افکارو لنډیز وه، چې څه مثبت نقاط یې هم درلودل مګر په عامه توګه دا داسې یو تصور دی چې د تدین سره نشي یوځای کیدلی، په دې کې ډیر تصورات د ډیرو اجتماعي قوانینو او نظامونو حیثیت غوره کړی دی.

د هیومانیزم تصورات په عامه توګه د غرب په ټولو مدارسو او فلسفو او فکري نظامونو او په ځانګړې توګه په لاندې فکري مدارسو کې ځای پرځای شوي دي، بلکې دا فکري مدارس اساسا د هیومانیزم په تصوراتو ولاړ دي، او په ټولنه کې یې عملي کوي، او دا هغه فکري مدارس دي چې غرب د پخوانی کمونستي او لیبرال دیموکراسۍ دواړو اړخونو باندې دا تصورات حاکم دي:

۱. **کمونیزم:** په دې کې په ټولنیز هیومانیزم ترکیز شوی دی، او د دې برعکس په لویدیځ لیبرال دیموکراسۍ کې په انفرادي هیومانیزم تاکید صورت نیسي.

۲. **پراګماتیزم:** دا خو په بشپړه توګه هیومانیستي تصورات لري، بلکې د پروتاګوراس (سوفسطائیانو له جملې څخه وه) شعار یې خپل کړی دی چې انسان د هر څه لپاره معیار او محور دی.

۳. **پرسونالیزم:** چې انسان د ابدي حقائقو په اړه د تفکیر اهل او وړ ګڼي.

٤. **اگزیستانسالیزم یا وجودي فلسفه:** چې د انسان من حیث فرد په وجود قائل دي، دا هغه فلسفي مذهب دی چې د انساني افرادو د وجود په اصالت یقین لري، په دی معنی چې داسی نه ده چې انسان دکوم ماهیت نوم دی او بیا د هغه په افرادو کی متحقق کیږی، بلکه د انسان افراد په خپلی ټولی ازادۍ او حریت سره خپل ماهیت ټاکي، نو دا فلسفه خو په ټوله معنی یوه هیومانیستي فلسفه ده.

د نوي عصر ډیر فلسفي مذاهب او افکار د هیومانیزم په دې تصوراتو یقین لري او بلکې په عملي توګه د غرب د تمدن په بنسټ کې پراته دي.

کله چې هیومانیزم د انسان محوری خوځښت مخ ته ولاړ په نتیجه کی غربی فلسفیانو اصلا ددی اعلان وکړ چې اوس باید انسان د (الله) بدیل وګرځی، او هغه ته هغه ټول حقوق ترلاسه شي چې په دینی عقیده کی (الله) ته حاصل دي، د انسان محوری د همدی تصور په نتیجه کی نیتشه (۱۸۴۴- ۱۹۰۰) د الله (تعالی عن قولهم) د مرګ اعلان وکړ، په دی معنی چې دهغی له نظره اوس الله ددی قابل نه دی چې څوک پری عقیده ولري، او د دی لپاره چې د الله پرځای د انسان د کښیناستلو لپاره لاره هواره کړي، له دی امله به یی ویل:(که چیرته اله موجود وی، نو زه به څه شی د اله کیدلو څخه منع کړی وی)[1]، له دی امله فیورباخ (۱۸۰۴-۱۸۷۲) په دی اړه ویل: چې انسان اله دی، او یا دا چې پخپله

(1) وګوره: فؤاد زکریا، نیتشه ص ۴۰.

اله همدا انسان دی، او کله چې انسان د الله په اړه څه وایی نو هغه په حقیقت کی د خپل ځان په اړه غږیږي، ځکه آلهة د انسانی رغباتو د تجسید څخه پرته بل څه نه دي( ).

## ب - انسان یو طبیعی توکی دی

دویم: ددی ترخنګ په غرب کی د انسان په اړه یو بل نظر هم وجود لري او هغه انسان ته د یو طبیعی توکی په حیث لیدل دي، دوي په دی نظر دي چی انسان د همدی طبیعي کائناتو یوه برخه ده، په دی ټول هماغه طبیعي قوانین تطبیقیږي کوم چی په نورو طبیعی کائناتو د تطبیق وړ دي، او هر هغه څه چی انسان له نورو طبیعي کائناتو څخه جلا کوي هغه سطحي شیان دي هغه د انسان د جوهر سره هیڅ تړاو نه لري، نو له دی امله دا انسان په نړۍ کی کوم متمیز وجود نه لري، او نه ددی د وجود کوم غرض او غایت شته، له دی امله انسان باید په هر څه کی د یو طبیعی توکی په څیر وګڼل شي( ).

( ۱) همدا مخکینی مصدر ص ۱۳۱.

( ۱) دا تصور په تفصیل سره د بیلا بیلو مباحثو په ضمن کی ذکر شو.

# شپږم فصل

# ددې فلسفې پر بنسټ

# رامنځ ته شوې ټولنه

ددې لرليد په نتيجه کې څه ډول ټولنه رامنځ ته شوه؟

په غربي نړۍ کې انسان دی اوسنۍ مرحلې ته د رسیدو په لار کې د بیلا بیلو پړاوونو څخه تیر شوی دی، او کله یې چې د دی منزل په لور حرکت پیل کاوه تصور یې دا وه چې ددی په نتیجه کې به یوه داسی ټولنه رامنځ ته کړي چې انسان به پکې هر اړخیز سعادت او نیک بختۍ ته ورسیږي، یوه داسی ټولنه به رامنځ ته کړي چې د هر ډول بدبختیو او شقاوت څخه به خلاصه وي، تصور یې دا وه چې د علم په نتیجه کې به دا ټولنه داسی مرحلې ته ورسیږي چې هیڅ څه به ترې پټ نه وي، د هرڅه لپاره به پلان گذاري کولی شي، او د هر ډول بدبختیو مخه به نیولی شي، عقیده یې دا وه چې د میتافیزیکی عقایدو څخه د ځان ژغورنی، د طبیعت په اړه د نوي نظر د خپلولو، او د انسان په اړه د هیومانستي نظر د لرلو په نتیجه کې به هر اړخیز سعادت ته ورسیږي، د انسان په اړه یې تصور دا وه چې انسان دمادی موجوداتو څخه جدا یو موجود دی چې هر څه به د هغه په خدمت کې وي، هر څه کې به هغه تحکم کوي، او هغه به پخپله د هځ موجود تابع هم نه دی، بلکه هغه به پخپله د ځان لپاره د ژوند په هر اړخ کې قانون ورکونکی وي، خو هغه به د هیڅ جهت (که هغه الله وی که پیغمبر وي او که وحی او که هر بل مرجعیت) تابع نه وي.

دا د غربی نړۍ یو خواب وه او تصور یی دا وه چې دی ته به ورسیږي مگر هغه څه چې په غربی نړۍ کې واقع شول هغه بالکل ددی برعکس و، ځکه دلته یوه داسی مادی فضاء او مادي ټولنه رامنځته شوه چې په هغې کې انسان خپل مرکزی حیثیت د لاسه ورکړ، او مادې او

طبیعت مرکزي حیثیت غوره کړ، یعنی د انسان د الوهیت څخه د مادې او طبیعت الوهیت ته د انتقال مرحله پیل شوه، هغه مرحله پیل شوه چې هلته انسان مادې او طبیعت ته او د هغی قوانینو او حتمیاتو او جبری قواعدو ته غاړه کیښوده، یعنی په بشپړه توګه د مادیت په فلسفه کی د انسان د سقوط مرحله پیل شوه.

د استاذ عبد الوهاب المسیری د وینا سره سم اوسنی غربي ټولنه یو څه داسی ځانګړتیاوی لري چې د غرب ټولنپوهانو په خپلو لیکنو کی ورته اشاره کړی ده او هغه په حقیقت کی د غربی تمدن او اوسنی غربي نړۍ درست او صحیح انځور وړاندی کوي، په دی ټولنه کی د انسان حیثیت ورپه ګوته کوي، زه دلته د همدی ځانګړتیاو څخه یو څو ته اشاره کوم چې د هغی څخه دا په ډیر څرګند ډول واضح کیږی چې غربي تمدن ته انسان یواځی د یو مادي توکي په څیر ګوري، او د یو داسی موجود په حیث ورته قائل نه دی چې هغه روحي او معنوي اړخ هم لري او یواځی مادي او طبیعي قوانین پری حاکم نه دي، له دی امله ټول غربی تمدن همدا طبیعی او مادي بڼه غوره کړی ده، هلته انسان ددی پرځای چې په ماده کی تصرف کونکی وي، په دی کی تصرف کیږي، دی د مادي موجوداتو د یوی برخی حیثیت یی اختیار کړ، دا ځانګړتیاوی په لاندی ډول دي:

## لومړی ځانګړتیا: تطبیع (هر څه ته د مادې په سترګه کتل)

یو د هغه ځانګړتیاو څخه چې د غربي تمدن حقیقت څرګندوي (تطبیع) ده چې انګلیسی کې ورته (Naturalization) ویل کیږي، ددې معنی دا ده چې باید په کائناتو کې ټولې پدیدې مادې/ طبیعت یا طبیعی قانون ته وروګرځول شي، په دې معنی چې همدا مادي قانون یواځینې مرجعیت دی او یو عام قانون دی چې په مادي او انسانی دواړو طبیعتونو باندې د تطبیق وړ دی، او په دې اړه ددې دواړو ترمنځ کوم توپیر نشته، او باید هر څه ته چې په هغه کې انسان هم شامل دی باید د طبیعت او مادې په سترګه وکتل شي، (تطبیع) دا لازم ګرځوي چې د طبیعی او انساني علومو ترمنځ بشپړ یووالی وجود لري، او دا چې انسان د طبیعت یو نه بیلیدونکی برخه ده، د انسان رغښتونه طبیعی/ مادي دي، د انسان معرفت د مادې/طبیعت د حرکت د قوانینو په کشفولو کې راخلاصه کیږي (او دا قوانین هم همدا را په ګوته کوي چې انسان او ماده کې کوم فرق نشته)، په انسان او ماده باندې یو قانون چې هغه طبیعی او مادي قانون دی حاکمیت لري، نو له دې امله د غربي تمدن له نظره انسان په طبیعي او مادي نظام کې کوم ځانګړی مقام[٢] نه لري، او چونکه ماده کوم هدف او غایت نه پیژني، نو همدا راز د انسانی وجود لپاره هم کوم هدف او غایت وجود نه لري، له دې امله نیچرلیزم

---

(٢) دا د هغه تصور برعکس چې د هیومانیزم پیروانو درلود.

(Naturalism) دی ته ویل کیږي چې څوک دا عقیده ولري چې انسان یو مادي موجود دی چې طبیعي او مادي غرائز یې په حرکت راولي، او هغه ټول تمدني او انساني عناصر چې دا د نورو حیواناتو څخه جدا کوي هغه یواځې سطحي او بې اهمیته شیان دي چې د انساني جوهر او حقیقت سره کوم تړاو نه لري.

## دویمه ځانګړتیا: د نړۍ بې پره والی

د همدې تطبیع (هر څه ته مادي او طبیعت په سترګه کتلو) په نتیجه کې د غربي تمدن یو بل وصف چې د نړۍ بې پره والی (چې په انګلیسي کې ورته (Neutralization of the world) ویل کیږي) رامنځ ته کیږي، ددې مفهوم دا دی چې دا نړۍ او دا کائنات چې انسان هم د هغې یو عنصر او یوه برخه ده یواځې یو مادي او طبیعي موجود دی، دا نه کوم هدف او غایت لري او نه کوم مرکزیت، او نه د کومو دیني، اخلاقي، او انساني ارزښتونو سره تړاو لري، او نه کوم مثالیت او معیاریت وجود لري چې د هغې سره باید انسان ځان برابر کړي، نو کله چې انسان دی نړۍ ته د بې پره والي ددې مفهوم په ذهن کې د کښینولو څخه وروسته وګوري، نو هر څه ورته یو شانته مادي او طبیعي موجودات ښکاري، چې د هغې وجود نه کومه معنی او مفهوم لري او نه کوم هدف او غایت، انسان هم خپل ځان د همدې بې پرې او مادي نړۍ برخه احساسوي، چې بیا ورته ددې حق نشته چې خپل احساسات او خپل اهداف او مقاصد په نړۍ مسلط کړي، بلکه هغه ته پکار نه دي چې د نړۍ او کائناتو لخوا د مرجعیت، دیني او اخلاقي قوانینو څخه د بې پروایي

په مقابل کی د حیرت څرګندونه هم وکړي، یعنی انسان باید نړۍ ته د مادي مرجعیت په رڼا کی وګوري، او ځان هم د همدی مادي نړۍ برخه وبولي او د همدی مادي مرجعیت پرته هر ډول مرجعیت څخه ځان خلاص کړي کله یی چی داسی وکړل نو خپل بی پری توب یی د ځان او نړۍ په اړه ثابت کړ او یو موضوعی دریځ یی غوره کړ، او همدا د غربي تمدن مطلوب حالت دی.

## دریمه: تړونیزی اړیکی (Contractualization)

یوه بله ځانګړتیا چی د انسان او ټولنی په اړه د غربی تمدن اصلی څیره رابرسیره کوی د تړونیزو اړیکو یا (Contractualization) ځانګړتیا ده، ددی مفهوم دا دی چی په تقلیدي ټولنو کی د انسانانو ترمنځ د ترحم پر بنسټ ولاړی انساني اړیکی چونکه د ګټی، تاوان او راکړی ورکړی د دقیقو حساباتو تابع نه وي نو له دی امله هغه مبهمی اړیکي دي، نو پکار دا ده چی دا اړیکی په تړونیزو منضبطو اړیکو بدلی کړی شي چی هغه د راکړی ورکړی د منطق تابع وي، او د یو تړون په نتیجه کی رامنځ ته شي، دا ددی څخه سرچینه نیسي چی ټوله نړۍ باید د یو بازار او یوی کارخانی په څیر وي، لکه هلته چی هر څه د مادي قوانینو تابع وي، د هر چا ترمنځ اړیکی د تړون او عقد پر بنسټ تأمینیږي او ساتل کیږي، په ټولنه او کورنۍ کی هم په عین شکل دا اړیکي ددی مبهم شکل څخه راووځي او د راکړی ورکړ او مادي مصالحو تابع وګرځي.

## څلورمه ځانګړتیا: هر څه نه د وسیلی په حیث کار اخیستل

چونکه مادي فکر ټولو کائناتو ته د مادی په سترګه ګوري، او بل هر حیثیت یی له پامه غورځوي، بلکه هیڅ اعتراف پری نه لري، نو له دی امله په هر څه باندی مادي قانون حاکم بولي، او هر څه د همدی مادي قانون سره سم عیارول او د نړی ظروف او حالات د همدی مادي قانون سره سم جوړول غواړي او همدی ته دوي ترشید (یا د ټولنی حالات د همدی قانون په بنسټ په سمه توګه عیارول او هر څه په مادي قالبونو کی اچول) وایي، په همدی لړ کی غربي ماده پرسته نړی انسان او مادي ته په یوه سترګه ګوري، او داسی مادي توکي یی ګڼی چی د هر هدف او غرض لپاره یی انسان! (یعنی د واک او څواک او مال لرونکی انسان) استعمالولی شي، همدی ته په انګلیسی ژبه هغوي (Instrumentalization) وایي، چی معنی یی ده د انسان په شمول د هر څه نه وسیلی په حیث کار اخیستل، له دی امله په انسان او بل مادي توکي کی د غربي تمدن له نظره په دی کی هیڅ فرق نشته چی دواړه د څواکمنو انسانانو لخوا د یوی آلی او وسیلی په توګه استعمالیږي.

## پنځمه ځانګړتیا: مادي سمون یا ترشید

د انسان په اړه د غربي تمدن لرلید له هغه اصطلاح څخه هم څرګندیږي چې هغه د غربي نړۍ یوه بله ځانګړتیا بلل کیږي، چې هغې ته لکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه مادي ترشید یا مادي سمون ویل کیږي، چې د هغې مفهوم دا دی چې غربي نړۍ او غربي تمدن د ټولنی واقع او فعلي حالت د مادي قانون سره سم عیارول غواړي، چې په نتیجه کې یې یواځې مادي پرمختګ رامنځ ته شي پرته له دی چې نور ټول انسانی، اخلاقي، او دینی اعتبارات په نظر کی ونیول شي، دی کار ته (مادي ترشید) ویل کیږي، دا په دی معنی چې د مادي اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره مؤثر ترین مادي وسایل په کار واچول شي چې په کم وخت کی او په کم مصرف هغه لاسته راوړي، نو هر څومره چې وسایل بهتر وي هومره به کار په اجرایی او شکلی لحاظ سم او دعقل سره برابر وي، د همدی په نتیجه کی د (تیکنالوژیکی عقلیت) اصطلاح هم رامنځ ته شوه، چې دا هغه عقلیت ته ویل کیږي چې په تکنالوژیکي اجراءاتو ترکیز کوي او انساني اهدافو او اغراضو سره هیڅ کار نه لري، ددی ډول ترشید پایلی له دی امله درستی نه دي چې په دی کی د اهدافو، مقاصدو، غایاتو، او ارزښتونو اړخ په بشپړه توګه له پامه غورځول کیږي او یواځی په مادي پرمختګ ترکیز کیږي.

## شپږمه ځانګړتیا: په ټولنه د بیروکراسۍ او ټاکل شوو نمونو او معیارونو تسلط

د غربي نړۍ ټولنپوهان وايي چې په غربي نړۍ کې یو دوه نوري پدیدې چې د هغې ټولنو ځانګړتیاوې شمیرل کیږي (Bureaucratization) او (Quantification) دي، دا ټولنپوهان وايي چې په لویو صنعتي پرمخ تللو ټولنو کې ددې ځانګړتیاو څرګندیدل یو حتمي کار دی، او دا ځکه چې ددې ډول ټولنو مؤسسات ډیر لوی او یو بل سره ډیر نښتي او یو په بل کې سره ننوتي مؤسسات دي، چې یو له بل څخه یې جدا کیدل ناممکن دي، نو له دې امله ددې ډول مؤسساتو اداره د ټاکل شوو بیروکراتیکو نمونو او نظامونو له لارې ممکن دي، داسې نظامونه او نمونې چې په هغې کې د افرادو د ځانګړتیاو پرواه نه ساتل کیږي، (د هغه تقلیدي مؤسساتو برعکس لکه کورنۍ، قبیله چې په هغې کې د افرادو د ځانګړتیاو ډیره خیال ساتل کیږي، او هر چا سره د هغې د ځانګړتیاو په بنسټ تعامل کیږي) له دې امله دا لوی غربی صنعتی پرمختللی ټولنی چې د همدې بیروکراتیکي نظامونو او ټاکلو قالبونو په ضمن کې حرکت کوي غواړي چې انساني وګړي هم په ځانګړو قالبونو کې واچوي او د هغه بیروکراتیکی نظامونو سره یې برابر کړي چې په ټوله ټولنه حاکم دي او تسلط پرې لري، او د هغه خصوصیتونو او ځانګړتیاو څخه یې محروم کړي چې د کیفیت او انساني شخصیتونو پورې

اړیکي لري، هغه ځانګړتیاوی او خصوصیتونه چی ددی بیروکراتي نظامونو په کار کی خلل واقع( ) کوي.

ددی په نتیجه کی په ټولنه او ټولو انساني وګړو یو شکل، او یو روټین (نمط) حاکم ګرځي، یو روټین قائمیږي، او ټوله ټولنه د یو لوی ماشین او لوی ماشینی کارخانی په څیر ګرځي چی په ټولنه کی د هر وګړي لپاره وظیفه او ځای ټاکي، او په عامو حالاتو کی د دی وګړو رغبتونه او خوابونه هم همدا ټاکي، له دی وروسته دا بیروکراتیکی نظامونه یواځی ټولنیز ژوند تر اغیزی لاندی نه راولي بلکه انفرادي ژوند هم تر اغیزی لاندی راولي، او په دی توګه انساني وګړي نه په خپل ټولنیز او وظیفوي ژوند کی بلکه په خپل انفرادي او شخصي ژوند بلکه د خپلو رغبتونو او احساساتو په مستوی ددی بیروکراتي نظامونو څخه اغیزمن کیږي.

د همدی په نتیجه کی ( Technological or Technocratic Society) تکنوکراتیکی او فني ټولنو اصطلاح رامنځته شوه، د تیکنوکراتیکی ټولنی مفهوم د (Post Ideological Society) د عقیدتی او نظریاتي ټولنو څخه وروسته ټولنی د مفهوم سره تړلی مفهوم دی، ددی معنی دا ده چی اوس هغه وخت تللی دی چی ټولنی د سیاسی

( ۲) په بیروکراتی نظام کی هر وګړی مجبور دی چی ځان د هغه نظام سره برابر کړي چی د هغی لپاره په نظر کی نیول شوی دی، د تقلیدي ټولنی په څیر نه وي چی د تحرک لپاره ازاده او پراخه ساحه لري.

عقیدی او نظریی په بنسټ اداره شي، بلکه اوس باید د اقتصادي چارو لپاره د دقیقی پلان گذاری، د دفاعي چارو لپاره استراتیژیک تفکیر، او علمي څیړنو ته په پرله پسی توگه د وسعت د ورکولو او .... له لاری د ټولنی د حالاتو سمون (ترشید) او په حالاتو کی تحکم او تصرف کولو او په حالاتو د مسلط کیدلو له لاری اداره شي، په دی معنی چی اوس عقیده او نظریه انسان ته د ټولنی د اداری او په ټولنه کی د تصرف صلاحیت نه ورکوي بلکه دا پلان گذاري او علمی پرمختگ دی چی انسان ته ددی توان وربښي چی ټولنه پری اداره کړي، یواځی په خپل ټولنه کی نه بلکه په ټول مادي طبیعت او موجوداتو کی تصرف او تحکم وکړي، او دا هغه وخت ممکن دی چی انسان هر ډول عقاید، افکار او نظریات پریږدي او دی کار ته متوجه شي، نو له دی امله اصل قوت د سیاستمدارانو، د پارلمان د منتخبو غړو، بیروکراتانو او ... په لاس کی نه دی بلکه د پوهانو او فني خلکو په لاس کی دی، دی ته دوي ( Post Ideological Society) د عقایدو او نظریاتو نه وروسته منځ ته راغلی ټولنه وایي.

یو شمیر خلک خو دا د غربي ټولنی مثبت اړخ گڼي، په ځانگړی توگه هغه خلک چی ساینس او مادي قوانین د انسان د ټولو ستونزو د حل یواځنی مصدر گڼي، او ددی اړتیا نه احساسوي چی فکري او فلسفي مذهبونو او آراو ته په دی اړه رجوع وشي.

مگر یو شمیر نور خلک دا بالکل منفی پدیده بولي او دا ځکه چی فنی خلک او تکنوکراتان د اوزاري عقل (Instrumental reason)

خاوندان دی چې هیڅ ډول اخلاقی التزام نه لري او نه کلي معرفت لري، هغوي یواځې اجرائی کارونه سرته رسولی شي چې په خپل مادي سیستم کې اخلاقي او انساني ارزښتونه نه پیژني( )، لنډه دا چې تکنوکرات خو په یو ځانګړي فنی میدان کی متخصص انسان وي، مګر هر څه ته د همدی خپل تخصص له زاویي څخه ګوري، نو همیشه یی تصور جزئي وي، فنی تکنوکرات خو په خپل میدان کی ډیر ښه صلاحیتونه لري مګر د اصلي اهدافو څخه بی خبره، او د بشپړ تصویر د لیدلو څخه عاجز وي، د ټولنی د بدلون په اړه هیڅکله فکر نه کوي، ځکه د ټولنی بدلون د بشپړ تصور د درلودلو څخه پرته ممکن نه دی، نو دا ډول فنی تکنوکراتان یو ډول جامد خلک وي، د هغه په تصور هغه بسیط مادي شیان غالب وي چې په کوم کی تخصص لري، انسان سره د یو داسی موجود په حیث تعامل نه شي کولی چې په دی مادي نړۍ کی یو ځانګړی موجود دی، او د مادي اړخ ترڅنګ نور اړخونه هم لري، په عامه توګه همدا تکنوکراتان د نورو خلکو د لاسه اله ګرځي، په لیبرال دیموکراتو ټولنو کی د سرمایه دارانو، حاکمانو، لویو شرکتونو او داسی نورو د لاس اله ګرځي، او په پخوانیو سوسیالستي ټولنو کی د کمونست حزب د لاس اله ګرځیدل.

په نړۍ کی د نور تصرف (چې دوي ورته ترشید، یا د نړۍ مادي سمون وایي) او تحکم په خاطر چې په بشپړه توګه د انسان د ارادی تابع

---

( ۲) د بیلګی په توګه د اوزاري عقل خاوند خو داسی وسله په ډیر پوره مهارت سره تیاروي چې ډیر خلک په یوه لحظه کی له منځه یوړلی شي، خو پرته له دی چې دا فکر وکړي چې دا مقصد تر کومه د ارزښتونه له لحاظه او د غائی اهدافو له نظره درست او سم کار دی، دی ته موږ اوزاري عقل وایو.

وګرځي او هغه ډول تصرف پکی انسان وکړی شي او بدلون پکی راوستلی شي چی انسان یی غواړي، څه نور علوم لکه وراثتي هندسه ( Genetic Engineering) او استنساخ (Cloning) منځته راغلل چی د علم او ټکنالوجی نور تطبیقات هم په انسان صورت ونیسي، او د نورو مادي توکو څخه ډیر جلا موجود پاتی نه شي، او لکه چی په نورو مادي موجوداتو کی چی تصرف کیږي په ډیره اسانه توګه په انسان کی هم تصرف او تحکم ممکن شي.

## اومه ځانګړتیا: اوزاري عقل

د غربي نړی یوه بله ځانګړتیا چی ددی نړی هغه بشپړه مادي څیره راپه ګوته کوي یو هم د اوزاري( ) عقل (Instrumental Reason) ځانګړتیا ده، د اوازاري عقل نه مراد هغه عقل دی چی د وسایلو او اوزارو په حیث تری کار اخیستل کیږي، او په شکلي او اجرائي سویه کار کوي، او د اهدافو او مقاصدو په اړه تفکیر نه کوي، په دی معنی چی وسایل د جزئي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره په ډیر ښه شکل په کار اچولی شي پرته له دی چی ددی اهدافو په اړه فکر وکړي چی هغه د بشریت لپاره ګټور دي او که د انسان په تاوان دي، یعنی هغه عقل چی د اوزارو او وسایلو په حیث ددی لپاره تری کار اخیستل کیږي چی څرنګه ټاکلو جزئي اهدافو

---

( ۲) اوزار په پښتو کی هغه وسایلو ته ویل کیږي چی کسبه ګر تری په خپل کسب کی کار اخلي، لکه د موچی اوزار، د ګل کار اوزار او داسی نور، دلته د اوزاری عقل څخه هماغه عقل دی چی د اوزارو په توګه تری کار اخیستل کیږي.

ته د یو مادي سیستم له لارې ورسیږي او په دې توګه په مادي نړۍ او انسان کې تصرف او تحکم وکړی شي، او له دوي څخه د وسیلې په حیث کار واخیستلی شي. اوزاري عقل لاندې ځانګړتیاوې لري:

۱- هر څه ته د یوشانته والي له نظره کتل، او د شیانو ځانګړتیاوې له نظره غورځول، له دې امله اوزارې عقل په شیانو کې د یو شانته نښو او ځانګړتیاو په لټه کې وي، او هغه نښې او ځانګړتیاوې چې پدیدې یو له بل څخه جدا کوي له نظره غورځوي.

۲- اوزارې عقل د جزئیاتو د ادراک توان لري، له دې امله دا ډول عقل یوه پدیده ټوټه کوي مګر بیرته یې یواځې د یو څه بسیطو ناقصو مادي نمونو له لارې ترکیبولی شي، یعنې بیا یې په درست شکل په بشپړه توګه د ترکیب توان نه لري.

۳- انسان ته یواځې په دې نظر ګوري چې دا هم د طبیعت/ مادې یوه داسې برخه ده چې د نورو اجزاو څخه هیڅ ډول جلا کونکې ځانګړتیاوې نه لري، له دې امله انسان په بشپړه توګه د هغه قانون تابع ګڼي چې په مادي طبیعت حاکم دی.

۴- انسان ته د طبیعي او ساینسي علومو له نظره ګوري، چې یو ثابت شی دی، او یو څرګند کمیت لري، او هیڅ ډول پټ امکانیات پکښې نشته.

۵- انسان او مادي موجوداتو ټولو ته د یوې داسې مادي وسیلې په حیث ګوري چې د هر هدف د لاسته راوړلو لپاره ترې کار اخیستل کیدلی شي.

٦- د وجود اخیري او غائی هدف د ذات بقاء، برلاسې او تفوق ګڼي، له دې امله دی ته عقل ذاتی هم ویل کیږي.

۷- د همدې هدف د لاسته راوړلو لپاره اوزاري عقل په هر څه باندې مادي قواعد او قوانین تپي، او هر ډول پدیدې (هغه انسان وي او که طبیعي پدیدې) د شکلي قوانینو، قابل پیمایش قاعدو، او د حسابي او ریاضي نمونو او قواعدو تابع ګرځوي، یعنې هر ډول پدیدې د مادي سیستم او طبیعي قوانینو تابع ګڼي او د همدې قوانینو په بنسټ ورسره تعامل کوي، ترڅو په هر څه کې ورته تحکم او تصرف ممکن شي، او د خپلې خوښې سره یې عیار کړی شي. (دا د وضعي فلسفې په ضمن کې خپل اخیري سرحد ته ورسید).

## ددې نتیجه دا ده چې:

۱- اوزاري عقل د هغه اجتماعي، سیاسي او تاریخي تفاعلاتو د بشپړ سیاق او تناظر د ادارک څخه عاجز ګرځي چې د ظاهري مادي حدودو او مظاهرو څخه ور اخوا وي، بلکه د حسي جزئیاتو، او د وقتي او مادي مظاهرو تر شا د پرتو نهائي اهدافو او کلي مسایلو د ادراک څخه بالکل عاجز وي، په دې معنی چې د مادي وجود تر شا په پرتو اخلاقي او معرفتي حقایقو د پوهیدو توان نه لري.

۲- له دې امله اوزاري عقل د حاضر څخه ور اخوا په ماضي د پوهیدو او د آینده او مستقبل د تخمین قدرت او توان نه لري، په دې معنی چې اوزاري عقل چونکه د جزئیاتو سره تعامل کوي نو لاتاریخي او لازماني کلیات د هغه په حساب کې نه شته.

۳- چونکه اوزاري عقل د کلي ادراک، تاریخي بنسټونو، مستقبلي تصوراتو د فهم څخه عاجز وي، او ثابت معرفتي بنسټونه نه لري، له دې امله دا ډول عقل د اخلاقو، جمالیاتو او معرفت په اړه په نسبیت( ) کې غورځیږي،

ځکه هر څه د هغې له نظره برابر وي، نو له دې امله د بشپړ لامعیاریت حالت( ) منځ ته راځي، چونکه نور معیارونه له منځه تللی وي نو دڅې په نتیجه کې چې کوم تفکیر، معیار او سیستم چې دداسې انسان په ذهن سپور وي هغه ماده/ طبیعت، ساز وسامان، او شیان وي یعنی د هر ډول معیاریت څخه پرته د تبادل او راکړې ورکړې اړیکې معیار ګرځي.

۴ - ددې ټولو په نتیجه کې اوزاري عقل په یو شي باندې قادر وي چې هغه د امر واقع منل، د هغه حوادثو، واقعاتو او جزئیاتو سره ځان عیارول دي چې هغه ته رادمخه کیږي، یعنې په هغه باندې د تسلط، ظلم، د روتینې حالت د مسلط کیدو، د داسې انسان سره د مادي توکي په حیث تعامل، او د خپلې مرتبې او خپل حیثیت څخه د راغورځولو لپاره

---

( ۲) نسبیت مفهوم دا دی چې دا هر څه د هغې له نظره متحول او متغیرګرځي، له دې څخه هیڅ شی هم ثابت نه وي، د حالاتو او اشخاصو په بدلون سره بدلیږي رابدلیږي.

( ۲) د لامعیاریت مفهوم دا دی چې چونکه کلی معرفت معیار ګرځي د جزئی قضایاو لپاره او دا ډول عقل چونکه د کلی معرفت څخه عاجز وي نو د جزئیاتو لپاره له دې سره معیار وجود نه لري.

تیار او اماده وي، ددی معنی دا ده چی ددی په نتیجه کی په ټولنه کی د تسلط، استبداد، او د قوت او سیادت په بنسټ ولاړو اړیکو ستنی نوری لا هم ټینګیږي، او د روتین څخه وتونکی هر ډول خود جوشه ابتکاري احساسات کوبل کیږي.

۵- سره له دی چی په دی ټولنو کی عقل د خرافاتو څخه ازادي ترلاسه کوي مګر هغه پخپله بیا په یو داسی قوت بدلیدل غواړي چی ټولنه، ماده او پخپله انسان په داسی توګه د مادي قوانینو تابع وګرځوي چی هر ډول ازادي له منځه یوسي، له دی امله په غربي تمدن کی پرمختګ عکسی نتیجه ورکړه، روښنګری او روښنفکری شمولي او استبدادي حالت غوره کړ، او هغه نوګرا ټولنی چی فرد محوري یی شعار وه فرد یی د مرکزیت څخه لیری کړ، له دی امله دا ټولنی په ډیرو رسا او چټکو ګامونو د بدبختیو لور ته روانی ټولنی دي.

ددی ډول عقل په مقابل کی نقدي عقل یا کلي عقل دی چی هغه یواځی مادي وجود ته نه ګوري، له دی امله یواځی د مباشرو جزئیاتو په ادراک اکتفاء نه کوي، هغه د کلي حقیقت د ادراک توان لري، د انسان د وجود غرض وغایت او هدف پیژني، د انسان له دوافعو او امکاناتو، او د هغی دوجود د مقصد څخه باخبره او اګاه دی، له دی امله دی ته نقدي عقل او کلي عقل هم ویل کیږي.

په لنډه توګه ویلی شو چی د سیکولریزم تر ټولو لویه اشتباه دا ده چی د تخصص احترام (جزئی سیکولریزم) یی د شمولي سیکولریزم سره

ګډ کړ، او بیا یی همدا اجرائی او تخصصی تفکیر د هر څه لپاره اخیري مرجعیت وګرځاوه، که په ټولنه کی تخصص ته احترام کړ شوی وی مګر همدا جزئی تخصص (Technocracy) د هر څه لپاره مرجعیت نه وی ګرځول شوی نو شاید مشکلات دومره زیات نه وی.

## اتمه ځانګړتیا: commodification او reification او Fetishism

لومړی کلمه د سامان جوړیدنی په معنی ده چی په عربی که (تسلع) یعنی (سلعة)( ) سامان جوړیدل، دویمه کلمه د شي جوړیدنی ٦
په معنی ده چی په عربي کی ورته التشيؤ (د شي جوړیدنی) وایي، همدا راز دریمه کلمه(Fetishism) د مادي شی جوړیدل معنی ورکوي چی په عربی کی تری

په (التوثن) تعبیر کیږي، ددی دری واړو اصطلاحاتو لنډیز دا دی چی د انسان نړیوال لرلید هر څه ته، هر ډول اړیکو ته، یو اړخیز وګرځي، یواځی او یواځی ماده او مادي تعامل د هر څه محور وګرځي.

د (commodification) یا تسلع مفهوم دا دی چی سامان او د سامان تبادله د نړی، خپل ځان، د ټولنی او نورو سره د هغی د اړیکو په اړه د هغی د لرلید او تصور او عقیدی محور وګرځي، او دا خو معلومه ده چی سامان د بازار مرکزي عنصر او هغه محور دی چی بازار پری قائم دی

( ٢) سلعة هر هغه څه ته ویل کیږي چی د قیمت په مقابل کی خرڅیږي.

او تر شا او خوا یی راڅرخیږي، نو د (تسلع) او سامان جوړیدنی معنی به دا وي چی تموله نړی د راکړی ورکړی او اړیکو په اړه د بازار حیثیت غوره کړي، یعنی په هر څه د سامان سلعی او راکړی ورکړی منطق برلاسی پیدا کړي، هر څه پر همدی منطق بناء وي.

همدا راز د شي جوړیدنی (reification) مفهوم دا دی چی د انسانانو ترمنځ اړیکی د مادي شیانو ترمنځ د اړیکو په څیر وګرځي یعنی د انسانانو ترمنځ هر ډول اړیکی د ماشیني اړیکو حیثیت غوره کړي، او د انسانانو سره تعامل د هغوي څخه د وسیلی په حیث د کار اخیستلو په بنسټ ودریږي، ځکه انسان هم د نورو شیانو په څیر یو شی ګرځي لکه نور شیان چی د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د وسیلی او اوزارو په حیث په کار اچول کیږي دا هم همداسی پکا ر واچول شي.

په لنډه توګه دا چی د شي جوړیدلو معنی دا ده چی انسان د (شي) حیثیت غوره کړي، هر ډول خوابونه او تصورات یی د (شیانو) تر شا او خوا راوڅرخیږي، د مادي سطحی او د شیانو د نړی څخه د ور اخوا په اړه هیڅ تصور ونه لري، هغه انسان چی شی تری جوړ شوی وي یو اړخیز انسان ګرځي (چی یواځی مادي اړخ یی په نظر کی وي) اود شیانو سره په مادي اړخ کی رامنحصرو نمونو په رڼا کی ډیر کامیاب تعامل کولی شي مګر د انسان سره په تعامل کی همیشه ناکام وي ځکه چی انسان یو اړخیز موجود نه دی. همدا راز دا ډول انسان مطلقو مادي شیانو ته په بشپړه توګه تابع کیدلی شي، بلکه د هغی سره یو کیدلی شي او د هغی په څیر تصرف کولی شي، او همدی ته موږ مادي انسان

ویلی شو چی د مادي قوانینو سره سم خپل ژوند تیروي، همدا راز هغه دریمه اصطلاح هم همدا مفهوم افاده کوي.

په لنډه توګه ددی دری واړه اصطلاحاتو مفهوم دادی چی انسان خپل انسانیت یو اړخ ته کیږدي او په نتیجه کی د مادي شیانو، بازاري ساز اوسامان، او مادي موجوداتو په نړۍ کی سقوط وکړي، خپل هغه ځو اړخیز انسانیت چی الله تعالی په کوم طبیعت پیدا کړی دی د لاسه ورکړي، او په ماده، او له هغی په بیلا بیلو شکلونو لکه بازار، انتاج، استهلاک، دولت او نظام ... کی ذوب شي، همدا راز دا اصطلاحات دا معنی هم افاده کوي چی د انسان او مادي وجود څخه هر ډول قداست لیری کړی شي، او هر څخه د مادي قوانینو تابع وګرځولی شي، او په پای کی ټولی نړۍ او کائناتو ته چی په هغی کی هر څه شامل دي د استعمالیدونکو توکو په حیث ولیدل شي.

## نهمه ځانګړتیا: استلاب، او قالبي کیدل

د غربي ټولنو یوه بله ځانګړتیا د خپل ځان څخه بیګانه کیدل دي چی په انګلیسی کی ورته (Alienation) ویل کیږي، او کله کله تری په استلاب یا اغتراب (د خپل ځان څخه بیګانه کیدلو) باندی تعبیر کیږي، چی مفهوم یی د خپل جوهر او اصل څخه د انسان پردي کیدل دي، او د هغه مقام څخه رالویدل چی کوم مقام د هغی لپاره وړ دی، همدا راز د انسان د اصلی ماهیت او وجود ترمنځ عدم توافق ته هم اغتراب یا

استلاب ویل کیږي، چې دا په حقیقت کې په مخکې ذکر شوو درې واړو اصطلاحاتو مرتبه نتیجه ده، ځکه کله چې انسان د شي، مادي سامان، او مادي حیثیت غوره کړي نو بیا هغه د خپل ماهیت او اصلیت څخه بیگانه او پردی کیږي، د خپل ځان څخه بیگانه کیدل یا اغتراب لاندی اړخونو ته اشاره کوي:

۱- چې انسان د خپلو پټو او ژورو انساني احساساتو، او انساني اړتیاو سره اړیکې له لاسه ورکړي.

۲- چې انسان په خپل ژوند د بیروکراتی اجراءاتو د تسلط د زیاتوالی احساس وکړی، او دشخصي ژوند (Privacy) احساس کم شي.

۳- چې فرد ددی احساس وکړي چې هغه په هغه ټولنیزو دریځونو چې دا یې په منځ کې راگیر دی هیڅ ډول اغیزه نه لري.

۴- انسان په ټولنه باندی د حاکم ثقافت په مقابل کې د پردیتوب او بیگانگی احساس وکړي.

او دا هر څه په غربي ټولنه کې د یوی بلې پدیدی نتیجه ده چې هغې ته (Standardization) وایي، او معنی یې (د هر څه په یو معیار او یو قالب برابرول) دي، په دی معنی چې په صنعتي ټولنو کې هر څه د لویو ماشیني آلاتو په ذریعه منځ ته راځي، نو هر څه یو روتیني او قالبي

شکل غوره کوي، چې یو د بل سره په بشپړه توګه یوشانته والی لري، او په خپل منځ کې هیڅ توپیر نه لري، د تقلیدي ټولنو برعکس چونکه هلته هر څه په یو مستقل شکل جوړیږي، نو هر څه خپل انفرادیت لري چې د خپل جوړونکی شخه یې ترلاسه کوي.

د متمدنو غربي ټولنو په صنعتي توکو کې د روتین او قالبیت په نتیجه کې د انسانانو په عمومي او خصوصي ژوند کې هم روتین ځای نیسي، ټول ژوند د ځانګړو روتیني ظروفو د جبر لاندې تیروي، (سهار پاځیدل، د کار ځای ته تلل، ماشیني انداز کې کار کول، فارغ وخت کې یو ډول مصروفیت درلودل، ویده کیدل او بیا پاځیدل) ددې په نیتجه کې ټول انساني ژوند روتیني ګرځي، چې د اغیز لرونکو مراکزو له لوری د صادر شوو اوامرو څخه اغیزه قبلوي، د بیلګې په توګه هر څوک د مود سره سم په روتیني شکل خپل لباس هر کال بدلوي، که مود د اوږدو جامو وي خلک ټول اوږدې جامې اغوندي، او که مود د لنډو جامو وي ټول خلک په روتیني شکل لنډې جامې اغوستل پیل کوي، ته به وایې چې په پاریس کې د مود د مراکزو څخه چې هر ډول حکم صادر شي هغې ته ټول داسې تابع وي لکه یو طبیعي/ مادي قانون ته چې سر ټیټوي! هیڅ څوک یې هم د مخالفت توان نه لري.

ټولنپوهان وایي چې دا قالبیت او روتینیت یواځې په ظاهري ژوند اغیزې نه پریږدي بلکه د انسان داخلي دنیا هم تر اغیزې لاندې راولي، چې د همدې په نتیجه کې د انسان خوابونه، رغبتونه، تصورات او

ارزوګانی یو شکل غوره کوي او قالبي کیږي، د خپل ځان په اړه د انسان تصور، د انسانانو د سلوکیاتو ډولونه .. ټول یو شانته کیږي، او په دی توګه دا پدیده په ټولنه کی ژوند کونکي ټول وګړي په ظاهري او باطنی بڼه په یو څیر ګرځوي، د ټولنی او انسان په دی ډول نمطي کیدل او په یو ډول قالبونو کی لویدل د لاندی لاملونه له کبله ممکن شو:

۱- په صنعتی ټولنو کی د صنعتي او ماشیني انتاج طبیعت تنوع نه قبلوي، هر څه په هماغه یو معیاري شکل جوړوي، او د یو قالب سره سم یی تیاروي، د بیلګی په توګه د هر کال لپاره چی کوم ماډل موټر تیاریږي هغه ټول په یو معیار او یو قالب جوړ وي، داسی نه شي کیدلی چی د یو ماډل موټر وي او معیارونه او قالبونه یی بدل وي.

۲- په نوي عصر کی د تیز ماشیني ژوند اغیزی.

۳- د منځګړو مؤسساتو ضعیف کیدل او له منځه تلل هم دا پدیده پیاوړی کړه، د بیلګی په توګه (کورنی) یو فرد په خپل شخصي ژوند او وجدان په اړه د روتینیت د لاملونو د سرایت څخه ساتي، همدا راز انسان ته د صمیمیت او محبت یوه ټولنیزه فضاء او داسی چاپیریال برابروي چی د هغی د طبیعت سره سمون خوري تر څو خپل بیلا بیل اړخونه کشف کړي، د هغه ټولنیز چاپیریال برعکس چی انسان په دی مجبوروي چی د بهرنیو اغیزو تر تاثیر لاندی و اوسي او یو محدود قالب کی ځان واچوي.

۴- موږ دا ګورو چې په اوسني عصر کې انسان یو متحرک، خوځنده او نسبیت ګرا مخلوق دی، هیڅکله هم د مطلقاتو او ثوابتو سره اړیکی ساتل نه غواړي او قبلولو ته یې اماده نه دی، د تنقل (ترانسفر) تصور یې په عقل حاوي دی، همیشه دی ته اماده او تیار دی چې د یو لنډ اشعار نه وروسته خپل ارزښتونه بدل کړي، له دې امله ډیر ژر د لذت د صنعتونو او هغه اعلاناتو او

تبلیغاتو ښکار کیږي چې د ټولنی نوی صیاغت کوي او په هغه قالب کې یې اچوي چې د اعلان کونکو جهتونو د ګټو خدمت کوي.

۵- شاید د اعلاناتو او تبلیغاتو هغه شرکتونه په محددو قالبونو کې د اچول او د نمطیت په ترویج کې قاطع رول لوبولی وي چې د خلکو په اذهانو کې دا ترسیخ کوي چې د محددو قالبونو کې برابر نمطي سلوکیات او اعمال بالکل طبیعي سلوکیات دي.

٦- او شاید د نمطیت او محددو قالبونو کې د پریوتو تر ټولو اهم لامل د هغه سیکولر مرکزی حکومت وجود وي چې هغه د لویو اداري واحدونو څخه پرته بل چا سره تعامل نه کوي، او د خپلی وسی پوری ټولنیز او انسانی ژوند په مادي قالبونو کې په داسی توګه اچوي چې هغه ته پکی تصرف ممکن شي هغه ورته پلان ګذاري وکړی شي او د خپلو ګټو لپاره یې توجیه کړی شي، یعنی د هغی څخه د وسیلی کار واخیستلی شي، په مادي قالبونو کې همدی اچولو ته نمطیت وایي ځکه له دې پرته خو په انساني او ټولنیز ژوند کې تنوع وي غیر متجانس ترکب وي چې هغی څخه د وسیلی کار اخیستل ممکن نه وي.

په غرب کی د تشدد حوادث، د شرابو او مخدراتو بی اندازه استعمال او همداراز د ټولو ازادیو سره د فشحاء او اباحیت په دومره کچه خپریدل شاید د همدی نمطیت پر ضد د غربي انسان احتجاج وي چی د هغی داخلی نړی په بشپړه توګه له منځه وړي او د هغه ازادي په مکمله توګه سلبوي.

## لسمه ځانګړتیا: یو اړخیز انسان

ددی مخکی ټولو ځانګړتیاو په نتیجه کی یو داسی انسان رامنځ ته کیږي چی هغی ته (One dimensional man) یو اړخیز غیر مرکب او بسیط

انسان ویل کیږي، دا ډول انسان د اوسني یوی اړخیزی ټولنی پیداوار دی، هغه ټولنه چی یواځی یو ډول عقل یعنی اوزاري او تکنالوجیکی عقل پری تسلط لري، یو شعار لري چی هغه علمی، صنعتي او مادي پرمختګ دی، چی یواځی مادي انتاج ته اهمیت ورکوي، او یواځی د مادي پراختیا، رفاهیت او اسانتیاوی، او د مادي توکو له زیاتو نه زیات استهلاک ترلاسه کول یی هدف دی. هغه ټولنه چی وضعي فلسفه(Positivism) پری حاکمه ده، هغه فلسفه چی د طبیعي علومو معیارونه په انسان هم تطبیقوي، هغه ټولنه چی لوی لوی اداري مؤسسات پکی راپیدا کیږي چی فرد تر خپل تاثیر لاندی راولي او احتواء کوی یی، ترشید کوي یی، (شی) تری جوړوي او د خپلو هغو اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره یی وسیله جوړوي چی هغه یي ټاکی.

دا ماده پرستی ټولنی د لویو سرمایه دارو مؤسساتو تر تسلط او اغیزی لاندی وي چی د استهلاکي توکو انتاج او توزیع یی په لاس کی وي، او یواځی دا نه چی استهلاکي توکي جوړوي بلکه د خلکو رغبتونه، خوابونه او راتلونکی ارادی هم جوړوي، یعنی انفرادي او ټولنیز ژوند دواړه تر تاثیر او اغیزی لاندی راولي، دا ډول مؤسسات په انسان کی یو دویم تشویه شوی، مریض فطرت او طبیعت ایجادوی، ځکه د داسی انسان ټوله پاملرنه هغه وظیفه گرځي چی دا په کی مقرر وي (یعنی یو وظیفوی انسان گرځي) ټول خوابونه یی د استهلاکي توکو تر شا او خوا راڅرخیږي، ځانته یواځی ددی استهلاکی توکو د انتاج کونکی او استهلاک کونکی په سترگه گوري، پرته له دی چی د کوم لوړ هدف او اوچتو موخو یو ذره احساس هم ولري! او تصور یی دا وي چی د هغی د وجود اثبات د استهلاکي توکو په لاس ته راوړلو کی نغښتی دی، دداسی انسان ټول اهداف او ټول رغبتونه او ارادی د همدی استهلاکي توکو په دائره کی ترسره کیږي،
تردی چی دا ډول انسان په بشپړه توگه یو اړخیز انسان گرځي (چی په خپله هم د نور شیانو په څیر یو شی، یوه اله گرځي، او هدف او رغبت او غایت او غرض یی هم مادي شیان او استهلاکي توکي لاس ته راوړل او استهلاک کول وي) ټوله نړی یی بازار او استهلاکي توکي وي له دی پرته هیڅ بله نړی نه پیژني!.

یو غربي فیلسوف وایي: د استهلاکي شیانو لپاره په اعلاناتو او تبلیغاتو کی چی کوم انفرادي مقدمات او صیغی او شخصیتونه کارول

کیږي دا په حقیقت کی د چل څخه ډکه یوه پرده ده چی تر شا یی په جمعي توګه د استهلاکي سلوکیاتو د مسلط کولو هدف پټ دی، دا ډول تبلیغات د توکو استهلاک کونکی او استعمالونکی دی ته هڅوي چی په دی اړه د نورو تقلید وکړي، او اخیري (مود) خپل کړي، او په دی اړه اخیري خبری او اواز ته غوږ کیږدي، نو په حقیقت کی په اعلاناتو او تبلیغاتو کی دغه فردیت د انسان باطن په محددو مادي قالبونو کی د اچولو د کوښښونو لپاره یوه پرده ده، دا د انسان په ذهن کی دا ترسیخ کوي چی دا یواځی د همدی خواب دی، او دا استهلاکي توکی ددی د ذات د تثبیت لپاره ددی یواځینی او شخصي وسیله ده! چی دا صحیح خبره نه ده بلکه دا اعلان او تبلیغات په حقیقت کی ددی وسیله ده چی ددی انسان رغبتونه او خوابونه په ټولنه کی د نورو په څیر وګرځوي، په دی توګه دا لوي استهلاکي ماشین په ګردش کی پاتی کیږي.

استهلاک کونکی یو اړخیز موجود ګرځي، هغه د نورو مادي شیانو په څیر یو شی وي، ښکلی جامی په تن وي، هر هغه استهلاکي توکي استهلاکوي او کاروي چی له ده څخه یی کارول مطلوب وي، په یوه داسی ټولنه کی چی د
داخل او بیرون څخه په غیر دیموکراتیکه توګه اداره کیږي( ) او په ځانګړو مادي قالبونو کی اچول کیږي. مګر ددی ټولو سره سره انسان دا ګمان کوي چی هغه د خپلی ازادۍ څخه برخمن دی، او خپل شخصی

( ۲) د هغه لویو سرمایه دارانه مؤسساتو او تبلیغاتي وسایلو له لاری او د انسان په سلوکیاتو کی د مداخلی له لاری.

ژوند په خپله خوښه تیروي! ځکه د استهلاکي توکو په نړۍ کې د اختیار میدان ډیر پراخه دی، دا اختیار خپله ازادي ګڼي، مګر دا اختیار تر خپل شا دا بنسټیز حقیقت پټوي چې په مهمو او بنسټیزو قضایاو کې د اختیار مجال او ازادي په بشپړه توګه له منځه تللی، په مصیري، انساني او اخلاقي قضایاو کې اختیار او ازادي اصلا وجود نه لري، په داسې فضاء کې انسان ددې استهلاکي توکو د نړۍ څخه بیرون نشي وتلی او د ټولنې د نقد هر ډول توان له لاسه ورکوي، او د امر واقع سره د ځان د برابرولو او د هر موجود حالت د قبلولو او هغې ته د سر د ټیټولو لوی توان ترلاسه کوي، داسې ټولنو ته همدا فیلسوف مارکوز داسې دیموکراتیکې ټولنې وايي چې ازادي پکې نشته، یعنې داسې استبدادي ټولنې چې د ټولنې ټول وګړي یې په دې قانع کړي دي چې په ټولنه کې حاکمو تصوراتو ته د کوم زور او پولیسی فشار څخه پرته غاړه کیږدي، دلته د ټولنې د تصور سره سم هر فرد دا تصور لري چې هدف یې په مادي طبیعت کې له زیات نه زیات تحکم او تصرف کول او زیات نه زیات استهلاکي توکي انبارول دي، او همدې ته (په معقوله توګه او نرم انداز کې د ازادۍ نشتوالی وایی) چې په انګلیسی کې ورته ( Smooth Reasonable Democratic unfreedom) وايي.

همدا راز هورکهایمر د اوسني انسان داسې تصویر کشي کوی چې د مارکوز د تصویر کشۍ سره توپیر نه لري، هغه وايي: دا نوی انسان د تقلیدي ټولنو د مطلقو معیارونو څخه خو ازاد کړی شو مګر نتائج یې مثبت نه ؤ، ځکه په دې توګه دا انسان د مادي سعادت او ځان لپاره د عیش او عشرت د برابرولو څخه پرته نور د هر ډول اصولو او مبادئو څخه

بی برخی کړی شو، او د بقاء او حفظ نفس څخه پرته د هر ډول مقاصدو او ارزښتونو څخه خالی کړی شوی دی، د وسائلو پوری اړونده معیارونو څخه پرته نور د هر ډول محتوی او معیار څخه بی برخی دی، دا نوی انسان ددی څخه عاجز دی چی د هغه اختیاراتو تقویم او ارزیابي وکړی شي چی د هغی په مخکی دي او یا په هغو خرابیو پوه شی او د هغی ادراک وکړی شي چی د مسایلو د حل، او د غلطیو د تصحیح د لټولو په جریان کی رامنځته شوی، له دی امله هغه قطعا ددی توان نه لري چی د خپل ذات د تنگی محدودی او د خپل تنگ چاپیریال څخه ور اخوا تفکیر وکړی شي، دی انسان په بشپړه توگه د هر څه په اړه نقدي دید او نظر له لاسه ورکړی، هغه یواځی ددی توان لري چی ځان د هغه ټولنیزو قوتونو د غوښتنو سره سم برابر کړي چی په ټولنه تسلط لري او هغه وظیفه چی په همدی محدوده کی دی ته سپارل شوی ده د یو ماشین په څیر سرته ورسوي، همدا راز له دی سره د استهلاکي توکو ترمنځ د اختیار څخه پرته نوره هیڅ ډول ازادي نشته، هغه د ټاکلو مادي او فکري قالبونو په منځ کی حرکت کوي ددی د محتوی او نهائی اهدافو سره یی هیڅ سروکار نشته.

دی یو اړخیز انسان ته مادي انسان، اقتصادي انسان، یا جسماني انسان هم ویل کیږي، چی د مادی په دائره کی ژوند کوي او له دی دائری څخه د بیرون وتلو توان نه لري، په دی هماغه قوانین نافذ دي چی په مادي توکو نافذ دي، دا یو داسی انسان دی چی په بشپړه توگه یی هغه نقدي عقل له لاسه ورکړی چی د مادي دائری څخه بیرون فکر کولی شي، دا انسان یو وظیفوي انسان دی چی د هغه وظیفی په بنسټ یی تعریف کیدلی شي چی دی ته سپارل شوی ده، دا انسان د مادي او

تکنالوجیکي عقلیت په دائره کی روزل شوی چی له دی څخه پرته د تفکیر بل میدان نه پیژني.

دا هغه ټولنه ده چی د غربي تمدن د تسلط په نتیجه کی منځ ته راغلی، ددی ځانګړتیاو څخه په څرګند ډول دا نتیجه په لاس راځي چی هغه جنت چی انسان یی د ساینسي انقلاب د پیل له ورځو خوب لیده، او تصور یی دا وه چی انسان به د هر ډول بدبختیو څخه ځان وژغوري، په طبیعت او مادې به مسلط وي، د هر څه محور به همدا وي، د خدای د تصور د له منځه وړلو وروسته به دا د هر څه مخدوم وي او دا به پخپله د هیڅ چا په خدمت کی نه وي، مګر له بده مرغه هغه نتیجه چی اوس لاس ته راغلی دا ده چی په پورته ځانګړتیاو کی مو ولیده، انسان د خپل ماهیت څخه پردی شوی، هغه نور یو اړخیز مخلوق دی، هغی د یو مادي توکي حیثیت غوره کړی، په دی مجبور دی چی په هغه چوکاټونو کی ژوند وکړي چی ورته ترسیمیږي ... مګر ددی ټولو سره سره چونکه هغه د مادي توکو د استعمال په اختیار کی ازاد دی، له دی امله هغه د کاذبی ازادۍ احساس کوي، او همدا د خپل ځان لپاره اخیری څوکه ګڼي چی له دی وړاندی نور پرمختګ ممکن نه دی.

هغه ځوک چی د همدی مادي قالبونو په بنسټ روزل شوی وي هغه ته خو شاید همدا حالت مثالي حالت وي، او له همدی امله شاید په اسلامي نړۍ کی د همداسی یوی ټولنې د رامنځته کیدو هیله ولري، او د همدی لپاره هلی ځلی وکړي، مګر هغه ځوک چی انسان ته د نورو طبیعي او مادي توکو څخه یو داسی متفاوت مخلوق په حیث ګوري چی د مادي او جسمي اړخ ترڅنګ معنوي اړخ هم لري، هغه داسی یواځینی

مخلوق ګڼي چې الله تعالی هغی ته د عقل او ادراک قوت وربخښلی دی، هغه هیڅکله هغه حالت مطلوب حالت نه بولي چې غربي تمدن ورته رسیدلی دی، په اسلامي نړۍ کې د همدی متفاوتو نظرونو د موجودیت له امله د غربي تمدن سره د تعامل قضیې یوه متنازع حالت غوره کړی دی چې باید په دقت سره وڅیړل شي او درست دریځ غوره کړی شي، چې نه اسلامي نړۍ د علمي پرمختګونو څخه محرومه کړي او نه یې د هویت د مشکل سره مخامخ کړي.

## خاتمه:

په تیرو صفحاتو کې مو دا ولیدل چې څرنګه د حضرت عیسی علیه السلام راوړی دین د تحریف سره مخ، او بیا څرنګه همدا تحریف شوی دین د اروپا په لر او بر کې خپور شو، وروسته بیا څرنګه او د کومو اسبابو له امله د علم (ساینس) سره په ټکر کې واقع شو، او بیا ورو ورو څرنګه دا تمدن د الحاد په لور ولاړ، چې لومړی پړاو یې د طبیعي دین یا (ربوبیت) وه چې د (Deism) په نوم یې شهرت درلود، او بیا په دوهم پړاو کې د بشپړ الحاد منزل ته ورسید، په دې منزل کې چې اوس پکې د غرب تمدن قرار لري د الحاد یو بشپړ مظهر دی چې کله ورته شامل سیکولریزم ویل کیږي او کله د لیبرالیزم په نوم یادیږي، په حقیقت کې د غربي تمدن بشپړ نړیوال لرلید، جهان بیني او عقیده په هغه الحادي اصولو او متعقداتو ولاړه ده چې موږ د لاندې موضوعاتو په ضمن کې هغه په تفصیل سره یاد کړل:

١. د الله تعالی په اړه د غربي تمدن تصورات او معتقدات
٢. د طبیعت او مادي وجود په اړه د غربي تمدن افکار
٣. د انسان په اړه د غربي تمدن فکر او عقیده

د دې درې واړو موضوعاتو په ضمن کې چې د غربي تمدن کوم اصول یاد شوي دي، په حقیقت کې همدا هغه الحادي افکار او عقائد دي چې د غرب نړیوال لرلید او جهان بیني تشکیلوي، او همدا هغه بنسټ دی چې د هغه په اساس د غربي تمدن ټول عمارت ولاړ دی، هغه که فکري اړخ دی او که سیاسي او که اجتماعي، او که اقتصادي او که منهجي، په همدې بنسټ د هغوی قانوني نظام هم بنا دی، همدا بنسټ دی چې د هغه په اساس غرب د (حقوق بشر، اقتصادي نظام، ازاد بازار، سیاسي نظام او دیموکراسی، ښځو حقوق، اجتماعي اړیکو، د بحث منهج او ...) څخه خپل تصور پرې بنا کړی دی، له هغه مهمو میدانونو څخه چې غربي تمدن په کی خپل نظامونه په یاد شوي لرلید بنا کړي دي، لاندی میدانونه په گوته کولای شو:

١. **سیاسي نظام چې په هغه کې د قانون جوړوني** حق د خلکو نمایندگانو ته ورکړل شوي دی، په دې معنی چې په دې قانون جوړونه کې د هیڅ څه پابند نه اوسي، یوازې هغه څه چې د خلکو اکثریت یې وغواړي هماغه قانون، حق او درست بلل کیږي(٢)، او دا څکه چې کوم داسې الهي او ماوراء طبیعي سلطه او مصدر نشته چې انسان ته قانون وټاکي او انسان هغه قانون ومني او

(٢) په اسلامي شورایي نظام کی ټوله شوری ددی تابع وي چی د شریعت په دائره کی د جایز او ناجایز التزام وکړي، له دی وروسته که چیری بیا قوانین په مصالحو او مفاسدو بناء وي، یا په نورو اجتهادی دلایلو ولاړ وي نو هلته بیا د اجتماعي اجتهاد لاره غوره کوي، همدا د غربي دیموکراسی او په اسلامي نظام کی د شورایي نظام توپیر دی.

عملی يې کړي، نو بناء انسان ددوي له نظره په بشپړه توګه ازاد دی مګر دا آزادي يو شی محدودوي چی هغه د نورو خلکو آزادي ده، همدا راز د نورو خلکو ګټی چی کله د يو تن د ګټو سره په تعارض کی واقع شي نو بيا د شخړو رامنځته کيږي، ددی شخړو د مخنيوي لپاره انسان پخپله پر خپل ځان څه محدوديتونه ولګوي، دی محدوديتونو ته قانون ويل کيږي، چونکه ټول خلک ددی توان نه لري چی نيغ په نيغه يو د بل سره په دی محدوديتونو توافق وکړي نو له دی امله دا کار د خپل نمايندګانو له لاری سرته رسوي، او دی ته دوي ديموکراسي وايي.

**٢. د بشر د حقوقو**، د ښځو د حقوقو، د اطفالو د حقوقو او داسې نورو حقوقو په اړه د غرب تصور په همدی لرليد او الحادي فلسفی ولاړ دی، په دی کې هغه ازادي هم شامله ده چې هيڅ ډول حدود او قيود نه لري، چې په دې کې د جنسي روابطو او اړيکو هغه ازادي هم شامله ده چې د بلوغ عمر ته رسيدونکي افراد يې په خپلو منځونو کې جوړوي چې هغه د نکاح د کوم عقد څخه پرته وي او که د همجنس پرستۍ اړيکې وي، او دا ځکه چې انسان ازاد دې او د هيڅ کومې سلطې پابند نه دی، حق ورته هغه څه دی چې هغه يې غواړي او ميلان ورته لري، او بد هغه څه دي چې هغه ترې نفرت لري او نه يې غواړي، او دا ځکه چی ددوي له نظره دا نړۍ يوه مادي نړۍ ده، هيڅ کومه

ماوراء الطبیعي سلطه وجود نه لري، نو د ښه او بد معیار پخپله د انسان میلان دی، د همدی امله په دی تمدن کی یواځی د انسان د حق خبره کیږي، د هغی د مسؤولیت خبره اصلا مطرح نه ده، ځکه داسی کومه ماورائي سلطه وجود نه لري چی انسان د هغی په وړاندی د مسؤولیت احساس وکړي.

٣. **اقتصادي نظام:** د دې بنسټ هم یوازې مادي منفعت ګرځي، په لیبرال دیموکراسی کی د شخص من حیث شخص منفعت او ګټه پکې په نظر کې نیول کیږي، د ټولنې د منفعت پر ځای ذاتي او شخصي منفعت ته ترجیح ورکول کیږي، او په شمولي سیستمونو کی د ټولنی منفعت په نظر کی نیول کیږي، په دی دواړو کی هیڅ ډول توازن نه مراعت کیږي، او منفعت او ښه او بد بیا هم د هماغه معیارونو پر بنسټ ټاکل کیږي چې د غرب تمدن د خپل ځان لپاره ټاکلي دي، دلته څوک ددی پرواه نه لري چی ددوي د خپلوکړو اصولو په نتیجه کی څه ډول استحصالي او ظالمانه نظام رامنځ ته کیږي! داسی نظام چی په نتیجه کی یې غریب نور هم غریب کیږي او سرمایه د یو څو ظالمو سرمایه دارانو په منګولو کی جمع کیږي، او په شمولي سیستمونو کی د ټولواکو احزابو په لاس کی تمرکز پیدا کوي.

٤. **ټولنیزې او اجتماعي اړیکې:** دا اړیکې هم په همدې بنسټ بناء دي چې د دې تمدن له نظره انسان یوازې یو جهته او یو

اړخيز موجود دی، هغه يوازې همدا مادي اړخ لري او روحاني بُعد نه لري، له دی امله د دې تمدن په دننه کې ټولې اړيکې په همدې بنسټ باندې ولاړې دي، د اړيکو بنسټ مادي گټه او تاوان او راکړه ورکړه گرځي، د تراحم او خپلولۍ په بنسټ اړيکي چونکه غير منضبطی اړيکي دي له دی امله په داسی ټولنو کی ورته ځای نشته، همدا وجه ده چی خلک تر هغه وخته پوری اړيکي ساتي چی څه مادي فايده پری مرتبيږي، او کله چی مور او پلار او د کورنی نور غړي زاړه شي نو بيا د هغوي ځای د زړو خلکو لپاره جوړ شوي مرکزونه وي.

۰۵ **د معرفت نظريه:** په غربي تمدن کې د معرفت نظريه بالکل د هغه نظريې سره توپير لري چې اسلام يې لري او دا ځکه چې دا نظريه هم په همدې الحادي تصور ولاړه نظريه ده، دلته ټول معرفت په مادي او طبيعي نړۍ کې منحصر دی، دلته د معرفت يواځينی وسيله هم تجربه ده، او کله که د عقل خبره هم کيږي د هغې څخه مراد هغه غايي عقل نه دی بلکې د هغه څخه مراد ابزاري، يا ذاتي، شکلي يا تکنالوژيکي عقل دی چې په انگليسي کې ورته (Instrumental Reason) ويلی شي، د هغه کار صرف دا وي چې وسائل د اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره څنگه په ښه توگه استعمال شي، پرته له دې چې د هغه اهدافو په اړه پوښتنه وکړي چې هغه څنگه دي؟ مفيد دي که نه؟ د څه نه سرچينه نيسي، په دې کې د وحي او يا هم خبر صادق لپاره هيڅ ډول ځای نشته، او دا ځکه چی دا تمدن په ما وراء طبيعي موجود

باندی ایمان نه لري، کله یی چی عقیده دا شوه نو د دیني نصوصو سره یې تعامل داسی وي لکه د هر بل تراثي کتاب یا نص سره چی تعامل کوي، هغه معناګانی ورته وراغوندی چی دوي یې غواړي، په هغه شکل یې تحریفوي چی ددوي د فکر سره یو شانته شي، او په دی توګه یی د خپل نفس د غوښتنو تابع ګرځوي.

٦. **د هر څه د نقد معیارونه:** دلته د نقد معیارونه هم د همدې فکر په بنسټ ولاړ دي، په غربي تمدن کی څرنګه چې څوک د دې کائناتو لپاره په هیڅ ډول غرض، غایت او هدف قائل نه دي، دلته دا نشته چې انسان او کائنات الله د څه لپاره پیدا کړي دي، دلته د آخرت تصور وجود نه لري، دلته خلک د نسیې (پور) پر ځای د نقد معامله کوي، یعنې آخرت ته د انتظار پر ځای دا ګوري چې دلته او همدا اوس ده ته څه ګټه لري او د ګټې او تاوان معیار هم د منفعت د فلسفې (Pragmatism) پر بنسټ صورت نیسي، نو هر څه چی نقد کوي د همدی فکر په بنسټ یې نقد کوي، د هر څه ښه والی او بد والی په همدی معیار تلل کیږي چی په مادي لحاظ پری څومره ګټه او تاوان مرتبیږي.

٧. **د بحث او څیړنې تګلاره:** دلته د بحث او څیړنې تګلاره جلا ده، دلته هر څه د یوې تګلارې او منهج په بنسټ څیړل کیږي چې هغه د ساینسي علومو منهج او تګلاره ده، دلته د وضعي فلسفې (د اوجست کونت د فلسفې ) نه وروسته ټول اجتماعي او انساني علوم هم د همدې ساینسی منهج او تګلارې په بنسټ

څېرل کیږي، تاریخي حوادث او د وحي او قرآن او سنت د نقد معیارونه هم دلته هماغه معیارونه دي چې د یو انساني لیکنې لپاره تاکل شوي دي او دا ځکه چې دوی اصلا د میتافیزیک او ما وراء طبیعي موجود په وجود یقین نه لري، بناء ددوي له نظره د یو شي د اثبات لپاره دا کفایت نه کوي چې د وحي په ذریعه ثابت شي، ځکه وحي ددوي له نظره د علم او معرفت لپاره د مصدر حیثیت نه لري.

دا او داسې نور ټول حیاتي او اساسي تصورات په همدې بنسټ بناء دي، اوس سوال دا را پیدا کیږي چې د داسې یو تمدن سره چې د هغې افکار په داسې الحادي بنسټونو ولاړ وي، د هغې سره څه تعامل پکار دی؟ دا سوال سره له دې چې له ډیر پخوا راهیسې څېړل شوی هم دی، او ډیر څه پرې لیکل شوي هم دي مګر څرنګه چې تر اوسه پورې یو مطرح سوال دی، په ځانګړې توګه د افغانستان په اوسنیو حالاتو کې چې موږ پکې قرار لرو خو نور خلک ترې پنځوس او شپیته کاله مخکې تیر شوي دي، موږ ته دا سوال نور هم اړین ګرځي، او دا ځکه چې غیر عقلانی او نادرست تعامل موږ د ډیر لوی مشکل سره مخ کولی شي، د دې تعامل په اړه د الجزائر د یو ستر مفکر استاذ مالک بن نبي چې په اصل کې خو انجنیر دی مګر ټولنپوهنه یې خاصه موضوع ده، او په اسلامي نړۍ کې د استعمار او بیا د زیاتو هیوادونو څخه د استعمار د رخصتیدو حالات یې هم پخپله لیدلي، او د استعمار څخه د اسلامي امت او مسلمانو هیوادونو خلاصیدل او ترقي او پرمختګ او تمدن په لویه لار د دوی برابرول یې ځانګړې موضوع ده، داسې لیکي: (کله چې اسلامي فکر (عام مثقف

مسلمانان) د هغه صدمې سره مخ شول چې اسلامي نړۍ او اسلامي هیوادونو ته د اروپایي ثقافت د واردیدو وروسته را پیدا شوه، او د اسلامي نړۍ وګړي د هغه په مقابل کې د نقص، کمترۍ، او وروسته پاتې والي په احساس اخته شول نو د اسلامي نړۍ عام وګړي او څه مثقف خلک په دوه ډلو وویشل شول:

لومړۍ: هغه ډله وه چې د غربي فنونو، صنعتونو، غربي شیانو نه نیولې تر لباس او پوښاک پورې د غرب د هر څه د خپلولو په لور یې خلک را بلل.

دویمه ډله: هغه وه چې د کمترۍ او ضعف دا احساس یې د عزت د اظهار په پیچکارۍ معالجه کاوه او ځان یې په دې غولوه چې موږ د یو غالب او په ماضي کې د یو لوی تاریخ لرونکي امت سره تړلي یو(٢).

طبیعي مسأله ده چې دا دواړه دریځونه نادرست او غلط دي، ځکه چې نه دا ممکن دي چې د اسلامي ټولنو او غربي تمدن ترمنځ د اوسپنې داسې دیوال و درول شي چې د غرب اثرات دلته رانشي، بلکې دغه کوښښ هم د عقل څخه لیرې کار دی، همدا راز په هغه شکل چې موږ د غربي تمدن څخه د هغه افکار، نظامونه او شیان جوړ او تیار واخلو او بې له دې چې دا وینو چې د هغو بنسټ په څه باندې ایښودل شوی

(٢) انتاج المستشرقین و أثره فی الفکر الاسلامی الحدیث، مالک بن نبي، (بیروت: دار الارشاد کال ١٩٦٩م) ص ١۴.

دی او دلته د هغه تیارو او جوړو شیانو څخه د اسلامي تمدن د عمارت د جوړولو کوښښ وکړو دا هم د عقل څخه لیرې یو داسې دریځ دی چې له یوې خوا اسلامي نړۍ د خپلې ماضي نه شکوي، بیلوي، او د انفصام د حالت سره یې مخ کوي او له بلې خوا په دې توګه تمدنونه نه جوړیږي.
نو له دی امله درست دریځ دا دی چې:

لومړی: موږ د غربي تمدن څخه د هغه غیر متناسبو نظامونو، شیانو او وسایلو د اخیستلو څخه ډډه وکړو چې هغه اصلا په غربي ټولنه کې د خپل روح، د هغه تمدن د لرلید او فکري خلفیې (Back ground) څخه را شکیدلي وي، او د اسلامي امت د لرلید او عام فکري محیط سره هم متناقض وي.

دویم: او که څه ورنه اخیستل کیږي هم د هغه معنی دا نه وي چې د هغوی څخه تیار نظام او فکر واخیستل شي او دلته په عام نظام کې د ځای پرځای کولو (فټ کولو) هڅه وشي( )، بلکې باید د غرب څخه یې یاد کړو او بیا د هغه په څیر د خپلی عقیدې او لرلید په بنسټ او د هغه په رڼا کې د یو مستقل او درست نظام او تمدن د جوړولو هڅه وکړو، همدې

( ۲) په داسې توګه د شیانو راټولولو ته مالک بن نبي (تکدیس الأشیاء) د شیانو راجمع کول وایي، او په ډیر تاکید سره دا خبره په خپلو ډیرو کتابونو او لیکنو کې کوي چې له دې څخه تمدن نه راټوکیږی، بلکې له دې څخه د ډیرو زمانو په تیریدو سره شاید د تمدن یوه (مسخة) د (نسخة) پر ځای، یعنې هغه د هغه بل تمدن کاپي هم نه وي، بلکې یو مسخه شوی موجود وي چې هیڅ اعتبار نه لري.

ته مالک بن نبي په دی الفاظو کې اشاره کوي: (په کال ۱۸۵۷م(۲) کې د اسلامي نړۍ او په کال ۱۸٦۸-۱۹۰۵م د جاپان په پرمختګ او ترقي کې فرق دا وه چې د جاپان تعامل د غربي تمدن سره د یو شاګرد تعامل وه (یعنې د جاپان خلکو د غرب څخه یادول او د هغه پر بنسټ یې خپل تمدن جوړاوه) او زموږ تعامل د غربي تمدن سره د یوه مشتري (پیرودونکي) تعامل وه (یعنې اسلامي نړۍ د هغوی شیان راټولول پرته له دې چې هغه څه یاد کړو چې پر هغه د خپل تمدن ودانۍ ودروو) هغوی (جاپانیان) په تمدن جوړولو کې مصروف او مشغول ؤ او موږ د غرب د توکو او تولیداتو په اخیستلو (پیرودلو) کې مصروف ؤ(۲). که یوازې د غرب د تولیداتو (هغه که نظامونه دي او که افکار ) د راټولولو په ذریعه د خپل تمدن د جوړولو هلې ځلې جاري وساتو نو دا کار ناشونی دی، یو عجیب او غریب حالت خو به رامنځ ته شي مګر هغه به په هیڅ وجه یو متمیز تمدن نه وي.

دریم: هغه څه چې اخیستل کیږي او یا یې موږ د غرب څخه یادوو چې د هغه په څیر موږ د خپل تمدن ودانۍ جوړه کړو نو هغه باید تصفیه او فلتر شي، څکه لکه چې مو په مخکې صفحاتو کې ولوستل دا تمدن د الحاد په بنسټ ولاړ تمدن دی، د دې تر شا داسې یوه فلسفه ده چې

---

(۲) په دې کال په هند کې د انګریزي استعمار پرضد د مسلمانانو پاڅون د ناکامۍ سره مخ شو، او د همدې څخه په الهام سید جمال الدین افغاني د اسلامي امت د یووالي او د پرمختګ او ترقۍ داعیه راپورته کړه او کار یې پیل کړ.

(۲) تأملات، مالک بن نبی، القاهرة: مطبعة دار العروبة، ۱۹٦۱م، ص ۱۸۴- ۱۸۵.

زموږ د لرلید او عقیدې سره اړخ نه لګوي نو د دې عناصر پرته له دې چې فلتر او تصفیه شي ممکن نه دي چې وایي اخلو او خپل تمدن پرې بناء کړو، په دې اړه مالک بن نبي وایي : زموږ مشکل دوه ډوله افکار دي، یو ته وژونکي افکار( ) ویل کیږي چې هغه د غرب څخه د رانده تقلید په ٣
نتیجه کې تر لاسه شوي دي، دې افکارو اسلامي امت د بې نظمۍ او تخلف سره مخ کړ، او دا ځکه چې د ترقي او پرمختګ په منظور کوم وسایل د غرب څخه واخیستل شول هغه ته د فکر په ذریعه تطویر او پرمختګ ور نه کړی شو، (یعنې تصفیه پکې را نه وستل شوه) نو بې نظمي یې رامنځ ته کړه او دا ځکه چې چیرته تقلید حاکم شي هلته تفکیر له منځه ځي.

دویم ډول افکارو ته مړه افکار( ) وایي، او دا هغه افکار دي چې په وراثي شکل موږ ته رارسیدلی دي مګر هغه تصفیه شوي نه دي، که دا دواړه ډوله افکار تصفیه نه شي او د یو مسلمان عقل په بنسټ فلتر نه شي نو بیا تمدن نشي جوړیدلی، له دی امله لنډه خبره دا ده چې د تصفیې او فلتر څخه پرته افکار خپل نه کړی شي.

ځلورم: پاتې شوه د ټکنالوژۍ خبره نو هغه د کوم تمدن او کوم ملت ملکیت نه دی، ځکه علم د بیلا بیلو تمدنونو د متراکمو تجربو په نتیجه کې دې مرحلې ته رسیدلی دی، یوناني تمدن علمي پرمختګونه درلودل، په هغه باندې اسلامي امت د خپل علمي پرمختګ بنسټ

---

( ٢) د مالک بن نبي په اصطلاح ورته (الأفكار المميتة) وایي.

( ٢) د هغه په اصطلاح (الأفكار الميّتة).

کیښوده، او غرب او اروپا د اسلامي امت علمي پرمختګونه د خپلو علمي او ساینسي څېړنو لپاره بنسټ وګرځاوه، نو کله چې دا د کوم تمدن او ملت ملکیت نه شو نو باید چې مسلمانان دا ټکنالوژي نقل کړي او د هغه اهدافو او مقاصدو لپاره ترې کار واخلي چې د هغوی لرلید، جهان بیني او عقیده یې غوښتنه کوي، ځکه چې حکمت د مسلمان ورک شوی څیز دی هر ځای کې یې چې پیدا کړ هغه یې تر ټولو زیات مستحق دی.

## دویمه نکته:

لکه څنګه چې موږ دې ته اړتیا لرو چې د غرب د ړانده تقلید څخه ځان وساتو، او هغه څه ترې وانه خلو چې هغه په الحاد باندې بناء دي، او د الحاد په بنسټ ولاړ دي، همداسې موږ دې ته هم اړتیا لرو چې په هغه غیر معقول او د اسلام د روح سره په متناقض دریځ کې هم ونه لوېږو چې په منځنیو پیړیو کې کلیسا پکې لویدلې وه، هغه څه چې په پایله کې یې اروپا د الحاد کندې ته وروغورځوله، الله تعالی دې نه کړي که موږ د اسلام د روح سره متناقض هغه دریځ غوره کړ چې کلیسا غوره کړی وه او یا مو هغه ته ورته څه دریځونه غوره کړل موږ به هم د دې لامل شوي یو چې اسلامي نړۍ د الحاد په لور ور ټېل وهو، او په دې حالت کې به مو د بشریت سره لویه جفاء او ظلم کړی وي، بشریت به مو د الهي تعلیماتو د برکتونو څخه محروم کړي وي، هغه دریځونه چې موږ ترې باید ځان وساتو په ډېره لنډه توګه په لاندې ډول دي:

۱ - دیني استبداد او تعصب: دیني استبداد او تعصب دې ته وایي چې یو څوک یا یوه ډله ځان ته دا حق ورکړي چې د اسلام د کومې قضیې په اړه چې هغه کوم نظر او رایې لري هماغه د حق لپاره معیار او اساس دی، هر څه چې د هغه سره برابر وي هغه درست او هر هغه څه چې د هغه خلاف وي هغه نادرست او د اسلام سره مخالف دي، په ځانګړې توګه په اجتهادي قضایاوو کې چې د اسلام د اصولو سره سم د اختلاف احتمال هم وجود پکې ولري، دا په حقیقت کې د (رجل دین) او (یا د الله نماینده) په هغه تصور ولاړ عمل دی چې د کلیسا مشرانو د ځان لپاره ایجاد کړی وه، په دې کې شک نشته چې د اسلامي مسایلو او قضایاوو په اړه هم باید د تخصص قضیه په هماغه شکل مراعت شي لکه په نورو علمي مجالاتو کې چې رعایت کیږي مګر څوک باید ځان د الله تعالی نماینده ونه ګڼي، چې د هغه سره مخالفت د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مخالفت مرادف وي، که څوک داسې فکر کوي هغه په دیني استبداد کې واقع دی، چې دا یو خطرناک استبداد دی.

۲ - فکري استبداد: دې ته وایي چې یو انسان هغه که هر څوک وي د خپل فکر او رایې په باره کې په داسې یو غرور کې مبتلا شي چې داسې ګومان وکړي د هغه فکر داسې کامل او حق دی چې د هیڅ ډول مناقشې امکان نه لري، او د دې فکر څخه پرته چې څومره افکار دي هغه په تمامه معنی باطل او بې معنی دي چې اصلا د موجودیت حق هم نه لري، په داسې فکر کې مبتلا کیدل په حقیقت کې یو لوی مرض دی، په ځانګړې توګه چې د داسې چا لخوا صورت ونیسي چې د دین عالم وي نو

د هغه اثرات او اغیزي نورې هم زیاتیږی، او اثرات یې د ژوند په بیلا بیلو اړخونو پریوزي، په همدې کې د کلیسا د منځنیو پیړیو مشران مبتلا ؤ چې هغه نتایج را ووتل چې مو ولیدل.

۳ - د علم (ساینس) او پرمختګ په مخ کې دریدل او همیشه په وروسته پاتې والي باندې تاکید کول او همدا د اسلام اصل مقصود ښودل، دا هم یو داسې تصور دی چې په بشپړه توګه د اسلام د قطعي نصوصو سره په ټکر کې دی، مګر کله کله یو شمیر جاهل خلک چې د اسلام څخه خبر نه وي، د علمي پرمختګونو مخالفت کوي او په دې ټینګار کوي چې په نړۍ کې هر ډول پرمختګونه د اسلام سره مناقض او مخالف معرفي کړي، دا هم د منځنیو پیړیو د کلیسایي تصور سره ورته تصور دی چې موږ باید ترې ځان وساتو، ددی ترڅنګ په فقر، بی وزلۍ ته خلک تشویقول، او خلکو ته دا تلقین کول چی همیشه فقیر واوسیږي، دا د اسلام د زهد د تصور سره په بشپړ ډول متناقض تصور دی، زهد دی ته وایي چی انسان د توان سره سره د دنیا په جاه وجلال او مال او دولت زړه ونه تړي او داسی رغبت پکی ونه لري چی د خپل ژوند محور یی وګرځوي.

۴ - ړوند تقلید: په داسې توګه چې د انسانانو (د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه پرته چې بل هر څوک وي) غیر معصومو افکارو ته دومره حیثیت ورکړل شي چې هغو ته د معصومې وحې سره په برابره توګه وکتل شي، او هغه د دین برخه و بلل شي، دا به هم د دین په هغه خیر د تکذیب لامل ګرځي لکه څنګه چې د غیر معصومو انساني افکارو له امله د کلیسا مقدس کتابونه غلط ثابت شول، او په نتیجه کی د هغوي د تکذیب لامل وګرځیدل.

۵ - د نصوصو حرفي فهم: د نصوصو په فهم کې د تحجر څخه کار اخيستل په داسې توګه چې د نصوصو مقاصد له ياده يوړل شي او د تحجر له امله يوازې د هغوی په حرفي فهم ترکيز صورت ونيسي، او ډير ځله دا حرفي فهم د هغه څه سره مخالف وي چې په يقينی دلايلو باندې ثابت شوي وي، دا هم د دين د تکذيب لامل ګرځي لکه د کليسا په اړه مو چې ولوستل.

په پای کې د الله تعالی څخه دعا کوم چې موږ ته د هغه درست فهم او درست دريځ د غوره کولو توفيق را په برخه کړي چې د بشريت په خير باندې تمام شي. وسبحانک اللهم وبحمدك نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك ونتوب إليك.

* * *

# لړليک

غربي تمدن ........ ۲
(شاليد، حقيقت، عقيدتي او فلسفي بنسټونه) ........ ۲
تمهيد ........ ۷
لومړی فصل ........ ۲۳
اروپا ا ودكليسا ........ ۲۳
استبدادي كړنلاره ........ ۲۳
لومړی: اروپا او د كليسا محرف دين ........ ۲٤
أ- د عيسى عليه السلام په دين كې د تحريف لاملونه ........ ۲٥
لومړی لامل: د پخوانيو اديانو او فلسفو اغېزی ........ ۲۹
د پولس دين د اصلي دين ځای ونيوه ........ ۳٦
دويم لامل: په مسيحيت كې د روميانو شموليت ........ ۳۹
همدا مسيحيت په اروپا كې خپور شو ........ ٤۲
د كليسا د ټولواكۍ مرحله پيل شوه ........ ٤۳
د كليسايي نظام څخه د خلكو د تنفر لاملونه ........ ٤٥
لومړی: ديني استبداد ........ ٤٥
دويم: سياسي استبداد ........ ٥۲
دريم: د كليسا د مشرانو د قول او فعل تضاد ........ ٥٦
څلورم: فكري او علمي استبداد ........ ٦۰
دويم فصل ........ ٦٦
د كليسايي دين پر ضد پاڅون ........ ٦٦
د كليسا د استبداد پر ضد د پاڅون مباشر لاملونه ........ ٦۷
لومړی: اروپا ته د اسلامی ثقافت ننوتل: ........ ٦۷
دويم: صليبی جنګونه ........ ۷۰
دريم: رشدي فلسفه ........ ۷٤
څلورم: ظلمونه، وژنې او د تفتيش محكمی ........ ۷۹
د ذكر شوو لاملونو اغيزی او د تيرو مباحثو لنډيز ........ ۸۳

لومړی: د رینیسانس (RENAISSANCE) خوځښت ........ ۹۱
دویم: د دینی اصلاح (RELIGIOUS REFORM) خوځښت ........ ۹۲
دریم: د علمي فلسفي او کلیسا ترمنځ کشمکش ........ ۹۳
کوپرنیکي انقلاب ........ ۹۳
دریم فصل ........ ۹۹
د ساینس او کلیسا ترمنځ تصادم ........ ۹۹
د ساینس پوهانو، فلسفیانو او کلیسا ترمنځ کشمکش ........ ۱۰۰
فرانسیس بیکون (۱۵٦۱ــ ۱٦۲٦) ........ ۱۰۱
دیکارتی انقلاب (۱۵۹٦ــ ۱٦۵۰) ........ ۱۰۳
کلیسایي عقائد د عقل څخه لوړ دي! ........ ۱۰٦
(ب ـ پایل (B - PAYLE) ۱۷۰٦م) ........ ۱۰۹
توماس هوبز (۱۵۸۸ - ۱٦۷۹م) ........ ۱۱۲
جان لاک (J. LOCKE) ۱۷۰۴م ........ ۱۱۳
پیندکت سپینوزا (SPINOZA) ........ ۱۱٦
اسحاق نیوټن (SIR ISAAC NEWTON)(۱٦۴۲ - ۱۷۲۷م) ........ ۱۲۰
د نیوټن د نظریې اغیزې ........ ۱۲۱
د ډارون (۱۸۰۹ - ۱۸۸۲) نظریه او د هغې پایلې ........ ۱۲۳
څلورم فصل ........ ۱۳۱
اروپا د الحاد په غیږ کی پریوته ........ ۱۳۱
په اتلسمه پیړۍ کې د (تنویر) د مرحلې دوهم پیل ........ ۱۳۲
لومړی: د الحاد لومړی پړاو یا (DEISM) ........ ۱۳۷
ددی برخی نتائج ........ ۱٤۹
دویم: په غربي نړۍ د بشپړ الحاد تسلط ........ ۱۵۱
ددی مادي فلسفو عقیده او فکر ........ ۱۵۲
همدا د نوولسمی او شملی پیړیو د ټولو فلسفی مدارسو نظر دی ........ ۱۵۵
پنځم فصل ........ ۱٦۰
د دی الحادی تمدن ........ ۱٦۰
فلسفي او فکري بنسټونه ........ ۱٦۰
د غربی تمدن لرلید (جهان بیني) ........ ۱٦۰

لومړی: د اله (خدای) په اړه د غربي تمدن لرلید....................................... ۱۶۲
د الله په اړه مادي وحدة الوجودي تصور ................................................ ۱۶۲
ب ـ د الله په اړه میکانیکي تصور ........................................................ ۱۶۳
ج ـ د الله په اړه د طبیعي دین (DEISM)عقیده........................................... ۱۶۶
د ـ د الله تعالی په اړه مطلقه الحادي عقیده................................................ ۱۶۹
د الوهیت په اړه د غربي تصور لنډیز..................................................... ۱۷٤
دوهم: د طبیعت/مادی په اړه د غربي تمدن عقیده........................................ ۱۷۷
أ : داکائنات په بشپړه توگه مستقل دي او هیڅ بیروني قوت ته اړ نه دي ................ ۱۸۸
ب: د فاعلي علتونو په بنسټ د نړۍ میکانیکي تفسیر ....................................... ۱۹۰
ج: د ماورائی تفسیراتو له منځه تلل او د الله تعالی حذفول................................. ۱۹٤
د: د اخلاقو نسبي کېدل او د ارزښتونو له منځه تلل ....................................... ۱۹۷
دریم: د انسان په اړه د غربي تمدن تصور او عقیده........................................ ۲۰٤
أ: د هیومانیزم نظریه ........................................................................ ۲۰٦
نوی هیومانیزم څه ته وایي؟................................................................ ۲۰۷
۱- د انسان پیژندنې په میدان کې د هیومانیزم عقیده...................................... ۲۰۸
۲- د هیومانستي فلسفې معرفتي نظریه...................................................... ۲۱۲
۳ – د خقلت په اړه د هیومانیزم عقیده...................................................... ۲۱٤
۴- د هیومانیزم اخلاقی تصور او فلسفه .................................................... ۲۱٦
ب - انسان یو طبیعی توکی دی............................................................. ۲۲۲
شپږم فصل................................................................................... ۲۲٤
لومړۍ ځانگړتیا: تطبیع (هر څه ته د مادې په سترگه کتل) ............................. ۲۲۷
دویمه ځانگړتیا: د نړۍ بی پره والی ..................................................... ۲۲۸
دریمه: تړونیزی اړیکی (CONTRACTUALIZATION)........................................ ۲۲۹
څلورمه ځانگړتیا: هر څه نه د وسیلی په حیث کار اخیستل ............................... ۲۳۰
پنځمه ځانگړتیا: مادي سمون یا ترشید ................................................... ۲۳۱
شپږمه ځانگړتیا: په ټولنه د بیروکراسۍ او ټاکل شوو نمونو او معیارونو تسلط............. ۲۳۲
اومه ځانگړتیا: اوزاري عقل .............................................................. ۲۳٦
ددی نتیجه دا ده چی:........................................................................ ۲۳۸
اتمه ځانگړتیا: COMMODIFICATION او REIFICATION او FETISHISM............. ۲٤۱

نهمه ځانګړتیا: استلاب، او قالبي کيدل ........................................................ ۲۴۳
لسمه ځانګړتیا: یو اړخیز انسان ................................................................ ۲۴۸
خاتمه: ........................................................................................... ۲۵۵
دویمه نکته: ...................................................................................... ۲۶۶

Download from:aghalibrary.com